# د خبر او نظر نړۍ




عبدالجليل وجدي

عبدالجليل وجدي

د خبر او نظر نړۍ

The N

Abdu

Ketabton.com



# د خبر او نظر نړۍ

عبدالجلیل وجدي

۱۳۸۷ لمریز لېږدیز




## د خبر او نظر نړۍ

| | |
|---|---|
| لیکوال: | عبدالجلیل وجدي |
| اهتمام: | نقیب الله وجدي |
| کمپوز او ډیزاین: | سید عبدالله ولي زی |
| خپرندوی: | بیهقي کتاب خپرولو مؤسسه |
| حقوقي او مالي ملاتړ: | د هېواد د پوهنیزو څېړنو او پرمختیا مرکز |
| د خپرېدو لړ: | لومړی |
| د چاپ نوبت: | لومړی |
| چاپ شمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| چاپ ځای: | کابل |
| چاپچارې: | کاروان مطبعه |
| چاپ کال: | ۱۳۸۷ لمریز لېږدیز |

ای ایس بی اېن ISBN 978-9936-20-045-6

(c) ketabton.com: The Digital Library







# ډالۍ

د اروابناد استاد وجدي له هيلو سره سم د ا کتاب د افغانستان د دريو لسيزو د غميزو د خبر او نظر د ډگر سپيڅلو مبارزو او شهيدو ژورناليستانو هر يو:

سيد بهاءالدين مجروح، عبدالرحمن پژواک، عزيزالرحمن الفت

او د دې لارې د نورو مبارزو پاکو ارواوو ته ډالۍ کېږي.

مهتمم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یادونه

په ساده، روانه او عامه ژبه د استاد د لیکنو په اړه څه نه لیکم او نه هم دې ته تم کېږم چې استاد په کورني چاپېریال کې له مور سره څومره له مینې ډک چلند کاوه، خو دا وایم چې استاد خپله ژبه او قلم د افغانستان د سمسورۍ او د خپلو هېوادوالو د ارامۍ په هیله خوځولي، په دې لار کې یې خولې تویې کړي، ستړیا یې ګاللې او مبارزه یې کړې ده.

د استاد ډېرې لیکنې او کتابونه له چاپ څخه پاتې دي، په دغو ناچاپو کتابونو او لیکنو کې داسې لیکنې هم شته چې له استاد څخه ورکې شوې وې او یو کتاب یې ښاغلي استاد حبیب الله رفیع ته د علامه پوهاند عبدالحی حبیبي په کتابتون کې لاس ته ورغلی و، دغه کتاب استاد د کتنې لپاره پوهاند حبیبي ته ورکړی و چې بیا په کشمکشونو کې ورک شو او اوس له نېکمرغه د ښاغلي استاد رفیع لاس ته ورغی، هیله ده دغه کتاب هم په همدې نژدې راتلونکې کې چاپ شي. د لادرکه شویو کتابونونو له جملې څخه بل همدا کتاب و چې اوس ستاسې په لاس کې دی.

استاد د په علمي او فرهنګي ډګر کې د ځوانانو له روزلو سره ډېره مینه درلوده، چې د خبر او نظر نړۍ کتاب یې په همدې موخه لیکلی



و، د ارواښاد استاد دا تلوسه وه چې د دې کتاب د خپرېدو له لارې د ځوانو ژورنالیستانو په روزنه کې مرسته وکړي، خو د ځینو ستونزو له کبله د دې کتاب چاپ وځنډېدو. دغه کتاب په ۲۰۰۴ کال کې ارواښاد استاد په داسې حال کې چاپ ته چمتو کړی و چې د زړه د ناروغۍ له امله ډاکټرانو له ډېرو لیکنو څخه منعه کړی و، خو په همدغه حالت کې هم استاد زیار کاږه چې د راتلونکي او ځوان کهول لپاره مرسته وکړي.

له ډېرو هڅو او منډو ترړو وروسته مې ایله کتاب د روان کال د زمري په میاشت کې ترلاسه کړ او د استاد د هیلې د پر ځای کولو په خاطر دا دی د مرغومي په میاشت کې ترتیب او خپور شو.

د کتاب د چاپ په برخه کې له محترم عبدالمتین وردګ، ښاغلي حفیظ الله غښتلي، ښاغلي استاد پوهنیار محمد شفیق وردګ او ښاغلي سید عبدالله ولي زي څخه مننه کوم، دوی د کتاب د چاپ په برخه کې غوره سلا او مشورې راکړې.

په مینه او ادب

نقیب الله وجدي

مرغومی ۱۳۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کتنه


| | | |
|---|---|---|
| | د استاد و جدي لنډه پېژندنه | ک |
| | د خبر او نظر په نړۍ کې نوی سفر | س |
| | سریزه | ف |
| لومړی څپرکی | د میډیا تاریخ ته لنډه کتنه | ۲ |
| دویم څپرکی | موږ اتلان وو، که خبر جوړونکي؟ | ۲۴ |
| درېیم څپرکی | د شاهدۍ ویلو رسالت زموږ دی، که د نورو؟ | ۳۴ |
| څلورم څپرکی | آزاد که مسؤل مطبوعات؟ | ۵۰ |
| پنځم څپرکی | د هوا جنګیالۍ څپې | ۹۶ |
| شپږم څپرکی | مفاهمه/ ابلاغ یو ډېر پیاوړی انقلابي ځواک | ۱۲۰ |
| اووم څپرکی | ډله ییزه مفاهمه/ ابلاغ عامه | ۱۴۶ |
| اتم څپرکی | مرکه | ۱۶۸ |
| نهم څپرکی | ادب او ژورنالیزم | ۱۸۰ |




# نیولیک


| څپرکی | سرلیک | مخونه |
|---|---|---|
| | د استاد وجدي لنډه پېژندنه | ک |
| | د خبر او نظر په نړۍ کې نوی سفر | س |
| | سریزه | ف |
| لومړی څپرکی | د میډیا تاریخ ته لنډه کتنه | ۲ |
| | د افغانستان د مطبوعاتو پرون ته یوه کتنه | ۴ |
| | راډیو په افغانستان کې | ۱۷ |
| | تلویزیون په افغانستان کې | ۲۰ |
| دویم څپرکی | موږ اتلان وو، که خبر جوړونکي؟ | ۲۴ |
| درېیم څپرکی | د شاهدۍ ویلو رسالت زموږ دی، که د نورو؟ | ۳۴ |
| څلورم څپرکی | آزاد که مسؤول مطبوعات؟ | ۵۰ |
| | آمرانه نظریه | ۵۱ |
| | د آزادو مطبوعاتو نظریه | ۵۴ |
| | د اجتماعي مسؤلیت نظریه | ۵۸ |
| | اسلام او د مطبوعاتو آزادي | ۶۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حکومتونو هوښیاري: د مطبوعاتو آزادي... ۶۷
جمهوري اختناق؟ ........ ۷۰
مطبوعات د خیر غوښتونکي ........ ۷۶
د ډاکټر نجیب ډېره ناوخته هوښیاري ........ ۷۹
د «جنګ» جنګ کول او څنګ نیول؟ ........ ۸۰
د خلکو هوښیاري او مطبوعات ........ ۸۶
د مطبوعاتو لپاره زموږ خپل معیارونه ........ ۸۹
انتقاد که پېغور؟ ........ ۹۰
ژورنالیزم او انتقاد ........ ۹۲
انتقاد او ادبي/ هنري دنیا ........ ۹۳
پنځم څپرکی د هوا جنګیالی څپې ........ ۹۶
شپږم څپرکی مفاهمه/ابلاغ یو ډېر پیاوړی انقلابي ځواک.. ۱۲۰
د ابلاغیاتو تاریخي پس منظر ........ ۱۲۴
د مفاهمې/ ابلاغ تعریفونه ........ ۱۲۶
د ابلاغ یا مفاهمې خصلت ........ ۱۳۰
د ابلاغ توکي ........ ۱۳۲
د مفاهمې د پروسې عملي اړخ ........ ۱۳۶
اووم څپرکی ډله ییزه مفاهمه، ابلاغ عامه ........ ۱۴۶
ډله ییزه مفاهمه د نورو ډولونو په پرتله ........ ۱۴۸
له خپل ځان سره د یو چا مفاهمه ........ ۱۴۸
مخامخ مفاهمه ........ ۱۵۱



د کوچني ګروپ مفاهمه ........ ۱۵۲
د لوی ګروپ مفاهمه ........ ۱۵۳
عامه یا ډله ییزه مفاهمه ........ ۱۵۳
میډیا او ژورنالیزم ........ ۱۵۹
الکترونیک ژورنالیزم ........ ۱۶۰
د خبرونو تنظیم شوی پروګرام ........ ۱۶۵
اتم څپرکی مرکه ........ ۱۶۸
نهم څپرکی ادب او ژورنالیزم ........ ۱۸۰
د ادب له ژبې سره د مطبوعاتو د ژبې اړیکې.. ۱۹۲
د لیکنې ښکلا او رنګیني ........ ۲۰۸
پایلې او وړاندیزونه ........ ۲۱۵
اخځلیکونه ........ ۲۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د استاد وجدي لنډه پېژندنه

استاد عبدالجليل وجدي له نن څخه ۶۷ کاله د مخه د چک ولسوالۍ د سبوکې په سپېدار نومي کلي کې دغې نړۍ ته سترګې غړولې.

لومړنۍ زده کړې يې په عربي، صرف، نحو، فقه کې د خپلې کورنۍ په چاپېريال کې کړې دي.

پر ۱۳۳۰ لمريز کال يې په پښتو ټولنه کې لومړنی رسمي ماموريت پيل کړی. پر همدې کال په يوه مالي او اداري کورس کې شامل شو، چې له درې کاله تجربوي زده کړو وروسته يې په برياليتوب سره لومړۍ درجه برۍ ليک ترلاسه کړ.

د استاد رسمي زده کړو يو بل پړاو د ژورناليزم زده کړې يوه لوړه دوره وه، چې د کابل پوهنتون او د بهرنيو وتليو استادانو له خوا تدريس کېده. استاد له دغه کورس څخه په امتيازي لوړو نومرو لومړۍ درجه برۍ ليک ترلاسه کړ چې بيا د اصلاح ورځپاڼې مسلکي غړی شو.

پر ۱۳۴۱ لمريز کال د اطلاعات او کلتور وزارت له خوا په ميمنه کې د مطبوعاتو مدير او د ستوري ورځپاڼې چلوونکي په توګه



وټاکل شو. څه له پاسه دوه کاله وروسته يې پر همدې دنده په ننګرهار کې پيل وکړ، چې پوره يو کال يې د ننګرهار ورځپاڼه وچلوله. له هغه وروسته په کابل کې د پيام حق ديني مجلې مسوؤل مدير و ټاکل شو، چې بيا د فولکلور د نوي تأسيس شوې څانګې مديريت وروسپارل شو. وروسته له هغه د ولسي جرګې لپاره د چک ولسوالۍ له خوا کانديد شو، چې پر وړاندې يې د کورنيو چارو پخوانی وزير ډاکټر عمر وردګ و. په انتخاباتي مبارزه کې له ماتې او يو څه لالهاندېو وروسته د هېواد ورځپاڼې د مرستيال په توګه مقرر شو. د شهيد محمد داود خان په جمهوريت کې د هېواد ورځپاڼې رئيس وټاکل شو. له هغه يو کال وروسته د اطلاعات او کلتور وزارت د پښتو پرمختيا او پراختيا آمريت وروسپارل شو. په دغه موده کې يې يوه اکاډميکه پښتو مجله د جمهوريت پلوشې په نامه تأسيس کړه او وروسره يې په وروستيو دوو پېړيو کې د پښتو د چاپي آثارو د نړيوال سيمينار د جوړولو اړونده اداري چارې پر مخ بوتلې، چې په همدې يوه کلنه دوره کې يې په ننګرهار کې د نارنج ګل مېله د ګل سرخ مېلې سطحې ته لوړه کړه. دا په دې مانا چې د هغه وخت ټولې هنري او فرهنګي موسسې لکه کابل ننداري، افغانستان راډيو، افغان فلم او داسې نورې يې دې ته وهڅولې، چې ډېرې غوره او په زړه پورې ننداري نوموړې مېلې ته وړاندې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد له پښتو او دري سربېره په انګریزي باندې هم ډېرې لیکنې کړې دي، خپل هېواد، خلک او کلتور یې نړیوالو ته ورپېژندلی دی.

ده د ادین خېل، سپوکي او په نورو نومو نو هم لیکنې کړې. لنډې کیسې یې هم کښلي هغسې چې جایزې یې هم ترلاسه کړې دي، چې ښایي په کتابي بڼه راټولې کړای شي.

استاد وجدي د ځوان نسل په روزلو کې پوره او بشپړه ونډه اخیستې ده. استاد چې کله په فرهنګي حلقه کې د یوه مسول په توګه کار وه، نو پوهنتوني ځوانان به یې د عملي کار لپاره تر خپل څنګ تر روزنې لاندې نیول.

د غوايي له کودتا سره څه موده و زګار شو. بیا یې د هېواد په ورځپاڼه کې چېرې، چې د ریاست چارې پرمخ بیولې، د یو عادي خبریال په توګه مقرر شو. څه موده وروسته د وخت چارواکو وردګو ته د روغې جوړې په جرګه کې واستاوه. خو دا پخلاینه ممکنه نه وه او همالته له خلکو سره پاتې او د مجاهدینو د قومي شورا غړی شو. څه موده وروسته د وردګو له خوا پېښور ته واستول شو. چې هلته په ممثله لویه جرګه کې یو کال په خدمت بوخت و او د هغې جرګې فرهنګي چارې یې برمخ بېولې. له دې وروسته استاد وجدي کوېټې ته لاړ او هلته یې په نړیواله مرستندویه موسسې کې د ژباړن په توګه دنده سرته رسوله له څلورو کالو راهیسې استاد کاناډا ته کډه شو.



استاد غوښتل، چې هېواد ته راستون شي. ډاکټرانو ورته ویلي وو چې نور یې روغتیا ښه ده، کړای شي چې په سفر لاړ شي. استاد هېواد ته د تګ ټولې چارې بشپړې کړې وې او ټاکل شوې وه، چې د مې پر ۱۵ مه نېټه د خپل ټاټوبي په لوري راوخوځي. خو لوی خدای (ج) خپل لوري ته وباله او له دې نړۍ څخه یې د مې پر څلورمه نېټه سترګې پټې کړې.

استاد په لسګونو کتابونه لیکلي او همدارنګه یې په پښتو، دري او انګریزي ژبو په سلګونو لیکنې چاپ شوي دي.

د ده له مشهورو کتابونو څخه (په افغانستان کې د عنعنوي جرګو نن او پرون، د لویې لوبې ستېج د زړونو او دماغونو ماینونه او د روښانیانو روښانه ملي لار) کتابونه دي. استاد د مهاجرت په کړاوجنو شپبو کې هم لیکنې، څېړنې کړي او په علمي غونډو او سیمینارونو کې یې برخه اخیستې.

د خدای ښېلي استاد جنازه په کابل کې له رسمي تشریفاتو وروسته په درنو مراسمو د خپل کلي په هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خبر او نظر په نړۍ کې نوی سفر

د خبر او نظر نړۍ د ژورنالیزم درسونه دي، هره برخه یې جلا لوست دی، چې له یو بل سره پېیلي دي. د پوهاوي اغېز یې داسي دی چې لوستونکی ځان په ټولګي کې د ښوونکي په وړاندې ګڼي، د دغې لړۍ د لوستو پر وخت ما ځان همداسې ګڼلی، لوستونکو هم ګوربت مجلې ته په خپلو لیکونو کې دې ته ورته تأثر څرګند کړی دی.

یوازې تیوریک او نظري درسونه، نه بلکې استاد وجدي په ځینو اړخونو کې د خپل ژورنالستیک ژوند تجربې او د سړې جګړې په اړدو کې د لویدیځ او ختیځ، د کابل رژیم او مقاومت مطبوعاتو لوری، شخړې، سیالی او ورسره د پاکستان او لویدیزو هېوادونو مطبوعاتي او ژورنالستیک پرمختګونه هم راسپړلي پرون یې له نن سره نښلولی او بیا یې بېرته د نن د پرمختګونو رڼا ته ځلولی، په دې توګه یې د میډیا انقلاب د څپو، شورموږ ته را رسولي دي.

تیوریک درسونه داسې وي چې په عملي اړخونو کې ترې د ګټې د مخه یې خنډونه، آن چې ترلي وي- زموږ د ځینو استادانو نوټونه همداسې وؤ زده کوونکي اړ وؤ چې ټکی په ټکی یې یاد کړي-



هغوی چې داسې کولای شوای ښوونځي او زده کوونکو په ژبه یې «میخانیک» باله او چې ما غونډې یې ماغزه ستومانه ؤ په آزموینه کې یې هم برخه خواره وه. خو ځینې داسې وي چې سړی ته داسي یوه کړکۍ، پرانیزي چې له رڼا او تودوخې سره یې باندنی ښکلا هم مخې ته کېږدي. د استاد وجدي په دغو لیکنو (درسونو ) کې همدغه روح په څپو او غزېدو دی، ځکه خو یوازې نظري او تیوریک نشو ورته ویلای- بلکې په عملي ډګر کې هم د لوستونکو مخه رڼوي.

په افغانستان کې چې په دې اړه څه خپاره شوي ډېری د بهرنیو او هغه هم زړو آثارو وچې ژباړې دي، و به د لوست، خو سر به دې خلاص نشو ګڼلای- په بیا بیا لوستو دې هم خپله ورکه په ګرانه پکې په ښه کولای شوای.

استاد وجدي لوستونکي له دغې لالهاندې را ګرځوي- استاد په دغو درسونو کې پر یوه وخت د ژورنالیزم زده کړې، مطبوعاتي کار کوونکي، د ژورنالیزم ښوونکي او همداسې عام لوستونکي له لاس څخه نیسي او هر یو خپلې لارې ته سیخوي چې د دغه لیکنې ارزښتمنه ځانګړنه ګڼلای شي. دغه اثر به د درسي او مرستیال درسي کتاب په توګه هغه تشه ډکه کړای شي چې په دې اړه زموږ ټولو پر وړاندې ده.

په ډېر ادب

شهرت ننګیال

لندن

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

«موږ د اطلاعاتو او مواصلاتو په عصر کې ژوند کوؤ، دا کلیشه یې عبارت، په افغانستان کې د روانې غمیزې د پیل کېدو نه مخکې وختو کې، د خلکو په خولو کې لوېدلې ؤ. بیا کله چې افغانستان د چا خبره، د ډول ډول انقلابي تودو جګړو ډګر وګرځید، ورسره د «میډیا د انقلاب» شورماشور هم زیات شو او افغانستان د ډېرو سترو او مهمو پېښو د مرکز په توګه د میډیا د انقلاب یو آزموینځی او د نړۍ د هر ګوټ د ژورنالیستانو د پریکټس پخولو یوه ساحه وګرځول شو.

نړېدلی شوروي اتحاد، د میډیا په جګړو کې د خپلې سیالۍ پر مخ بیولو لپاره، په افغانستان کې د راډیویي او تلویزیوني شبکو ډېرې پیاوړې دستګاوې په کار واچولې او له دې لارې یې کولای شوای چې د آسیا پر زیاترو هېوادونو د «خبر او نظر» بارانونه واوروي. خو د وچو تبلیغاتو دغو مصنوعي بارانونو داسې غم نه درلود چې د خلکو زړونو او دماغونو ته لاره وباسي ځکه چې دا وخت خلکو ته د دوی له خوا د خپرې شوې ایدیالوژۍ اصلي ماهیت څرګند



شوی ؤ. وروستیو پایلو وښودله چې په افغانستان کې د شوروي د نظامي زور او ځواک د اوبه کېدو تر څنګ د دغه رژیم ستومانوونکی پروپاګنډې سیالۍ هم د رژیم د اقتصاد د ملا په ماتولو کې غټه ونډه لرله.

په وړاندې یې، د شوروي اتحاد اصلي سیال یعنې د امریکا متحده ایالاتو په دغه سیالۍ کې شمېرلي ګامونه په مخکې اخستل، هغه وخت امریکا، څه نا څه له شوروي سره مخامخ د تودې جګړې کولو څخه ډډه کوله خو د نورو تر شا درېدله او خپل ټوپکان یې د همدوی پر اوږو ایښودل. په پروپاګنډې جګړه کې یې هم رویه په همدې ډول وه. هڅه یې کوله چې په نورو هېوادو کې د لویو دستګاوو د درولو ملاماتوونکی لګښتونه په غاړه وانخلي، بلکې د راډیو بروډکاستینګ کوچنۍ کوچنۍ سیارې دستګاوې برابرې کړي او ځینو تنظیمونو ته یې ورکړي او داسې بوسترونه برابر کړي چې په پټه او په آسانۍ سره په قاچاقي توګه داسې هېوادونو ته صادر کړل شي چې هغوی د لوېدیځې نړۍ په تېره د امریکې د تلویزیوني خپرونو په وړاندې بندیزونه لګوي.

همدا ډول خبرې په یو سیمینار کې، د یوې امریکایي ډیپلوماتې یعنې په اسلام آباد کې د امریکې د لوی سفیر د ماندینې میرمن اوکلي "Phyllis E. Oakley" له خولې څخه، ایران ته د خپل زور ښودلو په ترڅ کې، ووتلې. دا سیمینار د ۱۳۷۰ کال د غویي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاشت کې، په اسلام آباد کې د افغانستان ثقافتي شورى جوړ کړی ؤ.

دغې په عمر پخې امریکایي مېرمنې چې د هغه هېواد د میډیا سره یې مسلکي تړون درلود د اطلاعاتو پر مختللې ټکنالوژۍ ته له صنعتي انقلاب څخه وروسته د دویم انقلاب درجه ورکړه خو خپله دا خبره یې د یو شمېر پوهانو په څېړنو پټه کړه دې د اطلاعاتو د هغو بارانونو یادونه وکړه چې د لویدیځو هېوادونو تلویزیونونو او نورو رسنیو وسیلو په ختیځه اروپا واورول او هلته یې د خپلواکۍ او آزادۍ په لوري د بهیرونو لپاره د زمانې تناوونه را لنډ کړل. ګواکې لویدیځې میډیا د اووښتون زمانه په پولنډ کې لسو کلونو، په مجارستان کې لسو میاشتو، په ختیځ آلمان کې لسو اوونیو، په چکوسلواکیا کې لسو ورځو او په رومانیا کې لسو ګړیو ته را لنډه کړه.

حقیقت هم دا دی چې د لویدیځوالو تلویزیوني شبکو د پراخې غوړېدلې وریځې په څېر، دا ټوله نړۍ په خپل جال کې رانغښتې ده چې په هره خوا او هره برخه باندې یې د خبر او نظر (News and Views) بارانونه اوروي. خو که امریکایي مېرمنې د سیاسي تبصرې په ځای خپل مسلکي نظر ښودلی وی نو دې ښایي دا خبره هم کړې وی چې د لویدیځو هېوادونو په میډیا کې د افغانانو د جهاد او زړورې مبارزې انعکاس د ختیځې اروپا د ملتونو له سترګو خوب، وېره او ډار وتښتول. دوی په خپلو ټولو حواسو دا حقیقت درک کړ چې افغان



غوندې یو ملت چې د نفوسو په لحاظ کوچنی او د شتمنۍ په لحاظ بې وسه دی، د خپل پیاوړي ایمان او مورال په برکت او طاقت یو زبرځواک د شا په لوري تګ او تېښتې ته اړ کړ.

د ژورنالیزم له نظره افعال (Verbs) یعنې کارونه او اکشنونه له نومونو یا اسماؤ (Nouns) څخه زیات ارزښت لري. په بله ژبه نومونه یا اسمأ هغه وخت «خبر جوړونکی» ګرځي چې «افعال» ورڅخه صادر شوي وي او یا خو څه کارونه او اکشنونه ورباندې شوي وي. په دې حساب «افغان» د هغه ملت نوم دی چې کردار او ټینګار یې د پېړۍ په یوه څلورمه کې د ټولې نړۍ د میډیا لپاره د «خبرونو» د لیکلو او د «نظرونو» ښودلو زمینې زیاتې کړلې.

دلته دا ټکی هم د یادونې وړ دی چې ژورنالیزم په خپل خاص سبک کې د صفتونو (Adjectives) کتارونه نه خوښوي. کسان یا شیان په ښو نومونو نه ستایي په بدو نومونو یې هم نه یادوي. بلکې د هر چا او هر شي ښېګڼې یا بدۍ د څرګندو، ژوندیو او خوځنده حقایقو د لیکلو او ښودلو له لارې تجسیموي. په دې توګه نړیوالې میډیا د افغان ملت اتلولي او زړورتیا همدارنګه په سیاست کې د دغه ملت زړه ځوروونکي ناکامي، د توصیفولو په ځای، ډېر ځله د حقایقو له لارې ښودلې او شرح کړې ده.

زمونږ جهاد، همدارنګه زمونږ کورنیو جګړو نړیوالې مېډیا ته ډېر شیان په لاس ورکړل، خو زمونږ لپاره یې د خیر او برکت لورینه ډېره لږ وه. د مېډیا هغه ماشینري چې په خپله په سیاستونو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکېلو افغانانو په لاس چلېده، د «خبر» په ځای زیاتره د «نظر» په محور چورلېده. تعلیمي اړخ یې همدا سې ؤ. د تفریحي اړخ په باره کې ښايي دا خبره بس وي چې «په جنګ کې ګوړې نه ماتېږي.» نظريات هم د بېلابېلو تنظیمونو او سیاسي ګروپونو په قالبونو کې اچول شوي وړاندې کېدل. د «کیڼ اړخ» یا «ښي اړخ» دې ډول واردو شویو او قالبي نظرياتو زموږ له یو شمېر غوره ملي ارزښتونو سره هم، وخت په وخت ټکرونه درلودل. همدا سبب دی چې د یو اړخ نظرياتو زموږ ملي ارزښتونه د «ارتجاع» او د بل اړخ نظرياتو هغه د «جهالت» په سپکو کانهو یا تېږو وتلل. پر موږ قصداً د داسې یو کلتور د تپل کېدو هڅه کېدله چې د هغه تر بد مرغ سیوري لاندې «خپل پردي کړو او پردي را خپل کړو» چې پایلې یې له بده مرغه د فاسدو کینو او ډېرو کرغېړنو کورنیو جګړو په بڼه راووتلې.

اصلي خبره داده څومره چې زموږ خپله مېډیا د نورو په لاس او یا د نورو تر اغېزې لاندې چلېدلې ده هومره یې د افکارو د روښانولو په ځای د ماغزو مینځلو دنده پر مخ بیولې ده. نو اوس موږ دې ته سخته اړتیا لرو چې له خپلې میډیا څخه د جنګونو دوړې او ګردونه او پر هغې باندې نور تپل شوي شیان پاک کړو او دا هینداره دومره صافه او شفافه کړو چې هر څوک او هر شی موږ ته په خپله اصلي بڼه او څېره کې را ښکاره کړي یعنې دا چې موږ له اصلي خوځښتونو او حقایقو څخه څنګه چې دي هغسې خبر کړي.



زه دنیمې پیړۍ راهیسې د هېواد مطبوعاتو په خدمت مصروف شوی یم. په دې دومره موده کې مې د هېواد د مطبوعاتو ډېرې هسکې او ټیټې څپې لیدلي ما په خپله هم، په دې څپو کې د لاهو کېدو له امله د هسکېدو او رالوېدو مرحلې تېرې کړې دي. د کار او خدمت په دې دومره موده کې د ژورنالیزم یو درې کلن کورس همدارنګه یو بل څو میاشتنی کورس چې د یو امریکایي پروفیسر له خوا تدریس کېده، زه د ژورنالیزم د مسلکي لارې او لیکې سره یو څه آشنا کړم. د کار په جریان کې ماته د دې زمینه هم برابره شوه چې د هغو کسانو سره د کار په ساحه کې د ملګرتیا ویاړ ولرم چې د ژورنالیزم په رشته کې یې د ډوکتورا یا ماسترۍ ډیپلومې تر لاسه کړې وې. له بلې خوا د هېواد په ورځپاڼه کې زما د نسبتاً اوږدې مودې خدمت کولو ماته څه نا څه داسې یو صلاحیت را ښنلی ؤ چې د کابل پوهنتون د ژورنالیزم د پوهنځي له شاګردانو سره د عملي ژورنالیزم په پروګتس کې مرستې وکړی شم.

زما ځینو ملګرو له پخوا راهیسې له ما نه غوښتنه لرله چې د ژورنالیزم په باره کې خپل اختستل شوی یاددښتونه سره برابر کړم او د خپلو تجربو سره یو ځای یې د مقالو په بڼه ولیکم. ما په داسې وخت کې په دغه کار باندې لاس پورې کړ چې زما او زما د مسلک تر منځ د شپږو کلونو یو واټن راغلی ؤ. په دغه موده کې مې له یوې امریکایي موسسې (ایم.سي.آی.) سره چې د جنوب لویدیځ افغانستان لپاره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د روغتيا پالانو د روزلو دنده په غاړه درلودله، د يو ژباړونکي په توګه کار کاوه. په دغه وخت کې د طبي مضامينو ژباړلو ته اړ شوی وم او سختو طبي اصطلاحاتو زما ذهن زيات مصروف ساتلی وؤ. نو مانشو کولای چې د ژورناليزم پر مخ تلونکي بهير ګام په ګام وڅارم. ښايي له دې امله زما په کار کې نيمګړتياوې زياتې وي. سره د دې هم د ګوربت د مجلې مدير ګران ورور غښتلي په دې خبره هڅولم چې د دې لړۍ مضامين د پوهنتونونو د ژورناليزم د څانګو شاګردان په پرله پسې توګه لولي او ګټه ورڅخه اخلي.

په دې مضامينو کې د نظري ژورناليزم په باره کې ځينې موضوعات شرح شوي دي. سمدلاسه دلته عملي ژورناليزم په باب د څه ليکلو څخه ځکه ډډه شوې ده چې هغه د يو فن په توګه د ډيرورۍ په څېر يوازې د ليکنې له لارې نه ښودل کېږي بلکې تطبيقي او عملي کارونو ته زياته اړتيا لري. زه باور لرم چې استادان به، په دې ساحه کې شاګردانو ته مخامخ ډېر څه وښيي. سره د دې هم که زه دلته په کاناډا کې د عملي ژورناليزم په باره کې نوې، آسانه او په زړه پورې



لارې چارې ومومم، هغه به د افغانانو د اړتياوؤ او امکاناتو په نظر کې نيولو سره ترتيب او وړاندې کړم.

خدای (ج) دې وکړي چې زما په دې ليکنه کې، زما د هيلې او د مينه والو دغوښتنو سره سم داسې مواد ځای شوي وي چې زموږ په هېواد کې د يو سالم او روڼ ژورناليزم د ودې سره مرسته وکړی شي او همدغسې يو ژورناليزم د ټولنې د روغ او رمتې عصبي نظام په څېر زموږ په ملي هوښيارۍ او ملي تفکر کې د ونډې خاوند وګرځي.

و من الله التوفيق
عبدالجليل وجدي
د اپريل ۱۳/ ۲۰۰۴
تورونټو-کاناډا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د میډیا تاریخ ته لنډه کتنه



## د میډیا تاریخ ته لنډه کتنه

داسې ویل کېږي چې چینایان، لومړني خلک وؤ چې یو ډول چاپ یې د لومړي ځل لپاره را ایستلی ؤ. دا خبره هم مشهوره ده چې کاغذ هم د لومړي ځل لپاره په چین کې اختراع شوی دی. همدارنګه لومړنی کتاب هم په (۸۶۸) میلادي کال کې په چین کې چاپ شوی دی. دا هم ویل کېږي چې له ټولو څخه پخوانۍ درباري جریده (Court Gazette) هم په چین کې راوتلې ده. که خبره داسې وي نو شرق د مطبوعاتو په پیدایښت کې له غرب څخه ډېر وړاندې ؤ. غرب د طباعت چل له چین زده کړی دی. خو په خپله چین د ۹- ۱۰ پیړیو په موده کې خپل دغه فن ته وده ورنکړای شوای.

اروپائیانو په (۱۵) پېړۍ کې دغه فن ته د وخت د شرایطو سره سمه وده ورکړه. د جرمني د مینز د ښار یو زرګر ګوتنبرګ د طباعتي حروفو جوړولو کار دومره پرمخ بوتلو چې دغه کار یې یوازې د مطبوعاتو پیلامه ونه ګرځید، بلکه د تاریخ یوه بله مبداء هم وبلله شوه. بالاخره دی په دې بریالی شو چې د لرګیو د ټوټو په ځای فلزي حروف جوړ کړي. ددغو حروفو لپاره یې مناسب رنګ (سیاهي) هم جوړه کړه. ګوتنبرګ په ۱۴۵۶ کال کې د انجیل (۳۰۰) نسخې چاپ کړلې. تر دې وروسته د طباعت صنعت په ډېرو نورو هېوادو کې هم رواج وموند. د ایټالیې د وینز ښار هغه ځای ؤ چې د طباعت د ښکلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرکز وګرځید. دا هغه وخت ؤ چې هم حکومت او هم کلیسا د طباعت صنعتګران هځول. کګزټون (Caxton) د انګلستان لومړنی طباعتي صنعتکار ؤ چې انګریزي ژبه یې په ۱۴۷۶ کې له طباعت سره آشنا کړه. تر دې دمخه به کتابونه یوازې په لاتیني ژبه چاپېدل. تر دې وروسته د نړۍ په تجارتي مراکزو کې طباعت ډېر زیات رواج وموند. لومړۍ ورځپاڼه په ۱۷۰۲ کې په لندن کې (The daily Courant) په نامه راووتله.

اروپايي استعماریونو چې له مطبوعاتو څخه یې د یوې استعماري وسیلې په حیث کار اخیست، په نړۍ کې د دغه صنعت لمنه زیاته خپره کړې ده. بنجامین هریس لومړنی انګریز دی چې امریکا ته د تګ سره سم یې هلته په ۱۶۹۰ کال کې یوه جریده (Publick Occurrences) په نامه راو ایستله. تر ده وروسته یو امریکایي جان کمپبل (John Campbell) په ۱۷۰۴ کال کې یوه امریکایي ورځپاڼه چې (Boston News-letter) نومیده خپره کړه. فکر کېږي چې لومړنی روسي خپرونه په ۱۷۰۳ کې خپره شوې ده.

پرتګالیانو په ۱۵۵۰ م کې هند ته مطبعه راوړې ده. لومړۍ به په دغه مطبعه باندې مذهبي کتابونه چاپېدل. خو جې.اې.هیکي (J.A.Hichey) لومړنی سړی ؤ چې په کلکته کې یې د (Bengal Gazette) په نامه یوه جریده په انګریزي ژبه کې خپره کړه.

زموږ د هېواد دوې لویې ژبې هم د لومړي ځل لپاره اروپائیانو د خپلو خاصو مذهبي او استعماري هدفونو لپاره له طباعت سره آشنا کړې دي. د دري ژبې لومړنی چاپي اثر د «داستان مسیح» په نامه د لاتیني ژبارې سره یوځای په ۱۶۳۹ میلادي کال کې په لندن کې چاپ



شوی دی. همدارنګه د پښتو لومړنی چاپي اثر د ګولډن ستیټ ډکشنري ده چې په ۱۷۸۷ کې چاپ شوې ده.

## د افغانستان د مطبوعاتو پرون ته یوه کتنه:

په افغانستان کې هم مطبوعات او ډله ییزې مفاهمې نورې وروستنۍ وسیلې د مهمو حوادثو، بدلونونو، اوښتونونو او بحرانونو مولودې او هم محرکې دي. د هېواد د مطبوعاتو پرون ته یوه لنډه کتنه دا څرګندوي چې په افغانستان کې مطبوعات د ۱۹ پېړۍ په زړه کې چې له انګریزانو سره د افغانانو تقریباً سل کلنه مبارزه د بشپړتابه یوې مهمې مرحل ته داخلېده او د اصلاحاتو پروسه هم د دې لویې مبارزې یوه برخه ګرځېده، منځ ته راوستل شول.

د افغانستان مطبوعاتو د پیدا ایښت له لومړۍ ورځې څخه تر ننه پورې د باراني او طوفاني ورځو په څېر خپل پوره او ډېر روڼ مخ خلکو ته نه دی ښودلی. د بېلوبېلو وختونو د بحرانونو، اختناقونو، جنګونو او انقلابونو، وریځو، دوړو او ګردونو او په وروستیو وختو کې د جنګونو لمبو او دودونو هغه یا په بشپړ ډول د خلکو له نظره پټ کړي او یا یې پوره په خپل اصلي شکل نه دي ورښودلي.

د هېواد د مطبوعاتو په آسمان کې لومړنی راختلی ستوری شمس النهار ؤ چې له نن څخه کابو یوه نیمه پېړۍ د مخه یې د امیرشیرعلی خان د سلطنت په دویمه دوره (۱۸۶۸ م) کې په خپلو خپرونو پیل کړی دی. ځینې څېړونکي لیکي چې د دغسې یو اخبار خپرول د هغو اصلاحاتو یوه برخه وه چې سید جمال الدین افغاني یې امیرشیرعلي خان ته د ده د سلطنت په لومړۍ دوره (۱۸۶۶) کې سپارښتنه کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل کېږي چې په ځینو وختو کې به دغه جریده، په دوؤ اوونیو کې یو ځل چاپېدله. د شمس النهار لومړنۍ ګڼې ته له کتنې څخه څرګندېږي چې جریده، په افغانستان کې د یوې نوې پدیدې په حیث مجبوره شوې ده چې په خپله د خپل ځان د پېژندنې په باره کې ډیرې خبرې وکړي. له مشترکینو سره د خپلو اړیکو او له هغوی څخه د اشتراک د پیسو د ترلاسه کولو په لارو چارو رڼا واچوي. مثلاً د «اشتهار»، «اطلاع ضروري» عناوین له همدې موضوع سره اړه لري.

د شمس النهار د داسې یوې خبرې څخه چې (... سعی درین خواهد بود که خبرباز اری و پوچ هر ګز در این اخبار درج نګردد... ) څرګندېږي چې دغه اخبار د ښاري او محلي خبرونو په مقابل کې داسې یو دریځ درلود چې ننني ژورنالیزم یې نه تائیدوي البته په اصطلاح د «د پوچو خبرونو» د نه خپرولو په برخه کې ورسره توافق لري. د افغانستان د مطبوعاتو دغه عنعنه چې د پخوانیو ځراغونو په څېر تر خپلو سترګو لاندې ځمکه په تیاره کې ساتي له همدغه وخت څخه پیل شوې ده.

په ټول اخبار کې یوازې په کابل کې د بې سارې سختې واورې د اورېدو او سختې یخنۍ په باره کې یو خبر محلي جنبه درلوده چې د خلکو د ژوندانه سره یې ډېره نژدې رابطه هم لرله. خو هغه د یوې داسې طبیعي پیښې په باره کې ؤ چې غیر عادي حالت یې د څو کسو د وژل کېدو پایله ورکړې وه. اجتماعي ارزښت یې یوازې دومره ؤ چې په بیک توت کې څو تنو، دوؤ ښځو ته د نجات ورکولو په باره کې خپله انساني وظیفه سرته ورسوله. یو-دوه داسې خبرونه هم په کې راغلي دي چې د افغانستان د خلکو سره یې روحي او عقیدوي نژدې والی درلود. او هغه د څو کسانو د مسلمان کېدو د پېښو په باره کې وؤ. د



شمس النهار د لومړنۍ ګڼې نور خبرونه د لیرې هېوادو او لیرې قارو سره اړه لري. د افغانستان د خلکو او حکومت د کارونو او فعالیتونو اجتماعي هڅو او اجتماعي تحولاتو په باره کې چې دغه وخت پیل شوي وؤ خبرونه یا تبصرې نه لري.

سره د دې هم، د دې جریدې څو نورې ګڼې چې نورو څېړونکو لوستې دي دا راښیي چې په دولتي اعلامیو او خپرونو یې علاوه خبرونه، ادبي لیکنې ځینې نورې داسې مقالې یې هم خپرولې چې د لوستونکو د فکرونو په روښانه کولو او د دوی په خبرتیا کې بې تأثره نه وې. مثلاً په خپله یوه مقاله کې یې لیکلي دي چې په افغانستان کې، خلکو له دې امله چې پومبه یې انګلستان په ارزانه بیه اخستله او په مقابل کې یې خپل ټوکران ورباندې په لوړه بیه خرڅول، د پومبې له کرنې څخه ګټه نشوای کولای بلکه زیان یې لیده، سبب یې دا وؤ چې دغه خلک د علم او کمال څخه بې برخې پاتې شوي وؤ.

یوې یوویشت کلنې تورې دورې چې له (۱۲۵۹ ل- ۱۸۸۰ م) څخه تر (۱۲۸۰ل – ۱۹۰۱ ) پورې یې دوام وکړ د مطبوعاتو لمر په تورو وریځو کې پټ او بیا ورک کړ. په دغه موده کې چې د امیرمحمدیعقوب خان او امیرعبدالرحمن خان د سلطنت دورې دې ملت دوؤ فشارونو (انګریزي استعمار او داخلي استبداد ) لاندې راغلی ؤ. نو ځکه د اختناق اندازه ډېره زیاته وه. که څه هم د امیرعبدالرحمن خان د پاچاهۍ په موده کې کابل ته یوه بله مطبعه هم راوړل شوه، خو هغه مستقیماً د امیر تر کنترول لاندې راغلې وه. په خپله امیر هر څه حتی لیکوال هم ؤ. د ده په زمانه کې کومه جریده نه چلېده خو ځینې دیواني خپرونې لکه فرمانونه، ابلاغیې، اعلامیې او داسې نورې مروجې وې مګر د کتابونو چاپولو کار نسبتاً ښه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ روان ؤ لکه چې د ده د سلطنت په موده کې لږ او ډېر (۳۰) ډوله کتابونه چاپ شوي او خپاره شوي دي.

د کوم ملت د زړه په کور کې چې د مطبوعاتو د لمر ځرک لګېدلی وي، هغه په تورو تیارو کې هم د لارې ایستلو هڅه د لاسه نه ورکوي. لکه چې د هغه وخت د استبداد په خېټه کې یو نوی غورځنګ خپله وده پیل کوله. دا غورځنګ د مشروطیت غوښتونکو نهضت ؤ چې د امیرحبیب الله خان پاچاهۍ په موده کې یې خپل ځان راښکاره کړ. د حبیب الله خان سلطنت په حقیقت کې د عبدالرحمن خان د سلطنت ادامه وه خو یوې جزوي پېښې پکې د بېلوالي کرښه راوایستله هغه دا وه چې د افغانستان د ژورنالیزم پلار محمود طرزي چې د مرحوم پوهاند حبیبي په قول په ترکیه کې یې د سید جمال الدین افغان له مخامخ خبرو څخه زیات اثرات اخیستي ؤ. په ۱۹۰۱ کال کې د امیرعبدالرحمن خان د فاتحې اداکولو او د امیرحبیب الله خان د جلوس د مبارکۍ لپاره کابل ته راغی. د ده فضل او پوهې په امیر اغېزه وکړه او هیله یې ترې وکړه چې کابل ته راستون شي. دې پخوا د امیر عبدالرحمن خان سره د ناوړه تفاهم له امله د خپلې کورنۍ سره دمشق ته تللی ؤ. کله چې محمود طرزي په ۱۹۰۲ کال کې کابل ته راغی لومړی یې د ژول ورنر داستانونه په دري واړول چې امیر یې ولولي. خو دغو کارونو د ده د لیکوالۍ او سیاسي غوښتنو تنده ماته نه کړه نو د یوې جریدې د خپرولو لپاره یې خپلې هڅې پیل کړلې.

د ده دغو هڅو په پایله کې، له شمس النهار څخه وروسته دویمه جریده د افغانستان سراج الاخبار په نامه د ۱۹۰۶ جنوري په ۱۱ نېټه راووتله، مسؤل مدیر یې د شاهي مدرسې مدرس مولوي عبدالرؤف خان کندهاري ؤ. د افغانستان سراج الاخبار یوازې یوه ګڼه



خپره شوې وه. ویل کېږي چې د درولو علت یې د بریتانیې د حکومت مداخله وه. د دغه اخبار په درېدو سره یو ځل بیا د تورتم حالت راپیدا شو خو په دې موده کې د کتابونو چاپولو لړۍ په ټپه ونه درېده. د ۱۹۱۱ کال په وروستیو وختو کې هغه ډیوه چې د بلېدو سره سم یې رڼا ورکه شوه، یو ځل بیا راپیدا شوه او د سراج الاخبار افغانیې په نامه یې خپلو خپرونو ته دوام ورکړ.

داځل د تنویر اور تودو چې دغه طاقت د علامه محمود طرزي په شان یو لوی سیاست پوه، ادیب او مدبر شخصیت په لاس ورغی. د افغانستان د ژورنالیزم پلار محمود طرزي اخبار په لنډ ډول خو په ډېره جامع توګه په خپلو الفاظو کې داسې تعریف کړی دی: (اخبار جمع خبر است که ضد آن بی خبری است.) په دې توګه دی د خبرتیا او بې خبرۍ تر منځ توپیر ته اشاره لري او خبرتیا د هر چا لپاره ضروري بولي. د سراج الاخبار د لومړنۍ سرمقالې څخه ځرګنده شوه چې ده هغه وخت د خبر لیکنې دری مهم هدفونه (خبرول، تعلیم ورکول او مصروف ساتل) په مخکې اچولي وؤ. د افغانستان د هغه وخت په شرایطو کې د محمود طرزي د خبرنګارۍ ځلورمه وظیفه د استعمار ضد ملت پالنه وه.

د دوؤ روسي څېړونکو (ماسون او رومادین) د لیکنو له مخې په ترکستان کې د تزاري روسیې حکمران جنرال کورا پاتکین، د سراج الاخبار د خپرونو څخه شکایت درلود. دغه اخبار په افغانستان کې د مشروطیت غوښتونکو له خوا چاپېده چې نورو محکومو ولسونو ته یې هم د آزادۍ پیغامونه درلودل. روسان د دغه اخبار د خپرونو څخه انګریزانو ته په شکایت ورغلل او ورته ویې ویل چې د افغانستان په امیرحبیب الله خان فشار واچوي چې د دغه اخبار ژبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنده کړي، ځکه چې سراج الاخبار په خلکو کې د آزادۍ غوښتنې جذبه راوېښوي او خلک د روس او انګریز په ضد را پاروي. خو انګریزانو په خپله هم، له دوی څخه د مخه دا ډول شکایت درلود. د ډیلي چیف کمشنر (W.M.Haily) د ۱۹۱۴ کال په سپټمبر کې د جنایي اطلاعاتو سرمامور ته ولیکل چې د سراج الاخبار د خپرونې لهجې زموږ ګټې له سخت زیان سره مخامخ کړي دي. باید په هند کې د هغه د خپرېدو مخه ونیوله شي.

په هند کې برتانوي نایب السلطنه (وایسرای) د ۱۹۱۴ کال د دسمبر په میاشت کې د افغانستان له امیر څخه وغوښتل چې په سراج الاخبار کې د بریټانیا په ضد د خپرونو مخه ونیسي. په دغه وخت کې د سیمې د شاوخوا مطبوعاتو لکه د کلکتې (حبل المتین) او د ایران (عصر آزادی) او (نهضت شرق) جریدو هم د افغانستان د نهضت او مطبوعاتو پیروي کوله.

سراج الاخبار اته کاله خپور شوی دی چې د امیرحبیب الله خان د مړینې سره سم یې نشرات پای ته رسېدلي دي او «امان افغان» د هغه ځای نیولی دی. په دې دوره کې د خپرونو بل مهم ګام د مسلکي خپرونو خپرېدل وؤ لکه چې د سراج الاخبار افغانیه ترڅنګ د افغاني ماشومانو لپاره د سراج الاطفال په نوم یوه جریده خپروه شوه.

د خپلواکۍ له ترلاسه کولو وروسته د هېواد د هر اړخیز پرمختګ لپاره د پروګرامونو د طرحې په ترځ کې د خپرونو د پراختیا او پرمختګ هڅه هم وشوه. په لومړۍ مرحله کې د خپرونو ژبه د هېواد د آزادۍ ساتلو او د پرمختګ لپاره وګومارله شوه او په بله مرحله کې د خپرونو د غږ رسېدلو او رساکېدو لپاره پراختیایي او پرمختیایي



ګامونه پورته شول. د خپرونو وسعت او تنوع ته پاملرنه وشوه او دهېواد ګوټ ګوټ ته د هغه د رسېدلو هڅې پیل شوې.

د مرکزي اخبار «امان افغان» تر خپرېدو لږ وروسته لاندې خپرونې پیل شوې:

اتحاد مشرقي (۱۲۹۸ ش) په ننګرهار کې، الغازي (۱۳۰۰ ش) په پکتیا کې، اتفاق اسلام په هرات کې، طلوع افغان (۱۳۰۰ ش) په کندهار کې، بیدار (۱۳۰۰ ش) په مزار شریف کې خپلې خپرونې پیل کړې. همدارنګه اتحاد، ستاره، افغان، اصلاح د ولایاتو له خپرونو څخه وې.

د «افغان» په نامه د افغانستان لومړنۍ ورځپاڼه د لومړي ځل لپاره په مرکز کې راووتله. همدارنګه ارشاد النسوان (د ښځو لپاره اختصاصي جریده)، ابلاغ (قانون خپروونکې دیواني جریده) او د حقیقت جریده یوه په بله پسې خپرې شوې. ورسره د معرف معارف، مجموعه عسکریه، آینه عرفان، مجموعه صحیه او پښتون ږغ مجلې خپرې شوې.

د افغانستان د لومړني اساسي نظامنامې (اساسي قانون) چې په ۱۳۰۱ لمریز کال کې تسوید او تصویب شو. په خپله ۱۱ مادو کې د افغانستان د خلکو لپاره د فکر او بیان آزادي تضمین کړه او بیا په ۱۳۰۳ کال کې د افغانستان د مطبوعاتو د لومړنۍ نظامنامې په خپرېدو سره عملاً د ثروت، انیس، نسیم سحر او نوروز آزادي جریدې رامنځ ته شوې. همدا وخت د مطبوعاتو لومړنۍ ریاست جوړ شو او لومړنۍ آزاده مطبوعاتي محاکمه وشوه.

په افغانستان کې د مطبوعاتو د دې بیړنۍ او چټکې ودې له اوج ته رسېدو سره یو ناڅاپه د سقوي دورې د اړو دوړ له امله

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطبوعات له سقوط او رکود سره مخامخ شول خو بیا هم رژیم ته د تبلیغ د اړتیا له امله په ټپه و نه درېدل. عاجل فرامین او ابلاغیې نشر شوې او ورسره د هېواد مرکزي اخبار «امان افغان»، «حبیب الاسلام» په نامه خپور شو. همدارنګه د کندهار «طلوع افغان» نوم په «مؤید الاسلام» وګرځول شو. په خان آباد کې د «اصلاح» پر ځای «نهضت الحبیب» او په مزار شریف کې د اتحاد اسلام بیا «بیدار» پر ځای «رهبر اسلام» جریدې خپرې شوې. «الایمان» د یوې دینې جریدې په توګه په ننګرهار کې خپور شو او «الاصلاح» او «اتحاد افغان» په پکتیا کې د نادرخان او شاه محمودخان له خوا چې دا وخت له سقویانو سره په جنګ وو خپاره شول. په همدې توګه دا وخت څو نورې جریدې د «غیرت اسلام» «د کور غم» او «سورسات» په نومونو په کندهار او ننګرهار کې خپرېدلې. دا وخت د «افغانستان» په نوم یوه جریده له لاهوره هم خپرېده چې د هېواد خواخوږو پکښې کار کاوه.

په نادري دوره کې په سرکاري سطحه اکثره مړې شوې خپرونې را ژوندۍ او ځینې نوې خپرونې رامنځ ته شوې. په کابل کې د کابل «مجله»، کابل کلنۍ، اقتصاد مجله، «حی علی الفلاح» مجله، په کندهار کې «پښتو» په هرات کې ادبي مجله او د هرات د ښاروالۍ مجله نوې خپرې شوې.

په ۱۳۲۹ کال په افغانستان کې د مطبوعاتو د دویم قانون په نافذېدلو سره، د سیاسي تنفس لپاره نسبتي زمینه برابره شوه او مطبوعاتو د ویښ زلمیانو تحریک ته په انعکاس ورکولو سره د خپلې ودې او پرمختګ په لاره کې یو بل مهم ګام اوچت کړ.



دا وخت تر اماني دورې وروسته، د آزادو مطبوعاتو دویمه څپه پیل شوه او په کابل کې د «انګار»، «وطن»، «ندای خلق»، «اولس»، «نیلاب» او «آئینه» جریدې خپرې شوې، د کابل انتخابي ښاروالۍ د «پامیر» او د میمنې ښاروالۍ د «اتم» په نامه جریدې راوایستې او د دوی تر څنګه «الفبا» ته په کندهار، «صدای ملت» ته په هرات او «پیام افغان» ته په کابل کې د نشر اجازه ورکړ شوې وه.

په هېواد کې د دموکراسۍ د لسیزې (۱۳۴۲- ۱۳۵۲) په پیل کېدو سره حتې دسرکاري خپرونو لهجه هم بدله شوه او په لومړۍ مرحله کې چې لا آزادې جریدې نه وې خپرې شوې په اصلاح، انیس او هېواد کې هم د انتقادي مقالو خپرېدل پیل شول او د مطبوعاتو د یو کیفي بدلون لپاره زمینه برابره شوه. په دغه دوره کې یو زیات شمېر شخصي او حزبي جریدې راووتې لکه:

«وحدت»، «پیام امروز»، «افغان ملت»، «خلق»، «مردم»، «پیام»، «وجدان»، «مساوات»، «پرچم»، «ترجمان»، «سبا»، «شعله جاوید»، «صدای عوام»، «کاروان»، «خیبر»، «کمک»، «پروانه»، «هدف»، «جبهه ملی»، «سپیده دم»، «ګهیځ»، «پکتیا»، «افغان ولس»، «اتحاد ملی»، «روزګار»، «ملت»، «افغان»، «رمز صحت»، «شوخک»، «آزادي»، «آینه روز»، «دارو درمل»، «میهن»، «برهان»، «افکارلو»، «پیکار» او «ندای خلق».

د دموکراسۍ د لسیزې آزادو مطبوعاتو د ویښ زلمیانو د دورې په څېر په ډېره سمبولیکه ژبه خبرې نه کولې لهجه یې څه ناڅه روښانه او واضح وه. دې جریدو کولای شوای چې د خپلو امکاناتو سره سم حقایق را لوڅ کړي، د وخت په سیاسي او فکري جریانونو رڼا واچوي، د زړونو خبرې را برسیره کړي او پټې شوې عقدې را لوڅې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي ورسره يې د واردو شويو ايډيالوژيو د تخمونو د کرلو لپاره هم زمينه برابره کړه.

د ۱۳۵۲ کال د چنګاښ په ۲۶ د جمهوريت د کودتا په کېدلو سره د ديموکراسۍ د لسيزې پاڼه ونغښتله شوه. شخصي او آزادي خپروني ټولې بندې شوې. رسمي  خپروني زياتره په خپل حال پاتې شوې خو د کيفيت له اړخه د خپرونو ژبه او لهجه بدله شوه او حتی ټولې سرکاري خپروني هم د دولتي مطابعو د مسوؤل مديريت له خوا کنټل کېدې او په خلاص متن سانسور پکې کېده. دا سانسور هم يوازې د انتقادي مطالبو د مخ نيوي لپاره ؤ خو چې افکارو خصوصاً د جمهوريت په لومړيو څو کلونو کې په خلاص متن سرکاري خپرونو او راډيو ته لاره ومونده نو کمونيستو ليکوالو پکې ځای ونيو.

د جمهوريت په دوره کې د هېواد د مرکزي اخبار نوم «جمهوريت» شو چې د «اصلاح» د ورځپاڼې ځای يې ونيو او ورسره د جمهوريت په نامه پښتو، دري، انګريزي او عربي مجلې هم خپرې شوې.

د ثور د خونړۍ کودتا له کېدو سره د هېواد نورو شتمنيو ترڅنګ نشراتي او خبرني وسايل هم ټول د دوی لاس ته ولوېدل او له هماغه لومړۍ ورځې نه يې د خپلو کمونستي اهدافو لپاره استخدام کړل.

د کمونيستانو مطبوعاتو درې بڼې درلودې:

۱- د خلقيانو په وخت کې د کمونستي کولو پروسه: په دې دوره کې د جمهوريت ورځپاڼه، «ثور انقلاب» په ورځپاڼه واړوله شوه.



د هېواد نورې عامې علمي او مسلکي خپروني يې هم په کمونستي رنګ ولړلې او ټول علمي مسايل يې د مارکسيزم سره خم ته واچول.

۲- د روسي کولو پروسه: د ۱۳۵۸ کال د مرغومې په ۶ نېټه، افغانستان ته د روسي لښکرو په راتلو سره روسانو د خلقيانو ځای پرچميانو ته وسپارلو په ټولو ساحو کې يې د خپلو ګڼو مشاورينو په وسيله کارونه پيل کړل او پرچمي جمهور رئيس، صدراعظم او وزيران او نور تش په نامه وؤ.

روسانو په لومړۍ مرحله کې د ګوند او حکومت چارې سره بيلې کړې، د «ثور انقلاب» مرکزي ورځپاڼه يې د روسيې د پراودا په تقليد او ترجمه د «حقيقت...» په نوم د ګرځولو او د ګوند د نشراتي ارګان په توګه يې نشر کړه. د «هېواد» ورځپاڼه يې د حکومت د اورګان په توګه «ژوندون» يې د ليکوالو د اتحاديې، «پيش آهنګ» د ماشومانو د سازمان، «درفش جوانان» يې د ځوانانو د سازمان، «زنان افغانستان» يې د ښځو د سازمان «کار» يې د صنفي اتحاديو، «هنر» يې د هنرمندانو د اتحاديې او «سباوون» يې د ژورنالستانو د اتحاديې له خوا نشر کړل او «حقيقت سرباز» يې د وزارت دفاع له خوا خپور کړ.

کمونستانو قومونو ته چې دوی ورته مليتونه وايي، د حقوقو ورکولو په نامه د ازبکو، ترکمنو او بلوڅو لپاره د «يلدوز»، «ګورش» او «سوپ» په نومونو جريدې د دوی په ژبو خپرې کړلې، خو په حقيقت کې يې دا کار د افغانستان د ورونو قومونو د سره اچولو، د دوی تر منځ د دښمنيو د راپيدا کولو او د بيلتون راوستلو لپاره د خپل ښکيلاکي پلان له مخې کاوه. همدا راز د پښتنو قبايلو لپاره يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د «جرګه» په نامه مجله نشر کړه او غوښتل يې چې د جرګې تر عنعنوي نامه لاندې دوی د کمونيزم په لومه کې ښکيل کړي.

کمونيستانو په کابل کې د روسي خپرونو د ويشلو لپاره هم زمينې برابرې کړلې، لکه د «ځلميان»، او «جوانان» جريدې په خپله د روسيې کلتوري مرکز خپرولې. دغه مرکز د کمونيزم ايډيالوژيکه مجله هم د «سولې، ترقۍ، او سوسياليزم» په نامه په کابل کې خپره کړه. «پيوستون» او «همبستګي» او «دوستي» دوې نورې خپرونې وې چې دوی د خلکو د ماغزو مينځلو لپاره خپرولې.

۳- د عادي کولو پروسه: په افغانستان کې د کمونيزم او روسانو د ماتې خوړلو په پايله کې، د کمونيستانو وروستنی جمهور رئيس نجيب الله، د ملي روغې او پخلاينې سياست ته لاس وغزاوه. له يوې خوا يې د فرمايشي حزبونو د جوړولو لپاره اجازه ورکړه چې خپل نشراتي ارګانونه هم ولري او له بلې خوا يې هڅه وکړه چې دولتي خپرونو ته ملي بڼه ورکړي. او د کمونستي کولو او روسي کولو پرځای يې د عادي کولو لاره ونيوله. په دې سلسله کې يې يو شمېر کسانو ته اجازه ورکړه چې په اصطلاح آزادې جريدې خپرې کړي او حزبونه نشراتي اورګانونه ولري. د دې ډول آزادو جريدو په لړ کې د «پلوشه»، «ياحق»، او «نګاه» په نوم جريدې خپرې شوې. د فرمايشي حزبونو په لړ کې د افغانستان د خلکو اسلامي حزب «الاسلام»، د افغانستان د زحمتکشانو انقلابي سازمان چې د ستمي کمونيستانو يوه ډله ده د «ميهن» او د بزګرانو د عدالت ګوند د «عدالت» په نامه جريدې خپرې کړې.



د سرکاي خپرونو په لهجه او کړو وړو کې هم بدلون راغی. د «حقيقت انقلاب ثور» خپرونه يې بنده او د هغه پر ځای يې د «پيام» په نوم خپرونه را و ايسته. د «اخبار هفته» په نوم ظاهراً يې يوه آزاده جريده نشر کړه چې په روسيې، نجيب او حکومت يې هم انتقادونه کول خو په حقيقت کې دا جريده د خاد د ادارې له خوا اداره او خپرېدله.

زموږ د نن د مطبوعاتو بل طلايي اړخ د مقاومت او جهاد خپرونې دي چې د کمونيستانو له کودتا او تيري سره جوخت پيل شوي او د وسله وال جهاد ترڅنګ يې قلموال جهاد او مقاومت پيل کړ. په لومړۍ مرحله کې جهادي خپرونې د پوسترونو، ابلاغيو، رسالو او جريدو په بڼه په يو ډېر محدود چوکاټ کې پيل شوې. د جهادي خپرونو لومړی شروع په پېښور کې وه، بيا په ايران، هند، اروپا، امريکا او نورې نړۍ کې هم پيل شوې.

«شهادت» د انجنير ګلبدين حکمتيار د حزب اسلامي نشراتي ارګان او «مجاهد» د جمعيت اسلامي افغانستان نشراتي ارګان د جهاد لومړنۍ خپرونې وې چې په ۱۳۵۷ کال په پېښور کې نشر شوې. «صف» په اروپا کې د افغاني محصلانو د اسلامي ټولنې خپرونه وه چې په ۱۳۵۷ کال کې راووته او هم «سوم عقرب» د مقاومت لومړۍ خپرونه وه چې مائويستو محصلينو په اروپا کې په ۱۳۵۷ کال کې خپره کړه. د جهاد په جريان کې د خپرونو شمېر کال په کال زيات شوی دی.

په عمومي ډول څومره خپرونې چې د افغانستان د پرون په کابو يوه نيمه پيړۍ کې شوې، تر هغه زياتې خپرونې د جهاد په لس کلنه دوره کې شوي دي. د يوې هغې احصائيې له مخې چې ښاغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



رفیع (۱۶) کاله مخکې په افغانستان کې جوړه کړې وه زموږ د ټولو مهالنیو خپرونو شمېره (۱۹۶) عنوانونو ته رسید ه خو هغه احصائیه چې څو کاله د مخه ښاغلي ننګیال د جهادي مهالنیو خپرونو په برخه کې برابره کړې وه او ښاغلي رفیع تکمیل کړې وه، د جهادي خپرونو شمېر (۲۳۶) عنوانو ته رسېده. په دواړو احصائیو کې یوازې هغه خپرونې راغلي چې په پښتو او دري ژبو خپرې شوې وې. د نورو ژبو خپرونې چې یا هغه وخت یا دا وخت شوی په دې احصائیه کې نه دي نیول شوي همدارنګه ټولې هغه خپرونې چې په هېواد کې، د ننه او یا په نورو هېوادو کې رواني دي، تراوسه په دقیقه توګه نه دي شمېرل شوې، یا داچې زه نه یم ورڅخه خبر شوی، ځکه خو سمدلاسه په دې اړه څه نشم لیکلی.

## راډیو په افغانستان کې:

د اعلیحضرت امان الله خان په وخت کې چې د هېواد د صنعتي کېدلو لپاره بیړنۍ هڅې رواني وې، نو د مطبوعاتو د پراختیا او پرمختګ په څنګ کې راډیو نشراتو ته هم پاملرنه وشوه. لومړی پلا د راډیو دوه کوچنۍ دستګاوې د افغانستان د هغه وخت د حکومت له خوا راونیولې شوې چې یوه یې په ۱۳۰۶ کال کې په کابل کې نصب شوه او په نظر کې ؤ چې بله یې په کندهار کې فعاله شي. په هغه وخت کې د راډیو داسې یوه ۲۰۰ واټه دستګاه په زیاترو آسیایي هېوادونو کې نه وه فعاله شوې. لومړی ځل د راډیویي نشراتو د خپرېدو توان ډېر زیات نه ؤ. د دستګاه له نصب کېدو څخه د مخه (۳۰) بټرۍ لرونکې راډیوګانې په خلکو ووېشلې شوې. د راډیو لومړنۍ دستګاه په لندني کوټۍ (کوتی لندني) کې نصب او آنتن یې هم د دې کوټۍ په



چمن کې ودرول شو. د راډیو اداره په کورنیو چارو وزارت پورې تړل شوی وه یوازې دوه ساعته خپرونې یې لرلې.

د امانې دورې له پای ته رسېدلو او په افغانستان کې د اغتشاش له راتلو وروسته راډیویي خپرونې هم په ټپه ودرېدې په دغه وخت کې د خبرونو او موسیقي لپاره پاریدلې تلوسه د برتانوي هند، آلمان او روسیې او نورو ځایونو راډیوګانو ته په غوږ نیولو سره تسکینېدله. په دغه وخت کې په افغانستان کې د انګلستان، امریکې، ایټالیې او روسیې له خوا جوړې شوې راډیو ګانې د افغاني سوداګرو له خوا واردېدلې او په بازارونو کې خرڅېدلې. په اردو ژبه د هندوستان خبرونو او هندي موسیقي په افغانستان کې زیات اورېدونکي درلودل.

په اساسي ډول د راډیو د خپرونو د بیا پیل کولو لپاره مقدماتي کارونه له ۱۳۱۴ څخه پیل شول. د منځنی څپې د یوې راډیویي دستګاه د رانیولو او نصبولو یو تړون د آلمان سره لاس لیک شو. همدرانګه حکومت له ټولو نایب الحکومه ګانو څخه وغوښتل چې د خپلو مربوطو تیمو څخه شاعران، ادیبان، هنرمندان او د ذوق خاوندان ورمعرفي کړي. په کابل کې د راډیو نشراتو لپاره یوه فني اداره او یو تخنیکي کورس جوړ شو. د دستګاه د راوړلو نصبولو کارونه تر ۱۳۱۹ کال پورې بشپړ شول د راډیو اساسي خپرونې د ۱۳۲۰ کال د حمل په لومړۍ نېټه، د هغه وخت د صدارت د لومړي مرستیال او د پوهنې د وزیر سردارمحمد نعیم خان په پښتو وینا پیل شوې.

تر دې وروسته د راډیو په تخنیکي او نشراتي ساحو کې ډېرې پرمختیاوې محسوسېدلې، د پرمختیا دې سلسلې بالاخره خپل ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هېواد د انکشافي پلانونو سره ونښلاوه. تر دې چې د کابل په انصاري واټ کې د راډیو افغانستان نوې مجهزه او عصري ودانۍ پرانیستل شوه اود هېوا د دویم پرمختیایي پلان له مخه د راډیو افغانستان تخنیکي او نشراتي امکانات پراخ شول او تر دې وروسته هڅه دا وه چې سیمه ییز لېږدوونکي او آخذې بشپړې شي.

په ۱۳۴۵ کال کې راډیو د ورځې ۱۴ ساعته خپرونې لرلې په دغه وخت کې په بهرنیو خپرونو کې په روسي او جرمني ژبو هم خپرونې پیل شوې وې. په ۱۳۴۶ کال کې یې خپرونې تر (۱۵) ساعتو ورسېدې چې (۷۵) جلاجلا خپرونې یې لرلې. د داود خان له کودتا سره (۱۳۵۲ سرطان) د راډیو افغانستان په خپرونو کې څه ډېر زیات محسوس بدلونونه رامنځ ته نه شول.

د ثور د کودتا سره سم راډیو زموږ د ملت او شاوخوا ګاونډیو هېوادو په ضد د تبلیغاتي جګړې یوه لویه اډه وګرځول شوه. د راډیو بشپړ کنټرول ګوندیانو واخیست. د خپرونو محتویات یې د خپل ګوند د کمونستي مرامونو په اساس وټاکل. په راډیو کې یې د خپلو فکري او ګوندي غوښتنو په بنسټ ځینې نوې خپرونې رامنځ ته کړې. په دغه وخت کې په راډیو کې روسي اثرات او تأثیرات زیات شول. د خپلو تبلیغاتو لپاره یې د ورونو قومونو ژبو څخه هم زیاته استفاده وکړه.

له روسي یرغل څخه وروسته د راډیویي امکاناتو د لا زیاتو پراخېدلو هڅه وشوه. دا کار د دې لپاره وشو چې له یوې خوا خپل تبلیغات د افغانستان د خلکو او هم نړیوالو ته ورسولی شي او له بلې خوا دا چې د راډیویي خپرونو شمېر او امواج او فریکونسي دومره متنوع کړي چې خلک د نړۍ نورې راډیوګانې وانه ورېدلی شي. په



دې منظور په بېلابېلو وختونو کې د راډیویي نشراتو او حتی جلا جلا راډیو ګانو د رامنځ ته کېدلو لپاره هڅې وشوې. په جلال آباد، کندهار، هرات، بلخ، ګردېز، خوست او د ځینو نورو ولایتونو په مرکزونو کې محلي ولایتي راډیوګانې فعالې شوې او د هغوی د تبلیغاتو په خدمت کې ولوېدې او د نشراتو حجم ډېر زیات شو. په وروستیو کلونو کې د شرقي آلمان په مالي او تخنیکي مرسته راډیو افغانستان د مرکزي سټوډیو ګانو د پراخېدو او نویو سټوډیوګانو د جوړولو کار د راډیو تلویزیون د ودانۍ غربي اړخ ته پیل شوی و.

## تلویزیون په افغانستان کې:

د ۱۳۵۱ کال په وروستیو میاشتو کې هغه وخت چې اروانباد محمد موسی شفیق د شاهي رژیم یو پوه او فعال صدراعظم و او د ژورنالیزم یو استاد ښاغلي صباح الدین کشککي، د اطلاعاتو او کلتور د وزارت چارې پرمخ بیولې، په افغانستان کې د تلویزیون د جوړېدو پلان تصویب شو.

د کابل په ښار کې د تلویزیون مرکزي سټډیو د راډیو افغانستان په انګړ کې د مرحوم داود خان د جمهوري ریاست په موده کې د جاپان په تخنیکي او علمي مرستو جوړه شوه. دغه تلویزیون په لومړي سر کې د تعلیمي خپرونو او صحي پروګرامونو لپاره چې د ورځې به له یو نیم تر دوؤ ساعتونو پورې خپرونې کولې، جوړ شوی و چې په امتحاني ډول یې د ۱۳۵۶ کال د حوت د میاشتې په ۲۵ نېټه خپرونې پیل کړې. په نظر کې و چې د ۱۳۵۷ل د سرطان په ۲۶ به پرانیستل کېږي. مګر له بده مرغه داسې ونه شول. د افغانستان تلویزیون د پرانیستل کېدو د مخه د روسانو اود هغو د نوکرانو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدمت کې ولوېد، د افکارو، د تعمیر په ځای د افکارو د تخریب لپاره وسیله وګرځیده. دغه تلویزیون د جاپان په مرسته په پال سکیم ډول جوړ شوی ؤ چې د نړۍ له عصري دستګاوؤ څخه شمېرل کېده او په سیمه کې یې ساری نه درلود.

د ۱۳۶۶ کال په پیل کې د مسکو د تلویزیون یو ډایرکټر راوستل شو چې د کابل د تلویزیون خپرونې په روسي سیستم برابرې کړي. د راډیو تلویزیون روسي مشاورینو په مستقیم ډول د تلویزیوني خبرونو په ایډېټ کې برخه اخیستله. تر دې چې د مرکزي کمیټې روسي مشاورینو په مستقیمه توګه خپل امرونه صادرول.

روسانو غوښتل چې د سیمې له دې مهمې تلویزیوني دستګاه څخه د خپلو تبلیغاتو لپاره د نړیوالې اډې په توګه کار واخلي. نو دوې سترې مخابراتي دستګاوې یې د راډیو تلویزیون په انګړ کې ودرولې چې یوه یې د مارس دستګاه او بله یې د شمشاد دستګاه وه. د مسکو د تلویزیون خپرونې او هغه څه چې روسانو آسیایي سیمو ته خپرولې، د مارس د دستګاه په وسیله له مصنوعي سپوږمۍ (انترسپوتنیک) څخه اخیستل کېدې او خپرېدې. روسانو په دې ډول غوښتل په افغانستان کې د نورو ګاونډیو هېوادونو د تلویزیوني خپرونو مخه ونیسي. د دې دستګاه زور او قوت زیات نه ؤ ځکه هغه د افغانستان څخه وایستل شوه، ویل کېدل چې هغه کوم افریقایي هېواد ته واستول شوه. پرځای یې یوه بله دستګاه چې «لوتوس» نومېده او رژیم د شمشاد نوم ورباندې کېښود په ۱۳۶۱ کې له روسیې څخه راوړل شوه. دغې ډېرې مجهزې دستګاه څو کانالونه درلودل چې د تلویزیوني خپرونو څخه علاوه په مخابراتي او استخباراتي چارو کې هم ورڅخه کار اخیستل کېده. د شمشاد دستګاه کولای شول چې د



کابل د تلویزیون له مرکزي سټېډیو نه د نړۍ هرې تلویزیوني شبکې ته د انترسپوتنیک له لارې مواد ورکړي او له نورو شبکو څخه هم اطلاعات ترلاسه کړي. د دې دستګاه ټول ښه امکانات یوازې او یوازې د شوروي او کمونیزم د تبلیغاتو لپاره وقف شوي وؤ.

له دې امله چې تلویزیون د کمونستي او روسي پروپاګنډې د خپرولو ډېره ښه وسیله وه نو د تلویزیوني شبکې لمنه د هېواد نورو ولایاتو ته هم وغځېدله لکه چې تر ۱۳۶۶ کال پورې د کابل په ګډون په بدخشان، بغلان، بلخ، جوزجان، هرات، فراه، هلمند، کندهار، خوست، ګردېز، غزني، ننګرهار او کنړ کې هم د تلویزیون خپرونې پیل شوې.

د افغانستان تلویزیوني شبکه په خپله د افغانستان د خلکو لپاره نه دې سالمې خبرتیا او نه د سالمې تفریح وسیله و، لوی هدف یې د دښمن په ګټه تبلیغات کول او د افغانستان د خلکود عامه افکارو تخریبول وؤ. د دې دستګاه اود هغې د کارکوونکو په ضد د خلکو کرکه ورځ په ورځ زیاتېدله.

د کابل ښاریانو د راډیو تلویزیون د دولتي کمیټې د رئیس، د تلویزیون د رئیس، مرستیال او نورو مسؤلینو د تیلیفون لمبرونه اخیستې وؤ. کله به چې خپرونې پیل شوې نو د کنځلو تیلیفونونه به هم ورسره سم پیل شول. د یول مسؤل د خولې خبره وه چې: «من بعد از شش بجه در تیلیفون مستقیم هیچ گپ نمی زنم، زیرا که غیر از دوزدن چیزی دیگري نیست» دغه راز د تلویزیون د هغه وخت رئیس عبدالله شادان به ویل چې: «هرشب من بیش از صدها بار دشنام می شنوم لاکن چه کنم چاره چیست؟» د تلویزیون کمونستي کارکوونکو یو بل ته یوازې په یوه خبره تسلي ورکوله او هغه دا وه: «موږ د مخالفینو ګولۍ منلي دي خبرې خو یو عادي کار دی».

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

# موږ اتلان وؤ که، که خبر جوړونکي؟



## موږ اتلان وؤ، که خبر جوړوونکي؟

له روسانو سره د جهاد په موده کې هر مجاهد افغان فکر کاوه چې له دین، وطن او خپلې ملي آزادۍ څخه ددفاع ډېر لوی رسالت په غاړه لري او یو ځل بیا د نورو ملتونو له غاړو څخه د غلامۍ د زنځیرونو د ماتولو په لویه مبارزه کې د مخکښۍ ویاړ ترلاسه کوي، نو ځکه هر یوه ته خپل ځان اتل او قهرمان ښکارېده. خو د نړۍ نورو ډول ډول ټولنیزو ګروپونو په هغوی ځینې نور ښه یا بد نومونه اېښودل. د نړیوالو لویو خبري آژانسونو له نظره زموږ د هغه وخت تکړه، تر ځان او مال تېر مجاهدین تر هر څه زیات، خبر جوړوونکي (Newsmakers) یا داسې مولدین وو چې تولیدات (خبرونه) یې په تودو بازارونو کې لاس په لاس ګرځېدل. خو ګټه یې د نورو وه.

په ۱۹۸۲ کال کې، هغه وخت چې زموږ جهاد یوې ډېرې تودې مرحلې ته رسېدلی و، پنځو لویو بین المللي خبري آژانسونو (اسوشیېټډ پرس، یونایټډ پرس، رویټرز، فرانسپرس او تاس) چې د نویو صنعتي او تجارتي کمپنیو د اتحاد (Cartels) پوړ ته ختلي وو، د نړۍ په بېلابېلو برخو کې له (۵۰۰) څخه زیاتې نمایندګۍ لرلې. دغو د خبرونو په کار و بار اخته ادارو په نړۍ کې د (۴۳۱۹) خبریالانو یا نمایندګانو یو لښکر خپور کړی و.

په قلمونو، مایکروفونونو او تلویزیوني کامرو باندې دغه مجهز پوځ د جګړو په تودو ډګرونو کې هم د چریکانو څنګ نیولی و

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هره ورځ به يې (۱۷) میلیونه ويبونه يا لفظونه لیکل، چاپول او يا به يې په الکترونیکو څپو کې فضا ته سپارل، چې بيا به د نړۍ د خلکو سترګو او غوږونو ته رسول کېدل.

د هغو ډېرو ژورنالیستانو په جمله کې چې د افغانستان د حالاتو په باره کې يې ډېر مهم او ډراماتیک خبرونه لیکل د نیویارک ټایمز ورځپاڼې خبریال په خاصه توګه د يادونې وړ دی. دغه ۶۲ کلن ژورنالیست په افغانستان کې داسې له تکلیفونو او خطرونو ډک سفرونه کړي دي چې ځوانو ژورنالیستانو يې جرات نه شو کولای. ده خپلې ورځپاڼې ته د تازه تازه خبرونو له مخابره کولو نه علاوه د افغانستان د حالاتو په باره کې داسې زيات، په زړه پورې او ډراماتیک حالات راټول کړي دي چې لیکوالو ته د ښو فلمي سناريو او رومانونو لیکلو موضوعات په لاس ورکوي. ده خپل دا معلومات د"Among the Afghans" (دافغانانو تر مینځ) په نسبتاً پنډ کتاب کې راټول کړي او چاپ کړي دي.

نورو تکړه ژورنالیستانو د بېلابېلو هېوادونو د پوځي مشاورينو او د جاسوسي موسسو د کارکوونکو په څېر غوښتل چې د مجاهدينو په صفونو کې او کتارونو کې ملګري پيدا کړي، له همدغه امله د جهاد د ځينو وتليو قوماندانانو ته د سپکو او درنو وسلو تر څنګ، د تلويزيون حساسې کامرې هم له يو شمېر کسيټونو سره يو ځای ورکول کېدلې.

ځينو تنظيمونو په جهاد کې، د خپلو فعاليتونو د پوره انعکاس لپاره هڅه کوله چې خارجي ژورنالیستان ونازوي چې د دوی په ګټه زيات تبليغات وکړي. خو ژورنالیستانو د خپلو خپلو مقصدونو لپاره کار کاوه. ويل کېدل (غاړه دې د راوي بنده وي) چې



يو تنظیم خاص د دې لپاره چې چريکي عمليات يې، د دوی له خوښې سره سم د نړۍ په لويو تلويزيوني شبکو کې انعکاس ومومئ نو يې په پکتيا کې بې وخته او بې ضرورته يوه ناڅاپي جګړه پیل کړه. په دې جګړه کې هغه اکټونه يا اکشنونه ډېر وو، چې فلم اخيستونکي زيات خوشاله کولای شي. البته دې ناڅاپي جګړې په ګردېز کې د پوځيانو يوې چونۍ ته سخت زيانونه ورسول خو څرنګه چې مجاهدينو تعرضي حالت درلود نو د دوی تلفات د دښمن د پوځيانو په نسبت زښته زيات وو.

د خبرونو برابرول او وېش (يا عرضه) يو نړيوال کاروبار يا بېزنس دی. لکه څنګه چې د شرق او غرب جنوب او شمال تر منځ سياسي سيالۍ شته، هماغسې اقتصادي سيالۍ روانې دي چې د خبرونو د ورکړې راکړې په کاروبار کې هم دا دواړه ډوله سيالۍ موجودې وې او دي.

په اسلامي دنيا کې د تونس د اطلاعاتو يو وزير ښاغلي مصطفی مسرودي د اطلاعاتو په ساحه کې د شرق او غرب بيا د شمال او جنوب تر منځ په يوه ويروونکې نا انډولۍ پوهېدلی دی. ده ليکلي دي چې د نړۍ په سلو کې اتيا خبرونه د لويو لويديزو آژانسونو له خوا ټولېږي. دا نا انډولي خپله دا ښيي چې د نړۍ خبرونه د غريبانو د انحصار په منګول کې ورغلي دي. په داسې ډول چې د نړۍ له څلورو څخه دری برخې خلک د دغو خبري لويو کمپنيو يا کارټلونو په مقابل کې د داد وړ دفاعي وسيلې نه لري د تونس د اطلاعاتو وزير په وينا د ۱۹۸۲ کال په شاوخوا کې، په سلو کې ۴۵ وروسته پاتې يا پرمختيايي هېوادونو د تلويزيون سټېشنونه، نه درلودل. نو په يوه لويه سيالۍ کې پاتې راغلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میډیا، نامتو نړیوالې موسسې «یونسکو» ته د اټومي انرژۍ په څېر یو غټ تعمیري او هم تخریبي طاقت په نظر ورغلی دی. دوو تنو څېړونکو رابرټ ایل. سټېون او ریچارد. آر کول په دې باره کې د یونسکو دا اندېښنې څېړلې دي او په دې باره کې یې د یونسکو د څو غونډو نتیجې تر ارزیابۍ لاندې نیولې دي. دوی لیکي چې غرب د دوو لویو ذریعو په مرسته د خبر نړۍ تر خپل کنټرول او نفوذ لاندې راوستلې ده. یوه ذریعه یې د خبر د وړاندې کولو (عرضي) کامیاب سیستم دی، چې د لویو لویدیزو خبري آژانسونو خدمتونه یې د منني او ستاینې وړ ګرځولي دي. بله ذریعه یې هغه تخنیکي آسانتیاوې دي چې غرب یې په سیالۍ کې له نورو څخه مخکې کړی دی.

په ۱۹۷۱ کال کې اسوشیېټډ پریس د یو اټکل له مخه ولیکل چې له امریکې څخه د باندې هم یو بلیون خلک د همدغه لوی خبري آژانس له خوا برابر شوي خبرونه لولي او یا یې اوري، همدارنګه د ویس نیوز (Vis News) موسسه چې په ۱۹۷۵م کال کې رویټر او بي. بي.سي. په ګډه جوړه کړې ده، د یوې ادعا له مخې د نړۍ د ټولو تلویزیونو لپاره خبري فلمونه برابروي، یعنې دا چې د نړۍ ټول تلویزیونونه اړ کېږي چې د هغې لړ یا ډېر مستند خبري فلمونه واخلي او خپاره یې کړي. په دې توګه غربي اطلاعاتي په تېره انګرېزي-امریکایي مووسسو (Englo-American Organization) د خبرونو د بهیر بندونه او ویالې جوړې کړې او هغه یې په خپل انحصار کې راوستلې دي.

دې حالاتو لویدیزې نړۍ په تېره د امریکې لپاره، په نورو هېوادو کې د فرهنګي نفوذ لپاره امکانات ډېر کړي دي. د برتانیې یو لنګویسټ (ژبپوه) جارج سټېنر فکر کوي چې د سبا نړیواله ژبه همدا



اوس زېږېدلې ده او هغه امریکایي انګرېزي ژبه ده چې ټول نوي اجتماعي فرهنګي او اقتصادي ارزښتونه به بیان کړي.

که دا منو چې علم یو طاقت دی، نو دا به هم ضرور منو کوم ملت چې پوهنه زېږوونکي اطلاعات یې په کنټرول کې وي، هغه یو ډېر پیاوړی ملت بلل کېدای شي. په دې حساب کمپیوټر او مصنوعي سپوږمیو لویدیزو هېوادونو ته یو خاص طاقت ښنلی دی. اوس کمپیوټر خپل ځان د ټلیفون له لینونو سره نښلولی دی په دې توګه یې د نړیوالو ډېرې خولې ستاسې غوږونو ته او ډېرې صحنې یې ستاسې سترګو ته او که انټرنیټ په نظر کې ونیسو نو کمپیوټرونو خپل پټ او ښکاره نري نري تارونه د انسانانو د عصبي سیستم له بې شمېرو نریو نریو رشتو سره تړلي دي. چې دغه تړون او پیوستون د ژورنالیزم په دنیا کې یوه بله پدیده او یوه بله اصطلاح (Cyber Journalism) را پیدا کړې ده.

د مصنوعي سپوږمیو له لارې د اطلاعاتو بارانونه او توپانونو او د انټرنیټ له لارې د پروپاګندو او خپرونو هجوم د درېیمې نړۍ د هېوادونو د ملي حاکمیت پولې ورانې کړې دي او د نړۍ د دې برخې د ملتونو او خلکو د اسرارو د خوندي ساتلو امکانات له منځه تللي او دا دی د دوی په ډېرو خصوصي حالاتو او مسائلو باندې هم تجارتونه روان دي. لویدیزه میډیا چې د درېیمې نړۍ په فضا کې یې معلوم او نا معلوم جالونه غوړولي دي، د نړۍ د دې برخې د هېوادونو د ژوندانه بد اړخونه ښیي او په مثبتو کارونو او خویونو یې سترګې پټوي.

د کالیفورنیا د پوهنتون یو استاد هربرت سکیلر او د ده نور ملګري چې له غرب نه اوښتي کاږه نظریات لري، فکرکوي چې لویدیځ د ډله ییزې مفاهمې وسایل، غربي کلچر او د اطلاعاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیستمونه يې چې په نوره نړۍ باندې کوم نفوذ لري هغه د نوي کلچري امپریالیزم مختلف اړخونه دي چې په ۱۹ پېړۍ کې د اروپايي کلاسیک امپریالیزم او له دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسته د امریکې د سیاسي او نظامي لوړتیا غوښتنې ځای نیسي.

نو «د اطلاعاتو د آزاد بهیر» په باره کې لویدیځه نظریه دغرب د فرهنګي واکمنۍ معنی هم لري. یو برتانوي ټولنپوه اندټون سټال چې د معتدل نظر خاوند دی، خبرونو او هم پاپ موسیقي او کلچر ته د تجارتي مالونو په سترګه ګوري او وايي چې په دربیمه نړۍ کې داسې هېوادونه هم شته چې لویدیځه ولسواکي په خپل قد او اندام برابره نه بولي خو بي. بي. سي ته غوږ نیول یا د نیویارک ټایمز لوستل ورته ډېر اهمیت لري.

هو ! له غرب څخه د اطلاعاتو د آزاد باد چلېدل، په خپل بهیر کې د لېرو پرتو قارو کلچري توکي که زموږ خوښ وي او که نه، د خلو خځلو په څېر یا د نظر فریبه شیانو په بڼه ورسره راوړي. زموږ د خلکو اکثریت غربي کلچر نه خوښوي، خو د مجبوریت له مخه، غربي راډیوګانو ته غوږ نیسي او هغه کسان چې په خارجي ژبو پوهېږي د دوی ورځپاڼې لولي. په دې توګه، زړه نا زړه د غربي کلچر په مخ د خپلو زړونو او دماغونو وروونه پرانیزي. دا هغه ټکی دی چې د شرق په تېره بیا د اسلامي نړۍ پوهان، سیاست پوهان او ژورنالیستان فکر کولو او تصمیم نیولو ته رابولي.

لویدیځ ژورنالیستان تل دا لاپې شاپې کوي چې د دوی د خبرونو لیکلو سټایل مسلکي دی او د وړاندې کولو طریقه یې غوره ده او ادعا کوي چې په خبرونو کې د حقایقو انډول ساتي.



نړیوالې علمي موسسې هم، پخوا د اطلاعاتو نوي نړیوال نظام ته د غرب په سترګو کتل، خو د اطلاعاتو په ساحه کې يې د داسې یو نظام غوښتنه کوله چې خبرونه هم په کې د اقتصادي سرچینو په څېر، د عادلانه وېش اساس ولري. دې نړیوالې موسسې د خبرونو د تهیې او وېش د سیستم په اړه څلور کنفرانسونه جوړ کړي دي. دلته يې دوه، د دې موضوع په اړه، د یادونې وړ دي چې یو يې د پاریس کنفرانس او بل يې د بلګراد کنفرانس دی.

د پاریس په کنفرانس کې چې په ۱۹۷۸ کې جوړ شوی و، د مطبوعاتو د آزادۍ د اصل په تصویبولو سره د اطلاعاتو په اړه د غرب عنعنوي ارزښتونه تایید کړل شول. داسې چې د غربي میډیا ځینو استعماري اړخونو ته هېڅ ګوته ونه نیول شوه. خو په بلګراد کې د یونسکو د یو بل لوی کنفرانس د پرېکړې په محتوی کې یو بدلون راغی. په دې پریکړه کې چې په ۱۹۸۰م کې وشوه د «آزاد» تر څنګ د «متوازن» قید هم ولګول شو. همدغه د متوازن قید دی چې اطلاعات له پروپاګندي حالت څخه وباسي.په دې توګه د «اطلاعاتو آزاد او متوازن نړیوال بهیر» په باره کې د یونسکو د لوی مدیر وړاندیز یا تجویز ته «هوکې» وویل شو. د اطلاعاتو د آزاد او انډولیز بهیر هدف ته رسېدو لپاره یو کمیسیون چې د کمیسیون مشر مک برید (Mac Brid) په نوم یادېږي وټاکل شو. کمیسیون ډېره هڅه وکړه چې د ډله ییزې مفاهمې په باره کې ډول ډول نظریې یا فلسفې یوه له بله سره پخلا کړي. د کمیسیون رپوټ چې د یوه نړۍ او ډېر غږونه په نامه خپور شو، په رنګ او خوند کې خو ښه و، مګر په یونسکو کې د راغونډو شویو هېئتونو لوړه او تنده يې پوره نه شوه ماتولای. سره له دې هم د بلګراد کنفرانس په یونسکو کې دننه د یو انسټیټیوټ بنسټ کېښود. د انسټیټیوټ کار دا و چې د ډله ییزې مفاهمې د موسساتو تر منځ همآهنګي راولي. او د اطلاعاتو د آزاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



او متوازن بهیر مخه د یونسکو د موخې په لوري سمه کړې. خو ګټو او هدفونو ټکر دغه همآهنګي روغه او رمټه پرې نښودله او سیاسي موضوعاتو د بلګراد فیصلې بشپړې کامیابۍ ته پرې نښودلې او د اطلاعاتو په برابرونه او وېشنه باندې د لویدیزې نړۍ په کنټرول کې د کمښت نښې نښانې نه لیدلې کېږي.

تر دې ځایه پورې به محترمو لوستونکو ته دا اندازه لګېدلې وي چې د اطلاعاتو آزاد بهیر د ډېرو نورو تجارتي فعالیتونو په توګه د لویدیزې نړۍ د ګټو وټو د سیالیو په بهیر کې روان و. افغانستان هم د سیالیو د دغه بهیر په څنډه کې پاتې شوی نه و، بهیر زموږ په هېواد کې د بړبوکۍ په څېر دوراني حرکتونه را پیدا کړي وو. دا داسې یو توپان و چې د پېښو دوړو یې زموږ سترګو ته خاورې غورځولې دي. ځکه خو د میډیا شورماشور او د مطبوعاتو شنل شویو پاڼو او تورو موږ د خپل هېواد د پېښو له اصلي ماهیت څخه خبرولی نه شوای.

د کمیت په لحاظ زموږ په هېواد کې د میډیا سیالي ډېره په مخ کې روانه شوه. د جهاد په لسیزه کې د هغې چاپي او برېښنایي پدیدو ډېره ګړندۍ وده کړې وه. یوازې په لسو کلونو ې د نویو راوتلو جریدو او مجلو شمېر له ۳۰۰ څخه زیات شو. د افغانستان د پخوانیو مطبوعاتو چې ۱۳۲ کلونو اوږده لاره وهلې وه د جهاد د لسیزې خپرونو هغه په لسو کلونو کې رالنډه کړ، بلکې ګامونه یې تر دې هم چابک وو. همدې سیالیو د تلویزیون په ساحه کې هم ډېر بېړني او ګړندي ګامونه زموږ د سترګو په وړاندې تېر کړل. د سیالۍ انګېزه وه چې جاپان ته د ثور د کودتا نه د مخه، افغانستان ته یوه ډېره ماډرنه تلویزیوني دستګاه چې هغه وخت یې په سیمه کې ساری نه درلود، بښلې وه.

هغه وخت په اروپا کې د «ایرووژن» او په سوسیالیستي کمپ کې د «انټروژن» په نومونو د پراخو تلویزیوني شبکو شتوالی په جاپان



باندې د سیالۍ تبه راوستلې وه او هڅه یې کوله چې د «ایریاوژن» په نامه د آسیا د جنوب او جنوب شرق لپاره یوه پراخه تلویزیوني شبکه وغځوي چې په افغانستان کې د یوې ماډرنې دستګاه موجودیت له دې هدف سره ښه مرسته کولای شوه. بله خبره دا ده چې که د تلویزیون سېټونه نه وي، نو د تلویزیون دستګاه بې اغېزې یوه تخنیکي پدیده ګرځي، نو خلک مجبور دي چې له خپلې دستګاه څخه د استفادې کولو لپاره تلویزیونونه واخلي، په دې صورت کې د جاپان د تلویزیوني سیټونو د خرڅلاو لپاره ښه بازار پیدا کېږي، همدا سبب دی چې جاپان وکولای شول په افغانستان کې د تلویزیون د دستګاه په جوړېدو سره زموږ هېواد ته ډېر زیات سیټونه راوارد کړي.

په کابل کې د شمشاد په نامه د شوروي اتحاد له خوا د یوې لویې او ډېرې مجهزې دستګاه په جوړېدو سره، شوروي هم په دې سیالۍ کې ډېر وړاندې ګامونه واخیستل. لکه چې د دې لړ مضامینو په یوه بله برخه کې یې هم یادونه شوې ده، د شمشاد دستګاه کولای شول چې د ایران او پاکستان په سرحدي سیمو کې د دغو هېوادونو د تلویزیوني خپرونو مخه ونیسي او په مقابل کې یې د کابل د تلویزیون خپرونې د نړۍ ډېرو لېرو پرتو هېوادونو ته ورسوي.

په هر حال د جهاد په لسیزه کې افغانستان ته د ډله ییزې مفاهمې د وسیلو ډېر ګړندی راتګ او زموږ په هېواد کې د چاپي او برقي خپرونو ډېرښت په سیمه او نړۍ کې لویې هنګامې جوړې کړې وې. هره ورځ به په میلیونونو وییونه یا کلمات، ډول ډول تصویرونه او غږونه د جنګ او جګړو د ګولیو په څېر تبادله کېدل خو اغېزې یې، زموږ لپاره په غوړو لوښیود اوبو د رغړېدو نه زیاتې نه وې. دې ټولو پېښو او له هغو سره اړوندو خپرونو په عمده توګه دوه شیان موږ ته بښلي وو هغه دا وو چې موږ خپل ځانونه قهرمانان بلل او نورو راته د خبر جوړوونکو په نظر کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم څپرکی

# د شاهدۍ ویلو رسالت زموږ دی که د نورو؟



## د شاهدۍ ویلو رسالت زموږ دی، که د نورو؟

**او همدارنګه موږ تاسې منځګړې امت وګرځولئ چې په (نورو ) خلکو شاهدان شئ او رسول(ص) په تاسې باندې ډېر ښه شاهد دی.**

بقره سوره، ۱۴۳آیت

ښه مې په یاد دي د ۱۳۵۸لمریز (۱۹۷۹م) کال شپې ورځې وې، کابل ته په نژدې سیمو کې دکمونیستي رژیم دفاعي کرښې یوه په بله پسې ماتېدلې، نو د رژیم قواوې سختې سورېدلې او هرې خواته د مرګ او ژوبلې په پراخو عملیاتو بوختې وې.

موږ هغه وخت په کلیو کې اوسېدلو، له حالاتو څخه د خبرتیا لپاره مو د کوچنیو راډیوګانو او له لرې او نژدې ځایونو څخه د توپونو له غږونو څخه پرته نورې وسیلې نه لرلې. کله به چې له شاوخوا سیمو څخه د الوتکو د تګ راتګ یا توپونو ویشتلو غږونه واورېدل شول موږ به پوه شوو چې زموږ د استوګنې سیمې ته نژدې، په کومه خوا کې اخ و ډب روان دی. بېګا به مو چې دکابل راډیو خبرو ته غوږ ونیو نو نطاق به راته په دروغو وویل چې په هغه سیمه یانې د توپونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډزو په ځای کې "د هغه ځای شریفو خلکو د خلقي پرتمین انقلاب په ګټه لوی مارش ایستلی و ".

خلقیانو به ډېر ځله د مارش کلمه د شفر په ډول د جګړې په مفهوم کاروه. بي بي سي، امریکا غږ، آلمان غږ، د ایران او پاکستان راډیوګانو ورو ورو موږ له دې رمز سره آشنا کړو، هغه داسې: چېرته به چې د کابل راډیو په وینا شریفو خلکو مارش ایستلی و، نورو راډیوګانو به په هماغه ځای کې د سختو جګړو د کېدو په باره کې خبرونه خپاره کړل.

دکمونستي خپرونو ماهیت له پخوا څخه ټولې نړۍ ته څرګند و، ځکه چې ددغه سیستم ستنې تر ډېره حده په پروپاګندونو درول شوې وې، خو د جنګ حالاتو او د تنظیمونو تر منځ تودو سیالیو د جهاد په خپرونو کې هم پروپاګندي رنګونه زیات کړي وو. ډېر ځله داسې پېښې شوي دي چې دې خپرونو خپل اسلامي رسالت او مسلکي مکلفیت لکه څنګه چې لازم و هغسې نه دی پر ځای کړی، د تنظیمونو ترمنځ اختلافونو د ټولنې اجتماعي اعصاب هم چې د همدغه چاپي او برېښنايي (الکترونیکې) خپرونې دي، مختل کړي وو.

په دې حقیقت زموږ ډېر لوستونکي خبر دي چې هر تنظیم ټولې یا ډېرې کامیابۍ د ځان بللې. د مثال په ډول یو ځل د بګرام د هوايي ډګر د پاسه یوه الوتکه په توغندیو وویشتل شوه، دریو تنظیمونو ددې بري ادعا کوله. داسې هم شوي دي کله به چې یو ټانګ وویشتل شو نو د ډېرو ټانکونو د تخریب ادعاګانې به کېدلې، تر یوه وخته بي. بي. سي د تنظیمونو د ویاندویانو د خولو خبرونه خپرول، خو ځینو خبرونو پر بي.بي.سي هم د شرم خولې وبهولې ځکه چې بي. بي. سي که



دروغ ویل هم وغواړي نو هغه دومره بربنډ دروغ نه وي څه ناڅه یو څه وراغوندي او یو څه یې په مسلکي لیکه او لاره هم برابروي.

د پاکستان د تجارتي مطبوعاتو حالت خو داسې و چې څو ځله یې د افغانستان په قضایاوو کې ښکېل شوي کسان وژلي او بیا یې ژوندي ښودلي دي. کله کله به یې د افغانانو لپاره داسې په زړه پورې "تخیلي او ډراماتیک " خبرونه هم خپرول چې د دوی مړاوو هیلو ته به یې تازه ګي ښښله او له دې لارې به یې حتی په غریبو او مفلسو افغاني مهاجرینو هم خپل اخبارونه خرڅول. ځینو اخبارونو د پیسو ګټلو یو بل چل زده کړی و د ځینو کسانو ویناوې، خبرونه یا یې عکسونه د پیسو لپاره خپرول، دوی به غالباً هغه کسان وو چې غوښتل یې کوم تنظیم جوړ کړي او یا د یو ښه، تکړه او پوه مجاهد یا قوماندان په توګه وځلېږي.

رښتیا به وایو هغه وخت د ایران راډیوګانو ډېر اورېدونکي درلودل، ځکه چې دغو راډیوګانو د افغانستان جهاد ته زیات انعکاس ورکاوه. پر دې سربېره ایران یو داسې هېواد و چې اسلامي انقلاب یې کړی و او د "نه شرقي او نه غربي... " شعار یې ډېر ځله تکرارولو. د همدغه شعار روحيې ایجابوله چې ددغه هېواد د میډیا هېنداره د شرق او هم د غرب له لوري د چلېدونکو خیرنو بادونو له دوړو څخه باید پاکه وساتله شي.

تر هرڅه زیات ایران د خپل اساسي قانون هغې برخې ته چې د مطبوعاتو په باره کې حکمونه لري، د قرآن مجید د بقره سورې د ۱۴۳ آیت په لیکلو سره خاص لوینښت، درنښت او منښت ښنلی دی. د دې مبارک آیت په تفسیر کې راغلي دي چې لوی خدای(ج) اسلامي امت ته فرمايي: د دې لپاره مو تاسې منځګړي او غوره امت وګرځولئ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسې پیغمبر(ص) مو د نورو پیغمبرانو څخه مخکې او اکمل وګرځاوه چې تاسې د خپلې دې لوړتیا له مخې په نورو امتونو باندې د شاهدۍ ورکولو وړتیا ولرئ او حضرت محمد(ص) ستاسې په عدالت او صداقت ګواه وي.

له بده مرغه له ځینو اسلامي هېوادونو لکه سعودي عربستان، عراق او بیا وروسته د افغانستان له ځینو تنظیمونو سره په شخړو کې د کېوتلو له امله د ایران رسندویو وسیلو دغه قرآني رسالت لکه څنګه یې چې هیله کېدله هغسې سرته ونه رساوه، ځکه د ایران میډیا، په ځای د دې چې په بې طرفۍ سره د خبرونو خپرولو له لارې د ګاونډیو هېوادو او نورې نړۍ په قضایاوو سمه شاهدي وویلای شي، رسندویه وسیلې یې تر ډېره حده په پروپاګندي جګړو کې مصروفې وساتلې.

پاکستاني میډیا هم چې نسبتاً ښه عصري وسایل په لاس کې لري، خپل زیات وخت او ډېر امکانات د هندوستان په وړاندې تبلیغاتي جګړو ته ورکړي دي، (په دې باره کې په یو بل بحث کې کافي رڼا اچول شوې ده. محترم لوستونکي هغه لوستلای شي.) موږ هم د جهاد په موده کې ډېرې ښې او زیاتې رسندویه وسیلې په خپل لاس کې لرلې، لکه چې دمخه یې یادونه شوې ده، په کابل کې د شمشاد تلویزیوني دستګاه د وخت په پروپاګندي جګړه کې د یوې مضبوطې اډې حیثیت درلود، په دې ساحه کې مجاهدین هم بې وسه نه وو. د جهاد په لسیزه کې زموږ د جریدو او مجلو شمېر له (۲۹۹) څخه واوښت چې په دې کې (۱۱۱) مجلې او (۱۸۸) جریدې شاملې وې. د یوې احصایې له مخې چې د جهاد له پیل کېدو نه مخکې ترتیب شوې وه، زموږ د ټولو مهالنیو خپرونو شمېر (۱۹۶) عنوانونو ته



رسېده. د (۱۳۲) کلونو اوږده زمانه په کار وه چې د اجتماعي او سیاسي تحولاتو د مهمې ښېلګې په توګه د مهالنیو خپرونو شمېر دومره شي. خو له شوروي سره زموږ د ټکرونو په لسیزه کې دغه شمېر په ډېره ګړندۍ توګه زیات شو. تقریباً (۵۰۰) خپرونو ته لوړ شو، په دې ډول زموږ مطبوعاتو چې تر دې دمخه یې په یوه پېړۍ کې یوه اوږده لاره وهلې وه، هغه یې تقریباً په لسو کلونو کې رالنډه کړه. خو د خپرونو دغه زیاتوالي زموږ هغه اړتیا نه پوره کوله چې موږ یې د خپلو مسایلو په باره کې د خارجي مطبوعاتو لوستلو یا د لویدیځ راډیوګانو ته غوږ نیولو ته اړ ایستلي وو.

په عمومي توګه زموږ په مطبوعاتو کې "نظر" ته له "خبر" څخه لومړیتوب ورکړ شوی دی. که کوم خبرونه خپاره شوي هم دي- سانسور- ګوډ او مات کړي او د خبرولۍ روحیه یې ور وژلې ده. موږ ډېر لږ کامیاب شوي یو چې په خپلو مطبوعاتو کې تازه خبرونه خپاره کړی شو. پر دې سربېره په دولتي، حزبي او داسې نورو تبلیغاتو کې له افراط څخه کار اخیستلو زموږ، د ایران، پاکستان، د اسلامي نړۍ د ځینو نورو هېوادو د مطبوعاتو اعتبار ډېر زیات کم کړی دی. ځکه خو خلک د دوی خبرونو او خبرو ته ډېر لږ غوږ نیسي. دغه حالت بي. بي. سي، امریکا غږ او ځینو نورو غربي راډیوګانو ته موقع ورکړې ده چې د مسلمانانو یوه دنده په غاړه واخلي، تر دې چې په اسلامي هېوادونو باندې هم سمه یاناسمه شاهدي ووایي. موږ حتی د خپل هېواد د روانو کشالو په باره کې د دوی خبرونو او خبرو ته غوږ نیسو د طالبانو او د شمالي اتحاد د جنګي او سیاسي فعالیتونو حال دوی موږ ته بیانوي. پاکستان، ایران، چین، تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان زموږ ډېر نژدې او په پوله شریک ګاونډیان دي. خو دا بې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بي. سي او نورې غربي راډيوګانې او تلويزيونونه يا د انټرنېټ شبکې دي چې موږ د خپلو ګاونډيانو په حالاتو خبروي او زموږ ښه او يا بد دوی ته بيانوي.

ظاهراً بي. بي. سي او نورې لويديزې خبر رسوونکې موسسې په خپلو خبرونو او تبصرو کې د لفاظيو ډېره مالګه او مرچ نه ګډوي او د حقايقو ترمينځ يو څه موازنه هم ساتي، خو د مسلک خاوندان پوهېږي چې دغه موسسې څنګه يوې خوا او بلې خوا ته د حقايقو سپکې يا درنې تيرېږي، کاڼي او ډبرې ږدي او نه شي کولای چې د کلمې په بشپړ مفهوم سره عادلانه او د حسي او سياسي ملاحظو نه آزادې شاهدي وويلای شي.

د دې لپاره چې موږ د ټولنيزې شاهدۍ په اصلي مفهوم ښه وپوهېدلای شو، يو ځل بيا د قرآن مجيد د پورته ذکر شوي آيت تفسير ته ورګرځو. دغه آيت، برسېره په هغه تفسير چې په کابل کې چاپ شوی، په تفسير کې يې راغلي دي، مجاهدو خپرونو هم د جهاد په جريان کې د خپل فهم او ادراک له مخې تفسير او تعبير کړی دی. لکه چې د ځينو تنظيمونو خپرونو له هغه څخه په نورو امتونو د قضاوت کولو ان حکومت کولو معنی او مفهوم هم اخيستی دی. د قرآن مجيد د ايجاز او اعجاز يوه لويه نښه دا هم ده چې د دغه الهی کلام په هر آيت کې د ماناګانو يو سمندر ځای شوی دی. له همدغه امله د پورتني آيت په باره کې چې تر اوسه کوم تفسيرونه او تعبيرونه ليکل شوي او زموږ په جهادي مطبوعاتو کې منعکس شوي دي، سم بلل کېږي.

د اسلام له نظره قضا د حکومت (دولت) دومره پياوړې قوه ده، چې حکم يې د دولت په مشر (امير المؤمنين) هم شرعاً نافذ دی. ګواه



او شاهد د صحيح قضاوت له مهمو اساساتو څخه بلل کېږي. حقيقت او صداقت د شاهدۍ اصلي عناصر دي، همدغه عناصر دي چې قضاوت، شاهدي او سياست د يو مثلث په شکل يو له بل سره مرتبط ساتي. يا به ووايو چې دا حقيقت او رښتينولي ده چې اسلامي شهادت، قضاوت او سياست د لويديځ له ماکياوليزم څخه جلا کوي. د اسلام د څلورم خليفه حضرت علی(ک) د شخصي ژوندانه په يوه پېښه کې د دغه مثلث درې واړه خواوې (اضلاع) په ښه توګه منعکس شوي دي، کيسه يې جالبه ده:

حضرت علي (ک) چې پخپله د وخت د دولت مشر (اميرالمؤمنين) و، په يوه يهودي باندې يې دعوی کړې وه، چې هغه دده زغره لرونکی کميس پټ کړی دی اوس حاضر نه دی چې هغه بېرته ورکړي. يهودي ادعا کوله چې دا کميس د امير المؤمنين نه بلکې دده خپل دی. کله چې دا قضيه د عدل اسلامي محکمې ته وړاندې کړل شوه، نو حضرت علي (ک) او يهودي دواړه په مساوي توګه د قاضي په وړاندې درېدلي وو. قاضي له حضرت علي(ک) څخه دوه تنه شاهدان وغوښتل، ده خپل يو زوی او يو غلام د شاهدانو په توګه ورمعرفي کړل. خو قاضي هغه ځکه ونه منل چې يو يې زوی او بل يې غلام و، فکر کېده چې دوی دواړه به حضرت علي(ک) ته د نژدې والي له امله پوره او سمه شاهدي ونه وايي.

يهودي چې دغه حالت وليد او په اسلامي قضاوت، شهادت او سياست کې د حق او حقيقت رڼا يې وليده، نو هغې رڼا دده زړه او دماغ منور کړل، په هماغه ځای مسلمان شو او اعتراف يې وکړ، چې دا کميس دده نه، بلکې د حضرت علي (ک) دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اسلامي نظام کې حق او حقیقت اصلي محک دی چې صحیح شهادت، سالم قضاوت سم او کامیاب سیاست وربانديې معلومېږي.

اسلام پېژندونکي پوهان وايي کله چې اسلامي سیاستونه کامیاب شوي دي لویه وجه یې دا ده چې هلته خلکو ته اصلي حقایق په مخ کې اچول شوي دي او د ماکیاولیزم له هر ډول دوکو او خدعو څخه ډډه شوې ده او کله چې خلک په حقایقو راټول شوي دي، نو له هغه څخه ډېر پیاوړی او نه ماتېدونکی طاقت جوړ شوی دی. د حقایقو راټولولو، روښانه کولو او عامو خلکو ته د هغه رسونه د مطبوعاتو کار دی. د هغې قوې کار دی چې په حالاتو سمه شاهدي وايي او له عام قضاوت سره موثره مرسته کوي.

اوس دا خبره ډېره مشهوره شوې ده چې مطبوعات د دموکراسۍ څلورم رکن یا د دولت څلورمه قوه ده. که موږ دا کلیه منو، بیا نو د یو لړ شواهدو له مخې دا خبره هم د منلو وړ برېښي، چې د مطبوعاتو (یا د ټولې میډیا ) قوه اصلاً او اصولاً له قضائیه قوې سره ډېر ورته والی او نژدې والی لري.

د امریکې یو حقوق پوه سیمون اي. سوبېلاف چې یو وخت د هغه هېواد لوی څارنوال و، د فیدرال د لوی قاضي په توګه یې هم کار کړی دی، عقیده لري چې مطبوعات او عدلي محکمې یو ډول مسوولیتونه لري. په ټولنه کې د قاضي او د اخبار د مدیر د وظیفې اهمیت او موثریت یو شان دی. سوبېلاف چې په ۱۹۵۵کال کې د نایمن فیلوز (Nieman Fellows) په نوم د ژورنالیزم د مسلکي ټولنې په یوه غونډه کې برخه اخیستې وه، په دې موضوع کې یو څه وړاندې



ځي او مطبوعاتو ته زیات اهمیت ورکوي، وايي چې عدلي محکمې د مطبوعاتو له انتقادونو او موشګافیو څخه معافیت نه لري.

دی، د خپل بل حقوق پوه ملګري هنري اېل. مېنکېن د خولې خبره، چې وايي "قاضي یوازې د حقوقو یو شاګرد دی" رااخلي زیاتوي، چې قاضي د یوه شاګرد په توګه د امتحان پر پاڼه باندې د "سم" او "ناسم" نښې راکاږي. ټولې محکمې په خپلو کړو وړو کې، همدغسې کار کوي. بالآخره د آزموینې دغه پاڼه د ټولنې په مخ کې اچوله کېږي. ټولنه ده چې په هغې باندې د "سم یا ناسم" قضاوت کوي. همدارنګه دا اخبارونه دي چې خبرونه او تبصرې یې د ټولنې لپاره د دغه راز قضاوت زمینه برابروي.

یو بل حقوق پوه بلک ویلي دي چې په یوه متمدنه ټولنه کې آزاده وینا او په یوه عدلي محکمه کې، د قاضي په مخکې، د سوال او ځواب جریان دواړه دفاعي او ځان ساتنې پالیسۍ دي، دده یو ملګری قاضي فرانکفورتر وايي چې کله کله، د پرنسیپونو او اصولو جګړه د قضاوت کار سختوي. په دې اړه یو بل قاضي "هول میس" ویلي دي چې ټول حقوق او پرنسیپونه یې په دې هڅه کې دي چې په افراطي ډول خپل خپل ځانونه تثبیت کړي. خو په حقیقت کې ټول اصول تر هغه ځایه پورې آزادي لرلای شي، چې نور ورته پرنسیپونه نفي نه کړي. مثلاً آزاد قضاوت او آزاد مطبوعات دواړه غوره پرنسیپونه دي. خو کله کله دا دواړه پرنسیپونه دومره په ځان ستاینه او مسلکي ویاړنو باندې اخته کېږي، چې غواړي یو اصل بل مقابل اصل تر خپلې اغېزې لاندې راولي حتی محکوم یې کړي.

یو وخت په یوه ځوان باندې چې په خپله ټولنه کې ښه منل شوی و، داسې یو تور ولګول شو، چې هغه په بد اخلاقو ښځو باندې ګټې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتړي کوي. قاضي مطبوعاتو ته اجازه ورنه کړه، چې د محکمې جريان وګوري. په دې باره کې د قاضي استدلال يوازې دا و چې نه غواړي مطبوعات د يو چا شخصي مسايل بازار ته د تجارتي توکي په توګه وړاندې کړي، ځکه چې په دغه کار سره هم يو لړ بشري حقوق تر پښو لاندې کېږي. دا هماغه ځای دی چې په لويديزه ولسواکۍ کې ددې ولسواکۍ دوه منل شوي اصلونه "د عدلي محکمې خپلواکي" او "د مطبوعاتو آزادي" يو له بل سره ټکر کوي. يو اصل دا دی چې عدلي محکمه دا حق لري چې د خلکو شخصي مسايل له تجارتي ګټو وټو څخه خوندي وساتي. په مقابل کې يې دا هم يو منل شوی اصل دی چې مطبوعات دا حق لري چې د ځينو کسانو ناوړه کړه وړه رسوا کړي.

سرمقاله د هرې خپرونې لپاره که هغه چاپي وي او که د الکترونيکي بروډکاسټ له لارې خپرېږي، د قضاوت کولو يوه ذريعه ده، خو په خواشينۍ سره بايد ووايو چې سرمقاله هم په غرب کې د رانده قضاوت په څېر کله کله د رشوت يا تجارت وسيله ګرځېدلې ده. د امريکې د آريګان د پورټلنډ ښار د هاربرډ په جنوب لويديزه خوا کې يوه موسسه هم، خبرونو ته د بيا کتنې د صنعتي موسسې ( Industrial News Review ) په نامه يادېدله. د دې موسسې د خاوند هافر په زړه پورې او ګټور تجارت دا و چې په اخبارونو باندې يې ليکلې سرمقالې پلورلې.

د ۱۹۴۸کال د اپرېل په لومړيو ورځو کې د امريکا لږ ترلږه (۵۹) ورځپاڼو او اخبارونو چې ټولو يې په ګډه سره (۳۹۰۰۰۸) تنه مشترکين درلودل، يوه متحدالشکله سرمقاله خپره کړله. له دې جملې څخه يوازې شپږو جريدو د دې سرمقالې په عنوان او ځينو سطرونو کې څه ګوتې وهلې وې او نورو (۵۳) ورځپاڼو او جريدو هماغه



سرمقاله، کټ مټ، بې له دې چې اقتباس يې وبولي، خپله ليکل شوې سرمقاله وګڼله او خپره يې کړله.

له دې عجيب حقيقت څخه پخپله د يو امريکايي ليکوال او څېړونکي لويس ايم. ليانز (Louis M. Lyons) مطلب اخيستنه دا ده چې يا د هغو ورځپاڼو مديران ډېر تنبل او بې کفايته کسان وو، يا دا چې په دې کار کې سياسي رشوت لاس درلود او غوښتل کېدل چې د خلکو احساسات د فيدرالي طاقت په مقابل کې استخدام کړي.

اوس خبر نه يو چې دا "صنعتي موسسه؟" اوس هم فعاله ده او که نه؟ آيا نورې دا ډول موسسې هم راپيدا شوې دي که نه؟ مګر يوه خبره چې له هر ډول شک او ترديد څخه وتلې ده دا ده چې په ننني نړۍ کې تبصره په مختلفو بڼو سره پلورلې کېږي. د نامتو ورځپاڼو تبصره ليکونکي له دې مدرکه د حق الزحمې په نامه ښې پيسې ترلاسه کوي. آزاد مطبوعات د حکومتونو ځينې اعلاميې که څه هم د ټولنې عامه ښېګڼې په نظر کې ولري د اعلانونو په توګه د پيسو په مقابل کې خپروي. ډېرې داسې نورې تبصرې حتی تيار جوړ شوي راپورتاژونه، سره د دې چې ښه په زړه پورې اړخونه هم ولري، اخبارونه يې د اعلان په توګه خپروي. د افغانستان ځينو دولتي او غير دولتي اخبارونو، د اساسي قانون په لسيزه کې دغه کار کاوه. په کابل کې اوسېدونکو خارجي مطبوعاتي آتشو به کوښښ کاوه چې له اخبارو سره دوستانه اړيکې ولري او خپل پروپاګندي شيان ورباندې په اصطلاح تېر کړي يا افغاني مطبوعات د دوی نويو ايجاداتو او ابتکاراتو او نورو فعاليتونو ته زيات انعکاس ورکړي.

ځينو اخبارونو چې غوښتل يې خپله څېره يو څه سپېڅلې وساتي نو د دې ډول فرمايشي مضامينو د خپرولو په وخت کې به يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغو لويو عنوانونو تر څنګ د "اعلان" کلمه د يو ډېر کوچني فرعي عنوان په توګه هم راوستله. دا حاشيوي عنوان به په کوچنيو تورو (عادي ۱۲) کې چاپ کېده. دې ډول مضامينو به د اړوندو هېوادو په ځينو پرمختياوو داسې رڼا اچوله چې يو عادي لوستونکي به اصلاً دا فکر نه کاوه چې کوم فرمايشي مضمون لولي. ترجمه کولو ته به يې هم ضرورت نه و. دوی به هغه تيار په پښتو او دري ژبو ليکلي او صفا به يې ټيپ کړي وو، پښتو او دري به يې دومره ښه ليکله چې ګوتو وهلو ته به ضرورت نه پېښېده. له ښکلو او صفا عکسونو سره د هغو تيارې جوړې شوې کليشې به يې هم چې د لوړ تخنيک په مرسته به ډېرې روښانه جوړې شوې وې، له دغو مضامينو سره يو ځای د اخبارونو ادارو ته استول کېدلې.

دې ډول سوغاتي راپورونو به داسې سياسي اړخونه هم نه درلودل چې د چا خبره سرکاري قاطرې وتوروي. نو ځکه اخبارونو هغه د پيسو په مقابل کې په پوره بې غمۍ خپرول. خو يوه خبره وه هغه دا چې دولتي اخبارونه مکلف وو چې د دې ډول مضامينو په خپرولو کې د شرق او غرب تر مينځ د تبليغاتو موازنه په نظر کې ونيسي چې د وخت سوپرطاقتونو څخه کوم يوه ته داسې شک پيدا نه شي چې د افغانستان دولتي مطبوعاتو يو اړخ نيولی دی.

په هرحال موږ د اطلاعاتو د باران او د تبليغاتو د سيلاب په وړاندې بې اغېزې نه شو پاتې کېدلی. زموږ يو درانه سپينږيري مرحوم پاچاخان ښه خبره کوله. ويل به يې له هرې خوا سيلاوونه راروان دي. ويښ ملتونه ځانونه ورڅخه ساتي. يا که يې مخه د آبادۍ او ښېرازۍ په لوري برابروي هغه ويده قامونه دي چې سيلاوونه يې ورسره لاهو کوي.



سياسي يا اجتماعي انقلابونو ته د پاچا خان له نظره سېلاوونه ورغلي وو خو اوس موږ د اطلاعاتو د انقلاب په عصر کې ژوند کوو، په دې انقلاب کې ځينې ملتونه نور ملتونه له خپلو ارادو سره سم د اطلاعاتو او تبليغاتو د توپان په خوله کې ورکوي او په هغه لاره او لوري يې برابروي چې د دوی زړه يې غواړي خو ځينې نور يې بې ارادې د دغه توپان په بهير کې د مړو کبانو په څېر لاهو کېږي.

داسې معلومېږي چې لويديزې نړۍ د اطلاعاتو د انقلاب ټولې څپې او حرکتونه په داسې مسير کې اچوي چې د دوی استعماري ګټې ښې خوندي وساتي. ټول خبرونه او ټولې تبصرې چې دوی يې ليکي، ټول عکسونه او فلمونه چې دوی يې اخلي- څو ځله د پلورنې او پېرودنې په پروسه کې لاس په لاس کېږي. لکه چې اوربدل کېږي او ليدل کېږي دوی د شاهدي ويلو رسالت هم له موږ څخه اخيستی دی. دوی دغه کار هم د خدای لپاره نه کوي بلکې زموږ د ناحقه شاهدانو په څېر خپلې ګټې په نظر کې نيسي.

له بلې خوا، شرقي دنيا په تېره اسلامي دنيا دومره بې وسه نه ده، چې د اطلاعاتو تکنالوژي په لاس کې ونه لرلی شي، دوی بالقوه او بالفعل کولای شي چې د اطلاعاتو په انقلاب کې ډېره لويه ونډه واخلي. تر ټولو مهم دا چې په نورو خلکو او ولسونو باندې د ګواهۍ ورکولو ورسپارل شوی ديني او اخلاقي رسالت سرته ورسوي. د پاملرنې وړ ټکی دا دی چې تلويزيون د کعبې شريفې څنګ هم نيولی دی او هرکال ټولې نړۍ ته د حج مراسم ريلې کوي. همدارنګه هرکال د نړۍ مسلمانانو ته موقع برابروي چې په مسجد الحرام کې د تراوېحو له لمانځه څخه معنوي فيض واخلي. دا په خپله يو مثبت پرمختګ او تحول دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاکستان تلویزیون یوې شبکې د مدینې منورې د جومات د نویو تعمیراتي چارو په باره کې یو ډېر لوړ مستند فلم وښود. هر چا چې دا فلم کتلی وي ښایي له ځان سره یې ویلي وي چې یو شاهکار لګیا و بل شاهکار ته یې انعکاس ورکاوه. په فلم کې ښودل کېدل چې د نړۍ د هر ګوټ ډېرې ښایسته تیږې یا ډبرې د نړۍ د هرې خوا د انجنیرانو، صنعت کارانو، هنرمندانو او معمارانو په لاسونو جوړېدلې او په ټاکلو ځایونو کې لګېدلې او په دې توګه د ټولې نړۍ د تکړه انجنیرانو او معمارانو په کار او زیار سره د نړۍ د معمارۍ یو بې سارې شاهکار د جوړېدو په حال کې لیدل کېده.

په فلم کې د نبوي جومات د جوړونې او تزئین د چارو پراخ انعکاس ښیې بالاخره صنعتي انقلاب د یوویشتمې پېړۍ په درشل کې، په نبوي جومات کې، لوی خدای(ج) ته د تعظیم رکوع او سجده وکړه. اوس په کار دي چې د انفارمېشن ټکنالوجۍ ګړندی او بیړنی انقلاب هم دلته په لمانځه او عبادت پیل وکړي. د اطلاعاتو د ټکنالوجي تر ټولو لوی عبادت به دا وي چې د خدای(ج) او د هغه د رسول (ص) پیغام د خلکو سترګو او غوږونو ته ورسوي او د قرآني لارښوونې له مخې، په نورو خلکو باندې د منځګړې امت د بشپړې او جامعې شاهدۍ ویلو وسیله وګرځي.

زموږ د ورور هېواد سعودي عربستان او نورو عربي اماراتو پرېمانه مالي امکانات او تخنیکي وسیلې د اطلاعاتو د داسې صالحې تکنالوژۍ له پراختیا او پرمختیا سره موثرې مرستې کولای شي. زه چې دغه خبره لیکم، مقصد مې هېڅکله دا نه دی چې دا لوی کار دې یوازې سعودي عربستان او عربي امارات وکړي. یا دا چې شتمن عربي هېوادونه د ځبرطاقتونو کانې او پېښې وکړي او د



نړیوالې میډیا وسیلې او شبکې په خپله انحصاري منګول کې ونیسي. بلکې په کار دي چې په شرقي په تېره اسلامي هېوادو کې د ژورنالیستانو آزادې اتحادیې، خپلواک خبري آژانسونه او د پوهو او خبیرو کسانو علمي او مسلکي ټولنې چې په خیریه مرستو متکي وي دا کار وکړي او ټول اسلامي دولتونه، هر یو له خپلې وسې سره سم له دې ټولنو سره مرستې وکړي. ځو دا اتحادیې او آژانسونه وکولای شي چې مسلکي پرسونل وروزي او د نړۍ په هر ګوټ کې خپل رسېدلي نمایندګان استخدام کړي.

د اسلامي سیاست د واقعي او واقعبینانه روحیې همدارنګه د نړۍ د نورو منل شویو پرنسیپونو له مخه، د اطلاعاتو ټولې ادارې د خبرونو او نورو اړوندو معلوماتو د برابرولو په کار کې باید دومره آزادي ولري چې د ټولې نړۍ په قضایاوو د آزاد، عادلانه او واقعبینانه قضاوت کولو لپاره ضروري وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آزاد که مسؤول مطبوعات؟
## یوه له ډېرو تلوسو ډکه ډرامه

"آزاد مطبوعات" یو ښکلی کلیشه يي عبارت دی، چې تل د اصلاح غوښتونکو او ترقي غوښتونکو روښانفکرانو په ذهن انځور شوی دی، خو دغه ښکلی آیډیال، لا تر اوسه پورې چې د ډله ییزې مفاهمې وسیلو ټوله دنیا په خپل جال کې ورنغښتې ده د یوې معمی بڼه لري.

د دې موضوع په اړه له یوې هر اړخیزې څېړنې څخه ښایي داسې یوه نتیجه ترلاسه شي، چې تر اوسه د مطبوعاتو لپاره له ښو یا بدو قالبونو څخه وتلې آزادي نه ده پیدا شوې. مطبوعات او د ډله ییزې مفاهمې نورې ټولې وسیلې په هره ټولنه او هر ډول اجتماعي او سیاسي سیستم کې د سیاست یا ملکیت په درنو زنځیرونو تړل شوې دي. که هغه هم نه وي نو مطبوعاتو په خپله خپل ځان بند په بند د دیانت او ژورنالستیکو اخلاقو په نرمو او ښکلو وربښمینو پړیو تړلی دی.

موږ افغانانو تر اوسه پورې درې ډوله مطبوعات ښه پېژندلي دي چې هغه دولتي، حزبي او شخصي مطبوعات دي. لکه چې ټولو ته څرګنده ده د دولتي او حزبي مطبوعاتو د نظر زاویه تنګه ټاکل شوې وي. ملا يې د وچو تبلیغاتو تر درانه بار لاندې کږه وي او همدغسې یو

# څلورم څپرکی

# آزاد که مسؤول مطبوعات؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروند بار د خلکو په ذهنونو باندې اچوي. په مقابل کې یې شخصي مطبوعات چې په پانګه والو هېوادونو کې د لویو کمپنیو او کارټلونو پوړ ته ختلي دي، ظاهراً دومره آزادي احساسوي چې په آزادیو هم لوبې کولای شي.

بې بندو باره آزادیو، د مطبوعاتو یو څلورم ډول هم را پیدا کړی دی چې د ژېړو مطبوعاتو (Yellow Press) په نامه یادېږي. په اخلاقي ټولنو کې تل د دې ډول مطبوعاتو په مقابل کې سخته کرکه را پیدا کېږي او د خلکو لویې پرګنې په دې ډول مطبوعاتو باندې د سختو بندیزونو او محدودیتونو غوښتونکي وي، دا هماغه ځای دی چې پخپله مطبوعات هم خپلې آزادۍ تر کره کتنې او نیوکې لاندې نیسي.

د ډله ییزې مفاهمې دریو تنو ماهرانو ویلبر سکرام (Wilbur Schramm)، تیودر پیترسن (Theoder Peterson) او فرید، اس، سیبرټ (Fred. S. Sibert) په خپلو کتابونو کې د آزادۍ، محدودیت او مسئولیت له نظره د مطبوعاتو په اړه درې څلور ډوله نظریې ښودلې دي چې د مطبوعاتو په تکاملي جریان هم یوه ښه رڼا اچوي. دلته تر څېړنې لاندې موضوع د یوې برخې د روښانه کولو لپاره د هغو نظریو وړاندې کولو هڅه شوې ده.

## آمرانه نظریه Authoritarian Theory:

دغې نظریې په ۱۶ – ۱۷ پېړیو کې د چاپ د ماشین تر اختراع کېدو وروسته په تدریجي ډول پراختیا موندلې ده. دې تیورۍ د اروپا په شاهي کورنیو کې لکه په انګلستان کې د تیودریانو



(Thuedors)، په فرانسه کې د بوربونیانو (Borbons) او په هسپانیا کې د هپسبرګانو (Hapsburgs) په کورنیو کې رواج وموند. په معاصرو پېړیو کې هم د جاپان او روسیې امپراتوریو د جرمني، هسپانیې او همدارنګه د آسیا او جنوبي امریکې ځینو استبدادي رژیمونو دغه نظریه چلولې ده.

دې تیورۍ انسانان د دولتونو لپاره داسې رعایا بللي دي چې باید د کار د وسایلو په توګه په کار واچول شي.

په آمرانه استبدادي رژیمونو کې د مطبوعاتو اصلي دنده دا وه چې خلک په هغو درواغو یا رښتیاوو خبر کړي چې دولت ورته دیکته کول. په جرمني کې د هټلري رژیم د اطلاعاتو وزیر عقیده درلوده چې که چېرې یو درواغ ډېر ځله تکرار شي بالاخره به خلک هغه رښتیا وګڼي. له بده مرغه په افغانستان کې د جهاد د تودو جګړو ترڅنګ په پروپاګنډې جګړو کې د کابل استبدادي رژیم د خلکو د تېر ایستلو لپاره د چا خبره ډېر په عقل روغ دروغ وویل چې ځینو ساده او په زړه پاکو خلکو هغه رښتیا وبلل او ورباندې تېر وتل.

فرید. اس. سیبرت او د ده ملګري د مطبوعاتو د آمرانه نظریې په باب په خپلو لیکنو کې څرګنده کړې ده چې دولتونو به له هرڅه نه دمخه، له مطبوعاتو څخه په منفي لارو کې کار اخیست، بیا به یې خلکو ته ډاډ ورکاوه چې دغه کار یې د دوی په ګټه کړی دی او دولت نه غواړي چې د مطبوعاتو په وسیله ملي او اصلاحي هدفونو ته د خلکو د رسېدنې په لار کې خنډونه زیات کړي.

بالاخره په انګلستان کې د آزادو مطبوعاتو د پیدایښت او ودې لپاره شرایط مخ په ښه کېدو شول. دولت له مطبوعاتو سره د ګوزارې کولو په نیت شخصي سکتور ته اجازه ورکړه، خو د غیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولتي مطبوعاتو امتیاز یوازې د تاج (سلطنت) شتمنو او وفادارو ملګروته ورکړل شو. دوی هغه کسان وو چې نه یې غوښتل د انتقادونو خپرولو له امله له دولت سره خپلې اړیکې خرابې کړي. دغه انحصاري سیستم تر ۲۰۰ کلونو پورې دوام وکړ. بالاخره په ۱۷ پېړۍ کې له دولتي خپرونو سره سیالي کوونکي شخصي مطبوعات بریالي شول چې دغه انحصاري سیستم په تدریجي ډول کمزوري کړي او د آزادو مطبوعاتو لپاره د ودې شرایط برابر کړي.

انګرېزانو د خپل استعماري خصلت له مخه د هند په نیمه وچه کې د استعماري مطبوعاتو د رواجولو هڅې پیل کړلې، خو له دولتي مطبوعاتو سره د شخصي سکتور د خپرونو د سیالۍ لمن تر هند پورې هم راخپره شوه. په همدې نیمه وچه کې یو انګرېز ژورنالیسټ جیمز آګستس هیکي (James Augustus Hickey) په ۱۷۸۰م کې د بنګال ګزیټ (Bengal Gazette) په نامه یوه جریده په انګرېزۍ ژبه کې چې په انګرېزي حکومت یې انتقادونه کول خپره کړله. د خپرونې چلوونکی هیکي له همدغه امله څلور میاشتې په جېل کې واچول شو، خو د هند د نیمه وچې نامتو اصلاح غوښتونکي او آزادي غوښتونکي سرسید احمد خان د هند برتانوي حکومت وهڅاوه چې په هند کې هم له آزادو مطبوعاتو سره د ګوزارې کولو پالیسي غوره کړي. ده د "حکومت او محلي مطبوعات" تر عنوان لاندې د ۱۸۷۶ع په اکتوبر کې ولیکل چې د نظریاتو څرګندونه او په صادقانه توګه په حکومت انتقادونه کول د آزادو مطبوعاتو له وظایفو څخه دي. همدارنګه د دې ډول آزادۍ خوندي ساتنه د خلکو او حکومت شریکه دنده ده. ده ولیکل چې دا د یو هوښیار حکومت کار دی چې مطبوعات آزاد پرېږدي، که چېرې د مطبوعاتو په خوله لاس کېښودل



شي او حقایق له خلکو پټ وساتل شي، نو آوازې به قوت پیدا کړي او د آوازو منفي طاقت د مطبوعاتو له آزادۍ څخه ډېر زیات خطرناک دی. په دې توګه سرسید احمد خان هڅه کوله چې د مطبوعاتو د ښکېلاک یخونه د وخت برتانوي حکومت ته د ښو مشورو ورکولو له لارې اوبه کړي.

سیبرټ لیکي چې د امریکا په متحده ایالاتو کې مطبوعات په یو بیړني یون کې له آمرانه مرحلې څخه د ازادۍ مرحلې ته وارد شوي دي. هلته د خپلواکۍ له اعلامیې سره یوځای د بیان د آزادۍ لپاره هم یو څه اصول وټاکل شول، چې په نتیجه کې یې په ۱۷۷۶م کال کې د ویرجنیا په ایالت کې د (Virginia Gazette) په نامه یوه خپرونه د مطبوعاتو د آزادۍ مصداق وګرځېدله.

## د آزادو مطبوعاتو نظریه:

د آزادو مطبوعاتو نظریې ورو ورو په ۱۶مه پېړۍ کې وده کړې ده، چې په اتلسمه پېړۍ کې یې محسوس پرمختګ کړی دی او هماغه وخت یې د ځینو هېوادونو په اساسي قوانینو کې ځای ونیو. د مطبوعاتو د آزادۍ نظریه په بنسټیزه توګه د فردي اصالت له نظریې (لیبرالیزم) سره تړلې ده. دا نظریه فرد تر دولت هم مقدم ګڼي. د دې نظریې له مخه د افرادو د اتفاق په برکت د ټولنیزې هوساینې لپاره ګډ تصمیمونه نیول کېږي.

فرید. اس. سیبرټ له آمرانه حالت څخه د آزادۍ مرحلې ته د مطبوعاتو لېږدېدنه د څلورو کسانو د هڅو مرهونه ګڼي او څرګندوي چې جان مېلټن (John Milton) په ۱۷مه پېړۍ کې، جان اېرسکین (John Erskine) او توماس جفرسن په ۱۸مه پېړۍ کې او جان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترات میل په ۱۹مه پېړۍ کې د مطبوعاتو د آزادۍ لپاره خپلې هڅې پرمخ بېولې دي.

مېلټن به ویل چې خلک پخپله د دې ظرفیت لري چې سم او ناسم، ښه او بد سره یو له بله بېل کړي او ښه تصمیمونه ونیولای شي. هرڅوک باید د هر چا له نظر او فکر څخه خبر شي، په دې توګه عامه خبرتیا باید محدوده پاتې نه شي. د جان ایرسکین نظریه دا وه هغه خلک چې د نورو د تنویر هڅه کوي او له لارې یې نه وباسي، دوی باید د ټول ملت هغه هوښیاري منعکسه کړي چې په حقیقت ولاړه وي. د جان سترات میل عقیده دا وه چې خلک تر هغه ځایه پورې د فکر او کار حق لري چې دنورو دا ډول حق اخلال نه کړي.

جفرسن د مېلټن د نظریې په تایید عقیده څرګندوله چې د خلکو عامه افکار که هغه تنویري وي او له معلوماتو ډک وي، د سالمو او معقولو تصمیمونو اساس ګرځېدلی شي. د ده له نظره مطبوعات د خلکو د خبرتیا وسیله ده، نو هغه باید له کنترول څخه آزاد وي، جفرسن په ۱۷۷۴م کې یوه جریده چې د " View of the Right of British America " اوږد نوم یې درلود خپرونو ډګر ته را وایستله. ده د همدې جریدې په خپرولو سره په امریکا کې د آزادو مطبوعاتو بنسټ کېښود. هغه څوک چې مطبوعاتو وربانديې زیات او سخت انتقادونه کړي دي پخپله جفرسن و، سره له دې هم ده تر آخره پورې د مطبوعاتو د آزادۍ ملاتړ کاوه.

لیبرالیزم چې آزاد مطبوعات یې په غېږ کې نیولي ساتل د همدغه ډول مطبوعاتو په برکت پرمختګ وکړ. دومره پرمختګ چې په انګلستان، امریکا او ځینو نورو اروپایي هېوادونو کې د همدغې نظریې په رڼا کې اساسي قوانین ولیکل شول، تصویب او نافذ کړل



شول. زموږ د ژوندانه په زمانه کې د مطبوعاتو آزادۍ لوی نړیوال اهمیت پیدا کړ. د بشر د حقوقو په باره کې د ملګرو ملتونو یوه پرېکړه لیک په [۵۹] ماده کې ویل شوي دي:

د اطلاعاتو آزادي د بشر یو اساسي حق دی چې د نورو آزادیو لپاره د بنسټ حیثیت لري، دغه آزادي چې د ملګرو ملتونو موسسه یې تقدیسوي، په هره خوا او هر ځای کې د خبرونو د ټولولو، لېږدولو او بې له دې چې فلټر شي، د هغو دخپرولو حق په ځای کوي.

د نړیوالو مطبوعاتو د آزادۍ د کمیټې د یو رپوټ له مخه چې د دې کمیټې یوه خبرلیک (نیوز لېټر) د ۱۹۹۲م کال د جون په میاشت کې خپور کړی دی، د کمیټې په بلنه د [۳۴] هېوادونو ژورنالیستانو په لندن کې غونډه وکړه چې د یونسکو په ملاتړ یې د مطبوعاتو د آزادۍ په باب څه اصول تصویب کړل. د دوی په تصویب شوي منشور کې راغلي دي چې د آزادو مطبوعاتو او آزادو انسانانو معنی یوه ده. هر ډول مستقیم یا غیر مستقیم سانسور د منلو وړ نه دی. ټول هغه قوانین چې د نوي میډیا د آزادۍ مخه نیسي باید له مینځه یوړل شي. حکومتونه او نورې اداري باید په چاپي او برېښنایي خپرونو کې ګوتې ونه وهي، خپلواکه میډیا که چاپي وي که برېښنایي په ټولو هېوادو کې د اجازې حق لرونکې ده. حکومتونه باید د خپلو هېوادونو د خبري میډیا په وړاندې له توپیري چلند څخه ډډه وکړي. که په یوه هېواد کې دولتي میډیا او غیر دولتي میډیا یوه د بلې په څنګ کې په فعالیت بوختې وي دواړه یې باید د اقتصادي مرستو او نورو آسانتیاوو څخه ګټه واخلي. د دوی ترمینځ دې تبعیضي رویه نه چلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د منل شويو اصولو له مخه دولتونه بايد په طباعتي چارو، د اخبارونو د وېش په سيستم، د خبرونو په اژانسونو او د بروډ کاستېنګ د فرېکونسيو په امکاناتو او آسانتياوو بنديزونه ونه لګوي. د ډله ييزې مفاهمې د واکمنو ادارو له خوا د داسې قانوني تخنيکي او ګمرکي اقداماتو کول د غندنې وړ دي چې دخبرونو د وېش او د اطلاعاتو د بهير مخه نيسي. په حکومتي ميډيا کې تبصرې بايد آزادې وي او په هغو کې بايد هغه تبصرې هم برخه ولري چې د مخالف نظر خاوندان يې کوي. دغه اصل بايد قانوني حيثيت ولري او هم بايد عملاً تطبيق شي.

د خارجي خپرونو او د اطلاعاتي خدماتو د راتګ مخه بايد ونه نيول شي. همدارنګه عام ولس بايد دا آزادي ولري چې پر داخلي خپرونو سربېره خارجي خپرونې هم ترلاسه کړي. همدارنګه خارجي برېښنايي خپرونې واوري اويا يې وګوري. د يو هېواد سرحدونه بايد د بهرنيو ژورناليستانو په مخ بند نه شي، د دوی د اعتبارليک او د ننوتلو د نورو سندونو د کتنې او منښې چارې بايد په بېړه سرته ورسېږي، دوی ته بايد اجازه ورکړله شي چې په کوربه هېواد کې په آزادانه توګه تګ راتګ وکړي او د خبرونو رسمي يا غير رسمي منابعو ته ځانونه ورسولی شي. همدارنګه دوی ته بايد اجازه ورکړله شي چې خپل مسلکي سامانونه او مواد په آزادانه توګه له خپلو ځانونو سره يوسي او د ستنېدو په وخت کې يې بېرته له کوربه هېواد څخه وباسي.

منشور زياتوي چې د ژورناليزم مسلکي ساحې ته د چا د ورګډېدو مخه بايد ونه نيوله شي. ژورناليستان بايد د يو هېواد د نورو اتباعو په توګه مصئونيت ولري. دوی بايد په قانوني توګه



وساتل شي. هغه ژورناليستان چې د جنګ په ساحه کې کار کوي بايد د هغې ساحې د اتباعو په توګه وپېژندل شي. دوی بايد د مصئونيت له هغو حقوقو څخه ګټه واخلي چې د سيمې اتباعوته ورکړل شوي دي.

## د اجتماعي مسئوليت نظريه:

په شلمه پېړۍ کې مطبوعات د ډېرې آزادۍ يا نامطلوبې آزادۍ له امله، د ژېړ ژورناليزم يو پړاو ته هم ورسېدل چې په ټولنه کې يې د "اجتماعي ژېړي" ناروغي خپره کړه. دا هغه وخت و چې د راډيو او خوځنده عکسونو (فلمونو) تنداري او کرشمې زياتې او له اخلاقي چوکاټ څخه ووتلې. ورسره د کينو او ښيو اړخونو سياسي نظرياتو د ډله ييزې مفاهمې په وسايلو هجوم راووړ چې د مطبوعاتو بې طرفي يې په سخته توګه اخلال کړله.

د صنعتي انقلاب تحرک لرونکو نتيجو ورسره د ډله ييزو اړيکو د وسيلو ډېرښت د "آزادو خو مسئولو مطبوعاتو" نظريې ته وده او پراختيا وبښله. په دې معنی چې مطبوعات خو په حکومت او نورو ټولنيزو موسسو انتقادونه کوي خو خپل ځان ته دې هم ګوته نيسي او خپل عيب دې د وليو منځ نه ګرځوي.

د ژورناليزم د مسلکي تعليماتو پرمختګ او د مسلکي موسسو راپيدا کېدل د مطبوعاتو د اجتماعي مسئوليت د نظريې د رامينځ ته کېدو له مهمو عواملو څخه دي. په ډېرو کتابونو او مسلکي مجلو کې په خپله پر مطبوعاتو باندې ډول ډول نيوکې وشوې. تيودور پيټرسن (Teodore Peterson) چې د مطبوعاتو د اجتماعي مسئوليت په باب يې يوه څېړنه کړې ده ليکي چې يو ليکوال او ژورناليست وېل ايروين په ۱۹۱۱م کال کې په کاليرز

(c) ketabton.com: The Digital Library



(Colliers) مجله کې پخپله پر ژورنالیزم د انتقادونو یوه سلسله پیل کړه. ورپسې اپټان سېنکلیر په (The Brass Check) کې او له هغه وروسته جارج سیلډېز په (Freedom of Press) کې چې په ۱۹۵۵م کې چاپ شوي دي، دغه موضوع تکرار کړې ده.

مطبوعات هغه وخت تر زیاتو انتقادونو لاندې راغلل چې غاړې ته یې ورېښمین پړی ولوېدل او د اعلانونو سحر او جادو بند په بند وتړل. لومړی خو مطبوعاتو دا پلمه جوړه کړې وه چې موږ غواړو د اعلانونو له لارې دومره په ځان متکي شو چې حکومت ته د اړتیا لاسونه وړاندې نه کړو. تر دې چې د غربي نړۍ، د چا خبره آزاد مطبوعات یې د شوروي د حزبي او دولتي مطبوعاتو د پېغور وړ وګرځول.

د مطبوعاتو د تیوریو یو څېړونکی ویلبر سکرام ( Wilbur Schramm) لیکي کله به چې یو امریکایي راپورټر له شوروي راپورټر سره مخامخ شو، نو یو بل ته به یې پېغورونه ورکول مثلاً امریکایي ژورنالیسټ به شوروي ژورنالیسټ ته د پېغور دا خبره کوله چې تاسې خو د حکومت تر کنټرول لاندې مطبوعاتو لپاره استخدام شوي یاست نو بیا ولې ځان یو ژورنالیسټ بولئ. شوروي ژورنالیسټ به بیا په ځواب کې په امریکایي ژورنالیسټ دا تور لګاوه چې "ایمان مو پیسه ده، پیسه !..."

هغه څه چې مطبوعات له هر ډول پېغور نه خوندي ساتي، هغه پخپله د ژورنالیستانو له خوا وخت پر وخت جوړ شوي او منل شوي اخلاقي کودونه او نورمونه دي. دا کودونه زموږ د پښتونولۍ د "لارو، تیږو یا نرخونو" په څېر نالیکل شوي بڼه لري، چې رول یې د لیکل شویو قوانینو پر نسبت ډېر پیاوړی دی، یعني یوازې د



ژورنالیزم اخلاقي کودونه دي چې د میډیا تر ټولو پیاوړی "زور او شور" په کنټرول کې ساتلی شي. ویل کېږي چې په سویس کې د مطبوعاتو د آزادۍ خوندي ساتلو لپاره هلته د مطبوعاتو قانون نه شته. ښايي هلته د ژورنالیزم اخلاقي کودونه دومره پیاوړي وي چې د قانون لیکلو ضرورت یې له مینځه وړی وي.

د ژورنالیزم په ساحه کې د امریکې، فرانسې او انګلستان د اخلاقي کودونو له مطالعې څخه دلته ځینې داسې ټکي را ایستل شوي دي چې د چا خبره په آزاده نړۍ کې ډېر عمومیت لري:

یو ژورنالیسټ باید په لیکنه کې هم خپلواک او هم باید بې طرفه وي. لیکنه یې باید ریښتینوالی ولري، د انصاف له مخه باید په دقت او غور لیکل شوې وي. حقیقت لیکل او د حقایقو په راټولونه کې د موازنې داسې ساتل چې لیکنه له مطلق پروپاګندي حالت څخه راوباسي د یو اخبار او بلې هرې خپرونې تر ټولو لویه دنده ده.

د یو اخبار انتقاد باید تعمیري روحیه ولري. تبصرې یې باید اصلاحي وي، نوی والی ولري او د عامو خلکو ګټې په کې په نظر کې نیول شوې وي. هر هغه کار او طاقت چې تخریبي اړخ ولري باید رسوا کړل شي. د خبرونو منابع باید پټې ونه ساتل شي، خو که کله لزوماً پټې ساتل یې ضروري وي نو ممکن دلیل یې باید وښودل شي.

باید لیکنې داسې نیمګړتیا ونه لري چې د خلکو ذهن په بله خوا بوځي او عامه افکار تخریب کړي. په ژورنالستیکو اخلاقو کې له تحقیق نه د مخه قضاوت ناروا دی، اصلاً ښه ژورنالیسټ هغه څوک دی چې د یوې پېښې یا مسئلې ټول حقایق راټولوي او تنظیموي یې. د پېښو او مسائلو پس منظرونه روښانه کوي خو کوښښ کوي چې قضاوت لوستونکو ته پرېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې شکه د آزادۍ وينا يا آزادۍ ليکنې او څرګندونې حقونه دې خوندي وساتل شي، خو ورسره دې د افرادو د محرميت حق او نور شخصي او ذاتي حقوق هم خوندي وساتل شي.

اخبارونه دې د خبرونو په خپرولو کې يوازې خپلې ګټې په نظر کې نه نيسي. داسې دې نه کوي چې د اعلان ورکوونکو موسسو فعاليتونه ښه وښيي او په عيبونو يې سترګې پټې کړي. اخبارونه بايد هغه سوغاتي خبرونه خپاره نه کړي چې پروپاګندي جنبه ولري يا د اعلانونو رنګ او بوی ولري.

ځيني څېړونکي د ژورناليزم له اخلاقي کودونو څخه پيدا شويو ځينو مسائلو ته ګوته نيسي مثلاً دا چې ښايي د اخلاقي کودونو لمن دومره پراخه نه وي چې هر ډول مسائل او حالات په کې را ونغښتل شي. بل دا چې د ژورناليزم د ناليکل شويو قوانينو يا اخلاقي کودونو تيرې په بېلو بېلو ځايونو کې په انفرادي ډول يا په ډله ييزه توګه د ژورناليستانو له خوا اېښودل شوي وي چې د تجربه لرونکو او مفکرو ژورناليستانو څېړنو او عملي کارونو په مرسته يې وده او پراختيا موندلې ده، نو دا کودونه په ځينو ځايونو کې ښه واضح خو په ځينو نورو ځايونو کې مبهم او د بحث وړ دي. دا هغه ځای دی چې د ژورناليزم استادان او ماهران د يو هېواد لپاره د مطبوعاتو د قانون د مسودې ليکلو لپاره کښېنوي، خو دا قوانين بايد په هر لحاظ د ژورناليزم له اخلاقي کودونو څخه خپله لاره بېله نه کړي.

## اسلام او د مطبوعاتو آزادي:

د اسلام د مقدس دين له مخه ايمان او وجدان تر موضوعه قوانينو لوړ او د مسلمانانو ډېر ښه لارښود دی. ايمان په ټولو انفرادي



او اجتماعي چارو کې يوازې مسلمانانو ته نه، بلکې ټول بشريت ته ګټورې لارښوونې لري. که دا لارښوونې سمې او پوره تطبيق شي، ټولې اوسنۍ او راتلونکې اجتماعي اړتياوې او نيمګړتياوې به پوره کړي، لکه چې د مخه وليکل شول، د ژورناليزم اخلاقي کودونه د وروستيو څو پېړيو په تېره د شملې پېړۍ محصول دی، خو د اسلام مقدس دين کابو 14 پېړۍ د مخه د اجتماعي اخلاقو او په ترڅ کې يې د ابلاغ د اخلاقي قوانينو اساسي اصول راښودلي دي.

په اسلامي شريعت کې ټولو خلکو ته د معلوماتو خپرولو ضرورت د اعلام، ابلاغ او ايصال تر اصطلاحاتو لاندې توضيح شوي دي. زموږ د يو څېړونکي له نظره "اعلام" له صحيحو خبرونو، سليمو معلوماتو، ثابتو حقايقو او واقعيتونو څخه د خلکو خبرول او په حوادثو باندې د خلکو د خبرولو او پوهولو له لارې د مشکلاتو د حل کولو خوا ته د دوی د فکرونو اړولو مفهوم او مقصد لري.

په دې اساس "اسلامي اعلام" بايد بشپړه آزادي او خپلواکي ولري. هغه بايد د حاکمو قدرتونو په لاس کې نه وي، چې د خلکو د ذهنونو د تسخيرولو لپاره ورڅخه کار واخلي. بايد ښکاره کړو چې اسلامي اعلام، د غرب له بې بندوباره مطبوعاتي آزادۍ څخه خپله لاره جلا کوي. ځکه اسلام د نورو اذيت که څه هم کافران وي روا نه ګڼي. (د الانعام سورت، 108 آيت). اسلام په بد نامه د چا يادول منع کړي دي. (النساء، 184، آيت). غير حق د چا بدنامول او په چا باندې افترا کول هم لويه ګناه بولي. (الاحزاب، 58، آيت).

همدارنګه لوی خدای(ج) د هغو شيانو له بيانولو څخه منع کړي يو چې پوره يقين ورباندې نه لرو (د بقره سورت 31-33 آيتونه).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الحجرات سورت (11-12) آیتونه مسلمانان یو په بل د استهزاء کولو، یو بل ته د پیغور ورکولو، یو او بل په بدو القابو د یادولو له افراطي ګومان کولو، عیب جویۍ او غیبت څخه منع کړي دي.

په یو تفسیر (تفهیم القرآن) کې د دې آیتونو جامع مفهوم داسې ښودل شوی دی، چې ګومان په خپل ذات کې ناروا شی نه دی، په ځینو مواردو کې ښه، په ځینو حالاتو کې اجباري، په ځینو مواردو کې لږ جایز او په ځینو نورو مواردو کې ناجایز دی. همدارنګه بې ځایه تجسس او پلټنه، د خلکو په خصوصي ژوند کې مداخله د خلکو کاغذونو لوستل یا د دوی خصوصي خبرو ته غوږ نیول ناجایز دی.

د تجسس ممانعت یوازې د افرادو لپاره نه بلکې د اسلامي حکومت لپاره هم روا نه دی. شریعت چې حکومت ته د نهی عن المنکر کومه وظیفه سپارلي، مانا یې دا نه ده چې هغه د جاسوسۍ نظام قایم کړي.

په تفسیر کې راغلي دي چې حضرت عمر(رض) یوه شپه د چا له کور څخه د مستو سندرو آواز واورېد چې ده ته یې په زړه کې شک پیدا کړ، نو د هغه کور په دېوال ور واوښت، ویې کتل چې هلته ښځه هم شته او شراب هم. نو د کور په خاوند یې غږ وکړ: اې د خدای دښمنه! تا دا نه وه ګڼلې چې د خدای(ج) په نافرمانۍ سره به رسوا کېږې. کوربه حضرت عمر(رض) ته په ځواب کې وویل:

امیر المومنینه! بېړه مه کوه! ما یوه ګناه کړې ده او تا پخپله درې ګناوې کړې دي. ته خدای(ج) د تجسس څخه منع کړی وې، خو دا دی تا دا کار کړی دی. د خدای(ج) حکم دا دی چې د خلکو کورونو ته د دوی له دروازې ورشئ او ته دا دی په دېوال را اوړېدلی یې.



خدای(ج) حکم کړی چې د چا کور ته د کوربه د اجازې نه پرته مه ورځئ! دا دی ته زما د اجازې نه پرته زما کور ته راغلی یې.

خو په تفسر کې دا هم راغلي دي چې لټونه او پلټنه په هغه صورت کې روا ده چې د یوې ګناه د ارتکاب مخه ورباندې ونیوله شي.

تفهیم القرآن د نبوي احادیثو په استناد لیکي چې غیبت که په صریحو الفاظو سره وي او که په کنایه او اشاره کې شوی وي حرام دی. په یو حدیث کې راغلي دي چې که څوک د خپل ورور په عزت باندې بدې خبرې کوي داسې بد کار کوي لکه څوک چې د خره غوښې خوري. تر ټولو بد کار دا دی چې څوک د یو مسلمان په عزت ناحقه حمله وکړي. د تفسیر له مخه په دې حدیث کې د "ناحق" راوړل دا ښیي چې په حق باندې د چا په شخصیت باندې انتقاد روا دی. تفسیر یوه پېښه د مثال په ډول رایادوي هغه داسې چې د قیس د لور فاطمې سره د واده کولو لپاره دوې غوښتنې راغلې. یوه غوښتنه حضرت معاویه او بله یې حضرت ابو الجهم کړې وه. دغه ښځه د حضرت محمد(ص) حضور ته د مشورې لپاره ورغله. هغه حضرت(ص) ښځې ته وفرمایل چې حضرت معاویه مفلس دی څه نه لري او حضرت ابوالجهم یو عصبي مزاجه سړی دی چې ښځې وهي. (بخاري او مسلم)

له دې کبله چې د اسلام له پیغمبر(ص) څخه په یوه حیاتي مساله کې مشوره غوښتل شوې وه، نو دوی(ص) ضروري وبلله چې په دواړو سړیو کې موجودې نیمګړتیاوې په ګوته کړي.

اسلامي پوهانو په لاندې ډول د عیبونو او نیمګړتیاوو ښوونه روا بللې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د هغه چا په وړاندې چې د ظلم د لرې کولو هیله ور څخه کېږي، د ظالم له لاسه د مظلوم شکایت جایز دی.

۲- د داسې چا یا ډلې په مخ کې د چا د بدیو یادونه کول روا دي چې د بدیو د اصلاح کولو هیله ورڅخه کېدی شي.

۳- د استفتاء په وخت کې د مفتي په مخ کې د داسې پېښو بیانول روا دي چې په هغو کې د چا د کوم غلط کار یادونه هم وشي.

۴- د یو چا یا یوې ډلې کسانو له شر څخه د خلکو خبرتیا د دې لپاره ضروري ده چې له شر څخه یې وساتل شي. فقهاوو په دې خبره اتفاق کړی دی چې د روایانو، شاهدانو، لیکوالو او مصنفینو کمزورتیاوې یوازې جایزې نه - بلکې واجبې هم دي. که داسې و نه شي، غلط رواجونه، په شریعت کې ځای نیسي، بیا نو قاضیان او طالب العلمان له ګمراهیو څخه نه شي بچ کېدلی، همدارنګه که څوک له چا سره تجارتي معامله کوي، څوک خپل امانت چا ته سپاري، یا څوک د چا سره د واده کولو او نورو شخصي مسالو په باره کې مشوره کوي نو بیا واجبه ده چې د مربوطو کسانو ښېګڼې او بدۍ ورته څرګندې وي.

۵- په هغو کسانو باندې په اوچت غږ سره انتقادونه کول ډېر غوره کار دی چې فسق او فجور، بې عدالتي او نور بد عادتونه عاموي، یا خلک د بې دیني بد اخلاقۍ، ظلم او فتنو په لوري بیايي.

۶- که کوم څوک په بد لقب باندې دومره مشهور شوی وي چې په ښه نوم یې څوک و نه پېژني، نو د ده د پېژندنې لپاره په بد لقب د ده یادونه روا ده. خو دا کار باید د ده د سپکاوي په نیت و نه شي.

له پورتنیو څېړنو ښکاره څرګندېږي چې "انتقاد" جایز دی، خو پېغور ورکول، د چا سپکاوی کول غیبت کول، بهتان کول، له ناوړو



کارونو څخه دي. په دې توګه د خلکو خبرتیا چې د ننني ژورنالیزم اصلي هدف دی نه یوازې دا چې روا ده بلکې واجبه هم ده.

د مطبوعاتو هغه آزادي چې اسلامي شریعت یې لارښوونه کړې ده. زموږ د جهادي تنظیمونو په مرامنانو کې هم څه ناڅه ښودل شوې ده. مثلاً د حزب اسلامي افغانستان (د حکمتیار د اړخ) په مرامنامه کې راغلي دي: "د ټولنې هر فرد اصولاً د دې حق لري چې د ملي مسایلو په باره کې خپله نظریه له قانوني وسایلو څخه په استفادې سره نورو ته وړاندې کړي، که د ملت د افرادو په دې حق باندې پابندي ولګول شي، دوی به د قدرت د تر لاسه کولو لپاره نورو وسیلو ته لاس واچوي چې دغه کار به زموږ ملت ته په ګرانه بیه تمام شي." د افغانستان د ملي نجات جبهې هم په خپله مرامنامه کې د فکر او بیان د آزادۍ اصل د اسلامي شریعت په حدودو کې د ننه محترم ګڼلی دی. البته د ملي نجات جبهې د هغو افکارو خپرېدل او تبلیغ منع کړي دي چې د اسلام د روحیې او تعلیماتو او افغاني کلچر سره منافات ولري. د افغانستان ملي اسلامي محاذ د مطبوعاتو آزادي او نورې فردي او اجتماعي آزادۍ د اسلام د مبین دین د احکامو په رڼا کې د وضع شویو قوانینو له مخې محترمې بللې دي. جمعیت اسلامي افغانستان په دې باره کې یوازې دومره لیکلي دي چې دا جمعیت غواړي چې د راډیويي پروګرامونو خپرونې او مطبوعات باید داسې وي چې د ټولنې په تربیت او تهذیب کې برخه واخلي، د غني فرهنګ (!) او د اصیلو او تل پاتې ارزښتونو د خپرونې وسیله وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حکومتونو هوښياري: د مطبوعاتو ازادي

يو د ښو تجربو خاوند ولسمشر توماس جفر سن هغه څوک و چې د مطبوعاتو سختې حملې يې زغملې ورسره يې تل د مطبوعاتو د آزادۍ ډېر ټېنګ ملاتړ هم کاوه. د "حکومت او ملي مطبوعات" تر عنوان لاندې يې د ۱۸۷۶م کال په اکتوبر کې وليکل چې د نظرياتو څرګندونه او په صادقانه توګه په حکومت باندې انتقادونه د آزادو مطبوعاتو له دندو څخه دي. همدارنګه د خلکو او حکومت شريک مسووليت دا دی چې د مطبوعاتو آزادي خوندي وساتي. که چېرې د مطبوعاتو په خوله لاس کېښودل شي او حقايق له خلکو پټ وساتل شي، نو آوازې به قوت پيدا کړي. د آوازو منفي طاقت د مطبوعاتو له آزادۍ څخه ډېر زيات خطرناک دي. حقيقت دا دی کومو حکومتونو چې له دې هوښيارۍ څخه کار اخيستی دی خپلو خلکو ته ډېر ورنژدې شوي دي. ملي او بين المللي حيثيت يې هم لوړ شوی دی.

په افغانستان کې اعليحضرت امان الله خان هغه پاچا و، چې د مطبوعاتو د آزادۍ تاريخي تجربه يې کاميابه کړه. چې همدغې تجربې پخپله پاچا په ټول شرق کې د نهضتونو د روڼ ستوري په ډول وځلاوه. د افغانستان لومړنی اساسي قانون (اساسي نظامنامه) په ۱۳۰۱ لمريز کال کې تصويب شوه. د اساسي قانون په 11 ماده کې د افغانستان د خلکو لپاره د فکر او بيان آزادي تضمين کړل شوه. په ۱۳۰۳ل کال کې د افغانستان د مطبوعاتو د لومړنۍ نظامنامې په خپرېدو سره عملاً د "ثروت"، "انيس"، "نسيم سحر" او "نوروز" په نومونو آزادې جردې راووتلې.



اعليحضرت امان الله خان په خپله ليکوال، وياند او ژورناليست هم و. ده به په لويه جرګه کې د خلکو د نماينده ګانو هغو انتقادونو ته چې په حکومت او وزيرانو به يې مخامخ کول په مينه غوږ نيوه. هغه وخت ټلويزيون نه و چې د دولت او حکومت مشر په يو مخامخ (Face to Face) پروګرام کې د خلکو هر ډول پوښتنو ته ځوابونه ووايي. امان الله خان که پر خپل حکومت او د حکومت په اجراآتو انتقادونه منل، دا جرات او علميت يې هم درلود چې له ديني علماوو سره علمي بحثونه وکړي او د دوی د کارونو ځينې نيمګړتياوې ور په ګوته کړي. ديني علماوو هم په زړوره توګه په حکومت انتقادونه کول، مثلاً د ديني علماوو د انتقاد له امله په لويه جرګه کې د ترکيې له حکومت سره د افغانستان د حکومت يوه معاهده تصويب نه شوه. د ترکيې په حکومت د افغانستان د ديني علماوو انتقاد دا و چې هغه اسلامي خلافت لغو کړی دی او پر ځای يې غربي جمهوريت راوستلی دی. هغه وخت چې د افغانستان خلک د لومړي ځل لپاره له عصري سمعي او بصري وسايلو سره اشنا کېدل، امان الله خان به په خپله د لويې جرګې غړيو ته د هغو بې غږه (ساکتو ) فلمونو په باره کې توضيحات ورکول چې د اروپا ځينې مثبت او مهم پرمختګونه يې ښودل. ده کندهار ته د خپل يو تګ په موده کې پخپله د هغه ولايت د دوايرو د کارونو په باره کې يو انتقادي رپوټ ليکلی و.

امان الله خان تر هغه وخته چې په خپله سينه کې يې د چا خبره "ډموکراټ زړه" درلود، نو د ده د محبوبيت ساحه د هېواد له پولو څخه هم ووتله او پراخه شوله، د هند او بخارا مسلمانانو د اميرالمومنين په توګه د ده نوم د جمعې د لمانځه په خطبو کې يادا وه، خو کله چې "آمرانه دماغ" يې هغه "انقلابي پاچا" وباله او د برچې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



زور د اصلاحاتو راوستلو فکر ورته پیدا شو او ځان یې د امیر عبدالرحمن خان لمسی وباله، نو بیا هرڅه وران او ویجاړ شول.

په ظاهرشاهي دوره کې د ویښ زلمیانو د مطبوعاتو نسبي آزادۍ او تر یوه وخته او تر یوه حده د مطبوعاتو د محدودې آزادۍ په مقابل کې د وخت د حکومت حوصلې د صدراعظمانو په جمله کې مرحوم شاه محمود خان غازي ته نسبتاً ښه نوم او حیثیت وباښه، خو د اساسي قانون په لسیزه کې چې افغانستان په کې نسبتاً په پراخه توګه یوه نوي سیاسي، اقتصادي او اجتماعي دموکراسي تر ازموینې لاندې راوستلې وه، مطبوعاتو تر پخوا زیاته آزادي درلوده. د دیموکراسۍ په دې تجربه کې پخوا له هغه چې غیر دولتي جریدې په خپرونو پیل وکړي د هېواد حکومتي ورځپاڼو، اصلاح، انیس، هېواد او د ولایاتو ورځپاڼو او جریدو د نویو سیاسي، اجتماعي، او اقتصادي نظریاتو په خپرونو کې زیاته ونډه واخیستله.

نوي اساسي قانون پاچا واجب الاحترام او غیر مسوول وباله، نو چا په پاچا باندې مخامخ انتقادونه نه کول، خو کله کله به د سمبولیک نثر په ژبه د هېواد تر ټولو د لوی سیاسي ځواک د مقام په لوري د لفظونو ګولۍ ور ویشتل کېدلې. د ټولو انتقادونو مخه په صدراعظم، وزیرانو، والیانو او د حکومت د نورو کار کوونکو په لوري ور خلاصه وه. ویل کېدل چې ځینې وزیران د مطبوعاتو د سختو حملو له امله پاچا ته په شکایت ورغلل خو ده ورته وویل: کوم حکومت چې په خپل هېواد کې د دموکراسۍ د تطبیقولو اراده ولري د هغو حکومت مشر او غړي باید د پراخې سینې خاوندان وي او باید پخه حوصله ولري.



کله کله به د دې دورې د جریدو خپرونې له قانوني او اخلاقي چوکاټ څخه ووتلې، چې دغه کار به حکومت ته د سانسور بانې او پلمې په لاس ورکولې. ځینو بې پروا خپرونو عام ولس هم وځوراوه او د هېواد په پارلمان کې یې د ملت د نماینده ګانو غږ هم پورته کړ، مثلاً د پرچم جریده له دې امله د خلکو په مظاهرو او پارلمان کې سخته وغندل شوه چې په لینن یې درود ویلی و. له دغه ډول یوې شرمېدلې ګناه څخه د یوې مهمې دولتي ورځپاڼې "اصلاح" غاړه هم خلاصه نه وه. دې ورځپاڼې له بده مرغه داسې یو کارټون اقتباس او چاپ کړی و چې د اسلام په ضد یې د متعصبو یهودیانو استهزاء او کینه تمثیلوله. ځینو جریدو چې په پټه کې له نورو ځایونو څخه استخدام شوې وې د ملي وحدت په زیان بې مسوولیته خپرونې کولې چې د ملي روښانفکرانو له مناسب غبرګون سره مخامخ شوې.

غیر دولتي جریدې د "خبر" پر ځای تر ډېر حده "نظر" ته وقف شوې وې. زیاتره یې د ژورنالېزم د لیکې او لارې څخه ناخبره وې، ځکه خو یې یوازې د سانسور اداري نه بلکې د خلکو بېلې بېلې پرګنې د خپلو بې تجربو او غیر مسلکي خپرونو په ضد پارولې.

د پاچا لویه هوښیاري دا وه چې وار په وار جوړېدونکي او ژر ژر نړېدونکي حکومتونه یې د خلکو د شور او زور په وړاندې دیوالونه غوندې درول. همدا سبب دی چې پاچا د بحرانونو څخه په یوه ډکه زمانه کې یوې اوږدې خو آرامې پاچاهۍ ته دوام ورکړای شو.

## دویمه برخه: جمهوري اختناق؟

حقیقت دا دی چې په افغانستان کې د ۱۳۵۲ کال د سرطان د ۲۶ نېټې سپینه کودتا، د خپلو ښو او بدو پایلو له امله یوه لویه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنیزه پېښه وه. په دغه ورځ په افغانستان کې جمهوریت اعلان شو. چا چې دا جمهوریت اعلان کړ هغه یو مشهور شخصیت و. شهید داود خان هر چا د ځینو لویو ملي ارمانونو او ترقي غوښتونکو نظریو لرلو له امله ډېر ښه پېژنده. کله چې هغه د هېواد صدراعظم و، د افغانستان خلکو دده د فکر او کار نتیجې د سر په سترګو لیدلې وې؛ له همدغه امله خلکو هم په داود خان او هم د دوی له خوا په اعلان شوي جمهوري نظام پوخ یقین او باور درلود.

کله چې لیدل کېدل خلکو د جمهوریت په لومړۍ ورځ، د زړه له کومي د دغې انقلابي پېښې ډېر تود هرکلی وکړ. شربت خرڅوونکو، اوبه خرڅوونکو او بادرنګ خرڅوونکو په دغه ورځ خپل ډېر شیان په وړیا توګه خلکو ته ورکړل. ځوانانو په داوطلبانه ډول د ښار ترافیکو ته د لارښوونو کارونه په غاړه واخیستل. خلکو د ښار په څلور لارو کښې په درول شویو ټانکونو او توپونو وروختل له هغو څخه یې د ویناوو د سټېجونو په توګه کار واخیست او د جمهوریت په ویاړ او ملاتړ یې جذابې ویناوې وکړې.

له بده مرغه له داود خان څخه د چپي عناصرو د کي جي بي راتاو شوو کړیو، چې غوښتل یې ټول قدرت د داود خان په منګولو کې منحصر کړي او په خپله د انقلاب لارښود په خپلو منګولو کې راولي، په قصدي توګه یې دده او د خلکو تر منځ فاصلې راپیدا او زیاتې کړلې. د داود خان یو نژدې او مخلص ملګري جنرال عبدالکریم مستغني هڅه کوله چې د نوي نظام او خلکو تر منځ فکري او روحي اړیکي وساتي له همدغه امله یې زه (لیکوال) چې هغه وخت د هېواد ورځپاڼې مسول چلوونکی وم، خپل دفتر تهووبللم او راته ویې ویل چې دا نوی جمهوري نظام به ستاسې هېوادپالو او روښانفکره



ځوانانو د فکر او متو په زور، په مخکې روانېږي. جمهوري نظام له تاسې غواړي چې د خلکو هر ډول هغو نظریو او انتقادونو ته غوږ ونیسئ چې د نوي نظام په باره کې یې لري او هغه په بېطرفانه توګه په بشپړه زړورتیا ولیکي او ما ته یې وسپارئ، ددې لپاره چې د دې ډول لیکنو آزادي او د انتقاد کوونکو مصوْنیت د باور وړ وي تاسې کولای شئ چې د انتقاد کوونکو نومونه او ځایونه پټ وساتئ.

ډېره موده لا نه وه تېره شوې چې داود خان او جنرال مستغني تر منځ د وسپنې دېوال جوړ شو، همدې ډول نورو دېوالونو د انقلاب لارښود( ! ) له خپلو ډېرو نورو مخلصو ملګرو څخه جلا وساته تر دې چې دده یو زیات شمېر دوستان د جمهوریت د مخالفینو په نوم له مینځه یوړل شول.

ډله ییزه مفاهمه چې د جمهوریت روح بلل کېږي د جمهوري نظام په باره کې په وچو تکراري او کلیشه یي تبلیغاتو باندې مصروفه شوه ځای یې هرې خوا ته غځول شویو، جاسوسي شبکو ونیو. د چپي عناصرو او د کي، جي، بي هرې خوا ته غځېدلو لاسونو او پښو ته زمینه برابره شوې وه، چې د جمهوري انقلاب په اړول شوې کرونده کې د یو بل انقلاب تخمونه وکري. یو پرچمي ولسوال، زما یو ملګري شهید مولانا محمد سلیم فرقاني ته، د هغه د یو اعتراض په ځواب کې ویلي وو چې دوی (پرچمیان) د یو بل انقلاب په ګټه "سیاسي رشوت خوړل" روا بولي. دغه ډول رشوت دوه ډوله ګټې لري. یوه یې دا ده چې انقلابیون په مالي لحاظ تقویه کېږي او بله یې دا ده چې له دې لارې دا تش په نامه جمهوریت په خپل نس کې په خپله ښه تخریب کېدلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل نس کې د جمهوریت د تخریب لپار ه یوه بله ډېره موثره طریقه عجیب او غریب سانسورونه وو. هغه وخت ما (لیکوال) د هېواد ورځپاڼې مسولیت په غاړه درلود. دا یوه مازیګرنۍ ورځپاڼه وه چې باید له ماښام څخه دمخه خپرېدلی. خو د سانسور په وجه به د هغې خپروني تر نیمو شپو پورې ځنډېدلې. چاپ ته د چمتو اخبار پروفونه به د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته استول کېدل. مشهور سانسور چې ښاغلي لطیف جلالي به هغه د شپې په اتو بجو کتل، ښاغلي جلالي به څو مضامین په سرو کرښو سره په نښه کړي وو چې هغه باید وایستل شي. ډېر ځله به موږ دکوم مضمون د ایستلو په دلیل هم نه پوهول کېدو. د ځینو لفظونو په وجه چې ښایي هغو به د دوی له نظره نورې معناګانې هم لرلې بشپړ مضمون ایستل کېده زموږ او د حروفو د ټولوونکو او د صفحو د ترتیب کوونکو لپار ه به یې لوی لوی جنجالونه پیدا کول. کله کله به د مطبعې د فني کارکوونکو شکایت، په موږ باندې د شرم خولې راماتولې مثلاً دوی به ویل: "بابا ! چې د جمهوریت په نشراتي پالیسۍ نه پوهېږئ بیا نو په خپله مخه ځئ ! څوکۍ مو ولې ټینګې نیولې دي".

د څه مودې له تېرېدو وروسته پوه شوو چې موږ باید په اخبارونو کې د ځینو سیاسي اصطلاحاتو له لیکنې څخه ډډه وکړو. مثلاً نور نو ضرورت نه شته چې د لاربښود د جمهوري نظریاتو د شرح کولو په وخت کې د "ډموکراتیک" اصطلاح په کار واچوو. د لطیف جلالي ذهنیت ته دا خبره رسېدلې وه چې اوس د "ډموکراتیک" لفظ خپل عام مفهوم له لاسه ورکړی دی او هغه اوس د ځینو سیاسي ډلو لپاره، د یوې سیاسي اصطلاح نه زیاته یوه سمبولیکه کلمه ده چې دوی خپل خاص خاص مطالب د هغې تر شا پټوي. په خپله لطیف



جلالي ډېره موده د مسکو په راډیو کې د پښتو نطاقي کړې وه نو د شوروي مطبوعاتو په خوی او بوی تر نورو ښه پوهېده.

د "ډموکراتیک" غوندې الفاظو یوازې زموږ او د جلالي صاحب تر منځ جنجالونه، نه راپیدا کول، بلکې زما او زما د نژدې همکارانو تر منځ یې هم سرخوږی راپیدا کاوه. زما د کار یوه ملګرې ښاغلي غمي شین ډنډې به تل په خپلو مضمونونو کې تحریم شوي اصطلاحات په کار اچول. زه به مجبور کېدلم چې په مضمون کې یې د چا خبره ګوتې ووهم او د تحریم شویو الفاظو لپاره د هغوی معادل لفظونه ولیکم. زما په دغه کار سره به غمی شین ډنډې خوابدی کېده. فکر به یې کاوه چې زه یې فکر او نظر مسخه کوم. یو ځل خو یې د سخت عکس العمل ښودلو په وخت کې، خلکو ته د خطاب وینا (د داود خان هغه وینا چې د جمهوري انقلاب مهم هدفونه په کې راوستل شوي وو ) زما په مخ کې کېښودله او د وینا ټولو هغو اصطلاحاتو ته یې ګوته ونیوله چې ده هم په خپلو مضامینو کې کارولي وو خو وروسته سانسورچیانو هغه تحریم کړي وو نو بیا یې ما ته مخ راواړاوه، ویې ویل "اوس نو تاسې ووایاست چې زه د چا ومنم، ستاسې او که د جمهوریت د موسس او ملي لاربښود؟"

کله چې د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د پښتو د پرمختیا او پراختیا د آمریت د چارو مسؤلیت راوسپارل شو، نو فکر مې کاوه چې نور نو د سانسور له جنجال نه خلاص شوم. خو دلته هم سانسور موجود و. موږ به چې د نویو چاپېدونکو کتابونو لپاره د ادارې له خوا مقدمې ولیکلې نو د مطبعې مسوؤل مدیر به دهغو مقدمو له پای څخه زموږ نومونه وایستل او په ځای به یې د اطلاعاتو او کلتور د وزیر ډاکټر عبدالرحیم نوین نوم ولیکه یعني دا به یې ښودله چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اطلاعاتو او کلتور د وزارت له خوا د ټولو نويو چاپ شويو کتابونو مقدمې ه خپله وزير صاحب ليکلې.

ما د پير روښان د سيمينار په مناسبت يوه رساله "د روښانيانو روښانه ملي لار" ليکلې وه دا وخت د اطلاعاتو او کلتور د وزارت کارکوونکو ته چې کتابونه يې د دغه وزارت د مربوطو ادارو له خوا چاپېدل، اجازه نه وه ورکړل شوې چې په خپل اثر باندې خپل نوم وليکي، زه په دې خوا بدی نه وم چې ولې په رساله باندې زما نوم نه و ليکل شوی، بلکې د هغې پرله پسې سانسورولو زه ډېر پرېشانه او ستومانه کړي وم. اصلاً په رساله کی پښتونواله او مغولواله ددوو رقيبو سياسي جريانونو په توګه يو له بلې سره مقايسه شوې وې. دې مقايسې په هېڅ وجه تخنوونکې محتوی نه درلوده؛ بلکې هغسې روحيه يې درلوده چې اجمل خټک په خپل يو شعر کې هم راوستلې وه:

چې نشه د استبداد لري په سر کې
ماته يو دی، که مغول دی که افغان

رساله څو ځله ما ته د بيا بيا کتنې لپاره راواستول شوه، زما ملګرو به په ټوکه کې راته ويل: "ته لګيا يې خپل کتاب په خپله سانسوروې". د مطبعې د مسؤل مدير يا ښايي د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د خپرونو د رياست نظريه دا وه چې زموږ ورونه هزاره ګان هم مغل دي هسې نه چې دوی خوابدي شي. نو په رساله کې چېرته چې د مغول لفظ راغلی دی هغه دې په "ګورګاني" واړول شي. په ډېرو ځايونو کې خو ما همداسې وکړل مګر په ځينو ځايونو کې د مغول د لفظ په ايستلو سره مضمون خپله اصلي محتوی له لاسه ورکوله. هغه وخت او بيا په ورسته وختونو کې په خپله د هزاره قوم يو شمېر



پوهانو او څېړونکو عقيده درلوده چې دوی اصلاً مغولان نه دي بلکې دوی د مغولو د هجوم په وخت کې له هغوی سره په مېړانه جګړه کوله. د دوی دغه نظريه نورو څېړونکو هم تائيد کړې ده، خو ځينو يې داسې هم ليکلي دي چې په وروستيو وختو کې د مغولو ځينې بقايا په هزاره قوم کې منحل شوي دي. مګر د اطلاعاتو او کلتور د وزارت سانسورچيانو په وچ زور له هزاره ګانو څخه مغل جوړول.

اوس به خبره رالنډه کړو، د هغه جمهوري نظام د عمر د لنډېدو لپاره چې د شهيد داود خان په هڅه او نوښت منځ ته راغلی و، نور عوامل هم وو، خو يو غټ عامل يې بې ځايه سانسور او اختناق و. که چېرې مطبوعاتو پوره يا نسبي آزادي لرلای د خلکو عقيدې پخوا له هغه چې د بل انقلاب په نامه انفلاق وکړي، په خپله تشېدلې. که چېرې د ثور د کودتا عجولانه او بيړنۍ پېښه هم منځ ته نه وه راغلې، د جمهوريت په وروستيو کلونو کې د بې ځايه فشارونو او اختناقونو په سبب د جمهوري نظام او په خپله له لاربنود څخه د خلکو خپګانونه او ګيلې ورځ په ورځ زياتېدلې چې تر سرې لاندې د پټ اور په توګه لمبو ته چمتوکېدلې.

## مطبوعات، د خير غوښتونکي استبداد په غېږ کې:

په خپله شهيد داود خان د خپل مزاج له مخه داسې يو شخصيت و چې دماغ يې آمرانه او زړه يې عاطفه لرونکی او جمهوريت غوښتونکی و. کله چې د شاهي دولت په موده کې، د افغانستان له عظمی صدارت څخه دده اوږې سپکې شولې د ايران يو مشهورې مجلې "اطلاعات" دی د "خير خواه مستبد" په نوم يا کړ او افغانستان ته دده صادقانه خدمتونه يې وستايل. داود خان د ويښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



زلمیانو د نهضت په دوره کې یو روښانفکر، ځوان و چې د خپل فکري نهضت ملګري یې په "ملي کلوب" کې راټول ول.

د افغانستان مطبوعات د داود خان د صدارت په وخت کې د ایرانیانو خبره د یو خیرغوښتونکي استبداد لاس ته ورغلي وو، نو بشپړه آزادي یې نه درلوده. خو په راتلونکي کې د آزادو او په اخلاقي لحاظ مسؤولو مطبوعاتو د ودې او پرمختیا لپاره د حکومت ځینې اقدامات د یادونې وړ دي:

۱- د ژورنالیزم په رشته کې مسلکي روزنه د مطبوعاتو د آزادۍ په لار کې ډېر مهم ګام بلل کېدای شي، د شهید داود خان د صدارت په موده کې د ژورنالیزم یو کورس چې یو امریکایي پروفیسر جالف یې استاد و تاسیس کړل شو. د دغه کورس تعلیمي نصاب (اساسات ژورنالیزم) په نوم د یو کتاب په بڼه چاپ شو، چې همدغه کتاب بیا په پوهنتون کې د ژورنالیزم د څانګې لپاره په تعلیمي نصاب کې شامل شو.

۲- د یو شمېر ژورنالیستانو په مسلکي روزنه سره په اخبارونو کې ښاري خبرونو ته چې په خپله د ورځپاڼو د خبریالانو له خوا برابرېدل، ډېر ځای ورکړل شو. دې ډول خبرونو د ورځپاڼو تر منځ یوه مثبته سیالي راپیدا کړه. ښاري خبرونو انتقادي روحیه درلوده چې ځینو یې د عام المنفعه موسسو لکه ښاروالۍ، د ملي بس شرکت، روغتونونو ځینې نیمګړتیاوې هم رالوځولې.

۳- ژورنالیستانو له پولیسو سره یو ځای جنایي پېښې تعقیبولې، په دې توګه تر ډېره حده هغه امکانات له منځه وړل کېدل، چې ځینې پولیس د خپلو ناوړو استفادو لپاره د جنایي پېښو ماهیتونه په آسانۍ سره وګرځولی شي.



۴- ژورنالیستانو په مسلکي لحاظ داسې یو جرأت او طاقت ترلاسه کړی و چې د وزیرانو او د دولت له نورو مهمو کارکوونکو سره مرکې وکړی شي.

۵- په مرکز او ولایتونو کې د ورځپاڼو جریدو او مطبعو اداري د تصدیو په بڼه وګرځول شوې. د دې تصدیو د کارکوونکو معاشونه او نور لګښتونه د حکومت له بودجې څخه ورکول کېدل خو د اشتراک، د ورځپاڼو د خرڅلاو او د اعلانونو له چاپولو څخه ترلاسه شوې پیسې به د تصدیو په پانګه وراچول کېدلې. ددغه کار موخه دا وه چې مطبوعات په مالي لحاظ په خپلو پښو ودرېږي.

۶- ددې لپاره چې په لره پښتونخوا کې آزاد مطبوعات د ولسواکۍ او خپلواکۍ په لوري د پښتون ولس د یون لاره ښه روښانه کړی شي نو د داود خان حکومت د پښتونخوا د مطبوعاتو د هڅونې او تقویې لپاره یو ځانګړی پروګرام ترلاس لاندې ونیو. ددغه پروګرام له مخه، د افغانستان حکومت په پېښور او کوټه کې خپرېدونکي پښتو مطبوعات په بیه اخستل او په افغانستان کې به یې په وړیا توګه ویشل. مینه وال به په اوونۍ کې یو ځل د قبایلو مستقل ریاست/د سرحداتو وزارت) ته ورتلل او یو زیات شمېر پښتو مجلې او کتابونه به یې ترلاسه کول. دې په زړه پورې آزادو مطبوعاتو یوازې زموږ د ځوانانو ادبي تنده نه ماتوله بلکې دوی یې په فکري لحاظ هم تغذیه کول.

هغه وخت د پښتونخوا مطبوعات یو څه انقلابي هم وو د جمهوریت، دموکراسۍ، خپلواکۍ او اجتماعي عدالت په باره کې یې په زړه پورې او ګټورې خپرونې کولې چې د ډېورند د کرښې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړو خواوو د افغانانو او پښتنو ذهنونه یې رڼا کول او دوی ته یې سیاسي شعور بښلو.

## د ډاکټر نجیب ډېره ناوخته شوې هوښیاري:

ټولو ته دا حقیقت په پوره توګه څرګند شوی دی چې د غوبي تر کودتا وروسته، د خلقیانو او پرچمیانو حکومتونو په تېره بیا د ببرک کارمل حکومت د نړېدلي شوروي اتحاد په لیکه او لاره خپل ګامونه برابرول. د حکومت مطبوعاتو هم په هر څه کې د شوروي مطبوعاتو تقلید کاوه، شوروي ژورنالیستانو ته د لویدیزې نړۍ د ژورنالستانو داسې یو پېغور چې تاسې آزادي نه لرئ بلکې د حکومت تر کنټرول لاندې کار کوئ، په افغانستان کې چاپېدونکو مطبوعاتو ته هم مخامخ و. د هغه وخت د مطبوعاتو یوه بله لویه "مخ توري" دا وه چې حقایق به یې په معکوس ډول ښودل یعنې که به کومې ولسوالۍ ته، د رژیم قواوې په ولسي خلکو باندې د ناڅاپي یرغل لپاره ورغلې وې نو راډیو او مطبوعاتو به داسې خبر خپور کړ چې ګواکې د هغې ولسوالۍ شریفو خلکو د انقلاب په ملاتړ لوی مارش کړی و.

ډاکټر نجیب هڅه کوله چې د ملي پخلاینې تر پروګرام لاندې د مطبوعاتو د ښکېل کېدو یخونه د خپلو ویناوو په تودوالي اوبه کړي، نو کله کله به یې په خپله هم په رژیم انتقادونه کول. ده د کمونستانو د یو نړیوال شعار "ډوډۍ، کالي او کور" ماهیت په خپله خوله او په خپلو الفاظو کې داسې وښود: "موږ خلکو ته د ډوډۍ په ځای ګولۍ، د کالیو په ځای کفنونه او د کورونو په ځای ګورونه ورکړل".



رژیم د خپل عمر په وروستیو وختونو کې د "اخبار هفته" په نامه یوه مجله وایستله. ویل کېدل چې دا مجله د خاد له خوا خپرېدله. مجلې د نجیب په حکومت او هم په روسانو باندې انتقادونه کول. خو خلکو ورباندې باور نه درلود. ځکه دوی ته د رژیم ماهیت څرګند و او په دې پوهېدل چې د رژیم پر مخ او پر شا اخیستل شوي ګامونه په هېڅ یو منطق نه برابرېږي؛ حتی د دوی په خپل ډیالکټیک هم سم نه راځي. که کله په ډېره عجولانه توګه له دوو تکاملي مرحلو څخه په اوږد ټوپ وهلو تېرېږي نود مجبوریت له مخې د یو ټاکټیکي عمل په توګه په وروسته هم ګامونه اخلي. له همدغه امله له ډاکټر نجیب سره، خپلې هغې هوښیارۍ مرسته ونه شوه کولی چې ناوخته یې سرته ورغلې وه.

## د "جنګ" جنګ کول او څنګ نیول؟

په همدې وروستیو دوه کلونو کې، زموږ تر نظره لاندې د پاکستان د سیاست په سټېج باندې دوه پیاوړي "پرسوناژ شخصیتونه" راښکاره شول چې د یو قوت سرچینه د خلکو لوی منډېټ او د بل د قدرت منبع پوځ و. له دوی څخه یو میا نواز شریف او بل یې جنرال پرویز مشرف دی. لکه څنګه چې نواز شریف د پاکستان خلکو ته د خدمت کولو په هیله، په خپله منګول کې د اقتدار د ټولو واګو نیول خوښوول هماغسې جنرال پرویز مشرف په همدې نظریه د پاکستان د دولت د مهمو ارګانونو واک ترلاسه کړی دی.

دلته زموږ د بحث اصلي موضوع دا ده چې د پاکستان یوې نامتو ورځپاڼې "جنګ" چې له نواز شریف سره یې خپله مطبوعاتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړه په زړوره توګه پر مخ بېوله، ورو ورو د جنرال مشرف څنګ ته ورنژدې شوه. دا ولې؟

ددې پوښتنې ځواب د حکومتونو په هغې هوښیارۍ کې نغښتی دی چې د مطبوعاتو د آزادۍ نه ګټه اخلي او د امریکې یو آزادي دوست او د سترو سیاسي تجربو خاوند جمهور رئیس جفرسن هغه وخت د دې هوښیارۍ تلقین کاوه چې خپله له حوصلې ډکه سینه یې د هغو سختو مطبوعاتي حملو په مقابل کې سپر کړې وه چې شخصاً په ده باندې کېدلې.

نواز شریف به په خپله انتخابي مبارزه کې څو ځله د خپل لاس ګوتې سره موټی کړې او یو پیاوړی سوک به یې ورڅخه جوړ کړ او خلکو ته د هغه د ښودلو په وخت به یې له دوی څخه غوښتل چې هېواد او خلکو ته د ښه خدمت کولو لپاره زما متې او موټی لا پیاوړی کړئ. خلکو همداسې وکړل، نواز شریف یې په لوی اکثریت کامیاب کړ او لوی منډېټ یې ورکړ. د لوی منډېټ په زور یې دولس مشر سردار فاروق لغاري اختیارات ورڅخه واخیستل، هغه ته هم نور بې واکه جمهوري ریاست خوند نه ورکاوه استعفی یې وکړه. نواز شریف له سترې محکمې سره له یوې شخړې څخه هم روغ رمټ راووت. بیا د جنګ له ورځپاڼې سره په جګړه کېښوت، غوښتل یې چې د دې ورځپاڼې ملا تر درانه ټکس لاندې ماته کړي خو "جنګ" ورځپاڼې خپل مسلکي مقاومت له لاسه ورنه کړ او د وخت د حکومت هر هغه اقدام یې رسوا کاوه چې د ورځپاڼې په ضد به کېده. د نواز شریف وروستۍ هڅه دا وه چې د پوځ ټول اختیارات هم ترلاسه کړي.

د خپرو شویو خبرونو له مخه کله چې جنرال مشرف بهر ته له یو سفر څخه راستنېده، د ده الوتکې ته یې د ژر ښکته کېدو اجازه نه



ورکوله، دغه اقدام په خپله د جنرال مشرف او د الوتکې د نورې سپرلۍ ژوند له خطر سره مخامخ کړی و. دا هماغه ځای دی چې یو سیاسي اکټ په جنایي عمل بدل کړل شو. ښایي دا کار د دې لپاره و چې نواز شریف د جنرال مشرف په ځای د یو بل لوی درستیز د ټاکلو او ملت ته د هغه د وریپېژندلو د پروټوکول لپاره کافي وخت ولري. خو جوړې شوې ډرامې خپل اړخ بدل کړ. پوځ مداخله وکړه جنرال مشرف یې په خوندي توګه راښکته کړ او د پاکستان د حکومت واک یې وروسپاره.

په دې توګه د مطلق اقتدار په څوکۍ د کښېناستلو لپاره چې نواز شریف له ښکتې خوا څخه مخ پورته د ختلو زور واهه، چانس او تصادف هغه جنرال مشرف ته وسپارله. خو ده، د نواز شریف د پالیسۍ په عکس، له لومړي سره، د اقتدار له بام څخه د ورو ورو ښکته کېدو او خلکو ته د ورنژدې کېدو هڅې روانې کړلې. د خپلې پالیسۍ د برې لپاره یې له مطبوعاتو سره د دوستۍ لاره ونیوله او د هغو د حملو او انتقادونو په وړاندې یې له پیاوړې حوصلې څخه کار واخیست. د اقتدار د نیولو په لومړیو شپو ورځو کې په یوې تلویزیوني مرکه کې یوې پاکستانۍ ژورنالستې له جنرال مشرف څخه پوښتنه وکړه چې "آیا تاسې په خپل کور کې هم پوځي حکمراني چلوئ؟" ده په کړس وخندل بیا یې په ځواب کې وویل: "زه په کور کې ډموکراټ یم همدارنګه له خپلو پوځي ملګرو سره هم ډموکراټیک روش خوښووم". په لنډ ځواب سره جنرال مشرف وښودله چې که د چا په خپل کور کې او هم په سخت عسکري چاپېریال کې ډموکراسي خوښه وي هغه هېواد ته هم ډموکراسي راوستل خوښوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جنگ ورځپاڼې چلوونکي او د ژورنالستانو د اتحادیې مشر میر شکیل الرحمن چې له نواز شریف سره په خپله مطبوعاتي جګړه کې یې بری ترلاسه کړی و، پاکستاني ژورنالستانو او هنرمندانو ته د جوایزو (انعامونو) ویشلو په یوه غونډه کې چې د پاکستان چیف ایګزیکټیو جنرال مشرف هم په کې برخه اخیستې وه، ټول هغه انتقادونه جنرال مشرف په وړاندې بیا تکرار کړل چې په خپله په دغه پوځي مشر باندې پاکستاني مطبوعاتو وخت په وخت کړي وو، لکه دا:

تا وعده کړې وه چې احتساب به ټولو خلکو لپاره وي. جنرالانو په یوه دفاعي معاهده کې یو ارب ډالره خوړلي دي. په یوه نظامي سودا کې پنځوس لکه پونډه خوړل شوي دي چې په دې قضیه کې یو نه بلکې څو کسه جنرالان ملوث شوي دي. شاهین فاونډیشن ته (۷۰) کروړه روپۍ تاوان رسېدلی دی. په خبرونو کې راغلي دي چې جنرال مشرف او ملګرو یې د هېواد بېړۍ ډوبه کړې ده... جنرال مشرف د بهارت (هند) په وړاندې په ګونډو شوی دی... یوه سیاسي شخصیت دا خبره کړې ده چې په پوځ کې ډېر مهاجر ننوتلي دي... د یو بل سیاسي له خولې ووتل چې جنرال مشرف د څو میاشتو مېلمه دی په خپله مخه به ځي، په یو بیان کې راغلل چې جنرال مشرف سیکولر او لیبرال دی. یو سیاسي شخصیت دا خبره هم وکړله چې ماقوف جنرال راغی زموږ له کورونو څخه یې حکومتي موټران وایستل خو اوس له هغو څخه دده ماینه او زامن کار اخلي.

میر شکیل الرحمن چې دغه ټکي یاد کړل ورسره یې دا خبره هم وکړه چې دا ټکي په ټایمز آف انډیا، واشنګټن پوسټ، لندن ټایمز، بي، بي، سي یا سي، این، این کې نه وو راغلي بلکې هغه ټول



پاکستاني اخبارونو لیکلي دي. د جنرال مشرف په وړاندې د شکیل الرحمن په وینا کې له لوی اخلاقي جرات څخه کار اخیستل شوی و. وینا یې آزاده او خبرې یې ډېرې زړورې وې. خو دده دغې آزادې وینا چې څومره ګټه جنرال مشرف ته رسولای شوی هغومره یې په خپله شکیل الرحمن ته ونه رسوله. دې وینا خلکو ته وښودله چې د جنرال مشرف وچ کلک نظامي حکومت پخه حوصله او ډموکراټیکه روحیه هم لري.

په پاکستان کې د نظامي حکومت په موده کې، د جنګ میګزین د پاکستاني مطبوعاتو یوه بله زړورتیا وښودله. دې مجلې په خپله (۲۰۰۰م کال د اکتوبر ۸-۱۴ ګڼه کې د مهاجر قومي موومنټ الطاف حسین سره یوه "بم چوونکي" مرکه خپره کړه. الطاف حسین په دې مرکه کې یوازې په پوځي حکمران حمله نه وه کړې، بلکې د پاکستان د نظریې او د هغه د باني په باره کې یې هم څه هغه او دغه خبرې کړې وې. مثلاً دا چې مسلمانان له هندوستان څخه په جلا کېدو سره نه د هغه ځای شول او نه د دغه ځای! مهاجرانو ته د جناح په لاس لوی نقصان پېښ شو... قائد اعظم هېڅکله جېل ته نه و تللی... زه د هغه د کردار په باره کې لګیا یم څېړونه کوم. د ده په باره کې به څه موده وروسته خپلې ټولې خبرې وکړم... که آی، ایس، آی ختم کړل شي بیا به د پنجابي، پښتون او مهاجر تر منځ شخړې او ګوندۍ هم پای ته ورسېږي....

هر څوک پوهېږي چې الطاف حسین په لندن کې ناست و ځکه خو یې دومره زړورې خبرې کولی شوای، کومه زړورتیا چې په خاصه توګه پوښتنه راپیدا کولای شي هغه له جنګ میګیزین سره اړه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د مهاجر قومي مومنټ د مشر ډېرې نیش دارې خبرې یې خپرې کړې دي.

که دې موضوع ته زموږ د زړو سانسورچیانو له نظره وکتل شي نو د داسې مطالبو چاپول د یو هېواد له ملي ګټو سره سمون نه خوري، خو که خبره دا وي چې د ځورېدلو او عقدو بمونه باید له چاودېدلو څخه دمخه خنثی شي نو بیا د یو هېواد ملي مصالح ایجابوي چې د زړونو پټې خبرې له هرې لارې چې وي باید رابرسېره شي.

زموږ ځینو مهاجرو مطبوعاتو هم د ځینو ټولنیزو ګروپونو ځورېدنو، ګیلو او شکایتونو ته انعکاس ورکړ او په دې توګه یې خپلې مسلکي وظیفې سرته ورسولې، خو ځینو جریدو او مجلو له خپلو لمڅیو څخه پښې اوږدې کړې، د افغانستان په ملي بنسټونو یې غیر مسولانه حملې وکړې، تر دې چې د افغانستان درانه نامه ته یې په سپک نظر وکتل. داسې یې وښوده چې ګواکې دا نوم نورو په دې تاریخي خاورې باندې تپلی دی. ځینو کسانو هڅه کوله چې د افغانستان تر ټولو لوی قوم (پښتون) ددې لرغونې خاورې له تاریخ څخه وباسي او د تاریخ د لالهانده خلکو په توګه یې ملي موجودیت او فرهنګي پانګې په قصدي توګه د صحرایي بوټو او ګلانو په څېر د روزګار تودو او سړو ته پرېږدي چې وچ شي او د زمانې بادونه یې هرې خوا ته ورسره یوسي.

د جنګ او جګړو په حالت کې مطبوعات هم جنګي بڼه پیدا کوي او لکه چې د یونسکو یو مدیر ویلي وو مطبوعات په همدغسې حالت کې د اتوم د بم طاقت پیدا کولای شي. د افغانستان د شاوخوا سیالانو یا دښمنانو غوښتل چې د اقلیتونو له عقدو څخه همداسې بمونه جوړ کړي او یو پیاوړی تاریخي ملت چې د علامه اقبال له نظره



د آسیا زړه دی، ټوټې ټوټې کړي او هرې خوا ته یې وشني. خو له ښه مرغه د پارول شویو کینو دا باروت په برسېرنه سطحه په دود او لوګي بدل شول او د ملت زړه ته یې لاره پیدا نه کړای شوه. که څه هم سیالانو ددغه ډول بې بندوباره مطبوعاتو منفي نتیجې ډېرې په نظر کې نیولې وې، خو له ښه مرغه افغاني پوهان، ملي روښانفکران، لیکوال او ژورنالستان د فکري رشد یوې داسې مرحلې ته رسېدلي وو چې له دې ډول تخریبي خبرونو څخه یې ځینې مثبتې نتیجې هم ترلاسه کړای شوې. مثلاً دوی د ځینو قومي ځورېدنو له عواملو څخه خبر شول. بله مهمه نتیجه چې دوی ترلاسه کړه هغه دا وه چې دوی په خپله د خپل ملي هویت د ساتنې، د ملي تاریخ د روښانه کولو او د ملي فرهنګ د ودې لپاره مهم تصمیمونه ونیول او په یو لړ پراخو فرهنګي فعالیتونو یې لاس پورې کړ.

## د خلکو هوښیاري او مطبوعات:

د مطبوعاتو په اړه د حکومتونو د هوښیارۍ په باره کې ښایسته ډېرې خبرې وشوې، خو مطبوعات د حکومت په نسبت د خلکو له هوښیارۍ سره ډېره ژوره رابطه لري. مثلاً دا خبره ډېره مشهوره شوې ده چې انګرېزان ډېره زیاته هوښیاري لري، دا هوښیاري د دوی خاصه ازلي برخه نه ده بلکې مطبوعاتو په دوی کې راپیدا کړې ده. هغه وخت چې په انګلستان کې صنعتي انقلاب په چټکۍ سره پرمخ روان و او د دغه هېواد پیاوړي بحر یې هرې خوا ته د سمندرونو سینه څیرله او نویو نویو مستعمرو ته یې لارې ایستلې، هوښیارو انګرېزانو به دا خبره کوله چې که چېرې د انګلستان ټول صنایع په ټپه ودرېږي او بېړۍ یې هم له چلېدو څخه پاتې شي، که

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوازې د ټايمز اخبار ورته پاتې شي د دغو ټولو زيانونو تلافي به وکړي. وايي انګرېزان د خپل ورځني عادت له مخه بايد د سهار ناري د چايو د پيالې تر څنګ يو اخبار هم د ميز له پاسه ولري چې د چايو له غوړپونو سره يو ځای يې ولولي. يعنې دوی هر سهار بايد خپل ځان او هم بايد خپل فکر تغذيه کړي يا خپل عقل پوخ کړي.

امريکايان چې د انګرېزانو سکني تربرونه بلل کېږي هغوی هم له مطبوعاتو سره مينه په ارث کې ورسره وړې ده. په امريکې کې يوې ښځې چې موږ يې "عاجزه" بولو له عجيبې هوښيارۍ څخه کار اخيستی دی چې د ژورناليزم تاريخ يې نه شي هېرولی. دا ښځه مېرمن اګيروال نايمن نومېده په ميليو کي جورنال (Miluo Kee Journal) خپله ونډه د هارورډ پوهنتون ته وسپارله چې له دغو پيسو څخه د ژورنالستانو لپاره د فيلوشپ د يوې ټولنې په جوړولو کې کار واخلي. ددې ښځې آرزو دا وه چې دغه پوهنتون د "نايمن فيلوشپ" په نامه داسې يو تربيوي او مطالعاتي مرکز جوړ کړي چې د ژورنالستانو د مسلکي کفايت او علمي سطحې د لوړولو سره مرسته وکړي. دغه فيلوشپ ژورنالستانو ته موقع ورکوله چې يو کال له خپلو اړونده خپروونکو موسسو څخه رخصت واخلي او پر دغه تربيوي او مطالعاتي مرکز کې د خپلې خوښې وړ موضوعات زده او مطالعه کړي. د نايمن ملګرو (Nieman Fellows) دا ټولنه له ۱۹۳۸ کال راهيسې په کار بوخته ده. د دې ټولنې هدف ژورنالستانو ته فيلوشپ ورکول دي څو د ژورنالستانو مسلکي او علمي معلومات بيا بيا تازه کړل شي. ژورناليزم د عــامــه مـفاهمې (Mass Communication) يوه لويه برخه ده او لکه چې پوهان وايي کميونيکشن په خپله يو جامد شی نه دی، بلکې هغه يو فعاليت (activity) دی او ژورناليزم



هم ددې فعالې هستې د يوې برخې په توګه رواني او تازه ګی ته ضرورت لري.

د ژورنالستانو د مسلکي او علمي معلوماتو د بيا بيا تازه کولو له پروګرامونو څخه دغه په زړه پورې نتيجه ترلاسه شوې ده چې نن سبا د امريکې د ډله ييزې مفاهمې لوی طاقت چې زور يې له اټومي طاقت څخه کم نه دی په مطلقه توګه، په مستقيم، ډول يا په غير مستقيمه توګه د ژورنالستانو په لاس کې لوېدلی دی. تر دې چې د راډيو او تلويزيون غوندې لويې حکومتي وسيلې هم په داسې توګه د ژورناليستانو له خوا چلول کېږي چې په خپلو حکومتونو هم انتقاد کوي يا د حکومت د مخالفينو نظريات منعکس کوي. هلته د حکومت او د مخالفينو تر منځ شخړې او جګړې د ګوليو د ويشتلو په ځای د الفاظو او کلماتو د تبادلې په بڼه سرته رسېږي، خو دا الفاظ هم بې حسابه او بې سنجشه نه دي، هر لفظ او کلمه په مسلکي او اخلاقي وزنونو تلله کېږي. همدارنګه په انګلستان کې د بي. بي. سي راډيو او تلويزيون چې خپرونې يې زموږ د غوږونو او سترګو له لارې زموږ په ماغزو کې نفوذ کوي، دواړه د حکومت له خوا تمويلېږي او د دولت ملکيت ګڼل کېږي. خو دولت حق نه لري چې د هغو په داخلي چارو او نشراتي پاليسۍ کې مداخله وکړي.

دغه خپروونکې لويه دستګاه د خپل منشور له مخه د ګورنرانو د يو هيئات له خوا اداره کېږي. دا ګورنران زموږ په اصطلاح واليان يا نائب الحکومه ګان نه دي چې په هر قلم او قدم کې د حکومت د نمايندګی يا نيابت دندې په غاړه ولري بلکې دلته ګورنر د يو کتونکي په توګه کار کوي، نو د ګورنرانو هيئت په معنی او مقصد زموږ له "کتونکې ډلې" يا "کتونکې جرګې" سره برابره راځي. دا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بي، بي، سي د مسلكي كدرونو مهارت دى چې معاشونه له حكومت څخه اخلي خو د حكومت تر اغېزې دومره نه راځي چې خپله مسلكي آزادي ونه شي ساتلی.

## د مطبوعاتو لپاره زموږ خپل معيارونه:

موږ په دې بحث كې د مطبوعاتو د آزادۍ او مسوليت موضوع د بېلابېلو هېوادونو او د تاريخ د بېلابېلو شخصيتونو له نظره وڅېړله. له دې نسباً اوږده بحث څخه دوې مهمې نتيجې ترلاسه شوې، يوه دا چې د مطبوعاتو آزادي هم ضروري او هم واجبه ده. هوښيار او كامياب حكومتونه هغه دي چې د مطبوعاتو معقوله او اخلاقي آزادي ومني او ويې زغمي. بله پايله يې دا ده چې د مطبوعاتو د آزادۍ د ساتلو او له مسوليت څخه د هغو د ژغورلو لپاره اخلاقي كودونه يا ناليكل شوي قوانين له ليكل شويو قوانينو څخه زيات د منښت او درنښت وړ دي. په دې بحث كې زموږ د پوهانو او څېړونكو له علمي مقالو څخه اقتباس شوی مطالب (چې لوړ ذكر شوي دي) دا راښيي چې د اسلام مقدس دين د ابلاغ او اعلام او بالاخره د مطبوعاتو د اهميت، او د هغو د آزادۍ او مسوليت د حدودو د ټاكلو په كار كې له لويديزې نړۍ څخه ډېر وړاندې والی لري. زيات شواهد دا حقيقت ثابتوي چې د اسلامي حكومت پوهو او مسوليت احساسوونكو مشرانو په تېره راشدو خلفاوو سم انتقادونه په سړه سينه زغملي دي او غوښتي يې نه دي چې خپلې ځينې شخصي نيمګړتياوې د وليو منځ ته يوسي او هلته يې داسې پټې كړي چې د خپلو سترګو نظر يې هم ورباندې ونه لګېږي.



هر څوك پوهېږي چې انتقاد د آزادو مطبوعاتو روح دی. له بلې خوا د ديني جيدو علماوو له څېړنو څخه څرګندېږي چې انتقاد جايز دی، خو بې ځايه پېغور وركول، د چا سپكاوی كول، غيبت كول، بهتان كول او د چا محرميت رسوا كول له ناروا او ناوړو كارونو څخه دي. البته له طبيعي او اجتماعي پېښو او له ټولنيزو واقعيتونو او سياسي حركتونو څخه د خلكو خبرتيا چې د نني ژورناليزم اصلي مقصد دی، نه يوازې شرعاً جايز عمل دی، بلكې يو ضروري او لازمي كار هم دی.

## انتقاد كه پېغور؟

زموږ لپاره په خاص ډول د پوهېدو وړ يوه موضوع د "انتقاد" او "پېغور" تر منځ توپير پېژندل دي. د ځينو افغان پېژندونكو پوهانو له نظره پېغور په حقيقت كې هغه اخلاقي طاقت دی چې د پښتونولۍ ټول كودونه او نورمونه (ناليكل شوي قوانين او اخلاق) په سمه لار برابروي.كه خبره داسې وي، نو پيغور هغه "بې نومه قاضي" دی چې د يو افغان د وجدان په محكمه كې ناست دی. دا پېغور دی چې په افغانانو كې پر خپل ځان د انتقاد كولو روحيه پياوړې كوي. دوی بايد داسې كارونه ونه كړي چې نور ورته د پېغور ګوته ونيسي. دوی بايد تل له داسې كارونو څخه ډډه وكړي چې "پور او پېغور" ولري. د "پور" موضوع هغه وخت منځ ته راځي چې چا يو داسې كار كړی وي چې د ولسي قوانينو له مخه جرم وبلل شي، خو د پېغور خبره له ټولنيزو نورمونو څخه د غاړې غړولو له امله هم راپيدا كېږي. مثلاً د يو چا له كوره د مېلمه وږي وتل- كه پور نه لري پېغور خو ضرور لري. افغانان كه ځانونه له پېغوره ساتي نو دا هڅه هم كوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په عادي حالت کې چا ته د پېغور خبرې ونه کړې. ځکه چې کېدای شي پېغور ځينې خلک له خپل کور او کلي څخه وتلو ته مجبور کړي. کله کله يو پېغور د بېلابېلو کورنيو او يا قبيلو تر منځ د دوامداره جنګونو ، شخړو او دښمنيو سبب ګرځېدلی دی. خو د پېغور دا ډول منفي اغېزې دا معنی نه لري چې پښتانه دې په خپلو کې يو د بل ښو يا بدو خبرو يا دا ډول کارونو ته ګوته نه نيسي. يو مفکر چې غوښتل يې مفکوره يې په ټوله نړۍ حاکميت ولري، د پښتنو ټولنه يوه فطرتاً ډموکراټيکه ټولنه وبلله؛ همدغسې يوه خبره د ځينو نورو غربي محققينو له خوا هم ليکل شوې ده. د پښتنو ټولنيز کړه وړه تر ډېره حده دا ډول خبرې رښتيا کوي. خو انتقاد د ولسواکۍ يا جمهوريت روح دی. نو که پښتانه په رښتيا سره ولسواک يا ډموکراټيک خلک وي، نو بايد انتقاد وزغمي. د پښتنو له مرکو او جرګو څخه په خپله ثابتېږي چې د پښتنو مشرانو په درندو غونډو کې انتقادونه په سړه سينه زغمل کېږي. خو د مرکو جرګو هغه ماهران چې د "سپينو خبرو " يا د "خبرو سپينولو " مهارت لري، داسې يو مهارت هم لري چې د ګوته نيولو (انتقاد ) او پېغور تر مينځ کرښه وباسي. په مرکو او جرګو کې کله چې يو څوک وغواړي چې د چا له خبرې سره توافق ونه لري، نو هغه په بې پروايۍ نه ردوي، بلکې له يو ښه تمهيد څخه کار اخلي مثلاً وايي: "تا ښه خبره وکړه خو که زه نه وم تېروتلی نو رښتيا خبره دا ده چې... "

نور داسې مهارتونه ډېر دي چې په پښتنو کې يې د انتقاد روحيه ساتلې او پاللې ده.



## ژورناليزم او انتقاد:

په زياترو شرقي هېوادونو کې عام تصور دا دی چې د اخبارونو مخونه د جنګ هغه ډګرونه دي چې په کې د ګوليو پر ځای له لفاظيو څخه کار اخيستل کېږي. هغه لفظونه، کلمې او تصويرونه چې زموږ د ټي، وي يا راډيو آنټنونه يې را اخلي په حقيقت کې د تبليغاتي جګړو بمونه دي چې زموږ د کورونو د بامونو په خوا راويشتل کېږي. خو رښتينی ژورناليزم په حقايقو باندې سترګې نه پټوي او نه ورباندې خوله بنده ساتي، مګر تل دا هڅه کوي چې خپله لمنه، تر ممکنه حده، له تبليغاتي او پروپاګندي جګړو څخه پاکه وساتي. ژورناليزم آزادي ډېره زياته خوښوي تر دې چې غواړي خپله غاړه د لفاظيو له ښکلې غاړکۍ څخه هم آزاده وساتي. يوازې هغه وييونه او لفظونه يې خوښ دي چې د مطلب په روښانولو کې يې اغېزه تر نورو ډېره ښه وي.

ژورنالستيک متنونه اصولاً او معمولاً د صفتونو (Adjectives ) په نسبت له فعلونو (Verbs) څخه ډېر ډک وي. چې د هر چا او هر شي ښه والی يا بد والی د هغوی له کار او کردار څخه څرګندېږي. تکړه ژورناليستان په خپله د "ښه" يا "بد " قضاوت نه کوي، بلکې پېښې او قضيې په بيطرفانه ډول داسې ليکي چې لوستونکو له خوا د پوښتنو کولو زمينې په کې تقريباً له منځه تللې وي. مثلاً يو ژورناليسټ داسې نه ليکي چې (Y ) ډېر فعال يا اکټيو سړی دی خو (Z) يو ټمبل يا پسيف انسان دی. هغه د "وای" او "زيډ" دواړو لږ او ډېر کارونه لکه څنګه چې دوی کړي وي هماغسې ليکي او له هغوی څخه د يو "فعال" بللو او د بل "ټمبل" ګڼلو قضاوت لوستونکو ته سپاري. بله خبره دا ده چې يو سړی که هرڅومره ښه ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارونه وکړي دا هم کېدای شي چې ټول کارونه يې ښه نه وي نو که د يو چا ټول ښه ښه کارونه په يادښت کې راوستل شي او بد کارونه يې له نظره واچول شي يا په معکوس ډول د يو بل چا ټول بد کارونه وليکل شي او په ښو کارنو يې سترګې پټې کړی شي، که څه هم په دې ډول ليکنو کې حقايق رالوڅ شوي وي خو له دې امله چې هغه په يو اړخيز ډول ليکل شوي دي نو داسې ليکنې پروپاګندي اړخ نيسي، چې د ژورناليستانو له نظره په معيار برابرې ليکنې نه دي. ځکه چې "د حقايقو د موازنې " ساتلو هڅه په کې نه ده شوې. نو د ژورناليزم له نظره که څوک وغواړي چې کارونو، جرياناتو او حالاتو ته په انتقادي سترګه وګوري له هرڅه نه دمخه بايد په دې فکر کې وي چې حقايق بايد له رنګينو لفاظيو څخه قربان نه کړي. د يو چا يا يوې موضوع يا يو حالت ټول مثبت او منفي اړخونه له نظره تېر کړي بيا داسې يو څه وليکي چې په ليکنه کې يې د "حقايقو د انډول" د اصل مراعات شوی وي.

## انتقاد او ادبي/ هنري دنيا:

په ادبي او هنري دنيا کې د انتقاد لاره د ويښته هومره نرۍ ده. اصلاً د "نقد " لفظ پر هغې نرۍ کرښې دلالت کوي چې د اصيلو او کم اصلو زرو د معلومولو لپاره په محک باندې ايستله کېږي. هغه څوک چې دا کرښه وباسي په خپله د ښه استعداد او صلاحيت خاوند وي. هرڅوک نه شي کولی چې د کرښو په ايستلو سره د زرو قدر او خصوصيات معلوم کړي په ادبي او هنري نړۍ کې هغه کسان په شعرونو، داستانونو او نورو ادبي آثارو سم انتقادونه کولای شي چې د دغو آثارو له ټولو هنري او ادبي خصوصياتو سره آشنايي ولري.



ليکوال بايد له هغو نريو لارو څخه روغ او رمټ تېر شي چې په ديني لحاظ ادبي ليکنه له عيب جوړوي، سپکاوي، غيبت او بد ويلو څخه پاکه وساتي. همدارنګه د پښتونولۍ د کوډونو او نورمونو له مخه، ادبي ليکنې بايد په هېڅ وجه د پېغور رنګ پيدا نه کړي ځکه چې له پېغور څخه پيدا شوې کينې او نفرتونه، ژر له زړونو څخه نه وځي او له بده مرغه په ادبي ټولنو کې هم، ناوړې تربګنۍ او ګوندۍ راپيدا کوي. که څه هم ښکلي الفاظ د ادبي ليکونو رنګ او خوند ورزياتوي، خو په دې ډول ليکونو باندې هم بايد د بې ځايه لفاظيو د رنګونو له تېلو څخه ډډه وشي.

تکړه ادبي ليکوال هغه دی چې په مناسبو الفاظو او کلماتو کې په محک باندې ايستل شوې کرښې په خپل اصلي شکل سره تجسيم کړی شي او قوي ادبي او هنري آثار له کمزورو او بې محتوی آثارو څخه هغه شان جلا کړي لکه ماهر کسان چې په "نقد " سره اصيل زر له کم اصلو زرو څخه بېلوي. دا کار هغه وخت په ښه توګه سرته رسېدلی شي چې انتقاد ليکونکي په خپله هم د ادبي او هنري معيار خاوندان وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

# د هوا جنګیالۍ څپې



## د هوا جنګیالۍ څپې

زما د ځوانۍ د ځوښ دوره د ختیځ او لویدیز تر منځ د سړې جګړې په یوه ډېره سړه فضا کې چې زړونه یې هم سړول تېرېدله، دا وخت زه د اصلاح ورځپاڼې (چې خپل عمر یې جمهوریت، د ثور انقلاب او... ورځپاڼو ته وبانښه) مسلکي غړی او راپورټر وم هغه وخت د اصلاح او انیس ورځپاڼو تر منځ سخته سیالي روانه وه، خو شرایط داسې وو چې د هېواد دغو دواړو نامتو ورځپاڼو نه شو کولای چې تازه خبرونه او نور ابتکاري موضوعات خپاره کړي. نو دواړو ورځپاڼو به د امریکې او روس د سفارتونو د پولیټنونو د راوړونکو لارې څارلې، ځکه چې د دواړو ورځپاڼو تر منځ ایزنهاور (د امریکې د یو پخواني جمهور رئیس) او خرسچوف (د شوري اتحاد د یوه پخواني حزبي او دولتي مشر) د ویناوؤ په خپرولو کې د لومړي کېدو توده سیالي را پیدا کړې وه، دا هغه وخت وؤ چې ازنهاور او خروسچوف په خپلو ناندریو کې یو بل ته د چا خبره غاښ ماتوونکي ځوابونه ورکول. کله به چې د ورځپاڼو دفترونو ته دغه بولیټنونه راورسېدل نو ترجمانانو به ډېر ژر د هغو په ترجمه کولو لاس پورې کړ او ژر به یې د دغو ویناوو لومړي پراګرافونه به یې ترجمه او په بیړه به یې مطبعې ته واستول، د سانسور وېره نه وه ځکه چې د سانسورونکو له نظره هم پردی غم نیم اختر ګرځېدلی ؤ. دواړو ورځپاڼو هڅه کوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د هغه وخت د نړۍ د نامتو سياستوالو د ويناوو لومړي پراګرفونه چاپ ته د چمتو اخبارونو په لومړيو مخونو کې راولي. د «نوربيا» عبارت به د مخه ترتيب شوی وؤ بس چې څنګه به د کومې وينا د سر څو خبرې د جوړې شوې صفحې په قالب کې واچولې شوې «نوربيا» به هم ورسره يو ځای واچول شو او د اخبار چاپولو کار به روان شو.

که څه هم ظاهراً د سرې جګړې د ناندريو څپې دومره نه وې چې توپاني بادونه ورځخه جوړ شي خو نړيوالو دا ويره درلوده چې له خولو څخه دا ډېر وتلي پوکي کولای شي چې تر سرې لاندې پټ اورونه به په لمبو راولي او لويه نړيواله جګړه ورځخه جوړه شي. د همدغې وېرې تر احساس لاندې د هغه وخت يو تکړه رسام (مصور) د درېيم نړيوالې جګړې يو تصوير جوړ کړی وؤ، په تصوير کې له هرې خوا د وېشتل شويو توغنديو رڼاګانې او برېښناوې يوه له بلې سره اوبدل شوې وې. رښتيا خبره دا ده چې د دغه تصوير په ليدو سره زه هم يوې عجيبې واهمې واخيستلم فکر مې کاوه که دا جګړه ونښلي هر شی به د اور په لمبو کې لولپه شي.

افغانستان ته له هرې خوا راغلو انقلابونو زموږ په هېواد کې د هغه رسام تصور په حقيقت بدل کړ. دې انقلابونو زموږ هېواد ته داسې ډول ډول جګړې راوستلې چې موږ يې تر دې دمخه تصور نه شو کولای. په دې جګړو کې د شرق او غرب په لاسونو جوړ شوي هر ډول راکټونه او توغندي وتوغول شول، نورې د لويو او کوچنيو وسلو ډول ډول ګولۍ هم د ګليو په څېر پکې وورول شوې. د ډېرو شپو په تورو زړونو کې به ډول ډول رڼاګانې او برېښناوې سره اوبدل کېدل، ګواکې د کابل په هغو شپو ورځو کې چې خلقي انقلاب خپل واک اسلامي



انقلاب ته سپارې د هرې شپې په توره تخته باندې د لويې نړيوالې جګړې تابلو رسامي کېدله.

د راکټونو، توپونو او ټوپکو د ډزو ترڅنګ قلمونه مايکروفونونه او کامرې هم په جنګ اخته وې، دوی د يوبل ډول فرمايشي انقلاب د برياليتوب لپاره جګړې کولې، نړيوالو په دې ډول انقلاب باندې «د اطلاعاتو تود انقلاب» يا «د ميډيا انقلاب» نومونه اېښي دي. شرق او غرب دواړو هڅه کوله چې هر يو په خپله ګټه د ميډيا خپل خپل انقلابونه پلي کړي، په وسله والو او پوځي جګړو کې د توپونو او راکټونو غږونه ډېر لوړ وو، خو د ميډيا د غږونو په څېر پراخه او دوامداره نه وو.

هر چا او هرې ډلې چې په افغانستان کې د کوم انقلاب د راوستلو لپاره متې نغښتې دي، لويه هڅه يې دا وه چې په لومړۍ مرحله کې د افغانستان راډيو ونيسي او له هماغه ځای څخه خلکو ته وښيي چې دوی «پر فضا، مسلط دي» د دې لنډ عبارت جامع مفهوم دا دی چې هوايي ځواکونه د انقلابيونو په کنټرول کې دي، په هوايي ځواکونو کې يوازې هغه الوتکې شاملې نه دي چې د يو هېواد له سياسي سرحدونو څخه د باندې وتلی نه شي. بلکې د هوا هغه بې شمېره لنډې او اوږدې څپې هم په هوايي ځواکونو کې شاملېږي چې د هېوادونو سياسي پولې ماتوي او هر چيرې د خبر او نظر (News and Views) بارانونه اوروي.

هر چاته دا حقيقت څرګند دی چې د خلقيانو-پرچميانو د کودتا په جريان کې د افغانستان راډيو د قوماندو مرکز ګرځېدلی و. کله د چا هېرېږي چې په يوه بله خاصه مرحله کې د راډيو افغانستان او راډيو تاجکستان تر منځ د څپو د جګړې يوه عجيبه يا ښايي يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نادره پېښه وشوه. په دې جګړه کې د تاجکستان راډيو زوروره شوه او د کابل راډيو غږ يې په ستوني کې وچ کړ په دې ډول پخوا له هغه چې ببرک کارمل د يو توغندي په ځېر له نړېدلي شوروي اتحاد څخه راوويشتل شي، د دې له ژبې څخه د ثبت فيته يا کسټ جوړ شوی او غږ يې د تاجکستان د راډيو په څپو کې د افغانانو د زړونو او دماغونو په قلمرو تيری وکړ او په دې توګه يې زموږ په هېواد کې د ميډيا جګړې هم يوې حادې مرحلې ته ورسولې.

د دې جګړې لپاره د افغانستان راډيو حوصله زياته کړل شوه بلکې هغې ځو نورې راډيو ګانې هم وزېږولې چې هغه د کابل راډيو، افغان غږ، وطن غږ، آسمائی غږ په نومونو يادېدلې، همدارنګه د هېواد د (ديارلس) ولايتونو په مرکزونو کې د راډيو سټېشنونه جوړ کړل شول.

په سيمه کې د خپرونو سيالۍ، کابل ټلويزيون، د عروج ډېرې لوړې پوړۍ ته ورساوه. نړېدلی شوروي اتحاد په کابل کې د «شمشاد» په نامه د ټلويزيوني دستګاه په فعالولو سره د پروپاګندې جګړې ډېره لويه اډه جوړه کړه. دغې د (۷۲) چينلونو درلودونکې دستګاه ټوله سيمه د ټلويزيوني خپرونو، مخابروي، استخباراتي شبکو په يو ډېر پراخ جال کې راونغښتله. دستګاه د ايران او پاکستان په سرحدونو کې د دغو هېوادونو د ټلويزيونونو د خپرونو مخه نيوله او د کابل او روسيې د ټلويزيونونو خپرونې يې د نړۍ هرې برخې ته رسولې او د افغانستان په (۱۳) ولايتونو کې يې د ټلويزيون سټېشنونو ته هم تيار جوړ شوي پروګرامونه لېږدول. د شمشاد د دستګاه له لارې د ډاکټر نجيب د شلو دقيقو يوه مرکه د افغانستان لپاره (۱۶۰۰۰) ډالرو په بيه تمامه شوه. د شمشاد دستګاه



څلورويشت ساعته فعاله وه. نو که چېرې د څلورويشتو ساعتونو دقيقې وشمارو او هغه د نجيب د شلو دقيقو له لګښت سره پرتله کړو او ځينې استثنأت لکه زهرناک پروپاګندې او د هنري فلمونو ښوونې ورڅخه وباسو نو بيا دا اندازه لګولی شو چې تبليغاتي جګړې د کابل او مسکو د رژيمونو د اوږو بارونه څومره درانه کړې وؤ. طبيعي ده چې دا ټول بارونه بلاخره د افغانستان پر ملت تحميل کېدل. په حقيقت کې همدغو درنو تسليحاتي او تبليغاتي بارونو د کابل او مسکو د رژيمونو ملاوې ماتې کړلې. البته د دوی په مقابل کې د مقاومت کوونکو په خولو لاسونه نه وو اېښول شوي. د مجاهدينو په نامه هم اووه راډيوګانې فعالې وې چې دوو يو په فدرالي آلمان، يوې يې په ايران او نورو سيارو راډيوګانو په افغانستان کې خپرونې کولې.

په افغانستان کې د کابل د رژيم تر ماتې وروسته کله چې د اقتدار لپاره د تنظيمونو تر منځ جګړې پيل شوې نو قلم، مايکروفون او کامرو هم د توغونديو، توپونو، بمونو او ماينونو ترڅنګ په دې جګړو کې برخه اخيستې وه په دغه وخت کې دوه ټلويزيونونه فعال وؤ. چې يو يې د کابل په ښار کې او بل يې د کابل ښار په جنوبي څنډه چارآسياب کې خپرونې کولې، د کابل ښار ټلويزيوني دستګاه د استاد رباني او احمدشاه مسعود او د چارآسياب ټلويزيون د ګلبدين حکمتيار خبرې ښودلې، چې د دوی جدي ويناوو د پخواني رژيم د واکمنو تر منځ د سياليو مسابقه په نوي رنګ او خوند کې خلکو ته ښودله.

دا وخت د تنظيمونو تر منځ په ډېرو خونړيو او تباه کوونکو جګړو کې د بي. بي. سي دوه افغاني راپورتران حامد علمي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس جلیل رانښکیل شوي وؤ. حامد علمي د کابل حالات له دوزخ سره تشبیه کړل او ویې ویل چې د کابل د خلکو په ژوند او شتمنیو اورونه بل شوي وؤ، خو یو د بل له حالت څخه خبر نه وؤ. د کابل راډیو لګیا وه ترانې یې ویلې چې خلکو ورڅخه سخته کرکه لرله. حامد علمي د خپلې خبرې نه وروسته چې بي. بي.سي ته په خپل لیکلې راپورټ کې کړې وه خپلې پښې سپکې کړلې او له افغانستان څخه ووت خو میرویس جلیل د قهرناکو سترګو د وړاندې د کابل د حالاتو په باره کې راپورونو لیکلو ته مجبور شوی وؤ، د یو ژورنالیست لپاره تر ټولو بد هغه حالت وي چې د جګړې یو اړخ هغه بوځي او د یوه غونډۍ له پاسه یې ودروي او بیا د «ولیکه» قومانده ورکړي. په دغسې حالاتو کې مسلکي بې طرفي په سخته توګه زیانمنه کېږي. نو یو ژورنالیست نه شي کولای چې د جګړې د بېلابېلو اړخونو تر منځ حقایق پرتله کړي او موازنه یې وساتلی شي. په دې ډول شرایطو کې د جګړې هغه اړخ چې په خپاره شوي خبر کې خپله ګټه و نه ویني نو خبر لیکونکی د مخالف ګروپ په کتارونو کې دربدلی ګڼي، داسې هم شوي دي چې یو تنظیم دا فکر کړی وي چې په دې وخت کې د جګړې د حالاتو بیانول د دوی له هدفونو سره مرسته نه شي کولای، نو بیا یې دا هڅه کړې ده چې د یو ژورنالیست خوله د تل لپاره بنده او قلم یې ماته کړي. شهید مرویس جلیل د همدغسې غمیزې ښکار شو.

په هغو ناوړو حالاتو کې چې په افغانستان کې د طالبانو او د شمالي اتحاد تر منځ جګړو یو مزمن حالت غوره کړی ؤ، تبلیغاتي جګړو هم یوه توپاني بڼه نیولې وه.

د کینو او بدنیتیو تورو وربځو د تنویر د ټولو وسیلو په مخ کې تورې پردې جوړې کړې وې. موږه لیدل او اورېدل مو چې د



شاوخوا راډیوګانو د افغانستان په باب پوره او سوچه حقایق نه بیانول، بلکې د خپلو خپلو ماهیانو د نیولو لپاره د اوبو خړولو په غیر مسلکي خپرونو لګیا و.

اوس اوس د اجتماعي، اقتصادي او سیاسي حالاتو څېړونکي احساسوي چې ایکانوپالیټیک په ګړندۍ توګه د جیوپولیټیک ځای نیسي او اقتصادي جغرافیا د سیاسي جغرافیا نه زیات اهمیت پیدا کوي. ورسره جنګیالۍ مېډیا هم خپلې موخې او مخې بدلوي.

د انګلستان یوې تجارتي راډیو یو کارټون چې د چیریکي جګړې کالي یې اغوستي دي او سترګې یې د وحشت او دهشت اورونه بادوي، په یوه ډېر ښکلي چوکاټ کې راویستلي او هغه یې په داسې یو ځای کې ځړولي دي چې له هرې خوا او د هر چا نظر ورجلبوي د کارټون په لاس کې یو مایکروفون داسې ورکړل شوی دی لکه چا چې تمانچه په لاس کې نیولې وي تر کارټون لاندې یې داسې لیکلي دي: «د چیګېورا کوم بچی به تاسې ته وښیي چې د مېډیا طاقت څومره ډېر زیات پیاوړی دی».

د یو بل انګریزي ټلویزیون (ITN) د خبرونو مدیر فیل موګر ویلي دي چې ټلویزیون یو ستر جنګي طاقت دی او موږ باید دا حقیقت هېڅکله هېر نه کړو همدارنګه د بي.بي.سي د پروګرامونو یو پخواني مدیر برین ویټام ویلي دي: موږ باید دا خبره له یاده و نه باسو چې ټلویزیون د لوړو انساني صلاحیتونو مولود دی. خو دا یو داسې

---

[1] چیګېورا (Che Gevara) د کیوبا یو چیریک وؤ چې د فیډل کاسترو تر څنګ یې چیریکي مبارزه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



طاقت هم دی چې جګړې پیلوي لکه چې یو بل مسلکي سړي جوزف کراند وايي له خولې څخه په وتليو الفاظو کې په تېره که هغه د راډيو يا ټلويزيون له لارې خپاره شوي وي ډېر لوی طاقت شته. په دې کې شک نشته چې ليکل شوي مطالب تر عادي خبرو پر زړونو ډېره اغيزه لري خو اوس موږ په داسې يوه زمانه کې ژوند کوؤ چې پر خلکو باندې د يو لوی وياند «نطاق» د ژبې اغيزه د يو ستر ليکوال د قلم له اغيزې څخه زښته زياته ده. (۱)

د بي.بي.سي ټلويزيون د مرکو په يوه پروګرام باندې د (Hard Talk) نوم ايښودل شوی دی. کله چې دغه پروګرام پيلېږي د سکرين مخ سرو لمبو نيولی وي، لمبې چې لږ څه کېنې د وسپنې په يوې سړې او په اور پخه ټوټه باندې د (Hard Talk) عبارت راښکاره شي چې مانا يې سختې خبرې دي او سختې خبرې زموږ په اصطلاح د جنګ د خبرو مانا هم لري ښايي د بي.بي.سي. وال سختې خبرې زموږ د جنګ خبرو ته کټ مټ ورته نه وي، خو د مقابلې خبرې ضرور دي د هغه چا مخ چې د بي. بي. سي لپاره مرکه کوي داسې په ناڅاپي توګه له يوې تيارې څخه را ايستل کېږي لکه چې د يو زمري مخ په ناڅاپي توګه د يو ځنګل څخه راوځي دا صحنه په خپله داسې يو کيفيت ښيي چې مرکه کول آسانه کار نه دی او په يو زمري باندې د مخامخ ورتګ همت او جرئت غواړي.

زموږ د ژورناليزم يو استاد د مشيګن د پوهنتون پروفيسر جالف به دا خبره کوله چې تر ټولو ناکامه مرکه هغه ده چې د دوو ويرېدونکو ترمنځ شوي وي. يانې دا چې په يوه کې دا ويره ننوځي چې دی په ځنګه د نړۍ کوم مهم سياستوال او د يوه لوی هېواد د ولسمشر سره خبرې کوي يا يو ولسمشر داسې وګڼي چې له يو مايکرفون يا يوه



کامرې سره مخامخ کېدل د نړۍ د ټولو خلکو غوږونو او سترګې د ده په خوا متوجه کوي او همدغې يوې انديښنې د ده په زړه کې يوه وېره را پيدا کړې.

د پاملرنې وړ يو بل مهم ټکی دا دی، جنګيالان چې څومره د خپلو مخامخ وسله والو سيالانو سره دښمني لري، ژورناليستانو ته د هماغسې دښمنۍ په سترګه ګوري. په مسکو کې د يو برتانوي ټلويزيون (ITN) نماينده جوليان منيسون وايي چې له ژورناليستانو سره د جنګي طاقتونو دښمني قصدي بڼه لري، هيڅ وخت هم کوم پوځ نه غواړي چې څوک يې د جنګي عملياتو په باره کې خبرونه وليکي او يا د انتقاد ګوته ورته ونيسي په تېره روسيان له دې خبرې څخه ډېر بد وړي ځکه دوی غواړي چې په چيچنيا کې د خپلو پوځيانو هغه احساسات د خلکو له نظره پټ وساتي چې تنفر او وېرې دواړو په دوی کې را پيدا کړي دي له همدغه امله د روسيې پوځ مطبوعاتو او دمېډيا نورو وسيلو ته په هغه سترګه ګوري چې خپلو دښمنانو يانې د چيچنيا مجاهدينو ته ورباندې ګوري.

يو بل رپوټ وايي چې هر کال د مېډيا په آزادۍ باندې لږ او ډېر (۱۵۰۰) يرغلونه کېږي چې په هغو کې د ژورناليستانو او ليکوالو وژلو او نيولو اود سانسور پېښې هم شاملې دي. د مثال په ډول يوازې په تاجکستان کې له ۱۹۹۱م کال څخه را وروسته يانې په هغه هېواد کې د خپلواکۍ له اعلاميې راهيسې (۳۰) تنه ژورناليستان وژل شوي دي. ۱۹۹۴ کال په خاصه توګه د ژورناليستان په مقابل کې د تشدد يو کال و. په دغه کال (۱۱۵) تنه ژورناليستانو ووژل شول. د (۴۸) ژورناليستانو سرونه له دې امله پريکړل شول چې دوی ولې د رونډاله جنګونو څخه دنيا خبروله. (۱۹) تنه نور يې د الجزاير په

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړو کې ووژل شول. دوه سوه نور الجزايري ژورناليستان د جګړو له امله له خپل هېواد څخه وتښتېدل، (۷) تنو راپورټرانو د بوزنیا په جګړو کې خپل ژوند له لاسه ورکړ. د خطر په نورو ساحو لکه فلپاين، چين، عراق، ایتوپیا او کویټ کې هم ژورنالیستانو له کړاوونو سره مخامخ شوي وو، لکه چې د ۱۹۹۵م کال تر پایه پورې په ۲۲ هېوادونو کې ۱۸۲ تنه ژورنالیستان جیلونو ته استول شوي وو.

د افغانستان دوه نامتو لیکوالو پوهاند ډاکټربهاوالدين مجروح او عزيز الرحمن الفت همدارنګه يو راپورټر ميرويس جليل له مېډيا سره د زور د خاوندانو په جګړو کې شهيدان شول. يو بل ليکوال او ژورناليست محمدحسن ولسمل څه موده د پاکستان جيلونو ته اچول شوی وؤ، د هغو ليکوالو او ژورنالیستانو شمېر ماته نه دی معلوم چې د کابل رژيم په زندانونو کې يې شپې او ورځې شمېرلې دي. د هغو شمېر زيات اټکل کېدای شي چې يو شمېر يې له منځه وړل شوي هم دي. يو ډېر زيات شمېر يې له خپل ګران هېواد څخه وتلو ته مجبور شوي دي.

په مرکو کې لا بېلابېلو منابعو سره د ژورنالیستانو د ذکاوتونو په جګړو، په تجارتي سياليو کې د اعلان جوړونکو له مسابقو يا په تودو جګړو کې د ژورنالیستانو د تلفاتو او ربړونو څخه وو، هغه مېډيا د سړې جګړې په جريان د لوی طاقت په توګه په کار اچول کېدله. د وخت سوپر طاقتونو هغه وخت څومره پيسې چې د وسلو په سياليو کې لګولې تقريباً هغومره لګښتونه يې په خپلو پروپاګندې سياليو کې کول. د درېيمې نړۍ په هېوادونو کې د ماغزو مينځل او د عامه افکار تخريب د دغو سياليو له غټو هدفونو څخه وؤ.



د شرق او غرب تر منځ د سړې جګړې په موده کې د یونیسکو لوی مدير A.M.Mbow ويلي وؤ چې د ډله ييزې مفاهمې وسايل د ادی په لوی طاقت بدلېږي او هر سوپر طاقت غواړي چې دغه لوی طاقت چې محرکه قوه يې د برېښنا او اټم له انرژيو څخه کمه نه ده په خپل لاس کې ولري.

له دې خبرې نه ډېر کلونه وروسته هغه وخت چې يو سوپر طاقت ياني پخوانی شوروي اتحاد په افغانستان کې د سختې ماتې خوړلو او د نورو اقتصادي او اجتماعي عواملو له امله د شړېدو او نړېدو په حالت کې وؤ، په اسلام آباد کې د امريکې د يو پخواني لوی سفير کورودانی فيلس اوکلي د خپل هېواد په ټلويزيوني طاقت ډېره نازېدله. دې په يو سيمينار کې چې د افغانستان د جهادي شورا له خوا جوړ شوی ؤ. د اطلاعاتو پرمختللې ټکنالوجي ته له صنعتي انقلاب څخه وروسته د دويم انقلاب درجه ورکړه، دې خپله دا خبره د يو شمېر پوهان په څېړنو تکيه کړې وه.

ميرمن اوکلې د امريکې يوه ټلويزيوني شبکه (CNN) په خوندوره توګه يادوله، فکر کاوه چې بي.بي.سي هغه وخت د دې جوګه کېدای شي چې خپل تر لاس لاندې ځيني پروګرامونه بشپړ کړای شي، خو دې په مجموع کې د اطلاعاتو هغه باران ته اهميت ورکړ چې د لوېديزې دنيا ټلويزيونونو او نورو رسندويو وسيلو په ختيځه اروپا ورولو او هلته يې د آزادۍ او خپلواکۍ په لوري د زمانې د فاصلو غزېدلي مني را لنډ کړي او په نتيجه کې دغو هېوادونو ته په لاندې ډول زمانې رالندې کړلې:

- د پولنډ لپاره ۱۰ کاله.
- د مجارستان لپاره ۱۰ مياشتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ختيځ آلمان لپاره ۱۰ اونۍ.
- د چکسواکيې لپاره ۱۰ ورځې.
- د رومانيې لپاره ۱۰ ګړۍ.

د مېرمن اوکلې دغه ادعا تر هغه ځايه چې د جريانانو په ګړندي کولو کې د ډله ييزې مفاهمې د وسايلو له رول سره اړه لري يوه پر ځای خبره ده خو د دې د سترې خبرې پروپاګندي اړخ قوي ښکاري، ځکه چې يو ژورناليستيک اصل «د حقايقو انډول» پکې څه ناڅه نفي شوی دی. که دې دا خبره کړې وای، چې د امريکې يا غرب په ټلويزيوني شبکو او د ډله ييزې مفاهمې په نورو وسايلو کې د يو سوپر طاقت به مقابل کې د افغانانو د لس کلن جهاد انعکاس يو بل لوی عامل و چې په شرقي اروپا کې يې ژور بدلونونه ګړندي کړل او د نړۍ د هغې برخې د هېوادونو خلکو ته يې پياوړی مورال او لوی زړه وبانښه، نو دې خبرې به يو مسلکي توازن پيدا کړی وای.

د دغې امريکايي ډيپلوماتې يوه بله ستره يا کبرجنه خبره دا وه چې ايران د امريکا ټلويزيوني خپرونو د مخنيوي لويې هڅې په کار اچولې دي، خو هغه ناکامې دي؛ ځکه چې زموږ د خپرونو شوقيان کوچني کوچني پوستړونه په قاچاقي ډول ترلاسه کوي او زموږ خپرونې تعقيبوي. دې د پاکستان دغه کار وستايه چې د امريکايي ټلويزيون ګټورو خبرو ته اجازه ورکوي او هغه څه سانسوروي چې پاکستاني کلچر يې منلو ته چمتو نه دی. افغانانو ته د دې وړانديز هم دا و چې په دې باره کې د کار طريقه خوښه کړي.

مېرمن اوکلې خپلې دغې نظريې په هغه سيمينار کې څرګندې کړې چې د افغان جهاد د ثقافتي شورى له خوا د ۱۳۷۰ (۱۹۹۰) په پسرلي کې په اسلام آباد کې جوړ شوی و. دا هماغه کال و چې دوې له



غميزې ډکې زمانې يې سره بېلولې. يانې دا وخت شوروي پوځونو د تېښتې لاره غوره کړې وه او د دوی نظامي عملياتو ځای په کابل کې د تنظيمونو ترمنځ د ورور وژنې جګړو نيولو. همدغه جګړو د طالبانو د ظهور عوامل راپيدا او په عجيبه توګه يې ګړندي کړل. طالبانو نه يوازې دا چې د ټلويزيون خپرونې يې بندې کړې، بلکې د ټلويزيون سېټونه او نورې ويډيويي وسيلې ماتې کړې او په افغانستان کې يې د مېرمن اوکلې غوندې کسانو خوب ته د تعبير زمينې ظاهراً له منځه يوړلې، سره له دې هم له راغلو آوازو څخه داسې څرګندېدله چې ځينو کسانو د بايسکل له چينونو څخه د ډش آنتنونه جوړ کړي وو او په پټه يې خارجي خپرونې کتلې.

د شوروي اتحاد تر ړنګېدو وروسته د غرب د تبليغاتو مخه او موخه هم بدله شوه. اوس د شرقيانو ملي او اسلامي مبارزو، چې دوی ورباندې ډول ډول نومونه ږدي، د دوی له سترګو خوب تښتولی دی.مګر له بده مرغه شرق په تيره ځينې اسلامي هيوادونه چې د تيلو يانې تورو زرو پريمانه منابع هم لري او غربي بانکونه يې په خپلو سرمايو ډک کړي دي، د غربي ميډيا په مقابل کې مظلومانه دفاعي حالت لري. دا ځکه چې دوی په خپلو کې يو له بلې شخړې او جنجالونه لري.

په سيمه کې ايران لومړنی هيواد دی چې اسلامی انقلاب په کې راوستل شو. د دغه انقلاب وسعت او عظمت ايجابوله چې زموږ دغه ګاونډی هيواد د خپل "نه شرقی نه غربی" شعار له مخه ډيره پراخه حوصله ولري. خو د يو لړ ديپلوماتيکو او اقتصادی ګټو له امله د دوی د "تمدنو تر منځ د ټکر پر ځای د تفاهم" نظر يې د هغوی د پخواني شعار لپاره آوازونه ټيټ غوندې کړل او د چا خبره ظاهراً يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسه او بې وسه طالبان يې تر پروپاګنډې حملو لاندې ونيول، له يو لړ شواهدو او قرائينو څخه داسې برېښي چې د ايرانيانو خاصو مذهبي او ژبنيو تمايلاتو د ايرانيانو لويه انقلابي حوصله په يو لړ تنګ نظريو بدله کړې ده. ځکه خو سره له دې چې د دوی د راډيو ټلوېزيون د غړونو ځپې تر ډېرو ځايو رسيږي او ښايسته زيات مطبوعات هم لري خو د غربي ميډيا په مقابل کې بې وسه ښکاري.

پاکستان زموږ يو بل ګاونډی هيواد، چې د ډله ييزې مفاهمې د ښو امکاناتو او وسايلو له نظره د اهميت وړ دی، له هندوستان سره په مزمنو وقفوي سړو او تودو جګړو او شخړو اخته دی. داسې څرګنديږي چې د پاکستان په ټوله فضا کې د هندي الکټرونيکي ميډيا ځپې د تورو وريځو په څېر خپرې دي او د پاکستان په نوي نسل د تبليغاتو داسې بارانونه اوروي چې نوم يې زړونو او دماغونو ته ورکښل کيږي.

د پاکستان ټلوېزيون په هغو وختونو کې چې ما دغه ليکنه کوله له هندي ميډيا سره چې ډېر سرونه او زياتې خولې او ژبې يې لرلې، سيالي کولو ته مجبور شوی وي، خو په دې سيالۍ کې د هغه کارغه کانه ورباندې شوې وه چې د زرکې پېښې يې کولې او خپلې غاړې يې هيرې شوې وې، ياني دا چې دوی خپله ډېره خوندوره کلاسيکي موسيقي ورو ورو کموله او د ځوانانو پوپ موسيقي يې زياتوله.

خو د دوی دا نوې موسيقي د انډيا د موزيک په څېر نظر فريبي نه لري، ځکه چې پاکستاني نوي سندرې او نڅاوې د هندوستاني نڅاوو په څير عرياني او بې شرمي نه لري. د دې لپاره چې د هند او پاکستان تر منځ د ميډيا په مزمنه جګړه کې د پاکستان ځينې



کاميابۍ وشميرلای شو، نو د دې جګړې په لنډه تاريخچه يو څه رڼا اچوو.

پاکستان خپل لومړنی سټېشن په لاهور کې جوړ کړ. هند دغه کار د ځان لپاره يو چلنج وباله، ځکه چې لاهور د هندوستان سرحد ته ډېر نژدې يو لوی ښار دی. نو هندوستان له ډيلي نه وروسته امرتسر ته چې د لاهور د سټېشن ترڅپو او اغېزو لاندې راغلی و، د اوليت حق ورکړ. کله چې د لاهور سټېشن جوړ شو، نو د امرتسر د ښارونو شتمنو کسانو په دې هوس چې د لومړي ځل لپاره د زماني د يوې نوې پديدې (ټلويزيون) له خپرونو څخه خوند او ګټه واخلي، د ټلويزيون سېټونه ترلاسه کړل او هغه پروګرامونه يې کتل چې د هندوستان حکومت ورته د پاکستاني پروپاګنډې په سترګه کتل.

د هندوستان د يو دکتورا لرونکي ليکوال ايم. جي. ډېو د هندوستان د تعليمي نصاب لپاره په خپله يوه څېړنه کې ليکلي چې د هندوستان او پاکستان تر منځ د ۱۹۷۱ کال د جګړې په موده کې د لاهور ټلويزيون د تبليغاتي جګړې يوه اډه وه. د دغو تبليغاتو نتيجو د هند حکومت وهڅاوه چې ژر په امر تسر کې د ټلويزيون يو سټېشن فعال کړي.

هند په ۱۹۷۳ کال کې په امر تسر کې يو په پل پسې د ټلويزيون سټېشنونه جوړ کړل، د امرتسر ټلويزيون د روژې په مياشت کې د «پاکيزه» فلم وښود. په توګه هندي ټلويزيون د فلمونو له لارې د پاکستان پر کلتوري قلمرو باندې تېری شورع کړ او د پاکستان په ځوانانو کې يې د ممبيي له فلمونو سره مينه زياته کړله، په مقابل کې يې د امرتسر او جلندر خلکو پاکستاني ډرامې او لوېديز فلمونه سره مينه زياته کړله، په مقابل کې يې د امرتسر او جلندر خلکو پاکستاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډرامې او لوېديز فلمونه ډېر خوښ کړل، نو پاکستان کولای شول چې د خپلو ډرامو او غربي فلمونو له لارې خپله مقابله پرمخ بوځي د وخت مطبوعاتو د هند او پاکستان تر منځ په دې سیالۍ باندې د (T.V) المپیک نوم ایښی. کله چې د امرتسر او جلندر T.V سټېشنونه جوړ شول نو پاکستاني ټلویزیون د لاهور په ټلویزیون کې د پنجاپي خپرونو د سروېس په رواجولو سره ځان په سیالۍ کې یو څه نور هم وړاندې کړ.

اوس دغې سیالۍ نوي اشکال او ابعاد پیدا کړي دي. یوې پاکستاني انګرېزي مجلې (Herald) د هندوستان او پاکستان ترمنځ «د هوا د موجونو د پوځونو جګړه» د خپلې یوې ګڼې (د ۲۰۰۰ کال د دویمې ګڼې) لپاره ډېره مهمه موضوع ګرځولې وه. په دې باره کې یې څو له محتوی ډکې مقالې او څو خاصې مرکې هم خپرې کړې وې. په هغه مرکه کې چې د پاکستان ټلویزیون له لومړني (موسس) رئیس اسلم ازهر سره شوې وه، د ده څو خبرې خوندورې او ګټورې دي. ده ویلې وو چې په پخوانیو وختونو کې به جګړې او جنګونه د ملکونو د نیولو لپاره کېدل خو اوس زموږ په زمانه کې چې الکترونیکه میډیا د نړۍ په هر ګوټ کې یوه ډېره پیاوړې او مؤثره وسله ګرځېدلې ده، د ښځو او نارینه وو د دماغونو د نیولو لپاره هم جګړې رواني دي، که پاکستانیان په همدې زمانه کې د ویلو یا ښودلو لپاره څه و نه لري، بیا به یې خولې او بې ژبې خلک وګڼل شي، چې ددغه کار مسوؤلیت به په خپله د پاکستانیانو پر غاړه پروت وي. ده وویل چې موږ استعداد لرو او هغه تخنیکي اسانتیاوې هم راسره شته چې د رقابت کولو لپاره ضروري دي. خو اوس موږ د بصیرت پراختیا او پرمختیا ته ضرورت لرو... ټول خلک د نظر فریبه شیانو د لیدو او کتو شوقیان



نه دي، بلکې دوی د ښه کیفیت لرونکو اطلاعاتو لپاره ډېره لوږه او تنده احساسوي.

د اسلم ازهر دا خبره په خاصه توګه مهمه او په زړه پورې ده چې وایي: «ښه جنرال هغه دی چې د جګړې لپاره په خپله خوښه یو ډګر ټاکي او ددښمن په خوښه کار نه کوي. د هندوستان ټلویزیون د جګړې لپاره هغه ساحه خوښه کړې ده چې ځینې خلک یې د هنر سحر او جادو وګڼي خو زه یې چټې کارونه او سپکې خبرې بولم.»

د اسلم ازهر له نظره، پاکستاني ټلویزیون د هندوستان په مقابل کې د میډیا د جګړې لپاره کوم ډګر ټاکلی شي هغه د خبرونو، مستندو فلمونو او ورپسې د ډرامو ساحه ده. ښاغلي درمحمد کاسي چې په اردو ژبه کوم مستند فلمونه لیکلي دي هغه د پاکستان د تاریخي او ټوریستیکي برخو په پېژندنه کې ډېرې کامیاب دي. له بلې خوا لا تر اوسه پورې د پاکستان ډرامې د هندي ډرامو او فلمونو په نسبت ډېرې ښې دي. له ښه مرغه د ښو ډرامو لیکنې یوه برخه پښتو ژبې ته هم رسېدلې ده. له پېښور نه خپرېدونکو پښتو راډیویي ډرامو له پخوا څخه خپل هنري ارزښت ښودلی دی، هغه وخت چې د پاکستان میډیا د افغانستان له خپرونو سره پخه سیالي لرله یوازې د پېښور ډرامې او ځینې نور هنري او فیچري پروګرامونه وو، چې د سیالۍ په ډګر کې یې خپلې پښې ټینګې کړې وې. اوس همد پېښور ټلویزیون کله کله د پښتو وتلې ډرامې خپروي چې ځینې یې په اردو ژبه ترجمه او بیا بیا خپرې بروډکاست شوې دي.

د کوټې په ټي وي کې دپښتو برخه کمه ده، ځکه چې دلته د محلي ژبو لپاره ټاکل شوی وخت په دریو ژبو بلوڅي، براهوي او پښتو وېشل شوی دی. نو په دغو ژبو کې د هنر ودې ته پاملرنه هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریو برخو وېشل شوې ده. سره له دې هم د کوټې د ټې وي د جنرال منیجر ښاغلي درمحمد کاسي په خاصه پاملرنه د دغه محلي ټې وي په پښتو پروګرامونو کې د کیفیت په لحاظ ښه بدلون راغلی دی. د پښتو موسیقي د یو پروګرام «یو ځلې بیا...» پروډیسر بخپله کاسي صاحب دی، چې د دغه پروګرام رنګ او خوند یې ډېر ښه کړی دی.

هندوستان کله په پاکستان او دا لوروي چې ډرامې یې کامیابې وي، که پخپله ډېرې مؤثرې ډرامې نه شي جوړولی نو د پاکستان په ضد امریکې نوې جوړېدونکې ډرامې خپروي، اوس اوس د پاکستان په ضد د امریکې د ستراتیژیکي موسسو د کار کوونکو له خوا یوه جوړه شوې سیاسي ډرامه د هندوستان یوې جریدې «اوټ لک» خپره کړې ده.

په دې ډرامه کې (۲۰۱۲) عیسوي کال له مهمو تلوسو او اکشنونو څخه یو ډک کال دی چې ډرامه د کلایمکس ځوکې ته نژدې کوي. په همدغه کال د امریکې B52 الوتکې راځي او د پاکستان اټومي تأسیسات او وسلې له منځه وړي دا له توقع نه خلاف کار د دې لپاره کوي چې دا وسلې د داسې ځواکونو لاس ته ور نه شي چې د امریکایانو له نظره سم نه دي. د امریکې له دغه غیر عادي کارنه وروسته د هند پوځونو لاسونه خلاصېږي، له همدغه ځایه د پاکستان د زوال او د هندوستان د عروج سلسله پیل کېږي.

د ډرامې د پلاټ په جوړولو کې د امریکې د (۱۵) مهمو ستراتیژیکي موسسو مشرانو او مهمو کار کوونکو برخه اخیستې ده. دا ډرامه په (۲۰۲۵) کال کې خپلې پایلې ته رسېږي. نتیجه یې دا رواځي چې پاکستان شنل کېږي او صوبې یې د هندي کنفډریشن په لویه خېټه کې لوېږي. له بده مرغه په دې ډرامه کې افغانستان هم



(خدایه مه کړې) روغ رمټ نه پاتې کېږي او د ژبې په بنیادو پر ګاونډیو هېوادو وېشل کېږي، د جنګ ورځپاڼې یو کالم لیکونکی لیکي، چې د دې ډرامې اصلي طرح کوونکی یو یهودي (ایشلي ټیلس) دی چې د یهودیانو په شورۍ کې د پیاوړي ځواک خاوند هم دی.

کالم لیکونکي میثاق احمد قریشي دغه لیکنه د میډیا د جګړې لومړنی غټ ګوزار وباله، ویې لیکل چې په هغې کې د وېرې اچولو له لارې د مقصد حاصلولو هڅه شوې ده. د پاکستان د جماعت اسلامي امیر قاضی حسین احمد هغه ځوک و چې د ډرامې په نسبت یې سیاسي عکس العمل څرګند کړ، ویې ویل که خدای کول د امریکې متحد ایالتونه به تر ۲۰۱۲ کال پورې روغ رمټ او ځواکمن پاتې نه شي. د پښتو ژبې یو متل دی چې «تېږه تېږه ماتوي» یا «ډبره ډبره ماتوي» نو دا پخپله ډرامه ده چې د ډرامې ځواب ویلای شي. خو پخوا له هغه چې د پاکستان سیاسي او پوځي ماهران سره کېني او په ګډه سره داسې ډرامې جوړې کړي، چې د هندي یا امریکایي ډرامو ځواب ووایي، سملاسي یو کوچنی کارتون چې دوه سنونه (صحنې) لري، امریکایي ډرامې ته ځواب وایي ډېر پېچلی کارتون نه دی د هندوستان نقشه یوې پلنې مشکولې ته ورته د رابړي پوکاڼې یا غبار په شکل جوړېږي انکل سام (د امریکایي مشرتابه سمبول) ورته نژدې پړ مخې پرېوځي او د خپلې خولې په پوکو سره دا پوکانه دومره پړ سوي چې بالاخره چوي. د ډېرو پوکولو له امله د انکل سام سږي له کاره لوېږي، بې واکه او بې سېکه پرېوتل یې دا ښیي چې اوس په دغه زاړه کالبوت کې نوره ساه نه چلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر حالت مهمه خبره دا ده چې په اوسنۍ زمانه کې د ميډيا د جګړې ساحې او وسيلې ورځ په ورځ زياتېږي. د کمپيوټر نېټ ورک شبکو ميډيا د سايبر ژورناليزم (Cyber Journalism) مرحلې ته وارده کړې ده. امريکايان چې هر څه ته د سيالۍ په سترګه ګوري د ژورنالېزم دغه ډېره نوي ساحه هم د سياليو په معيار را پېژني يو امريکايي اخبار واشنګټن پوسټ په سايبر ژورناليزم يوه تحقيقي مقاله خپره کړې ده چې د پاکستان انګرېزي ورځپاڼې ډان هغه په خپله يوه وروستۍ ګڼه کې اقتباس کړې ده. د مقالې ليکوال سايبر ژورنالېزم د امريکا د جمهوري رياست لپاره د يوې دورې د انتخاباتو د کمپاين په موده کې د راډيو او ټلوېزيون تر منځ سيالۍ روانه په مقياس را پېژني، مثلاً دی ليکي چې له نن څخه ۴۰ کاله د مخه د کنيډي او نکسن تر منځ سيالۍ روانه وه. هغه وخت به چې چا راډيو ته غوږ نيولی و، نو فکر به يې کاوه دا انتخابات نکسن وړي او چا به چې ټلوېزيون ته کتل نو به يې له ځان سره په حتمي توګه دا خبره کوله چې بس کينډي دي چې دا انتخابات يې ګټلي دي.

خو اوس چې ميډيا د (Cyber Journalism) مرحلې ته رسېدلې ده هغه څوک به انتخابات ګټي چې د کمپيوټر د (Cyber Space) په مخونو کې زيات انعکاس ولري. له دې لارې انسانان ډېر ژر او اسانه له مسايلو او حقايقو څخه خبرېږي، همدارنګه حينې هيوادونه له همدې لارې څخه په اسانۍ او چټکۍ سره خپل تبليغات رسولای شي. همدغې موضوع پاکستاني ژورناليستانو ته انديښنه پيدا کړې ده، د جنګ ورځپاڼې نامتو کالم ليکونکی حقاني ليکي چې هندوستان د پاکستان په مقابل کې په شلو ژبو کې لويه پروپاګنډې مقابله شروع کړې ده او په انټرنېټ کې هم داسې ويب



سايټس (Web Sites) راولې چې د هند پروپاګنډې ساحه ډېره پراخه کړې. دغه ليکوال د پاکستان له چيف ايګزيکټيو (نظامي حاکم) څخه غواړي چې د جنګي او اضطراري حالاتو په نظر کې نيولو سره د پاکستان ميډيا له هندي تعرضي ميډيا سره د مقابلې لپاره چمتو کړي او د دې مقابلې لپاره فکري او مادي وسيلې په کار واچوي.

خبره به را لنډه کړم، لکه څنګه چې زموږ ګران هيواد افغانستان د ختيځ او لوېديځ تر منځ د داسې يوې جګړې مرکز وګرځيد چې هر ډول طاقتونه په کې ستومانه شول او هر ډول وسلې په کې په کار واچولې شوې. هماغسې د سړې جګړې برېوکيو په همدې هيواد کې د کاغذونو پر مخ چاپ شوي توري او نوري ډېرې توري کرښې، همدارنګه د هوا څپې هم په جنګونو اختې کړلې. له پخوانيو دوو سوپر طاقتونو څخه يو يې د خامو او نمجنو خښتو د دېوال په توګه وشړېده، خو زموږ په هيواد کې تودې او سړې جګړې د پخوا په څېر دوام ومونده.

نن سبا، افغانستان د ميديا د جګړې له لويو ډګرونو څخه دي، په دې جګړه کې د پرون په مجاهدينو، اتلانو، آزادۍ غوښتونکو جنګيالانو، شريفو، زيارکښانو، پاک زړو مومنانو او په سيمه کې د ټولو آزادۍ غوښتونکو ملتونو په مخکښانو يا علمبردارانو او د علم او عرفان د ډيوو په بلوونکو باندې د ترهګرو، دهشتګردو، ياغيانو... نومونه ايښودل کېږي. د دغو پرله پسې تبليغاتي حملو په وجه د پرون افغان چې په ډېر وياړ به يې ځان افغان قهرمان ملت ته منسوباوه، نن يو ځل شاوخواته ګوري او بيا تر ژبه لاندې ورو وايي چې افغان يم. دا ځکه چې د افغانانو پر ضد د پرله پسې تبليغاتو په وجه اوس د زمانې په قاموس کې د "افغان" لفظ يا کلمې ته د ورور

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژونکي، داړه او ډار اچوونکي، د مخدره موادو قاچاق وړونکي د علم او پر مختګ نه د منکر او... معنی ګانې ورکړ شوي دي. بې شکه چې افغانستان ته د منسوبو ځینو کسانو یا ګروپونو په باره کې دا ډول معنی ګانې یو څه مصداق پیدا کولای شي، چې هغه هم له بده مرغه د پردیو د پرله پسې تبلیغاتو او تلقیناتو له لارې د ماغزو مینځلو له ناوړو نتیجو څخه ګڼل کیږي، هر څوک یا هر ټولنیز ګروپ چې د پردیو په لمسون او تلقین له خپل کلچر څخه ووځي هغه بیا هیڅ شي څخه مخ نه اړوي.

نن له هرې خوا په موږ پسې خولې را خلاصې شوې دي، زموږ په ضد د میډیا په جګړو کې له چاپي خپرونو څخه نیولې تر الکټرونیکو خپرونو پورې چې د سایبر ژورنالېزم په نوم یې فعالیت نوې ساحه پرنیستې ده، هر ډول نشرات او د هغو وسیلې په کار اچول شوې دي، چې د هغو په مقابل کې غوړونه کاڼه اچول سترګې ورباندې پټول او په خوله لاس نیول سمه دفاعي پالیسي نه ده. زما دا خبره په خاصه توګه د افغانستان د طالبانو ته متوجه وه چې د میډیا وسیلې یې تر کنټرول لاندې وي.

موږ خبرېدلو چې د ټلویزیون د ګناه کارو سېټونو په ماتولو سره د هغو بلاګانو مخه ونه نیول شوه چې طالبانو وړر څخه بد وړل او ملت هم هغه کړلي وې. اوس هماغه بلاګانې د کړلو ارواګانو په څېر، د کمپیوټرونو د نریو نریو تارونو له لارې په انساني رګونو کې د شیطاني ولولو په څېر حرکت کوي او له الکټرونکیو ماغزو څخه انساني دماغونو ته ټوپونه وهي اوس به نو څومره او تر څه وخته کمپیوټرونه ماتوو.

د ډله ییزې مفاهمې ټولې زرې او نوې وسیلې د یوې ټولنې په اجتماعي کالبوت کې هغه دندې سرته رسوي چې اعصاب یې په انساني



بدن کې سرته رسوي. دا زموږ کار دی چې خپل اعصاب د "نفس اماره بالسوء "تر حکم لاندې پرېږدو او که د "نفس ملائمه" تر کنټرول لاندې یې راولو.

دلته دا مطلب هم په خاصه توګه د یادونې وړ دی چې په لوېدیزه نړۍ کې ژوند ډېر مادي او ماشیني شوی دي، موزیک او هنر یې هم ماشیني دی. چا چې پرله پسې د ډېش آنتېنونو له لارې غربي موزیک، فلمونه او ډرامې لیدلې دي ډېر زیات یې ستومانه کړي دي.

په لویدیزوالو کې د دې ډول ستومانیو اندازه زیاته ده، نو دوی ارزو لري چې د شرقي دنیا تاریخي آثار ښکلي طبیعي منظرې او د نړۍ د دې برخې د انسانانو د ژوندانه په زړه پورې مظاهرې ووینې.

افغانستان هم چې د آسیا د زړه حیثیت لري، ډېر تاریخي آثار، د ویاړنې وړ عملي او فکري میراثونه او په مجموع کې ډېر غني فرهنګ لري. د اسلام مقدس دین او د دغه لرغوني هیواد ډیر اوږد تاریخ ډېر څه ورکړي دي، په تېره بیا د ټولو لپاره ډېره په زړه پورې او مهمه موضوع دا ده چې په دغه هیواد کې د نړۍ د ټولو اوسېدونکو د اوسني نسل تر نظر لاندې دومره سترې او ډراماتیکې پېښې شوي دي چې یوازې د افغانستان د ملي ټلویزیون او د انټرنېټ افغاني شبکو لپاره نه، بلکې د ټولې نړۍ د میډیا د سالمې تغذیې لپاره یې پرېمانه په زړه پورې مواد او موضوعات برابر کړي دي.

په داسې شرایطو کې موږ مجبور نه یو چې د ناکامو دفاعي هلو ځلو په توګه د خپل ملي ټلویزیون دستګاه چې د میډیا په جګړو کې یې رول د یوه مهم سنګر په توګه تثبیت شوي دي د تل لپاره له فعالیت څخه واچوو، بلکې کولای شو چې له دې لارې تعرضي تبلیغاتي حملې یې اغېزې وګرځوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم څپرکی

# مفاهمه/ابلاغ

# یوه پر پیاوړی انقلابي ځواک



## مفاهمه/ابلاغ
## یوه پر پیاوړی انقلابي ځواک

د ډله ییزې مفـــاهمې پـــه باره کـــې نســـبتاً یو تـــازه خـــپور شوی کتاب "The New Communication" د عامه مفاهمې او عامه افکارو تر منځ د رابطې په باب په زړه پورې خو پېچلې موضوع تر عجیب عنوان لاندې راوستلې ده. تاسې په خپله "له انقلابونو څخه د غاښونو تر کریم پورې..." عبارتونه څنګه یو عنوان بولئ. تر دغه عنوان لاندې د کتاب پوښتنې هم عجیبې غوندې دي، لکه دا چې تاسې یو انقلاب څنګه پیل کوئ؟ بیا تاسې یو انقلاب څنګه په ټپه دروئ؟ د دې پوښتنو تر څنګ د کتاب یوه بله پوښتنه دا ده چې که حالات آرام وي بیا نو تاسې خلک څنګه هڅوئ چې د غاښونو د کریمو هغه نوی ډول واخلي چې ستاسې کمپنۍ یې د اعلانونو لپاره لس ملیونه ډالره لګوي؟ کتاب د خپلو دغو عجیبو پوښتنو ځواب په یوه ډېره لنډه خبره کې ورکوي او لیکي چې تاســې بیشــکه په داسې قضیو کې د مفاهمې "Communication" له پیاوړي ځواک څخه د کار اخیستلو کوښښ کوئ! دا مفاهمه ده چې د خلکو دماغونو ته لاره وباسي او د دوی په کړو وړو اغېزه کوي. کتاب لیکي چې لینن د یوې پټې خبر پاڼې (Newsletter) له لارې چې "ایسکرا" نومېده خپل انقلاب بریالی کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما چې د کتاب دغه مطلب ولوست نو د لوړې رتبې د یو افغاني پوځي ډګروال ارکانحرب غلام دستګیر خان وردګ خبره او خبرې نېغې زما سترګو ته ودرېدلې. دی نسبتاً د پاخه عمر په مرحله کې شوروي اتحاد ته د لوړو مسلکي زده کړو لپاره استول شوی و، دی د هغو افغانانو له جملې څخه و چې د شوروي پروپاګندې تر اغېزې لاندې نه و راغلی. کله به چې دی د رخصتۍ په توګه په کابل کې خپل کور ته راغی، نو زه به د سترې مشې لپاره ورتللم. ده به هغه وخت ما ته دا خبره کوله چې د روس انقلاب یوازې او یوازې د تبلیغاتو په بنسټ درول شوی او د پروپاګندې په ګاډیو (عرادو) باندې روان شوی دی. ده به دا خبره هم کوله چې روسان موږ ته مسلکي شیان نه رازده کوي بلکې زموږ وخت د سوسیالیزم او کمونیزم په باره کې په وچو تبلیغاتو او تعلیماتو ضایع کوي.

د (New Communications) د کتاب مطالعاتو او د ډګروال صاحب مشاهداتو وښودله چې د اکتوبر انقلاب لکه څنګه چې پلویانو یې فکر کاوه، د ټولنې د عیني او ذهني شرایطو د برابرېدو په نتیجه کې منځ ته نه و راغلی. په افغانستان کې د ثور نظامي پاڅون هم چې د اکتوبر د انقلاب پېښې یې کولې هغه انقلاب ته ورته یو حالت درلود یعنی د پروپاګندو نو په اوږو سپور راغی او بېرته په خپله لاره لاړ.

د نیو کمیونیکشنز د لیکوال دوو عجیبو پوښتنو ته په پورته ډول ځوابونه ولیکل شول پاتې شوه دده دا پوښتنه چې که حالات آرام وي بیا نو تاسې خلک څنګه هڅوئ چې د غاښونو دکریمو هغه نوی ډول واخلي چې کمپنۍ یې د اعلانونو لپاره لس ملیونه ډالره لګوي؟



په دې باره کې په خپله د کتاب د لیکوال فیدریک ویلیامز ( Fedrick Williams ) ځواب دا دی:

تاسې کوښښ وکړئ چې د غاښو د کریم نوم د خلکو تر شونډو ورسېږي بیا غاښونو ته په خپله ورکوزېږي. ددې خبرې مطلب دا دی که د غاښونو د کریم په باره کې جوړ شوی اعلان که د یوې خوندورې سندرې یا ادبي پارچې په ډول جوړ شوی وي او یوه ښکلې موسیقي هم ورسره ملګرې وي نو په هر ځل چې له راډیو یا تلویزیون څخه خپرېږي د ډېر تکرارېدو په سبب به خلک ورسره یو ځای دا سندره ووایي په نتیجه کې به دا کریم په شونډو باندې د نڅېدو نه وروسته د هیلې سره سم تر ډېرو غاښونو پورې ورسېږي.

د کمیونیکشن یو بل ماهر په ټوکه ټوکه کې موږ د یو ډېر اغېزناک اعلان له څرنګوالي څخه خبروي هغه وایي "ډېر ښه او کامیاب اعلان هغه دی چې د شمالي قطبو اوسېدونکي وهڅوي چې سړځای (یخچال) واخلي او هغه له کنګل څخه په جوړ شوي خپل کور کې کېږدي.

له دې څخه څرګندېږي چې حرفوي اعلان جوړوونکي په مصنوعي توګه غوښتنه (تقاضا یا ډیمانډ ) تحریکوي چې تل د صنایعو د خاوندانو عرضې (سپلایز) موثرې وګرځوي. د دې ډول د اعلانونو نتیجې دي چې خلک کله یې چې پیسې په جیبونو کې پرتې وي او بازارونو ته تللي وي په لاشعوري توګه هم ځینې شیان اخلي.

د جنګ میډویک مجلې د ۲۰۰۰ کال د سپتمبر په ۲۰ نېټه د کراچۍ د پوهنتون یوه سروې خپره کړه. په دې سروې کې د ښځو په نفسیاتو باندې د اعلانونو د اغیزې موضوع تر څېړنې لاندې نیول شوې وه. د سروې پایلې د کمیونیکشن د یو ماهر اوفن برجر یوه خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شواهدو او دلايلو له مخې رښتيا ثابته کړله. ده ويلي وو: "دا د يو ډېر ځله تکرار شوي اعلان نتيجه ده چې د خلکو په ذهن کې بيدې شوې غوښتنې راويښې کړي او هغوی ولمسوي چې خپلې دغه غوښتنې پوره کړي. نو انساني اړتياوې او غوښتنې تل د اعلان کوونکو د غشو لپاره د نښې منځ ګرځي".

د اعلان تکرارېدل که په هغه کې له مبالغې څخه کار نه وي اخيستل شوی يا د خلکو سترګو ته د خاورو شنلو هڅه په کې شوې نه وي، نو کوم ناروا کار نه دی. خو په دنيا کې داسې کسان هم شته چې د مصلحت له مخې يا د ځينو سياسي او اقتصادي ګټو په خاطر دروغو ته هم اهميت ورکوي. د هيټلر د اطلاعاتو يوه وزير عقيده درلوده که دروغ ډېر تکرار شي بالاخره خلک يې د رښتيا په بڼه مني. له بده مرغه په تېرو شلو کلونو کې په افغانستان کې د سختو پروپاګندې جګړو په موده کې چې د تودو جنګونو په ترڅ کې رواني وې، د هيټلر د اطلاعاتو د وزير له فارمولې څخه کار واخيستل شو. ډېر زيات دروغ وکړل او ورېبل شول په ډېرو مواردو کې د ابلاغ وسيلې د دروغو اوبدلو په مشينرۍ بدلې شوې. موږ د سر په سترګو وليدل چې ابلاغ يا مفاهمه پراخ او ژور بدلونونه راولي. خو له بده مرغه زموږ په هېواد کې يې ژورو بدلونو ډېره منفي بڼه درلوده. د ابلاغ وسيلو زموږ پخواني اجتماعي جوړښتونه له منځه يوړل داسې چې نويو يې ځای ونه نيو. په پخوانيو قبيلوي مناسباتو سخت ګوزارونه وشول د خپلوۍ ډېرې رشتې او رابطې وشکولې شوې خو په ځای يې نويو "اجتماعي انساجو" وده ونشوی کړی. په نتيجه کې پخوانۍ لوړينې له منځه ولاړې ليکن د تعاون نوې خبرې هم ډېرې سپېرې او پردۍ



وې. ددې ټولو منفي ژورو بدلونو يوه پراخه نتيجه د "بې اتفاقيو او بې باوريو" په بڼه راڅرګنده شوه.

موضوع به رالنډه کړو ابلاغ يا کمونيکشن د انقلابونو او ژورو نفسياتي او اجتماعي بدلونونو محرک دی يا به دا ووايو چې کميونکشن په خپله په تېره د هغې د انفارميشن ټکنالوجۍ، چې په نړۍ کې يې لويه هنګامه جوړه کړې ده، د لويو لويو انقلابونو مور او پلار دي. دانقلابونو دغو والدينو هم ټوله نړۍ او هم يې د هر چا د زړه او دماغ دنيا په خپلو منګولو کې رانيولې ده. يا به ووايو چې د هر انسان پر باطني Internal او ظاهري External عالم يې ټينګ او پياوړی تسلط موندلی دی.

## د ابلاغياتو تاريخي پس منظر:

د ابلاغياتو يو نامتو څېړونکي ويلبر سکارم Wilbur Scharmm چې څو کاله يې د ستانفورد په پوهنتون کې د ابلاغياتو د څېړنو د انستيتيوت د مشر په توګه کار کړی دی او دده علمي کار د کمونيکشن په باب په ليکل شويو ډېرو کتابونو کې انعکاس موندلی دی. د کمونيکشن په تاريخي پس منظر رڼا اچوي او ليکي چې د واشنګټن ډي. سي په يو ننداړتون کې د برونز د دورې دوې لرليدې يا نړۍ ليدې (دورنما- جهان نما) کړکۍ وليدې چې د اردن په باب الضرا کې له خاورو څخه راايستل شوې وې. د دې کړکيو مستعارو نومونو ويلبر سکارم ته وښودله چې کمونيکشن له نن څخه پنځه زره کاله دمخه هم د اردن خلکو ته څومره زيات اهميت درلود. باب الضرا يو کلي و چې د پېړيو پېړيو په اوږده زمانه کې د هرې خوا د کاروانيانو د دمې جوړولو ټاټوبې ګرځېدلی و. بيا له نن څخه درې زره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاله پخوا کوچیان راغلل دلته مېشته شول. کاروانیانو، کوچیانو او نویو مېشته شویو بزګرانو ددغه کلي په عبادت ځایونو، حجرو او د راغونډېدو په نورو ځایونو کې خپلې د لاس نښې په دېوالونو باندې لیکلې وې. په دې توګه د لرغونې زمانې خلکو خپل پیغامونه د خپلو معني لرونکو نښو (سمبولونو) په بڼه زموږ د زمانې خلکو ته سپارلي دي.

ویلبر سکارم لیکي چې پوهانو او مفکرینو د لرغوني یونان د فلاسفه وو اپلاتون او ارسطو له وختونو راهیسې د ټولنې په باره کې د خپلو مطالعاتو په ترڅ کې د مفاهمو یا ابلاغیاتو په باره کې هم فکرونه کړي دي. څه د پاسه له یوې پېړۍ راهیسې د سیاسي علومو پوهانو او فیلسوفانو د اجتماعي علومو په ترڅ کې د ابلاغیاتو موضوع هم تر مطالعې لاندې نیولې ده. په دې لړ کې چارلیس کولي (Charles Cooley) لومړنی څوک دی چې د ټولنیزې مفاهمې په باره کې یې نوې څېړنې کړي دي. او هغه یې په خپل کتاب ( Social Organization) کې چې په (۱۹۰۹م) کې خپور شوی دی، لیکلې دي. د کولي په څېر نورو هغو پوهانو هم چې د سیاسي او ټولنیزو پوهنو په باره کې یې ژورې څېړنې کړې دي، د مفاهمې مضمون یې هم په ژوره توګه مطالعه کړې دي. له دوی څخه څو کسانو په دې ساحه کې دومره ارزښتناک او اغېزناک پوهنیز کارونه کړي دي چې د هغو په برکت دوی د کمونیکشن د پلرونو نومونه ګټلي دي، دوی دغه کسان وو: ډرولد لاسویل Harold Lasswell چې د سیاسي علومو استاد و، کورټ لېوین Kurt Lewin چې د ټولنیزې ساپوهنې ماهر و، پال لزار سفیلډ Paul Lazarsfeld چې د ټولنپوهنې څېړونکی و او کارل هاولنډ Carl Hovland چې د تجربوي سایکالوجي استاد و.



د ۱۹۵۰ په لسیزه کې د ژورنالیزم، براډکاسټنګ او د خبرو اترو له لارې د مفاهمې ډیپارټمنټونو د ابلاغیاتو په ساحه کې له څېړنو او په دې ساحه کې د مهارتونو له ترلاسه کولو سره خپله مینه او علاقه زیاته کړه. په ۱۹۴۷ کې ایلیونیز (Ilionios) او په ۱۹۵۵ کې ستانفورد (Stanford) پوهنتونونو د ابلاغیاتو د ریسرچ انسټیټیوټونه تاسیس کړل. تر دې وروسته یوازې په امریکا کې له پنځوسو څخه زیاتو پوهنتونونو د ابلاغیاتو په څانګه کې د ډکتورا لپاره اختصاصي پروګرامونه جوړ کړل. ویلبر سکارم د کمونیکشن راتلونکې ته له امید څخه په ډکو سترګو کتل او فکر یې کاوه چې ابلاغیات به دا وړتیا ترلاسه کړي چې د انسانیت پوهنه (Science of humanity) وبلل شي.

## د مفاهمې / ابلاغ تعریفونه:

د ډله ییزې مفاهمې په کتابونو کې د Communication لپاره تر شلو زیات تعریفونه او معني ګانې ورکړې شوې دي. په دې تعریفونو کې ځینو پوهانو د اطلاعاتو د لېږدولو په نظریه ټینګار کړی دی. ځینو پوهانو د ابلاغ یا مفاهمې اغېزو یا تاثراتو ته زیات اهمیت ورکړی دی. ځینو بیا د انساني اړیکو خوا ټینګه نیولې ده.

له دې کبله چې په کمونیکشن کې ساینس، تکنالوجي، ادبیاتو او نورو اجتماعي علومو خپلې خپلې ساحې یوه له بلې سره اوبدلې او ګنډلې دي نو د بېلو بېلو علومو او فنونو پوهانو او ماهرانو د خپلو مربوطو علومو په رڼا کې دا لاندې تعریفونه ورکړې دي:

۱- د اطلاعاتو او نظریاتو استونه او اخیسته یا د بدلانه مفاهمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- مفاهمه هغه پروسه ده چې په هغې کې، د افرادو تر منځ د خبرو، نښو، سمبولونو يا د کړو وړو او کردارونو له لارې اطلاعات او نظريات په اغېزناکه توګه تبادله کېږي.

۳- د خبرو اترو، ليکنو، اشارو او زيګنالونو له لارې د اطلاعاتو او پيغامونو د استونې او اخيستنې سيستم مفاهمه ده. مطبوعات، تيلفون تلګراف، تلويزيون او بالاخره کمپيوټر د دې مفاهمې بېلې بېلې وسيلې دي.

۴- د اکسفورډ د ډکشنرۍ له نظره مفاهمه يو له بله د پوهنې، معلوماتو او نظرياتو شريکونه، يو بل ته د هغو لېږدونه ده چې دغه کار د خبرو يا د ليکنو او يا د علاماتو په ذريعه سرته رسېږي.

۵- د کولمبيا د دايره المعارف (Encyclopedia) له نظره د مفاهمې په کار او کردار کې، فکرونه او پيغامونه يو بل ته لېږدول کېږي خو دغه کار له ترانسپورټېشن څخه چې د کسانو او مالونو د لېږدولو دنده سرته رسوي، توپير لري. ځکه چې مفاهمه د غږونو او نښو د لېږدولو وظيفه په غاړه لري. ډېر سر او کار يې له سامعې او باصرې سره وي.

۶- مفاهمه هغه وخت له خپل ډېر جامع مفهوم يا له خپلې بشپړې معنی سره ځان برابروي چې يو سيستم پر بل سيستم اغېزه وکړي يعني استوونکې منبع پر اخيستونکي مرجع باندې د هغو نښو نښانو او زيګنالونو په مرسته بشپړه اغېزه ولري چې د يو عيار شوي چينل له لارې په خاص مهارت سره لېږدول کېدای شي.

۷- د دوو تنو پوهانو کلاوډشنان او وارن ويور د تعريف لمنه ډېره غوړېدلې ده. دوی وايي چې Communication له هغو کلماتو يا لفظونو څخه يو دی چې په خپل ځان کې ډېرې ماناوې رانغاړي. په دې مفاهمه کې ټولې هغه طريقې او پروسيجرونه شاملېږي چې يو دماغ د



بل دماغ تر اغېزې لاندې راولي. په دې طريقو کې يوازې د خولې خبرې يا ليکل شوي مطالب نه راځي بلکې موسيقي، د مصورۍ هنر، تمثيلي هنرونه او په حقيقت کې ټول انساني کردارونه هم په کې ځای نيسي. په ځينو مواردو کې يې د تعريف لمنه لا پراخېږي او په هغه کې نور پروسيجرونه هم ځانونه ځايوي لکه دا چې الوتکې ته د لارښوونې غوندې طريقې، تر دې چې د الوتکې په لوري د لارښودل شوي توغندي مکانيزم هم د کمونيکشن د تعريف په لويه لمن کې ورلوېږي.

۸- چارليس کولي چې د شلمې پېړۍ په پيل کې يې، له نورو نه دمخه د کمونيکشن په باب علمي څېړنې پيل کړې دي، کمونيکشن داسې ميکانيزم بولي چې د هغه په مرسته انساني اړيکې منځ ته راځي او وده کوي په دې ميکانيزم کې د فکر ټول سمبولونه، ورسره ټولې هغه لېږدوونکې وسيلې چې دغه سمبولونه د ځايونو او وختونو په لوښيو کې اچوي او انتقالوي يې، ځای نيسي.

له پورتنيو تعريفونو څخه هر يو يې په خپل ځای ګټور دی. لومړني دوه تعريفونه د اطلاعاتو د لېږدولو په نظريه تکيه کوي چې د مطلقو مادي شيانو له ترانسپورتېشن څخه توپير لري. څلورم تعريف له هرڅه نه زيات د اغېزې يا تاثير کولو په نظريه ولاړ دی. اتم تعريف له دې امله ارزښتناک دی چې هغه په انساني اړيکو باندې ټينګار کوي. په اسلامي لټريچر کې کمونيکشن زياتره د ابلاغ، مفاهمې، اعلام او اړيکو په معناګانو راغلي دي چې دلته په دې بحث کې مو د هغه د "ابلاغ" يا "مفاهمې" معنی ګانې ډېرې کارولې دي.

مفاهمه په خپل ذات کې داسې يوه موضوع ده چې په ټولنه کې خپل ځان د خپل کار او هم خپل جوړښت په وسيله تثبيتوي هم دغسې يوه موضوع د مفاهمې يو استاد لاسويل د کمونيکشن د اکټ يا عمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



له لارې رانبودلې ده. دده له نظره د ابلاغ د کار ښودلو لپاره لاندینیو پوښتنو ته ځوابونه ویلي دي:

| | |
|---|---|
| څوک | Who |
| وايي څه | Says what |
| په کوم چینل کې | In which channel |
| چا ته | To whom |
| له کومې اغېزې سره | With what effect |

د مفاهمې د پروسې عمل مطالعه له سرې څخه غواړي چې له لوړو پوښتنو څخه په یوه یا بله تمرکز راوستل شي. هغه پوهان چې مفاهمه کوونکي (who) مطالعه کوي هغه فکتورونه تر نظر لاندې نیسي چې د مفاهمې عمل پیل کوي او لارښوونه یې کوي لاس ویل د څېړنې دا برخه د کنترول تجزیه (Control anlysis) بولي. هغه ماهران چې د "says what" په پوښتنه ډېر زور اچوي. دوی د محتوی په تجزیې (Content analysis) باندې خپل ځانونه زیات بوخت ساتي. هغوی چې له هرڅه نه دمخه تلویزیون، راډیو مطبوعات او د مفاهمې نورې وسیلې په نظر کې نیسي. دوی میډیا زیاته تحلیلوي یعنی له (Media analysis) څخه زیات کار اخلي. کله چې له لوستونکو، کتونکو یا اورېدونکو سره اړوند اصل زیات په نظر کې ونیول شي. بیا نو د (Audience analysis) موضوع مینځ ته راځي. که د "څه اغېزې؟" پوښتنې ته زیاته پاملرنه وشي نو بیا په تحلیل او تجزیه کې پر کتونکو، اورېدونکو او لوستونکو باندې د اغېزې خبره رادمخه کېږي.

داسې یوه موضوع چې دا درجه بندي څومره ګټوره ده، له علمي یا عملي هدفونو سره د هغو د برابرښت له درجې سره اړه لري.



زیاتره ماهران د کتونکو، اورېدونکو یا لوستونکو موضوع په هغوی باندې د اغېزې له موضوع سره یو ځای کوي بیا یې تحلیلوي یعنې دا دوې موضوع ګانې د تحلیل او تجزیې لپاره یوه له بلې څخه نه جلا کوي، ځکه چې دا دواړه په خپلو کې ډېر نژدې اړیکې لري.

که موږ غواړو چې د محتوی موضوع تجزیه کړو نو هغه به لومړی د سټایل او مفهوم له مخې سره ویشو بیا یې هره یوه برخه جلا جلا تحلیلوو بیا یې له پیغام سره اړیکې مطالعه کوو په نتیجه کې یې سبک او مفهوم له هغو صوري او معنوي عناصرو سره اړیکې نیسي چې له یو ځای کولو څخه یې پیغام جوړېږي.

که د موضوع بل اړخ په نظر کې ونیسو نو بیا د بحث لوري یو څه بدلېږي او زموږ لپاره دا خبره لږ په زړه پورې ګرځي چې هغه د بشپړې ټولنیزې پروسې په توګه د یو کل په صورت کې په نظر کې ونیسو. هره پروسه معمولاً په دوو چوکاټونو کې دننه د ازموینې وړ ده چې یوه یې د پروسې د جوړښت او بل یې د وظیفې چوکاټ دی. د کمونیکشن په باره کې زموږ دا تحلیل له هغو مهارتونو سره سر او کار پیدا کوي چې ځینې وظیفې پرمخ بیایي لکه: (۱) د چاپیریال څارنه (۲) له چاپیریال سره د ټولنې د افرادو رابطه (۳) له یو نسل څخه بل نسل ته د اجتماعي میراثونو لېږدونه.

## د ابلاغ یا مفاهمې خصلت:

لکه چې څرګنده شوه لا سویل د ابلاغ یا مفاهمې عملي جنبه زیاته په نظر کې نیولې وه، خو د ابلاغیاتو یو بل ماهر ویلبر سکرم د ابلاغیاتو فکري او عقلي جنبې ته زیات اهمیت ورکوي. دی د انتقالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظرياتو او د هغو د لېږدونکو وسيلو په نسبت اصلي نتيجه زياته په نظر کې نيسي.

د ويلبر سکرم له نظره ابلاغ د خپل اصلي خصلت له مخه دومره غوړېدلې لمن لري چې هغه په لنډو تعريفونو کې نه شي رانغښتل کېدلی. ابلاغيات يوازې خبرونه يا هغه شيان نه دي چې په لوستځيو (کلاسونو) کې شاګردانو ته ورکول کېږي. يوازې هغه کتابونه هم نه دي چې د مقصد د ټکو د موندلو لپاره يې پاڼې اړولې کېږي.

د ابلاغ يا مفاهمې په پروسه کې حقايق، نظريات، احساسات، لارښوونې، هڅونې او دې ته ورته نور مفاهيم خپل خپل ځايونه لري حتمي نه ده چې مفاهمه دې تل د کلماتو يا لفظونو په ذريعه روانه وي. يا دې په صريحه ژبه وشي، پټې معنې ګانې او ګونګې ژبې هم په خپلو خپلو ځايونو کې مهم اطلاعات يو بل ته رسوي، که نه يې منئ نو شفرونه او د مخابرې رمزونه، د ګونګيانو اشارې په نظر کې ونيسئ.

تصويرونه، سمبوليک ادبي او هنري آثار، ډراماتيک اکټونه او دې ته ورته نور ډېر شيان د مفاهمې او ابلاغ د رنګونو او خوندونو په لوی کاروان کې ځای نيسي او هر يو يې انساني ذهنونو ته خپل خپل پيغامونه رسوي دا هم حتمي نه ده چې د ابلاغ پيغام دې استوونکی (مرسل) او اخيستونکی (مرسل اليه) ته کټ مټ يو شان وي. دغسې يوه زړه نظريه چې حقايق دې په سرتړلو بکسونو کې واچول شي او خوندي شوي دې له يو دماغ څخه بل دماغ ته ولېږدول شي، نوره قناعت بښونکې نه ده. هر څوک په اطلاعاتو کې هغه ټکي او مطالب لټوي چې د دوی له اړتياوو او مقصدونو سره سمون ولري.



يا به دا ووايو چې هر څوک له خپرونو او اطلاعاتو څخه د مفهوم او ګټو اخيستلو لپاره خپلې خپلې لارې لري.

## د ابلاغ توکي

ابلاغ يا مفاهمه د شفاهي يا غير شفاهي (Verbal and Nonverbal) پيغامونو د استونې او اخيستنې پروسه ده. هغه مفاهمه اغېزناکه بلله کېږي چې په کې له اخيستونکي خوا څخه مطلوب عکس العمل ترلاسه شوی وي. که په ساده ژبه خبرې وکړو نو مفاهمه، د اطلاعاتو او نظريو د بدلون يو دوه اړخيزه بهير دی. مفاهمه دا توکي يا اجزا لري: (۱) زمينه (۲) استوونکی (انکوډر) (۳) پيغام (۴) رسندوی (Medium) (۵) اخيستونکی (ديکوډر) او (۶) غبرګون (Feedback)

۱- زمينه Context:

دا هغه ډګر دی چې مفاهمه په کې کېږي، په دې ډګر کې هېواد، کلچر موسسه او ښکاره (external) او پټې (internal) انګېزې يا هڅونې (stimuli) شاملېږي.

۲- استوونکی (مرسل): کله چې تاسې يو پيغام استوئ نو تاسې په عين حال کې يو (انکوډر Encoder) هم ياست چې د خپل پيغام، کلمات، الفاظ، زيګنالونه، تصويرونه او اشارې د اخيستونکي له پوهې او ادراک سره برابروئ. مفاهمې د (Encode) لفظ له خپلې خور (مخابرې) څخه په پور اخيستي دي چې د رمز مانا لري. په مخابره کې مرسل (استوونکی) خپل پيغام په داسې رمز بدلوي چې د مفاهمې هغه بل اړخ له هغه څخه مفهوم واخيستلای شي. په مخابره کې کېدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي چې عادي خبرې په رمز او شفر بدلې شي، خو په ابلاغ او مفاهمه کې حالت معکوس دی يانې دا چې استوونکی د خپل ذهن خبرې داسې (Encode) کوي چې د اخيستونکی ذهن يې واخيستلای شي.

په ابلاغ يا مفاهمه کې استوونکی يا مرسل کېدای شي يو فرد وي چې خپل پيغام د خبرو، ليکنې، رسامۍ او يا د اشارې له لارې يو بل چا ته يا کوم ټولنيز ګروپ ته واستوي. همدارنګه کېدای شي چې استوونکی يو فرد نه، بلکې د ورځپاڼې، راډيو، تلويزيون او د عکاسۍ د سټډيو غوندې موسسې وي.

۳- پيغام: هر هغه حقيقي يا خيالي مطلب چې پر يو اخيستونکي (مرسل اليه) باندې که هغه انسان وي يا غير انساني موجود وي، نېغ په نېغه يا په غير مستقيم ډول اغېزه وکړي او غبرګون يا عکس العمل راپيدا کړي، پيغام دی. کېدای شي پيغام د کاغذ پر مخ د ليکل شويو يا چاپ شويو تورو په شکل وي، يا د غږ، په هوا کې د برقي جريان د څپو، په هوا کې د لاس، څادر يا بيرغ د خوځولو يا نورو داسې زيګنالونو، علامو او اشارو په اشکالو وي چې ذهنونو ته مفهومونه رسولای شي.

۴- اخيستونکی (مرسل اليه): کېدای شي اخيستونکي خوا يو اورېدونکی، ننداره کوونکی يا لوستونکی څوک وي. يا د کوم ګروپ مثلاً د مباحثې د ګروپ غړی وي. يا هم د فټبال د لوبې له ننداره کوونکو څخه يو څوک وي. ډله ييزه اخيستونکي خوا يا جمعي مرسله اليه (Mass audience) د يوې ورځپاڼې د لوستونکو، د يوه تلويزيون د ننداره کوونکو او يا د يوې راډيو له اورېدونکو څخه جوړېږي.



اخيستونکی (مرسل اليه) ډيکوډر (Decoder) هم دی، علايم او غږونه له خپل ذهني فيلټر څخه تېروي، ډيکوډ کوي يې او هغه مفهوم ورڅخه اخلي چې دده له پوهې او ادراک سره سم وي. په ډله ييزه مفاهمه کې کېدای شي چې ستاسې د پيغام د اخيستنې او تعبيرولو لپاره له يوه څخه زيات ډيکوډران موجود وي. کاميابه مفاهمه هغه ده چې استوونکی (انکوډر) او هم اخيستونکی (ډيکوډر) د پيغام سمبولونه: الفاظ، کلمات، زيګنالونه او اشارې يو شان ته تعبير کړي.

۵- رسندويه وسيله Medium: رسندويه وسيله هغه چينل دی چې د مرسل او مرسل اليه تر منځ د پيغام د استونې په کار کې رابطه ساتي. زموږ او ستاسې اعصاب او پنځه واړه حواس تر ټولو لومړني رسندويه وسيلې دي. همدارنګه زموږ او ستاسې عادي خبرې اترې، يا ليکل شوي او چاپ شوي کلمات، الکټرونيکي څپې، د غږ اهتزازات، تصويرونه او اشارې له رسندويو وسلو څخه ګڼل کېږي. زما خپله د ماشومتوب دوره نه هېرېږي څو کسان به د کومې غونډۍ له پاسه کښېناستل چې د روژې يا اختر مياشت وګوري دوی به چې مياشت وليده، د غونډۍ په سر به يې د اور لمبې جګې کړې په دې توګه به يې خلک خبر کړل چې سبا روژه يا اختر دی. د جهاد په وختونو کې زموږ کلي ته مخامخ يو تور غر ولاړ و. د همدغه غره پر سر يو مجاهد وظيفه لرله چې ليرې سړکونه وڅاري، کله به چې ده وليدل قوه د ولسوالۍ پر لورې راروانه ده، نو د تور غره پر سر به يې خاورې باد کړې او د ټوپک يوه يا دوې ډزې به يې هم ورسره وکړلې، خلکو به کولای شول چې خپل کوچنيان غرونو ته وخېژوي او دوی په خپله سنګرونه ونيسي. رښتيا به وايو هغه وخت به د غره له پاسه جګې شوې دوړې خلکو ته د کابل راډيو په نسبت ښه پيغام درلود. څکه هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت د کابل راډیو رښتیا خبرې نه کولې یا یې ډېر کم رښتیا ویل. په دې توګه د ماښام په تته غونډې تیاره کې د اور لمبې او د تور غره پر څوکه سپېرې دوړې د خاصو مانا لرونکو سمبولونو په توګه له مهمو رسندویو وسیلو څخه وې.

باید وویل شي چې ژبه د افهام او تفهیم تر ټولو مهمه وسیله ده خو د یوې مهمې رسندویې وسیلې په توګه تقریري ژبه د مفاهمې د ډېرو ډولونو لپاره، له لیکنۍ ژبې څخه ډېره موثره او ګټوره ده. د دې لپاره چې موږ د تقریري ژبې ځینې ښېګڼې وشمېرلی شو، غواړو هغه له لیکنۍ ژبې سره پرتله کړو:


| تقریري ژبه | لیکنۍ ژبه |
| --- | --- |
| فیدبیک (غبرګون په کې ګړندی وي | فیډبیک په کې ځنډنی وي |
| لنډ لنډ وییونه، لفظونه او لنډې جملې په کې په کار لوېږي. | اوږده، اوږده لفظونه او اوږدې جملې په کې راځي. |
| د خلکو محاورو ته نژدې وي | د خلکو له محاورو څخه لرې کېږي زیات رسمي او تشریفاتي اړخ لري. |
| د مخامخ اړیکو لپاره ډېره ښه رابطه ګرځي | شکل او محتوی ته یې تر رابطې اهمیت ورکول کېږي. |
| راتلونکو نسلونو ته د کلتوري توکو د لېږدولو لپاره ډېره مساعده وي. | د حقایقو د ثبتولو او د اسنادو د خوندي ساتلو لپاره ډېره ګټوره وي. |



۶- غبرګون Feed back : فیډبیک هغه غبرګون یا عکس العمل دی چې اخیستونکی (مرسل الیه) یې د پیغام اخیستلو په نتیجه کې ښکاره کوي. کېدای شي دا غبرګون د سمې مفاهمې په وجه په زړه پورې وي، ممکن د غلط فهمۍ په وجه ښه نه وي. کېدای شي هغه د خبرو په ذریعه یا د لیک په ذریعه څرګند شي، ښایي هغه شفاهي "Verbal " وي یا غیر شفاهي (Nonverbal) وي په بڼه یا څېره کې راغلی بدلون هم د فیډ بیک یو شکل وي، کله کله مانا لرونکې چوپتیا هم یو ډول فیډبیک وي. استوونکی، د دې لپاره چې د مفاهمې په اغېزه وپوهېږي د خپل پیغام فیډبیک ته سترګې په لار وي.

## د مفاهمې د پروسې عملي اړخ:

هر پیغام چې د ابلاغ یا مفاهمې په پروسه کې له مرسل څخه تر مرسل الیه پورې کومه لاره وهي هغه په لاندیني ډیاګرام کې تجسیم شوې ده:




فرض کړئ! تاسې احمد نومېږئ د یوې علمي او فرهنګي مجلې د چلونې مسؤلیت پر غاړه لرئ. ستاسې یو قلمي ملګری


(c) ketabton.com: The Digital Library



محمود نومېږي، چې د لرغونو آثارو او زړو قلمي نسخو له مطالعې سره مینه لري. ده د خپلې مقالې په ارتباط تاسې ته یو عکس هم رالېږلی دی. تاسې غواړئ چې د عکس په باره کې هغه ته څه ووایئ نو تاسې خپلې آيډيا يا نظريې ته د یوه پیغام شکل ورکوئ، نو تاسې د "مرسل او هم انکوډر" په توګه د خپل پیغام شکل او محتوي داسې جوړوئ، چې د محمود ذهن يې د "مرسل اليه او هم ډیکوډر" په توګه واخیستلای شي، نو څه کوئ د خپل پیغام محتوی د محمود له فهم او ادراک سره سمه عیاروئ یانې کوښښ کوئ چې خپل پیغام په خپله د محمود د اړتیا او ضرورت له مخې هم تعبیر کړئ. که تاسې خپل پیغام د تیلفون له لارې هغه ته رسوئ بیا نو د انکوډ (Encode) او ډیکوډ (Decode) پروسه یو څه نوره هم غځېږي یانې ستاسې د تیلفون "مایک" هم ستاسې په څېر "انګود" ګرځي او د محمود د تیلفون "ریسور" هم د هغه په څېر دیکوډر ګرځي. هغه داسې چې ستاسې د تیلفون د محمود د تیلیفون ریسور هغه دیکوډ کړی شي بیا د تیلفون د ریسور راوتلې خبرې د محمود ذهن ډیکوډ کوي یعنې له خپل ادراک سره يې سمې تعبیروي. (1) د انکوډ (Encode) او ډیکوډ (Decode) اصطلاحات اصلاً له مخابرې څخه اخیستل شوي دي. له انکوډ څخه مقصد په رمز (Code) کې د یوه پیغام اچول دي او ډیکوډ له رمز څخه د هغه ایستل دي. خو په ابلاغ یا مفاهمه کې هڅه کېږي چې پیغامونه د داسې لفظونو، سمبولونو، تصویرونو او اشارو په قالبونو او اشکالو کې راوستل شي چې د مفاهمې دواړو خواوو ته د پوهېدو یا تعبیرولو وړ وي د مفاهمې د دې پروسې په نتیجه کې د محمود ذهن ته داسې یو پیغام رسېږي:



"د ... کتاب له یو مخ څخه چې تاسې کوم عکس اخیستی دی، فوکس يې سم نه دی، نو په کلیشه کې هم سم نه راځي...." خو خبره په دغه ځای پای ته نه رسېږي. زموږ په ډیاګرام کې دوې نورې بیضوي شکله کړۍ هم زیاتېږي، لکه دا:




په پورتني پیغام کې دوه تخنیکي لفظونه لکه "فوکس" او "کلیشه" له هغو کلماتو څخه دي، چې په وروستیو کلونو کې زموږ ژبې ته راغلي دي. له دې امله چې د لیکوالو او ژورنالیستانو د تجربې ساحې يوه له بلې سره زیاتې ګډې شوې دي. نو د دې ضرورت له منځه تللی دی چې د پیغام د استولو په وخت کې یو بل ته د دې ډول اصطلاحاتو په باب اضافي څرګندونې وشي. یانې تاسې دې ته اړ نه یاست چې د فوکس یا کلیشې معناوې محمود ته څرګندې کړئ.


د مفاهمې د فنونو د انجنیرانو له نظره دوه نور شیان هم شته چې هغه د مفاهمې پر بهیر منفي یا مثبت اغېز لري دا، د همدوی په ژبه د تحریف او د تصفیې (Distortion and filtering) لپاره مداخلې دي.

تاسې به ډېر ځله اورېدلي وي چې کله کله یو هېواد د بل هېواد راډیو پر ضد خپله حمله کوي نو تر حملې لاندې هېواد د دفاعي هڅې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په توګه په هماغه فریکونسي کې مزاحم غږونه تولیدوي، یا په تخنیکي ژبه "پارازیت خوشې کوي". همدارنګه کله کله د تلویزیون پر سکرین باندې مزاحمې څپې خپل ځان د نرۍ نرۍ شبنم ته ورته باران په شکل ښکاره کوي چې اصلي څېرې او منظرې اخلالوي. دا ډول مزاحم غږونه او مزاحمې څپې موږ د خپل ډیاګرام له پاسه د یوې کږې وږې منحني کرښې ایستلو ته اړ باسي لکه دا:




دا نوې پورته ایستل شوې کږه کرښه، ښیي چې د استوونکي او اخیستونکي تر منځ مفاهمه د مداخله کوونکو غږونو او څپو په وسیله اخلالېږي. په کار دي چې هغه د تصفیې د وسیلو په مرسته د مفاهمې له بهیر څخه وایستل شي.

موږ هم کله کله د مفاهمې د دواړو اړخونو (استوونکي او اخیستونکي) په توګه د مفاهمې په جریان کې، خنډونه او مزاحمتونه راپیدا کوو. د مفاهمې په جریان کې د نامانوسو خارجي کلماتو یا جوړو شویو ویبیونو په کار اچونه،د خبرو ډېره چټکتیا یا ډېر غړندتوب، د خبرو اوږدوالی یا په خبرو اترو کې په اصطلاح د




"حشوو او زوایدو" په کار اچونه، د مفاهمې د تیوریستانو له نظره مفاهمه اخلالوي، نو هر پیغام استوونکی د خپل پیغام د استولو یا کوم خبر لیکلو په وخت کې باید فکر وکړي چې اورېدونکی، کتونکی یا لوستونکی نه شي کولای چې په لږ وخت کې دومره زیاتې خبرې خپل ذهن ته وسپاري. په دې اړه د یوې ببړۍ د مخابرې د آپرېټر تجربه د پاملرنې وړ ده. هغه چې د مخابرې په وخت کوم مطلب د (SOS) له لارې مخابره کوي، نو د خپل پیغام بېل بېل توکي، یو په بل پسې، په مناسبه فاصله کې استوي تر هغه مهاله چې ډاډه شوی نه وي. لومړی مطلب مقابلې خوا ته رسېدلی او هغه ډیکوډ کړی دی، بل مطلب نه ورمخابره کوي.

د یوې مخابرې یا مفاهمې دا ډول خصوصیت موږ ته ضرور داسې یوه پوښتنه راپیدا کوي چې په یوه ټاکلي وخت کې د زیاتو اطلاعاتو یا نظریو وړاندې کول به ښه وي او که به دا غوره وي چې د مقابل لوري د ښه پوهېدلو لپاره په هماغه وخت کې لږ، لږ مطالب هغه هم په تکرار سره مخابره شي؟ دا دواړه خبرې، سړی، له یو ډېر مشکل انتخاب سره مخامخ کوي. که چېرې خپلو اورېدونکو، کتونکو یا لوستونکو ته خپل پیغامونه ډېر ورو ورو استوو نو دوی به زموږ په دغه کار سره یو ډول ستوماني احساس کړي او د وخت د ضایع کېدو پرېشاني به هم ورته پیدا شي، خو که د مفاهمې یا مخابرې جریان ډېر ګړندی کړو یعني په لږ وخت کې ورته ډېر مطالب وړاندې کړو بل څه به ونه کړو، بس د دوی ذهن به زیات مغشوش کړو. دا ربړه هلته هوارېدلی شي چې استوونکی او اخیستونکی یو له بله سره خپله مفاهمه، د چا خبره په سور او تال برابره او یا په تخنیکي ژبه په ټیون (Tune) کې یې سره سمه کړي. دا به هغه حالت وي چې د پیغام

(c) ketabton.com: The Digital Library




استوونکي او اخستونکی یو له بل سره د خپلو تجربو ساحې شریکې کړي او یو د بل په ژبه او واقعي اړتیاوو پوره پوهېدلي وي. که داسې شوي وي بیا په خپل ډیاګرام یوه بله د نیمې دایرې کرښه زیاتولی شو. دا به د فیډبیک یا د مفاهمې د کامیابۍ او موثریت کرښه وي.




کله چې د مفاهمې د بهیر لاره سمه وي، مزاحمتونه هېڅ نه وي، یا ډېر کم وي. پیغام دواړو خواوو ته مفهوم ولري یا دواړو خواوو ته د تعبیرولو وړ وي نو بیا د مفاهمې یو ډېر مهم توکي "غبرګون یا فیدبېک" ته زمینه برابرېږي فیدبېک د مفاهمې جریان غبرګوي کله کله خبره دې حد ته رسېږي چې په مخامخ خبرو یا مرکو کې، د استوونکي خوا او اخیستونکي خوا تر منځ د پیغام استونې په کار کې توپیر له منځه ځي تر دې چې د داسې یو ډیاګرام جوړېدو ته لاره برابروي چې په هغه



کې مرسل او مرسل الیه خپل، خپل ځانګړي ځایونه، وار په وار یو له بله سره بدلوي. تر دې چې خپل خپل شخصي عنوانونه هم له لاسه ورکوي او دواړې خواوې د تعبیرونکي (Interpreter) تر عنوان لاندې راځي لکه دا:





فیډبیک چې د مفاهمې ډېر مهم توکی دی یوازې د "هو" یا "نه" په ویلو یا دې ته ورته د سوال او ځواب په نورو خبرو کې نه راځرګندېږي، بلکې په مخامخ مفاهمه کې، په څېره کې پرله پسې بدلونونه هم د غبرګون نښې رانښیي د فن او هنر په دنیا کې کېدای شي رنګونه او انځورونه فیډبیک وښیي د "شنه څراغ" اشاره هم د "هو" غوندې یو مثبت ځواب دی.

بله خبره دا ده چې که موږ له خپل ځان سره (Intera personal) مفاهمه کوو هلته هم فیډبیک زموږ د مفاهمې د سموالي، موثریت او بریالیتوب لپاره ډېر ښه لاربښود دی. دا لاندې ډیاګرام په غور وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library






لکه چې په پورتني ډیاګرام کې ښودل شوي دي، موږ د مفاهمې په وخت له هرڅه نه دمخه د خپل پیغام لفظونه او نور سمبولونه د انکوډ کولو په وخت کې په خپله هم ډیکوډ کوو. یعني په خپله یې تعبیروو او ارزیابي یې کوو چې هغه خو به کومه غلطي نه لري، الفاظ خو به یې مشکل نه وي. آیا د مقابل لوري لپاره به د پوهېدو وي؟ همدارنګه د مفاهمې په وخت کې د خپل غږ ځرنګوالی هم په نظر کې نیسو هغه څومره طبیعي یا مودبانه دي. د پیغام لهجه هم له نظره نه اچوو آیا مقابل لوري زموږ په لهجه پوهېدای شي او که نه؟ د معیاري ژبې څخه مو کار اخیستی دی او که څنګه؟

خبره به رالنډه کړو که په هر ډول مفاهمه کې د غبرګون لاره صافه او هواره وي نو دا مفاهمه به د افهام او تفهیم هغه لوړ پوړ ته ورسېږي چې تل د کورنیو او نورو لویو او کوچنیو ټولنیزو ګروپونو



تر مینځ اختلافونه له مینځه وړي او د یوې ټولنې یا ملت ټول افراد د ګډ یا ملي تفاهم داسې مرحلې ته رسوي چې ګډه ملي اراده یې له هر ډول اټومي یا اقتصادي طاقت څخه ډېر ځله پیاوړې او روڼ ځواک ګرځي. دا هماغه ځواک دی چې د یو ملت خپل انقلاب په مخ بیایي او د نورو صادر شوي انقلابونه خنثی کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم څپرکی

## ډله ييزه مفاهمه، ابلاغ عامه

## “Mass Communication”



## ډله ييزه مفاهمه، ابلاغ عامه

## “Mass Communication”

ډله ييزه مفاهمه چې ځينې افغاني ليکوال يې ډله ييزې اړيکي او د لرې پښتونخوا ليکوال يې د اردو په تقليد "ابلاغ عامه" هم بولي. ماس کمونېکېشن د مفاهمو يا ابلاغياتو تر ټولو اوچت او پراخ غځېدلی پوړ دی. ددې پراخې مفاهمې لمنه ډېره غوړېدلې ده. که ووايو چې زموږ دا ټوله نړۍ او له هغې څخه چورلېدونکې سپوږمۍ چې موږ ښکلې مخونه ورسره تشبيه کوو او د آسمان هغه ستوري چې زموږ پر لوري سترګکونه وهي ددې ډول کمونيکيشن د شبکو په پراخ اوبدل شوي جال کې را نغښتل شوي دي، مبالغه به نه وي.

يو وخت چې لوی خوشال بابا ته پر ستورو باندې د کمند اچولو هيله پيدا شوه او علامه اقبال د هغه دغه لوړه آرزو زموږ د زمانې ځوانانو ته ابلاغ کړه، د ډله ييزې مفاهمې وسيلو هغه د رښتيا کېدو مرحلې ته ور سوله. انسان پخپله سپوږمۍ ته ور وخوت او ټوله نړۍ يې د سپوږمۍ له حالاتو څخه خبره کړله. دا لړۍ لا روانه ده. دا دی وخت په وخت د نورو سيارو او اقمارو په باره کې تر لاسه شوي اطلاعات د نړۍ ټولو اوسېدونکو ته رسېږي. عامه ابلاغياتو موږ د ځمکې د زړه له حال او د سمندر د تل د بې شمېره زياتو مخلوقاتو د ژوندانه له حالاتو او خاصو کړو وړو څخه خبر ساتلي يوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډله ییزې مفاهمې وسیلې یوازې موږ د خپلې اوسنۍ زمانې له حالاتو څخه نه خبروي، بلکې د زرګونو کلونو مخکینیو انسانانو پیغامونه یې هم تر موږ پورې را رسولي دي. له میلاد څخه ۲۵۰۰۰ کلونه مخکې د فرانسې د (Lascaux) نومی ځای د یوه غار پر دېوال باندې د یوه آس، دوو غویو او یوې بزې (وزې) تصویرونه ایستل شوي دي. که څه هم د تاریخ پوهانو له نظره دا تصویرونه کومه لیکل شوې شرحه نه لري چې هغه زمانه ورباندې د تاریخ مبدا وبلله شي. دا هم پوره جوته نه ده چې دا تصویرونه د څه مقصد لپاره کښل شوي دي؛ خو هغه د داسې رسنۍ وسیلې په توګه چې د ژورنالیستانو په ژبه د زرګونو لفظونو او کلماتو ارزښت لري، موږ ته د هغې زمانې د خلکو یو پیغام را رسوي هغه دا چې: "دا د کار ځاروي دي چې باید وساتل شي او وپالل شي".

همدارنګه په لرغوني مصر کې د "ژوندانه د کلي سمبول" اوس هم موږ ته بې مفهومه نه دی، په اوسنیو رسمي تشریفاتو کې د لویو ښارونو ښاروالان خپلو ډېرو درنو او مهمو مېلمنو ته د خپل - خپل ښار د "کلي سمبول" د سوغات په توګه چې لوړ معنوي ارزښت لري وړاندې کوي. ګواکې یوې نړیوالې عنعنې د یو نړیوال پیغام یوه ارزښتمنه محتوی تر موږ پورې را رسولې ده او هغه لکه دا څنګه چې بند ورونه (دروازې) په کلي خلاصېږي، هماغسې د زړه کلپونه هم د مینې او لورېینې په کلي خلاصېږي.

یو جرمني "زرګر ګوتنبرک" په خپل کار او زیار سره په ۱۴۵۳م کې د چاپ د ماشین په اختراع کولو سره د معاصرو پېړیو تاریخ ته یوه بله مبدا وټاکله. د نړۍ دوه ډېر دوامداره اوځواکمن انقلابونه (صنعتي انقلاب او د میډیا انقلاب) له همدغه وخت څخه پیل شول.



په رښتیا چې دا ډېره لویه انقلابي پېښه وه چې یو آسماني کتاب (انجیل) د پاپانو د انحصار له منګولو څخه ووت او پیغام یې عامو خلکو ته ورسول شو. زموږ له نظره که دا کار دمخه شوی وای، ښایي انجیل به له ګوتو وهلو او تحریفونو څخه خوندي ساتل شوی وای.

## ډله ییزه مفاهمه د مفاهمې د نورو ډولونو په پرتله:

که څه هم دلته زموږ د بحث اصلي موخه ډله ییزه مفاهمه ده، خو له دې امله چې د ډله ییزې مفاهمې لمنه ډېره پراخه ده او په هغې کې د مفاهمو نور ډولونه لکه له خپل ځان سره مفاهمه، د دوو کسانو تر منځ مخامخ مفاهمه، د کوچنیو او لویو ټولنیزو ګروپونو تر منځ مفاهمه، کار و باري مفاهمه یا تنظیمي مفاهمه، خپل خپل ځایونه لري، نو غواړو چې ډله ییزې مفاهمې ته د رسېدو د لارې پر سر د مفاهمې ځینې نور ډولونه هم څه ناڅه وپېژنو.

## له خپل ځان سره د یو چا مفاهمه (Intrapersonal Communication):

په دې ډول مفاهمه کې یو څوک له خپل ځان سره فکر یا خبرې کوي، خپل احساسات پخپله ارزیابي کوي. خپلې خبرې یا خپله لیکنه د کار په جریان کې تر خپلې څارنې لاندې نیسي. په دې مفاهمه کې د یو چا عصبي نظام یا حسي ارګانونه د پیغام استوونکو (مرسل) په توګه کار کوي. دده دماغ د مرسل الیه (اخیستونکي) دنده سرته رسوي. فرض کړئ تاسې پخپله له ځان سره مفاهمه کوئ، نو د پیغام استوونکی او هم اخیستونکی تاسې پخپله یاست. کله کله ددې ډول مفاهمې پیغام په برقي، کیمیاوي ټکانونو یا ضربو (Electro Chemical Impulses) کې پېچل کېږي. رسنۍ وسیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



(میډیم) یې مرکزي عصبي سیستم (Central Nervous System) دی. فیډبیک یې هم هماغه برقي کیمیاوي ټکانونه دي.

که د موضوع له یو څه پېچلي تخنیکي حالت څخه راووځو، نو تاسې د خپل مېز له پاسه اېښودل شوی ټلیفون په نظر کې ونیسئ، لکه څنګه چې د ټلیفون شبکه په یوه ښار کې هرې خوا ته غځېدلې ده، هماغسې ستاسې د عصبي نظام شبکه ستاسې د بدن هرې خوا ته غوړېدلې ده، چې ستاسې پینځه واړه حواس د دماغ له مرکزي برخې سره په ارتباط کې ساتي، مثلاً ستاسې د سامعې او باصرې حواس د غږ او ستاسې د سترګو د نظر له لارې دماغ ته د یو ډېر ګړندي موټر د رانژدې کېدو خبر ورکوي او ستاسې دماغ ژر ستاسې بدن ته حکم کوي چې ځان ډېر ژر د سړک یوې څنډې ته کړې.

خبره روښانه شوه له خپل ځان سره ستاسې د مفاهمې په جریان کې ستاسې محسوسات، خپل تفکرات او خپلې فیصلې شاملېږي، په دې ډول مفاهمه کې تاسې خپلې خبرې یا خپلې لیکنې پخپله ارزیابي کوئ، که تاسې غواړئ خپلې خبرې یا خپل کړه وړه ثبت کړئ بیا نو له سمعي او بصري وسیلو څخه یا له کمپیوټر څخه هم کار اخلئ. ددې مفاهمې پروسه پخپله د یو فیډبیک په توګه راتاوېږي. یعنې تاسې په خپله د خپلې مفاهمې په غبرګون خپل ځان ډېر ژر پوهولای شئ.

د ابلاغیاتو ځینې ماهران له خپل ځان سره د یو چا مفاهمې ته د کمیونیکیشن په ساحه کې مهم ځای نه ورکوي، خو ځینې نور د هغې مقام ډېر لوړ بولي او وایي چې نورې مفاهمې له کړو وړو، کردارونو یااکشنونو سره، خو - له خپل ځان سره د یو چا مفاهمه له مانا سره زیاته رابطه نیسي، مانا دا چې د یو پیغام اصلي ارزښت ټاکي. د دغو



پوهانو له نظره د مفاهمې ټول ډولونه یو له بل سره د رابطې په مزو تړل شوي دي چې یوه له بلې څخه په جلا توګه نه شي مطالعه کېدلی په تېره بیا له خپل ځان سره د یو چا د مفاهمې (Intrapersonal Communication) مطالعه چې د تخیل او تفکر په لحاظ لوی ارزښت لري بنسټیز اهمیت هم لري.

د ژورنالیزم د استادانو له نظره له خپل ځان سره د یوه راپورټر خپله مفاهمه د یوې مهمې مرکې لپاره د چمتووالي په کار کې مهمه مرسته کوي. یو راپورټر پخوا له هغه چې له یو مهم سړي څخه د مرکې لپاره وخت واخلي، دی باید د هغه د عمر، شخصیت، مسلک، او کار په باره کې پخپله له خپل ځان څخه ډېرې پوښتنې وکړي او بیا پخپله خپلو پوښتنو ته ځوابونه ولټوي له مهم شخصیت څخه یوازې د هغو موضوعاتو په باره کې پوښتنې وکړي چې په خاص ډول د ده له کار او نظریاتو سره ډېره رابطه ولري.

که دی داسې وکړي بیا به مجبور نه وي چې له یو ډېر مشهور شخصیت سره خپله خبره په دې خبره پیل کړي "مهرباني وکړئ تاسې خپل ځان لوستونکو یا اورېدونکو ته معرفي کړئ" کېدای شي یو مشهور سړی د یو راپورټر دا ډول یوه خبره د ځان لپاره یو سپکاوی وبولي او په داسې یوه پوښتنه کېدای شي مرکه له پیل کېدو څخه دمخه په ټپه ودرېږي، ځکه مشهور شخصیتونه نبایي ونه غواړي چې په خپله خوله خلکو ته خپل ځان ور وپېژني، نامتو کسان په دې شرمېږي چې خپلې کارنامې پخپله بیان کړي یا د ځان صفت پخپله وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یو راپورټر د یو مهم سړي د ژوند او شخصیت په باره کې خپله مفاهمه تر یوه حده بشپړه کړې وي نو دی به ښایي خپله مرکه په داسې یوه ښه مقدمه پیل کړي:

" پوهاند ډاکټر... صاحب! تاسې د خپل عمر څلویښت کلونه د هېواد د پوهنې په خدمت کې تېر کړي دي، څومره چې زه خبر یم تاسې په دې ساحه کې د تالیفاتو او مطالعاتو خاوند یاست. په څو نړیوالو سیمینارونو او کنفرانسونو کې مو هم برخه اخیستې ده. دلته که اجازه راکړئ، غواړم چې د پوهنې او روزنې په باره کې د دولت د نوې ستراتیژۍ په اړه ستاسې له نظر څخه خپل لوستونکي یا اورېدونکي خبر کړم.

## مخامخ مفاهمه (Interpersonal Communication):

دا ډول مفاهمه زیاتره د دوو کسانو تر منځ کېږي، داسې یوه مفاهمه د شخصي روابطو په جوړونه او ټینګښت کې ډېره اغېزناکه ده. دا مفاهمه دوه ډوله ده. یوه یې د مخامخ (Face to Face) خبرو او بله یې له یو ځای څخه بل ځای ته د پیغام استولو ( Point to point) مفاهمه ده.

د مخامخ خبرو مفاهمه لکه چې له نوم څخه یې څرګندېږي. د مخامخ خبرو اترو یا لارښوونو په شکل سرته رسېږي. پیغام یې معمولاً د اشخاصو تر منځ د ژورو شخصي اړیکو د ټینګولو په باره کې وي. رسنۍ وسیله یې خبرې همدارنګه په بڼه او څېره کې راغلي بدلونونه، د سترګو، وروځو، شونډو او لاسونو حرکات ( Body Language) او ځینې نورې غیر شفاهي نښې او نښانې دي. غبرګون



(فیډبیک) په کې ګړندی وي ځکه چې په مفاهمه کې سمدلاسه د خبرو یا نورو کړو وړو له لارې غبرګون ښوول کېږي.

له یو ځای څخه بل ځای ته (Point to Point) مفاهمه کې پیغام معمولاً د ټلیفون، لیکونو، تلګرافونو، د کمپیوټر او یا د ملکي راډیو (CB) له لارې سرته رسېږي. په دې ډول مفاهمه کې پیغام معمولاً تشریفاتي اړخ لري. فیډبیک یې د ټلیفون له لارې نسبتاً ګړندی دی، هغه کمپیوټر هم چې په نېټ ورک کې یې ګڼه ګونه زیاته نه وي، د فیډبیک له ګړندي کېدو سره مرسته کوي. خو د پوستې تلګرام او داسې کمپیوټر له لارې چې په نېټ ورک یې ګڼه ګونه زیاته وي فیډبیک یو څه ځنډنی وي.

## د کوچني ګروپ مفاهمه (Small group Communication):

د کوچني ګروپ مفاهمه په یوه کوچنۍ غونډه کې هر چا ته د خبرو اترو، حقایقو بیانولو یا نظر څرګندولو موقع برابروي. دا مفاهمه دوه ډوله ده، چې یو ډول یې مخامخ او بل ډول یې له یو ځای څخه بل ځای ته مفاهمه ده.

د کوچني ګروپ په مفاهمه کې وړاندیزونه، د مجلس اجنډا د پیغام حیثیت لري، رسندویه وسیله یې غالباً خبرې اترې وي، خو کله کله سمعي او بصري وسیلې هم په کې په کار لوېږي. غبرګون یې هم د خبرو اترو په بڼه وي خو کله کله د تایید په توګه سرښورول کېږي، کېدای شي د مخالفت لپاره هم سر په بل ډول وښورول شي، همدارنګه د رایو یا ووټونو ورکول یا د تایېد او هم د مخالفت په توګه د لاسونو اشارې هم په فیډبیک کې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوچني ګروپ د (Point to Point) مفاهمې پیغام له هغو موضوعاتو څخه جوړېږي چې د یو ګروپ غړي وربانديې د ممکنو وسیلو له لارې بحث کوي. ددې مفاهمې رسنۍ وسیلې ټلیفون، لوډسپیکر، ویډیو او کمپیوټري رابطې وي. فیډبیک یې د ځینو وسیلو له لارې ګړندی او د ځینو نورو وسیلو له لارې ځنډنی وي.

## د لوی ګروپ مفاهمه (Large Group Communication):

په دې ډول مفاهمه کې د پیغام اخیستونکو شمېر تر پیغام استوونکو ډېر وي. په پیغام کې یې د تفریحي موضوعاتو په ګډون ډېر شیان راتلی شي. رسندویه وسیلې یې مخامخ خبرې دي چې سمعي او بصري وسیلې هم ورسره مرسته کوي. کوچنۍ کوچنۍ ډرامې، موسیقي او داسې نور هنري شیان هم ورسره ملګرتیا کوي. د لوی ګروپ مفاهمه د وسیلو له لارې ډله ییزې مفاهمې ته ور نژدې کېږي.

## عامه یا ډله ییزه مفاهمه (Public or Mass Communication):

پخوا له هغه چې ددې ډول مفاهمې په باره کې لازم تفصیلات ورکړو غواړو پر هغو خصوصیاتو لنډه رڼا واچوو چې عامه مفاهمه له نورو ډولونو څخه راجلا کوي، ددې مفاهمې پیغام استوونکي یوازې یو څوک یا څو کسان نه دي. بلکې د میډیا موسسې لکه ورځپاڼې، د فیلم سټډیو، د تلویزیون شبکې او د دوی خپروونکي په زیاترو هېوادونو کې د اطلاعاتو وزارتونه د پیغام استوونکو په توګه کار کوي.



ددې ډول مفاهمې په پیغام کې له خبري، دیني، تعلیمي، جدي، اجتماعي، اقتصادي او سیاسي مسایلو څخه نیولې تر تفریحي موضوعاتو پورې هر څه راځي. رسندویه وسیلې یې د میډیا ټول ډولونه په تېره بیا مطبوعات، راډیو، تلویزیون او فلمونه دي. ددې مفاهمې د پیغام اخیستونکي عام خلک دي. فیډبیک د لوستونکو، اورېدونکو یا ننداره کوونکو د غبرګون لیکونه دي چې د خپرونو مرکزونو او دفترونو ته استول کېږي، غبرګون یې د نورو مفاهمو په نسبت زیات ځنډنی وي، معمولاً د متبادلو وسیلو له لارې استول کېږي. ددې خبرې مانا داده چې د تلویزیون ننداره کوونکي یا د راډیو اورېدونکي خپل، خپل ستېشنونه نه لري، نو د خپلو نظریاتو یا شکایتونو د استولو لپاره له نورو متبادلو وسیلو لکه لیک یا ټیلفون څخه کار اخلي.

له دې کبله چې په (۱۹) پېړۍ کې د نامعلومو افرادو لویه ټولنه (Mass Society) بلل کېده، نو د ډله ییزې مفاهمې لوستونکي او اورېدونکي (Anonymous audiences) یانې بې نومه مخاطبین بلل کېدل، نو د دوی لپاره پر کار اچول شوي مفاهمه باندې د (Mass Communication) نوم اېښودل شوی و. خو اوس د کمیونېکیشن د یو پروفیسر او څېړونکي فریدریک ویلیامز له نظره د نن زماني لوستونکي، اورېدونکي او ننداره کوونکي دومره هم نومورکي نه دي. ځکه چې نن خاص- خاص ټولنیز ګروپونه د ابلاغیاتو او اعلانونو لپاره په نښه کړل شوي هدفونه ګرځېدلي دي. نو اوس دده له نظره د (Public) کلمه د (Mass) په نسبت د عامه مفاهمې لپاره یوه مناسبه کلمه ده. بنایي زمونږ په ژبه کې د مانا په لحاظ دومره حساسیت موجود نه وي، بنایي اوس هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ "ډله ییزه" کلمه ورته مساعده وي ځکه چې هغه د "تودې" یا "مقدار" له کلمو څخه چې د (Mass) له تحت الفظي ماناګانو څخه دي، توپیر لري. سره له دې هم کېدای شي ځوک ورته عامه مفاهمه یا عمومي ابلاغ او یا هم ابلاغ عامه ووایي، اصلاً دا ډول اېښودل شوي نومونه یا اصطلاحات سمبولیکه بڼه لري او سمبول هغه کلمه یا بله ورته نخښه بلل کېږي چې د یو ډول ټولنیز تړون له لارې ورته داسې یوه مانا جوړه شوې وي چې د ټولو خلکو له خوا ومنل شي او په کار واچول شي، کېدای شي زموږ ځینې صلاحیت لرونکي "ویې جوړوونکي" استادان ورته مناسبه اصطلاح جوړه کړي خو دا اصطلاح به هغه وخت عمومیت پیداکوي چې د ټولنې لویه برخه یې ومنې.

د ډله ییزې مفاهمې یوه ځانګړتیا داده چې د هغې د میډیا لویې - لویې ادارې لکه ورځپاڼې، د راډیو او تلویزیون ادارې او سټېشنونه، د فلمونو سټډیوګانې او د خپرونکو نورې موسسې دي. خو په دغو ټولو موسسو کې افراد هم لویه برخه اخلي د مثال په توګه د کمیونېکیشن بنسټ تر ډېره حده د راپورټرانو کار او زیار پیاوړې کوي نور مسلکي او فني کسان هم په کې په انفرادي ډول مهمې ونډې اخلي. د دې مفاهې پیغامونه د ټولو کارکوونکو د هڅو په نتیجه کې جوړېږي او بشپړېږي.

په لویدیزه نړۍ کې د عمومي ابلاغ یا ډله ییزې مفاهمې موسسې د پانګه والو په پانګو چلېږي. نو باید پانګه والو ته هم لږې یا ډېرې مادي ګټې ورسوي. سره له دې هم د ډله ییزې مفاهمې خصلت دادی چې د ټولنې په مقابل کې خپل لوی - لوی مسولیتونه هېڅکله له نظره ونه غورځوي. د ټولنیزې مفاهمې ځینې موسسې هڅه کوي



چې د اعلانونو له لارې ځانونه له خپله کوره پوره کړي. خو اعلانونه پخپله په ځینو ځایونو او وختونو کې ددوی د غاړې غړوندي ګرځي او مسلکي آزادي یې زیانمنوي.

په سوسیالیستي هېوادونو کې، ډله ییزه مفاهمه د حکومت له خوا تمویلېږي ا و د هغې سیاسي لارې لپاره استخدامېږي چې دولت یې ټاکي. سره له دې هم د دې لپاره چې له خلکو سره څه نا څه ذهني رابطه ولرلای شي نو ځینې اجتماعي خدمتونه هم پر غاړه اخلي.

د ډله ییزې مفاهمې یو خاص کیفیت دادی چې په هغې کې د پیغامونو ګڼه ګونه زیاته وي چې دا خصوصیت د لوستونکو، اورېدونکو یا ننداره کوونکو له خوا د تقسیم فیډبیک امکانات ډېر کموي. دا کېدای شي چې تاسې یوې ورځپاڼې ته د غبرګون په توګه یو لیک واستوي، یا کېدای شي کوم ځوک د راډیو او تلویزیون پر کوم پروګرام انتقاد وکړي، یا ښایي څو کسان په خپلو - خپلو لیکونو کې د هغوی ځینې خپرونې یا پروګرامونه وستایي، خو دا لیکونه چې البته د متبادلې وسیلې له لارې ور استول کېږي، د ټولو هغو پیغامونو غبرګون نه شي ځرګندولای چې په ډېر زیات شمېر کې، په متراکم ډول د ډله ییزې مفاهمې له لارې خپرېږي.

داسې هم پېښېږي چې په تلویزیون کې د ځینو دیني، روغتیایي، اقتصادي او سیاسي موضوعاتو د تحلیل په جریان کې له اورېدونکو او کتونکو څخه کوم ځوک د بحث په جریان کې د متبادلې وسیلې (د ټلیفون یا انټرنیټ) له لارې پوښتنه وکړي. تحلیلوونکي د خپل بحث جریان موقتاً دروي او د پوښتونکي پوښتنې ته ځواب ورکوي. ځینې موسسې چې د ډله ییزې مفاهمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسولیتونه پر غاړه لري کوښښ کوي چې د خپلو خپرونو په مقابل کې د خلکو غبرګون ځان ته معلوم کړي.

سره له دې هم له دې امله چې په ډله ییزه مفاهمه کې د پیغامونو په استوونکي موسسه کې زیات خلک کار کوي په میډیم کې یې هم ګڼې او ډول ډول رسندویه وسیلې په کار لوېدلې دي لوستونکي، اورېدونکي یا ننداره کوونکي یې هم د خلکو لویې لویې پرګنې دي، نو د ټولو خلکو چټک غبرګون که بیخي ناشونی نه وي نو آسانه هم نه دی. د کمیونیکېشن د استادانو له نظره د پیغامونو د استوونکو او اخیستونکو تر منځ ډېر دیوالونه او ورونه درېدلي دي، په همدې دومره ورونو او دروازو کې دروازه وانان (Gatekeepers) هم پر خپلو خپلو دندو ګومارل شوي دي، دا دروازه وانان څوک وي؟ دوی د لویو خپروونکو موسسو یا بروډکاسټ کوونکو موسسو کارکوونکي لکه چلوونکي، منیجران، انجنیران، راپورټران او نور ډېر مسلکي او فني کسان دي. یوازې دوی نه بلکې ددوی د کار وسیلې د مرسلې او اخذې لویې لویې دستګاوې هم د دروازه وانانو په جمله کې راځي. ددغو دومره اصطلاحي دروازه وانانو موجودیت په عمومي ډول په ډله ییزه مفاهمه کې نه یوازې فیډبیک ځنډوي، بلکې په خپله د پیغامونو په رسونو کې هم ځنډ پېښوي، مثلاً که د راډیو او تلویزیون خبرونه چې په راډیو او تلویزیون کې ډېر لږ وخت نیسي او ځینې نور ژوندي (Live) پروګرامونه په نظر کې ونه نیسو دغه لویې نشراتي دستګاوې که څه هم ډېر وسایل ولري خلکو ته خپل زیات پیغامونه له دومره زیاتو دیوالونو، ورونو او دروازه وانانو څخه دومره ژر نه شي تېرولی او خلکو ته یې په بیړه نه شي رسولی.



له دې امله چې فیډبیک په هره مفاهمه کې د هغې د ګټورتوب او موثریت درجه ټاکي له بلې خوا په ډله ییز مفاهمه کې د غبرګون لاره ډېره اوږده او زیاته پیچلې ده. نو ټول هغه کسان چې په میډیا کې کار کوي، دا مسولیت پر غاړه لري چې د خپلو ټولو لوستونکو، اورېدونکو او کتونکو ټولو احتمالي پوښتنو ته (که څه هم مخامخ نه وي) په ځوابونو برابرولو سره خپل خبرونه او پیغامونه په مکمله بڼه وړاندې کړي. دا کار هغه وخت ښه سرته رسېدلای شي چې د انګریزي ژبې پنځه (W) ګانو او یو (H) ته او د پښتو پېنځه (څ) ګانو او یوې (چ) ته پوره پوره ځوابونه برابر کړي. یعنې په انګریزي کې د (Who, What, When, Where, Why) او (How) پوښتنو او یا د پښتو (څوک/ چا؟)، (څه؟) (څنګه؟)، (څه لپاره /ولې؟) ، (څه وخت؟) او (چېرې؟). پوښتنو ته ځوابونه برابر کړي.

ددې لپاره چې د خبر او پیغام د لیکلو په وخت کې د خلکو ټولو په تیره د هغوی ډېرو ضروري پوښتنو ته پوره او ښه ځوابونه ورکړل شوي وي نو باید د "څنګه؟" او "ولې؟" پوښتنې ډېرې تکرار شي.

د پیغام یا خبر ژبه باید کافي صراحت ولري ابهام باید په کې نه وي، کوښښ دې وشي چې له هغې ژبې څخه کار واخیستل شي چې ټول خلک وربادې پوهېږي، سره له دې چې هغه باید یوه فصیحه او بلیغه ادبي ژبه وي خو په آسانۍ او ساده ګۍ کې باید عامیانه ژبې ته ډېره نژدې وي، په دې باره کې د "میډیا ژبه" تر عنوان لاندې یو څه زیاتې خبرې په وروستیو څپرکیو کې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## میډیا او ژورنالیزم:

د ډله ییزې مفاهمې د استادانو له نظره میډیا (دډله ییزې مفاهمې وسیلې) څلور بنسټیز مقصدونه لري.

١- خبرول To inform

٢- ښوونه کول To educate

٣- اغېزه کول To Influence

۴- تفریح کول To entertain

پورتني مقصدونه د ژورنالیزم لپاره هم شمېرل شوي دي، ظاهراً ژورنالیزم لکه چې له نوم څخه یې څرګندېږي له ژورنالونو (ورځپاڼو، جریدو او مجلو) سره ارتباط لري، خو د کتابونو په ګډون ټول مطبوعات پخپله لمن کې رانغاړي. مطبوعات پخپله یو پراخ مفهوم لري، د افغانستان د ژورنالیزم د یو استاد ډاکټر ظاهر صدیق له نظره ټوله میډیا په مطبوعاتو کې شاملېږي چې په تخنیکي لحاظ په دوو برخو چاپي او برقي مطبوعاتو باندې وېشل کېږي.

اصلاً ګډو موخو او هدفونو چاپي او الکترونیکي میډیاګانې په یوه لاره روانې کړې دي. په تاریخي لحاظ هم پیغام او خبر یو د بل تر څنګ په شریکه لاره روان شوي دي. پخوا له هغه چې چاپي مطبوعات راپیدا شي یا الکترونیکي میډیا خپل جال هرې خوا ته خپور کړي. جارچیانو په یوه خوله او یوه ژبه خبر له پیغام سره یو ځای بیان کړی دی، همدا سبب دی چې نني ژورنالیستان د پخواني جارچي د نوم او حیثیت درناوی کوي. د نړۍ څو مشهورو مجلو په خپلو ځانو د جارچي (Herald) نوم ایښی دی؛ دا دروند نوم د مبشر یا قاصد ماناګانې هم لري چې پر خلکو باندې ښې لګېږي.



د ژورنالیزم او کمیونېکیشن ماهران په ګډه سره خبرونو او اطلاعاتو ته زیات اهمیت ورکوي او د خلکو لپاره یې حیاتي او ضروري ګڼي، خو په شعر او شاعرۍ، ادبي او هنري آثارو کې هم په زړه پورې پیغامونه په تیره بیا د زړونو پیغامونه لټوي او هغه د ابلاغیاتو په لویه لمن کې راټولوي ځکه چې دغه ادبي او هنري اصناف هم پیغامونه لري او هم اغېزې.

## الکترونیک ژورنالیزم:

الکترونیک ژورنالیزم ډېر اوږد تاریخ نه لري. مارکوني تقریباً اویا کلونه د مخه د بې سیم په اختراع کولو سره نړۍ یوې نوې مرحلې ته راداخله کړه، غږونه او آوازونو د هېوادونو له پولو او سرحدو څخه تیرې وکړې. که له یوې خوا یې د بېلوبېلو هېوادونو د خلکو زړونه او فکرونه سره نژدې کړل نو له بلې خوا یې تبلیغاتي او پروپاګندې جګړې لا سختې کړې او کله چې جی. ایل بېرډ (J.L.Baird) تلویزیون اختراع کړ نو د نني عصر د انسانانو په مخ کې نوې هینداره کېښودلې شوې چې د بېلوبېلو ملتونو خلکو په هغو کې خپلې او د نورو ښې یا بدې څېرې او د حرکتونو او فعالیتونو انعکاس ولید.

په لویدیځه دنیا کې راډیويي خپرونې له ١٩٢٠ کال څخه وروسته پیل شوې دي. افغانستان ته د راډیو په راوړلو کې موږ له نورې دنیا څخه ډېر وروسته پاتې نه وو، د راډیو لومړنۍ کوچنۍ دستګاه په ١٣٠۶ لمریز کال (١٩٢٩م) کې په کابل کې نصب شوه، خو په هېواد کې د یوې ګډوډۍ په راتګ سره د عصر د نوي تخنیکي او نشراتي وسیلې خپل ژوند ته دوام ورنکړای شو بله پلا د راډیو اساسي خپرونې په ١٣٢٠ لمریز کال کې پیل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د راډيو او تلويزيون په خاص ډول د تلويزيون په اختراع او فعال کېدو سره د ژورناليزم دنيا له لويو تحولاتو او همدارنګه له غټو سياليو سره مخامخ شوه.

په ۱۹۶۴م کې په امريکا کې څو سروې ګانې چې د بېلوبېلو ګروپونو له خوا سرته ورسېدې، دا وښودله چې ډېر زيات خلک د تلويزيون د خپرونو له لارې ځانونه خبروي.

د دغه کار يو عمده دليل دادی چې تلويزيون خپله مسلکي سويه لوړه کړې ده او د ابلاغ په دغه وسيله د خلکو باور زيات شوی دی. په دې توګه تلويزيون د ورځپاڼو او جريدو لپاره لوی سيال ګرځيدلی دی. لومړی د مطبوعاتي موسساتو مشرانو فکر کاوه چې تلويزيون د اعلاناتو په سياليۍ کې ميدان ګټلی دی خو ورو ورو وپوهېدل چې د خبرونو په ساحه کې هم تلويزيون له ورځپاڼو او جريدو څخه په منډه کې د مخه شوی دی.

دې سياليۍ د ورځپاڼو او جرايدو د نشراتي موسساتو مشران يا خاوندان دې ته اړ اېستل چې خپلې هغه ټولنې دسره تر مطالعې لاندې راولي چې دوی ته مشترکين يا لوستونکي برابروي. د دغو هلو ځلو په بهير کې شيکاګو ډيلي نيوز (Chicago Daily News) او نيويارک هيرل ټريبيون (New York Heral Tribune) له نورو نه د مخه د خپلو خبرونو په کيفيت کې تغييرات راوستل. کريشچن ساينس مانيټور (Christian Science Monitor) په خپل ميک آپ او د سرمقالو په سټايل کې تغييرات راوستل. دې اخبارونو کوښښ کاوه چې د خبرونو په راپيدا کولو او چاپولو کې له بيړې څخه کار واخلي او پېښو ته لا زيات په ژور نظر وګوري څو د الکټرونيک څخه د سياليۍ په ډګر کې وروسته پاتې نشي. سره د دې هم الکټرونيک



ژورناليزم ورځخه په مخکې روان وو. تر دې چې په دې مسابقه کې د ځينو ورځپاڼو ادارو په خپله هم تلويزيون سټېشنونه جوړ او په کار واچول لکه چې په امريکا کې تر ۱۹۷۶ کال پورې د ورځپاڼو او جرايدو موسسو ۱۷۰ سټېشنونه په کار واچول.

تلويزيون له خپلو کتونکو او اورېدونکو سره مخامخ خبرې کوي. په ژبه ويل شويو کلماتو او الفاظو تأثر له هغو څخه چې چاپ شوي وي زيات دی. تلويزيون کولای شي چې مستقيماً له خپلو کتونکو او اورېدونکو سره مستقيمه روحي رابطه ولري او مسايل د انسان سترګو او ذهن ته ډېر ورنژدې کوي. خو خبرونه او اطلاعات يوازې د اورېدلو او کتلو له لارې نه جذبېږي او لوستلو ته هم اړتيا پيدا کېږي همدغه ضرورت دی چې لا تر اوسه پورې يې د مطبوعاتو اهميت خوندي ساتلی دی. د ورځپاڼو لوستونکي چانس لري چې په ورځپاڼې کې د خپلې علاقې وړ موضوعات ولټوي، په تلويزيون کې د انتخاب دا ډول چانس له منځه ځي.

اساساً هر مخترع آرزو لري چې د ده اختراع شوی شی، د خلکو د ژوند چارې آسانه کړي او د اطلاعاتو ښه ګرمي زياته کړي، د بې سيم مخترع نه غوښتل چې د ده له اختراع څخه د جګړې وسيله جوړه شي خو نه يوازې بې سيم بلکه راډيو او تلويزيون هم د جګړې له وسايلو څخه وبلل شول. هغه وخت چې راډيو د خپل تکامل پړاو ته نژدې کېده او تلويزيون د ځوانۍ مرحلې ته رسېدلی ؤ سرې او تودې جګړې روانې وې راډيو تلويزيون څه ناڅه سړې جګړې تودولې او د تورو جګړو په اوريې د هوا لارې پروپاګنډې پطرول شيندل، همدا سبب دی چې د کوريا جګړه د «راډيو جنګ» وبلل شوه او د ويتنام جنګ د «تلويزيون جنګ» هم بلل کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې تلويزيون په آسيا کې د دې سيمې هېوادو ته راوړل کېده، د سيمې د ځينو هېوادونو د توپونو خولې د ګاونډيو هېوادو سرحدونو ته برابرې شوې وې، نو د تلويزيوني آنټنونو ګردې ټيکلۍ يا غابونه هم دغو سرحدو ته د توپونو د خولو په څېر مخامخ ودرولې شوې.

د الکترونيک ژورناليزم لنډ تاريخ تر اوسه پورې درې ډوله پروګرامونه راپېژندلي دي چې هغه ژوندي پروګرام، د خبرونو منظم پروګرام او د ژورې کتنې پروګرام دی، وروستيو وختونو د سرمقالې پروګرام هم ورباندې زيات کړل شوی دی.

په ژوندي پروګرام کې د پېښې جريان لکه څنګه چې دی کټ مټ له هغه ځای څخه را اخيستل کېږي چې دغه پېښه پکې روانه ده لکه د حج مراسم چې کټ مټ د عرفات له ميدان څخه را اخيستل کېږي او هماغه وخت کې د مصنوعي سپوږميو له لارې په ټوله دنيا کې خپرېږي. کله کله ژوندی پروګرام مستقيماً د پېښې له ځای څخه نه پروډکاست کېږي لومړي په فيته ثبت کېږي او بيا کټ مټ هغه د تلويزيون سټېشنونو ته استول کېږي. زياتره سپورټي پروګرامونه، د مهمو شخصيتونو د جنازې مراسم او ډېر نور رسمي مراسم په همدې ډول سره پروډکاست کېږي.

ژوندی پروګرام لکه چې له نامه څخه يې څرګندېږي، پېښه په کاملاً ژوندی توګه رااخلي. په تازه ګۍ او هيجان توليدولو کې بل ډول پروګرام ورسره سيالي نه شي کولای. د امريکې يو ليکوال تيرودورواېټ چې په لويو پېښو يې کتابونه ليکلي دي وايي چې: «تلويزيون د وخت فيلټر له لارې يوه پېښه د خپلو ټولو خصوصياتو سره همدا اوس په همدې وخت کې ليدلای شي. د تلويزيون خبرونه د



سهار د خپرونو په څېر د شپې له فيلټر څخه نه تېرېږي.» په دې توګه د راديو تلويزيون ژوندي پروګرامونه د ښوونې او بيان د آزادۍ ريکارډ جوړوي. چې د سانسور او کنټرول له قيد څخه د نورو په نسبت ډېر آزاد دي.

تلويزيون هغه وخت را پيدا شو چې آسمان خپلې دروازې د انسانانو په مخ پرانيستلې. په فضا کې د مصنوعي سپوږميو چورليدو د دې زمينه برابره کړه چې انسان خارجي فضا ته د مسافرتونو، د سپوږمۍ کړې ته د انسان د ختلو هيجاني پېښې په خپلو سترګو ويني، په ۱۹۶۳ کال کې د مصنوعي سپوږميو په مرسته د تلويزيون ژوندي پروګرامونه وچلېدل په همغه وخت کې د نړۍ د بېلو بېلو هېوادو خلکو چې تلويزيوني شبکې يې لرلې او له مصنوعي سپوږميو څخه يې استفاده کولای شو د انګلستان د نامتو سياستمدار چرچيل د جنازې مراسم او په توکيو کې د المپيک لوبې په خپله په خپلو سترګو د پېښو په ځايو کې په داسې حال کې چې دا پېښې په خپل طبيعي جريان کې روانې وې وليدلې. ژوندي پروګرامونه د خپل معنوي ارزښت سره يو ځای په ډېره لوړه بيه هم تمامېږي. (CBS) تلويزيوني سټېشن ته چې د امريکې د کانګرس د څلورو ورځو ويناوې يې ثبت کړې وې، خپل دغه کار تقريباً د يو ميليون ډالرو په بيه تمام شو.

سره د دې هم ځينې موارد شته چې ژوندي پروګرام ته زيات اړه پيدا کوي هغه به سپوږمۍ ته د انسان د ختلو غوندې پېښې وي چې هره لحظه او شيبه به يې خاص اطلاعاتي او علمي اهميت ولري.

د خبرونو تنظيم شوی پروګرام د ژوندي پروګرام هومره وخت نه نيسي، په دغه ډول پروګرام کې د وخت د محدوديت له مخې مواد په

(c) ketabton.com: The Digital Library



فشرده شکل سره تنظيم کېږي. د يوې مقايسې له مخې د خبرونو په نيم ساعت کې هغومره کلمات په کار اچول کېږي چې د نيويارک ټايمز د ورځپاڼې يو ساده مخ ورباندې ډکېږي. نو يو تلويزيوني خبريال د يوې ورځپاڼې د ټولو مطالبو يوازې يو کپسول وړاندې کوي. په نيم ساعت وخت کې د ورځپاڼې يو لوستونکی دومره کلمات په ذهن کې جذبوي چې يو نطاق يې په همدې دومره موده کې نشي ويلای. د ورځپاڼې لوستونکي کولای شي چې انفرادي موضوعات تر آخره پورې ولولي، دی کولای شي چې خپله مطالعه په هغو مطالبو کې متمرکزه کړي چې زياته علاقه ورسره لري. خو د راډيو اوريدونکي او د تلويزيون کتونکي دا چانس نه لري چې د خپلې خوښې وړ موضوع په خپله انتخاب کړي. د براډکاست شويو او چاپ شويو مطالبو تر منځ دا ډول توپير ايجابوي چې د تلويزيون د خبرونو تنظيم شوی پروګرام په خصلت باندې وپوهېږو. د خبرونو د پروګرام جوړوونکي له هر څه نه د مخه د وخت د محدوديت سره مخامخ وي. ورسره دی مجبور دی چې د کتونکو او اورېدونکو د پام ساتلو محدوديتونه هم په نظر کې ونيسي، نو دی بايد هغه ډول خبرونه انتخاب کړي چې زيات خلک ورسره علاقه لري، خو دی پوهېږي چې د دغه کار لپاره لږ وخت لري نو دی بايد په عاقلانه توګه فيچري شيان (هغه چې د ورځپاڼې په لومړي مخ کې نه چاپېږي) انتخاب کړي، کېدای شي له دې لارې څخه د ډېرو خلکو د علاقې مطالب برابر کړي.
سره د دې هم دی نشي کولای چې ټول خلک قانع او راضي وساتي. دی نشي کولای چې د ټولنيزو اړيکو د نورو وسيلو له ورځپاڼو، اخبارونو، خبري مجلو او نظرياتي مجلو په اندازه موضوعات راټول



او خپاره کړي. راډيو او تلويزيون نشي کولای چې ټول خلک په هر څه خبر کړي يا يې مصروف وساتي.
د خلکو اکثريت ته د دوی د خوښې وړ مطالبو د برابرولو په کار کې د امريکې د يو نامتو براډکاستر والټرکرانکيټ برينکلي (Walter Cronkite Brinkly) تګلاره ګټوره او په زړه پورې ده، هغه دا ده چې د تلويزيون لپاره د خبرونو د برابرولو لپاره بايد ورځپاڼې مطالعه شي په دې صورت کې به دی د سطحي قضاوت څخه ډډه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مــرکـــه

نن سبا د ډله ييزې مفاهمې په باره کې ډېرې زياتې خبرې کېږي چې انګازو او اغېزو يې ټوله نړۍ نيولې ده. مرکه يا مصاحبه د مفاهمې تر ټولو مهمه وسيله ده. له مفاهمې سره د مرکې رابطه د جسم او روح تر مينځ رابطې ته ډېره نژدې ده. همدا سبب دی چې مرکه په هر دم او قدم کې له مفاهمې سره ملګرتيا کوي.

موږ درې ډوله مفاهمې پېژنو چې يوه يې له خپلو ځانو سره مفاهمه (Interpersonal communication) ده. بله يې مخامخ مفاهمه (Inter personal communication). دريېمه يې ډله ييزه مفاهمه (Mass communication) ده. مصاحبه هم له مفاهمې سره په يوه شريکه لاره باندې د تګ له امله، دا درې واړه بڼې غوره کوي.

له خپل ځان سره مفاهمه، د هر چا په بدن کې د يو ډول برقي- کيمياوي Electrochemical عمل په ذريعه سرته رسېږي، د بدن دغه داخلي مفاهمه يا مخابره په حقيقت کې د انساني مفاهمې د ټولو شکلونو او ډولونو اساس دی. که په جسم کې دننه د رابطې او مفاهمې دا سيستم ګډوډ شي، نو د بدن هر يو ارګانيزم په پوره ډول د کار کولو وړتيا له لاسه ورکوي، ځکه چې چاپېريال له حالاتو څخه د ناخبرتيا په حالت کې د انسان کړه وړه بې خطره نه دي."

# اتم څپرکی

# مــــــــرکــــــــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه له خپلو ځانونو سره پخپله مرکه یا پخپله خپلو پوښتنو ته ځواب ورکونه په مخامخ او ډله ییزو مرکو کې اساسي رول لري. که موږ له یو شمېر مهمو کسانو سره د ډېرو مهمو موضوعاتو په باره کې له مرکو کولو نه دمخه پخپله خپلو ډېرو پوښتنو ته د مقدماتي مطالعاتو یا د مهمو اشخاصو د سوانحو د لوستلو له لارې ځوابونه برابر نه کړو، نو له هغو نامتو کسانو سره زموږ مرکې چې غتې پېښې وربادې تېرې شوې یا یې مهمې پېښې راپیدا کړې دي یا د پراخو او ژورو مطالعاتو او نظریاتو خاوندان دي بې مورده اوږدېږي.

د دې لپاره چې زموږ مرکه ډېره اوږده نه شي او په دې سبب زموږ ځینې ضروري پوښتنې بې ځوابه پاتې نه شي، په کار دي د هغه چا په باره کې چې ورسره مرکه کوو له خپل ځان څخه هم یو لړ پوښتنې پیل کړو، لکه: دی څوک دی؟ چېرې زېږېدلی دی؟ په کومو کومو ځایونو کې یې تحصیل کړی دی؟ څه کارونه یې کړي دي؟ مهم کارونه یې کوم کوم دي؟ په تذکرو، اخبارونو او مجلو کې دده په باره کې څه ډول معلومات خپاره شوي دي؟

دغو پوښتنو ته پخپله ځوابونه ورکول موږ ته ښيي چې دی څومره مثالي انسان دی چې له ده سره مرکه کول یو ضروري کار ګرځي. که چېرې یو خبریال د کار له دې طریقې څخه کار وانه خلي ښایي له یو نامتو او مهم شخصیت څخه دده لومړنۍ پوښتنه دا وي:

- که تاسې خپل ځان لوستونکو یا اورېدونکو ته وروپېژنئ دا به ستاسې مهرباني وي!

ډېر امکان لري چې په همدغسې یوه پوښتنه مرکه ځای په ځای ودرېږي، وړاندې لاړه نه شي، یا د هغې په خوندور طبیعي جریان کې



یو څه خلل پېښ شي، ښایي یو نامتو سړی داسې یوه پوښتنه د ځان سپکاوی وبولي او یا ښایي هغه د عالمانه ساده ګۍ او خاکسارۍ له امله خپل ځان، څنګه چې دی هغسې ونه ښیي.

تر مرکې دمخه د شخصیت او د موضوع په باره کې له ځانه د پوښتنو کولو او هغو ته د ځوابونو ورکولو لړۍ بالاخره یو داسې ځای ته رسېږي چې انسان بې ځوابه پاتې کېږي، دا هماغه ځای دی چې سړی له اړوند شخصیت څخه خپلې پوښتنې د ډېرو مهمو او په زړه پورې حقایقو یا مطالبو ترلاسه کولو لپاره پیل کوي.

د ګوربت مجلې د لومړي کال په دربیمه ګڼه کې له استاد محمد آصف صمیم سره مرکه په یوه ښه ټکي پیل شوې ده. وګورئ ددې مرکې لومړۍ پوښتنه څومره پر ځای ده چې اصلي موضوع ته د ځان رسولو هڅه په کې ځان ښکاره کوي. پوښتنه دا ده:

"درون استاد صمیم صاحب، تاسې د یوې پښتو او کره پښتو په دودولو کې ډېرې هڅې کړې دي. تاسې یې نوي او ځوان کول ته د خپلولو څه وړاندیز لرئ؟"

په مرکه کې له دې پوښتنې څخه دمخه د صمیم صاحب د شخصیت د دوی د زده کړو او د دوی د تدریسي، علمي او ادبي خدمتونو په باره کې یوه مطالعه شوې ده، چې لنډیز یې د دې مرکې په پیل کې پخپله د خبریال له خوا لیکل شوی دی او دې ته ضرورت نه دی پېښ شوی چې له صمیم صاحب څخه په خپله دده د شخصیت په باره کې پوښتنې وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوښتنې لومړنۍ برخه يعنې دغه مطلب چې "درون استاد صميم صاحب تاسې د يوې پښتو او کره پښتو په دودولو کې ډېرې هڅې کړې دي... " په زړه پورې هڅوونکی اړخ لري چې په يوه مرکه کې يو شخصيت ښه په خبرو راوستلی شي. زما له نظره ددې مرکې لومړنۍ پوښتنه له دې حيثه هم ډېره يوه کاميابه پوښتنه ده.

په فني لحاظ دا مرکه يو بل غوره خصوصيت هم لري هغه دا دی چې په مرکه کې د پوښتونکي او ځواب ويونکي د تجربو ساحې سره اوبدل شوي دي. دغه خصوصيت ددواړو خواوو تر مينځ افهام او تفهيم آسانه کړی دی. يعنې دا چې د يوې پښتو او کره پښتو ميلان د دواړو خواوو د خبرو سبکونه يا ستايلونه سره يو شانته کړي دي. داسې يوه موضوع د يوې مرکې په کاميابولو کې ډېر لوی لاس لري.

په خپل ژوند کې مې د داسې يوه مرکې ترخه تجربه کړې ده، چې په هغې کې د پوښتونکي او ځواب ورکوونکي د تجربو ساحې يوه له بلې ځخه ليرې پرتې وې. زه، زما د ځوانۍ په يوه مرحله کې، د هغه وخت د کابل پوهنتون رئيس پوهاند اصغر ته، د اصلاح ورځپاڼې د خبريال په توګه استول شوی وم، چې استادانو ته د علمي رتبو په باره کې ورسره مرکه وکړم. دا کار په افغانستان کې نوی پيل کېده، موضوع ډېره مهمه وه، د مرکې لپاره سوالونه هم مرحوم محمد ابراهيم عباسي چې هغه وخت د اصلاح ورځپاڼې مسؤل چلوونکی و، د يو کاغذ پر مخ وليکل او ما ته يې راوسپارل. پوهاند صاحب وخت راکړ. خو له بده مرغه زما او دده د تجربو ساحې ببلې ببلې وې. ده په روانه دري ژبه خبرې کولې او زما دري دده له نظره کړکيچو وه. د



علمي رتبو موضوع داسې وه چې بايد ده په دې باره کې ماته (له ابتدا ځخه نيولې تر انتها پورې) زيات معلومات راکړي وای دومره هم نه. ما بايد د موضوع ابتدايي معلومات دمخه برابر کړي وای يا عباسي صاحب هغه ماته ښودلي وای.

مرکې خوند ونه کړ، پوهاند صاحب ورو ورو خپله خواشيني او ستوماني ښودله، زما يو ځو پوښتنو ته يې سرسري ځوابونه راکړل بالاخره يې زما د يوې پوښتنې په ځواب کې راته وويل: "په دې باره کې به زموږ اداري ځانګې تاسې ته معلومات درکړي، لطفاً هلته ورشئ " زه وپوهېدلم چې د چا خبره هسې مې تر ځان تېروي.

د پوهاند صاحب تليفوني پيغام زما بايسکل ځخه ډېر ګړندی و، تر ځو چې زه دفتر ته رسېدلم دده يوه خبره دمخه هلته رسېدلې وه. هغه دا وه:

"شخصې را بمن فرستاده بودی که لا اقل طرز صحبت کردن را نميدانست... "

د پوهاند دې خبرې زه مايوس نه کړم او نه يې زما په باره کې د عباسي مرحوم زړه سوړ کړ. بل وار په نظر کې وو چې زه د پوهنې د هغه وخت له يو وزير ډاکټر انس خان سره مرکه وکړم. پخوا له هغه چې زه ورسره مخامخ شم، ما د انس خان د شخصيت او سايکالوجۍ په باره کې او همدارنګه د مرکې د موضوع په باره کې مقدماتي معلومات تر لاسه کړل. کله چې زه او دی د يوې مرکې لپاره سره مخامخ شوو ما ده ته وويل: "زه په دري ژبه هغسې چې په کار دي، رواني خبرې نه شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای، که اجازه راکوئ نو زه به خپلې پوښتنې په پښتو ژبه کې وکړم..."

زما په دې خبره دی لږ څه وارخطا شو، خو ژر یې ځان سنبال کړ. ویې ویل: "تاسې بالکل په پښتو پوښتنې کولای شئ، خو زه به ستاسې ځوابونه په دري ژبه کې درکوم".

هماغسې وشول سره له دې چې ژبې سره جلا وې خو د تجربو په ساحو کې بېلتون محسوس نه و، ځکه چې ما په موضوع کې دمخه یو څه مطالعه کړې وه، یا به دا ووایم چې له ځان نه مې پوښتنې کړې وې او هغو ته مې پخپله ځوابونه لټولي وو.

دې کامیابې تجربې ماته د مرکو کولو په کار کې ښه پرمختګ راوباښه، په دې لړ کې زه له یوه داسې علمي شخصیت سره هم مخامخ شوم چې له هغه څخه پوښتنې کول په هېڅ وجه هم آسانه او ساده کار نه و. دا شخصیت د کابل پوهنتون د علومو پوهنځي رئیس د هېواد نامتو علمي څېره پوهاند عبدالغفار کاکړ و. دی په ویانا کې د اتومي انرژۍ په باره کې له یوې غونډې څخه راستون شوی و. د اتومي انرژۍ په باره کې له یو نامتو فزیک پوه سره خبرې کول هغه وخت آسانه خبره نه وه، خو زه دې موضوع دومره په وېره کې نه وم اچولی هغه په دې چې ما پخپله په اصلاح ورځپاڼه کې د اتومي انرژۍ په باره کې په آسانه اخباري ژبه ځینې مقالې ولوستلې.

کله چې زه ورغلم پوهاند صاحب په مینه زما هرکلی وکړ، د چایو یوه پیاله یې زما مخې ته کېښودله، بیا یې راته وویل: "وارخطا کېږه مه، زه خپل شاګردان ډېر آسانه پوهولای شم..." دا خبره یې چې



وکړه د یوې الماري مخې ته ودرېد د هغې له یوې برخې څخه یې څو رسالې او مجلې راوایستلې، هغه یې په مېز واچولې ورسره یې وویل "دا ستاسې یو ځواب". بیا ورغی د الماري له یوې بلې برخې څخه یې څه نور کتابونه راوایستل ویې ویل "دا یې ستاسې بل ځواب". د یوې بلې برخې نه یې څه نور کتابونه هم راوایستل ویې ویل "دا به هم ستاسو پوښتنو ته ځوابونه ووایي ښه اوس نو خپلې پوښتنې کوه..."

رښتیا به وایو د پوهاند صاحب دې حرکاتو زه یو څه وارخطا کړم، د یو ښه دوستانه ماحول د پیدا کېدو لپاره مې وویل:

- "اورېدلي مې دي چې ویانا ډېر ښه ښار دی، هیله ده هلته ستاسې غونډه په ښه توګه سرته رسېدلې وي"

د پوهاند صاحب ځواب په بله خوا روان شو:

- یه! یه! زموږ غونډه په زړه پورې نه وه. دا سیاستمداران هم عجیب خلک دي. په هېڅ شي قانع نه دي، ښې ښې نجونې او ښه ښه... دوی ته رسېږي، موږ خو د سیاست میدان دوی ته پرې اېښی دی، دوی بیا راځي زموږ علمي غونډې هم اخلالوي... په کنفرانس کې د اسرائیلو او عربو تر مینځ شخړې راپیدا شوې، دوی زموږ علمي مجلس له جنجالونو څخه ډک کړ.

د پوهاند خبرې تر دې هم اوږدې شوې، ما په داسې حال کې چې د پوهاند خبرو ته مې غوږ نیولی له ځان سره مې هم محاسبه کوله، خپل دې مسولیت ته ډېر متوجه وم چې بې ځایه پوښتنه مې کړې ده، ځکه خو د پوهاند خبرې په بله لاره روانې دي. نو مې په یوه مناسبه وقفه کې د پوهاند صاحب خبرې ورپرې کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"- پوهاند صاحب زه باور لرم چې تاسې په کنفرانس کې له اټوم څخه د سوله ییزې استفادې په باره کې د افغانستان دریځ په ښه توګه څرګند کړی دی، لطفاً په دې باره کې راته یو څه ووایئ."

- هو ! ما په دې علمي غونډه کې هغه ساحې وشمېرلې چې هلته له اټومي انرژۍ څخه استفادې ممکنې او ګټورې دي.

- په دې باره کې د عملي اقداماتو څه هیله کېدای شي او که نه؟

- هو ! کېدای شي ما مخصوصې کومیټې ته سپارښتنه وکړه چې افغانستان ته خپل یو هیات راواستوي او زموږ هېواد له اټومي انرژۍ څخه د سوله ییزې استفادې له نظره مطالعه کړي. دوی زما دغه سپارښتنه په علاقه مندۍ سره ومنله. زه هیله لرم چې په نژدې راتلونکي کې به دغسې یو هیات راشي...

د پوهاند صاحب وروستنی ځواب ماته هغه موضوع په لاس راکړه چې ما د خپل رپوټ په لیډ کې راوستلی شوای. نورې خبرې یې په تفصیلاتو کې راغلې. د سیاستمدارانو تر مینځ شخړې د لاندې په پس منظر کې ولوېدې...

بښنه غواړم. خبرې را څخه یو څه اوږدې شوې، چاره نه وه. زما د ځینو تېروتنو او تجربو یادونه ضروري هم وه. رابه شو خپله موضوع به بیا راونیسو. د ګوربت مجلې له یو شمېر ډېرو مهمو شخصیتونو لکه پوهاند اکاډمیسن رشاد، ډاکټر عبدالوکیل، ډاکټر راج ولي شاه خټک، مولوي محمد یونس خالص او نورو سره مهمې او ډېرې په زړه پورې مرکې کړې دي. خو په فني لحاظ له ډاکټر عبدالولي وردګ او



استاد صمیم سره مرکې یې په خاصه توګه د یادونې وړ دي، ځکه چې خبریالانو د مرکو تر پیل کېدو دمخه د موضوعاتو او هم د هغو شخصیتونو په باره کې یو څه مخکینۍ مطالعې کړې دي او د پوښتنو ټول بار یې د هغو کسانو په اوږو نه دی اچولی چې مرکې ورسره شوې دي.

تر دې ځایه موږ له خپل ځان سره د مفاهمې او مصاحبې په موضوع او د هغې په ضمن کې، د تجربو د ساحو د یو شان ته کېدو په باب په لنډه توګه بحث وکړ. خو که چېرې له ډله ییزې مفاهمې سره د مصاحبې اړیکي له نظره واچوو نو زموږ موضوع به په هرلحاظ نیمګړې پاته شي.

ډله ییزه مفاهمه د مفاهمې له دوو نورو شکلونو څخه څو غټ توپیرونه لري. په دې مفاهمه کې اورېدونکي، لیدونکي یا لوستونکي یو کس نه دی، بلکې عام ولس یا عام ولسونه یې مخاطبین ګڼل کېږي. له ځان سره د مفاهمې یا د مخامخ مفاهمې لاره لنډه نور څوک یا نور شیان د استوونکو او اخیستونکو تر مینځ بندیزونه نه لګوي. خو په ډله ییزه مفاهمه کې ګېټ کیپران ( Gate keepers) د خرڅګیرانو یا پاټک والانو په څېر، د مفاهمې یا مخابرې جریان له بېلابېلو خنډونو سره مخامخ کوي، دا ګېټ کیپران هغه کسان دي چې د مفاهمې مواد او وسایل، د کار په جریان کې، لاس په لاس ګرځوي او هغه تخنیکي وسایل هم په ګېټ کیپرانو کې راځي چې د مفاهمې یا ابلاغ مواد لاندې باندې کوي یا یې له یو شکل څخه په بل اړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغو وقفو له امله چې ګېټ کیپران یې د ډله ییزې مفاهمې په جریان کې را پیدا کوي، په دې ډول مفاهمه کې د غبرګون پروسه یا په فني اصطلاح فیډبیک (Feed back)، د مفاهمې د دوو نورو اشکالو د فیډبیک په نسبت ځنډنی کوي. یعنې یو راپورټر، یا یو نطاق یا یو لیکوال د خپلې لیکنې، وینا یا مرکې له انعکاس څخه ژر نه خبرېږي. کېدای شي چې د تخنیکي وسایلو او نورو امکاناتو په پراختیا سره د ډله ییزې مفاهمې فیډ بیک یو څه ګړندی شي. په دې ساحه کې د امریکې ږغ راډیو د افغانانو لپاره د مرکو د ځینو پروګرامونو په جوړولو کې یو څه پرمختګ کړی دی. ځکه په دې پروګرامونو کې ډېر ځله د نظریاتو انعکاس ډېر ژر اورول شوی دی. په دې وختو کې د پاکستان تلویزیون د ځینو نورو تلویزیونونو په تقلید د مرکو داسې پروګرامونه کله کله وړاندې کوي چې په هغو کې غبرګون یا فیډبیک څه ناڅه ګړندی شوی دی. مثلاً دوی کله کله د یو ایالت ګورنر یا د مرکزي کابینې کوم وزیر تلویزیون ته وربولي او د یو ژوندي پروګرام له لارې هغه له خلکو سره مخامخ کوي. یو زیات شمېر ژورنالیستان پوهان، سیاست وال او نور خلک ورته مخامخ ناست وي، ګورنر یا وزیر د حاضرینو پوښتنو ته ځوابونه وایي. له ټولنې څخه هم د تیلفون یا ای مېل له لارې پوښتنې راځي چې ځوابونه ورته ویل کېږي.

دلته ددې مطلب په راوړلو سره زما مقصددا نه دی چې د ګوربت غوندې یوه بې وسه دوه میاشتنۍ مجله دې حتماً د خپلو مطالبو د لوستلو لپاره د تلویزیون د کتونکو په څېر هغومره ډېر خلک ولري او بیا دې د دوی تر مینځ فیډبیک هم ډېر ګړندی وي، خو



ددې مجلې ځوان او ډېر فعال کارکوونکي دا کولای شي چې د مصاحبې لپاره د هرې یوې پوښتنې د جوړولو په وخت کې د زرګونو علاقه مندانو اړتیاوې، غوښتنې، احساسات، ذوقونه او د دوی احتمالي عکس العملونه په نظر کې ونیسي.

تکړه ژورنالیستان د مهمو او په زړه پورې حقایقو د ترلاسه کولو په مقصد د مهمو پوښتنو د تخلیق لپاره له خپلو ځانونو سره ژورې مفاهمې او مصاحبې ته ډېر زیات ضرورت لري. زما هیله دا ده چې د ګوربت مجلې مرکه کوونکي هم له دې لارې داسې پوښتنې تخلیق کړي چې د ډېرو خلکو د غوښتنو یا هیلو ترجمانې وکړي او ډېرې خولې ورباندې آفرین ووایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهم څپرکی

# ادب او ژورنالیزم



## ادب او ژورنالیزم

د افغانستان يو ښه فيچر ليکونکي سراج وهاج هغه وخت چې د کابل د مشهورې ذوقي مجلې "ژوندون" مسؤل مدير و، د "عکسونه خبرې کوي" تر عنوان لاندې يې ځينې داسې عکسونه چاپول چې هر يو يې د زرګونو الفاظو او کلماتو ارزښت درلود. يو عکس يې په يوه مېلمستيا کې د نامتو اديب مرحوم استاد عبدالروف بېنوا او د يو پخواني ژورنالست ښاغلی محمد خالد روښان له يو ملاقات څخه اخېستل شوی و. په دغه عکس کې ښاغلي روښان د خپل لاس څپېړه داسې پر اړخ سره پر مېز لګولې وه چې د دوی دواړو تر منځ يې د يوه دربدلي دبوال حالت غوره کړی و. په عکس کې څرګندېده چې روښان-بېنوا ته خپلې دواړې سترګې نېغې نيولې دي او د مرحوم بېنوا څېرې د حيرانتيا بڼه لرله.

تر دغه عکس لاندې يو ډېر لنډ مطلب ليکل شوی و او هغه هم د ښاغلي روښان له خولې څخه وتلې دا خبره وه چې "بالاخره ژورناليزم له ادبياتو څخه خپله لاره بېلوي..." له هماغه وخته تر نن پورې په ځينو ليکوالو کې داسې انګېرنه پيدا شوې ده چې ګواکې د ژورنالستيکي او ادبي ليکنو تر منځ لوی واټن شته؛ خو حقيقت داسې نه دی. يوازې د تنوع او ويرايتۍ په کوڅو او دهليزونو کې ژورنالستيکي ليکنې له سمبوليکو او علاماتي ادبياتو څخه خپله لاره بېلوي. خو د ادب له

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوکاټ څخه نه وځي. لکه څنګه چې په یوه دهلیز کې شعر او شاعري، ناولونه، لنډې کیسې، ډرامې او داسې نور ادبي اصناف یو له بل څخه لاري بېلوي ژورنالیزم هم تر هماغه دهلیز پورې له نورو ادبي اصنافو سره د خپلو هنري په تېره بیا د فیچري لیکنو په مرسته ملګرتیا کوي. فیچري لیکنې په حقیقت کې د ادبیاتو یو بل تکاملي پړاو رانښيي.

فیچر (Feature) د لاتیني ژبې (Facture) څخه اخیستل شوی دی. په انګریزي کې دا لفظ د بڼې، څېرې، شکل بېلوونکې نښې، فارقه علاقې، ننداري او ښوونې معناګانې لري. د ژورنالیزم زیاتره استادان وايي چې فیچري لیکنه یوازینۍ وسیله ده چې له الیکټرانیک ماس میډیا (راډیو- تلویزیون) سره یې د مطبوعاتو اخبارونو او رسالو، سیالي برابره ساتلې ده. یو پاکستانی لیکوال عبدالله ملک وايي چې "فیچر د ادب او صحافت امتزاج دی". مجیب الرحمن شامي لیکي چې د واقعاتي حقایقو داسې ډول یو رپورټ چې انشايي ښکلا ولري فیچري بلل کېږي. ضیاء الاسلام انصاري لیکي دا فیچر دی چې د راډیو او تلویزیون د چلنج په وړاندې یې اخبارونه ژوندي ساتلي دي او دا صنف د ژورنالستیک اسلوب او تکنیک ډېره کامیابه بڼه ده.

د ژورنالیزم یو افغان استاد پوهاند حبیب الرحمن هاله یو فیچري خبر داسې راپېژني چې که د یوې پېښې په باره کې، که څه هم هغه دومره جدي نه وي په خاص ادبي مهارت سره داسې یو ډراماتیک خبر ولیکل شي چې هغه زیاته توجه راجلب کړي نو دا به یو فیچري خبر وي. مثلاً: که د کابل په ده افغانانو باندې د ویشتل شوي راکټ له پېښې څخه څو ډوله خبرونه جوړېږي نو فیچري خبر به د



هغې ښځې په باره کې جوړېږي چې پر لېچو یې د سرو زرو د وښیو تر څنګ د سرو وینو بنګړي هم جوړ شوي وي. په فیچر لیکنه کې هم له ادبي او هم له ژورنالستیکي مهارتونو څخه کار اخیستل کېږي او پېښو او پدیدو ته په ژور نظر کتنه دغو مهارتونو ته وده ورکوي. که څه هم یو ښه فیچر لیکونکی ښه راپورتر کېدای شي، خو ځینې ښه راپورټران شته چې فیچر لیکونکي نه دي. ډېر داسې خبرونه خپرېږي چې د خبر لیکونکي نوم ورسره نه لیکل کېږي خو له فیچرونو سره د لیکوالو نومونه لیکل کېږي ځکه چې فیچرونه د ممتازو ژورنالستانو او تکړه لیکوالو له خوا لیکل کېږي، فیچر لیکنه بې نقشې او بې پلانه کار نه دی. تل فیچرونه په ژوندي او جالب عبارت سره چې لوستونکو ورجلبوي پیلېږي. په فیچر کې جالب مطالب داسې یو له بل سره اوبدل کېږي چې دا په زړه پورې لړۍ له شکېدو څخه ساتي. د فیچر لپاره یو روښانه سکېچ جوړېږي او په هغې کې هغه په زړه پورې ضروري حقایق تحلیل او تجربه کېږي چې د فیچر لیکلو باعث ګرځي. د فیچر موضوع باید داسې وي چې خلک ورته لېوالتیا ولري. نه داسې موضوع چې یوازې لیکوال یا ژورنالیست ته په زړه پورې وي.

**د فیچر یوه نمونه:**

د "Refugee" مجله چې په ژنیو کې له مرکزي دفتر څخه خپرېږي. کله کله د نړۍ د لالهاندو، ستومانو، پرېشانو او مایوسو مهاجرینو حالات په عاطفه پاروونکې فیچري بڼه هم لیکي. د دې مجلې په یوه ګڼه کې داسې یو لنډ فیچري خبر خپور شوی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حبشي ځخه راغلی یو تور پوستی مهاجر ۲۷ کلن "انډامکاسا" چې ټوله شپه یې د نیویارک په هوټل کې کار کاوه او د هوټل صفایي یې لوی کار و، د خپلې مزدورۍ پیسې ډېرې ټینګې ساتلې. دی یوه ورځ په واشنګټن کې د UNHCR دفتر ته ورغی خو دا ځل ده د ځه غوښتلو لپاره لاس وړاندې نه کړ، بلکې هغه یې په خپل جیب وواهه او زر ډالره یې ورځخه را وایستل. ده دا پیسې د دفتر مشر ته ونیولې ویې ویل:

واخلئ! دا پیسې د افریقا مهاجرینو ته یې ورسوئ. ده د پیسو د سپارلو په وخت کې دومره وویل چې دا دومره پیسې نه دي چې د مهاجرینو د نړیوالې مؤسسې ځلور کاله د مخه په کمپیونو کې په ده باندې لګولې دي. کله چې د ده خوله وپلټل شوه نو نورې خبرې هم ورځخه راووتلې ده وویل: زه ۹ کلن وم چې مارکسېسانو زما په هېواد کې واکمني تر لاسه کړه. دغه انقلاب زما او زما د کورنۍ لپاره لویې ربړې پیدا کړې. زما پلار د حبشي په ختیزه خوا دهاربیچ په سیمه کې د قهوې یوه کرونده او پینځه کورونه درلودل. ده به له نورو بزګرانو ځخه هم قهوه په بیه رانیوله. ښار ته به یې د خرڅلاو لپاره وړله مارکسېستان راغلل زما د پلار د ګټو وټو مخه یې ونیوله ورسره یې دا وویل: که انقلاب لاره داسې وي نو....

ده ته هېڅ شی پاتې نه شول، له دغه امله لېونی غوندې شو. عقلي او عصبي ډاکټر د ده تداوي پیل کړه. خو ناروغي یې کمه نه شوه لا زیاته شوه.

پلار مې یوه شپه لوی چاقو راواخیست زما په مور او ورور یې حمله وکړه، دواړه یې ووژل. پولیسان راغلل دی یې د بندیخانې په لور راوان کړ. په دې توګه په هماغه شپه یو بل انقلاب راغی چې دغه



انقلاب زموږ په خپل کور کې تخریبي بدلون راووست. د دې دواړو انقلابونو په نتیجه کې ماته په خپل کور او خپل هېواد کې ځوک او ځه راپاتې نه شول زه ۱۳ کلن وم چې د مهاجرینو په لویه ټولنه ورګډ شوم.

دا فیچري خبر چې د یوې ښکلې افسانې رنګ او خوند هم لري، په ډېره ساده ژبه لیکل شوی دی. د دې د ساده ګۍ دلیل یوازې دا نه دی چې په هغه کې د یوې بېطرفه نړیوالې موسسې نشراتي پالیسي په نظر کې نیول شوې وه، بلکې په هغه کې د یوه خاص ژرونالیستک سبک پیروي شوې ده. په دې سبک کې حقایق د ښکلو الفاظو په لطیفو او وریښمینو پردو کې پټ نه دي ساتل شوي. د فیچر عاطفي جنبه ډېره قوي ده خو له استعارو او تشبیه ګانو ځخه په کې کار نه دی اخیستل شوی، بلکې د مخ لوځو حقیقتونو ځېرې په خپله هم جالبې دي او هم عاطفه پاروونکې. د دې خبرې معنی دا نه چې ژورنالستیکي سبک یا فیچري لیکنې، استعارې او تشبیه ګانې بې ارزښته ګڼې بلکې صحافي لیکنې په مناسبو ځایونو کې له تشبیه ګانو او استعارو ځخه کار اخیستل د فصاحت او بلاغت له ضروریاتو ځخه بولي. دغه به هغه موارد وي چې په لنډو الفاظو کې د یو جامع مطلب د ځرګندولو ضرورت پېښ شوی وي. خو دا استعارې او تشبیه ګانې باید ډېرې مبتذلې او سولېدلې نه وي بلکې هغه باید نورې ښې ولري او د نویو حقایقو ښکارندوی وي.

د ژورنالیزم پروفیسرانو د هغو خبرونو لپاره چې عاطفي جنبه یې زیاته وي د معکوس هرم شکل غوره کړی دی. دا ډول خبرونه کټ مټ د لنډې کیسې په بڼه لیکل کېږي. لکه ځنګه چې د لنډې کیسې په لیکنه کې پیاوړې تخیل ته ضرورت پېښېږي، په دې ډول لیکنه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم همدغسې یوه تخیل ته اړتیا زیاته وي. توپیر یې دا دی چې په لنډه کیسه کې فکتونه د تخیل په طاقت تخلیق کېږي، خو د فیچري خبر په لیکنه کې پیاوړی تخیل د داسې دقیقو سوالونو له تخلیق سره مرسته کوي چې د ځوابونو په میندلو سره یې مهم، په زړه پورې واقعي خو خیال انګیزه حقایق او واقعیتونه رابرسېره کېږي، له دې لارې داسې نادر، جالب او دلچسپ حقایق ترلاسه کېږي چې کله کله حتی د تخیل موشګافي هم ورته د حیرانتیا ګوته په غاښ نیسي. د ژورنالیزم استادانو د جدي خبرونو تر څنګ د فیچري لیکنو لپاره پرانیستې لاره پرې ایښې ده. له دې کار څخه د دوی مقصد دا دی چې د فیچري خبرونو له لارې هم د حقایقو لپاره د خلکو لوږه لیرې کړې او هم د دوی ادبي او هنري تنده ورباندې ماته کړي. له بلې خوا فیچري خبرونه د تکراري جدي خبرونو او نور مبتذلو موضوعاتو ستوماني له مینځه وړي. مثلاً: ترافیکي پېښې اوس په زیاترو ټولنو کې له تکراري پېښو څخه بلل کېږي، خو که د کومې ټرافیکي پېښې د یو خبر عنوان داسې وي چې "یوې غومبسې یا غالبوزې موټر چپه کړ" دا ډول عنوان به یوازې د یوې سمبولیکې کیسې عنوان نه وي بلکې هغه به په یوه ټرافیکي پېښه باندې د یوه فیچري خبر عنوان هم وي چې دغه ټرافیکي پېښه یې له نورو ورته پېښو څخه جلا کړې او له تنوع څخه په کې کار اخیستل شوی دی کله چې د دې ټرافیکي پېښې په باب ډېرې زیاتې او دقیقې پوښتنې شوې، په نتیجه کې ځینې حقیقتونه رابرسېره شوي دي چې ډراماتیک رنګ او خوند لري. په دې توګه د پېښې اصلي عامل یو کمزوری موجود (غومبسه) ده چې لوی او درون موټر یې چپه کړی دی. هغه څنګه؟ داسې چې غالبوزې یا غومبسې ډریور په لاس چیچلی او د ده اعصاب یې له کنټرول څخه



ایستلي نو موټر په حقیقت کې غومبسې چپه کړی دی. له بده مرغه دا یوازې غومبسې نه دي چې په حساسو وختونو کې ډریوران چیچي او اعصاب یې خرابوي، بلکې د اندېښنو او پریشانه افکارو لړمان او ماران تر غومبسو زیات، په حساسو لحظو کې انسانان له کنټرول څخه وباسي. موږ دلته د دوو داسې ډریورانو مثالونه وړاندې کوو چې د اندېښنو لړمانو او مارانو چیچلي او خپل موټرونه یې له نورو سره جنګولي دي. له یوې پېښې څخه د ژورنالیزم یو پروفېسر ډېر ښخوا یو فیچري خبر جوړ کړی دی او له بلې خوا یې زموږ یو ځوان ادیب سمبولیک وزمه کیسه جوړه کړې ده. د پروفېسر د فیچري خبر لنډه خاکه په دې ډول ده هغه چې نن له خپل کور څخه روانېده مېرمنې ورته وویل: احمده ! ته هره ورځ په یوه تیاره کې له کوره وځې په بله تیاره کې کور ته راځې. ستا کوچنیان د بابا نارې وهي خو تا نه شي لیدلی ځکه چې هغه ستا د وتلو او بېرته راتللو په وخت کې بیده وي....

احمد چې د خپلې مېرمنې دا خبرې واورېدې، څو شېبې په اندېښنو کې ډوب شو، بیا یې یوازې دومره له خولې ووتل:

دا به، که د خدای رضا وه، کور ته زما وروستنی ناوخته راتګ وي. د احمد اصلي کار او دنده معلمي وه. خو په خپله تنخوا یې ګوزاره نه کېده، نو دی مجبوره و چې د معلمۍ له وخته وروسته ټکسي هم وچلوي. په دغه ورځ چې دی له خپل کور څخه ووت یوه ټوټه لار یې وهلې وه چې پر یو بل موټر مخامخ ورغی. دواړه موټران سره ټکر شول. په نتیجه کې د احمد دا خبره رښتیا شوه چې "دا به یې خپل کور ته وروستنی ناوخته ورتګ وي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې سمبولیک وزمې کیسې لنډیز چې زموږ ځوان ادیب زرین انځور لیکلې او د سپېدې په مجله کې خپره شوې ده، په دې ډول دی:

"...په یوه زاړه مهاجر شوي موټر باندې، د ده له طاقت څخه زیات بار وړل کېده، د ده خپلې خوښې ته نه کنټرول کېدل او د ده د میل په خلاف زیات چلول کېده. دی د ماهیپر د یخو اوبو په ارمان و ځکه چې د دغه ځای په تودو اوبو د ده تنده نه ماتېده او زړه یې نه ورباندې یخېده د یخو اوبو لپاره د همدغسې یوې تلوسې او اندېښنې په وخت کې ناري شوې.

یاالله خیر !

خیر یا الله !

او د سورلیو له همدغو کړیکو سره، دی له یو تور عسکري ګاډي سره مخامخ جنګېدلی و. لکه چې غلام صابر استاد هم د خپل بنز په څېر همدغو سوچونو له ځان سره بیولی و.

د کیسې له پای څخه څرګندېږي چې اصلي پرسوناژ، غلام صابر استاد دی چې د یو جامد او بې شعوره موټر د زړه یا دماغ په حیث د موټر د خوږمنو احساساتو مرکز دی. او د موټر د ټکر ذمه واري په غاړه لري. اصلي مسؤلیت بیا هم د ده د پرېشانه افکارو ته راجع کېږي.

حقیقت دا دی چې پرون زموږ او نورې نړۍ لپاره ترافیکي پېښو ډېره تکراري جنبه درلوده. سره له دې هم یو شمېر حساسو لیکوالو نه غوښتل چې له هغو څخه راپیدا شوې ډېرې غمجنې خاطرې تېرې او هېرې شي. چا هغه په فیچري سبک لیکلې او ځینو نورو ډول ډول کیسې ورڅخه جوړې کړې دي. مګر اوس له بده مرغه



زموږ په هېواد کې، د وژنو په میلونو پېښې له ترافیکي پېښو څخه زیاتې تکراري شوې دي. هغه وخت چې موږ له خارجي دښمنانو او د دوی له ګوډاګیانو سره په مخامخ جګړه بوخت وو، نو وژنو د ویاړ یا د زړه د یخېدو بڼه درلوده. تنظیمي یا حزبي خپرونو له دومره زیاتو شهیدانو څخه د ډېرو لږو کسانو لنډې سوانح ولیکلې او د شهادت خاطرې یې د تاریخ حافظې ته وسپارلې د دې شهادتونو ډېر مهم خصوصیات او عاطفه پاروونکي جزئیات ډېر کم په فیچرونو او نورو ادبي اثارو کې منعکس شول. چې له ځینو څخه یې سمبولیکې کیسې هم جوړې شوې چې په هغو کې د بهرنیو انګېزو پر ځای له داخلي او روحي کشمکشونو څخه زیات کار اخیستل شوی دی. یو مثال یې یوې ادبي، انتقادي غونډې ته د ځوان لیکوال ایمل پسرلي د (درې په درې) سمبولیکه کیسه ده چې په هغې کې د یو قاتل په ضمیر کې د خیر او شر تر منځ د یوې شخړې څېره په ښه توګه ایستل شوې ده.

که څه هم شعرونه او سمبولیک منثور آثار د ادبیاتو له ډېرو ښکلو اصنافو څخه دي خو د هغو هنري چوکاټونه داسې جوړ شوي دي چې د مهمو حوادثو ټولو مهمو او جالبو جزئیاتو ته انعکاس نه شي ورکولی. له بلې خوا د ځینو پېښو ماهیت او خصلت داسې دی چې په هغو کې خارجي عوامل تر داخلي یا روحي جهان توپاني او بحراني زمانې د ټولو اجتماعي او نفسیاتي ماهیتونو د تجسیمولو لپاره یوازې د ادب سمبولیکه ژبه کافي نه ده. بلکې په واضحه او روښانه ژبه د حقایقو څرګندونه له لومړنیو ضروریاتو څخه بلل کېږي، که چېرې د سپینو خبرو لپاره امکانات موجود نه وي نو بیا د زړونو د سپکولو لپاره سمبولیکې لیکنې وروستنۍ چاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یو تصادف له مخې د دې موضوع د لیکنې په وخت کې د پاکستان د انګریزي ورځپاڼې "نیوز" هغه ګڼه تر لاسه شوه چې د کراچۍ د "بزم علم و دانش" له خوا د یوې جوړې شوې علمي او ادبي غونډې رپورټ په کې خپور شوی و. دا غونډه د یو پاکستاني لیکوال سعید پرویز د لنډو کیسو پر مجموعه "بازیګر" باندې د بحث کولو لپاره جوړه شوې وه، لومړنۍ موضوع چې په دې غونډه کې بحث کولو ته وړاندې شوه دا وه چې د سبمولونو، استعارو او تشبیهاتو په کار اچول په قصدي توګه د مفاهمې په لاره کې خنډونه اچولي دي. اوس چې په پاکستان کې مارشالا نه شته نو بیا حقایق ولې په بربنډ ډول بیان نه شي.

ما ته د دغه مطلب په لوستلو سره د افغانستان د "غوره نثرونه" د لیکوال مرحوم استاد ګل پاچا الفت داسې یوه لیکنه سترګو ته ودریده:

"ښځه" او "خبره" دواړه د تانیث علامې لري..اوس چې زمانې د ښځو مخونه لوڅ کړي دي خبرې هم باید له پردې څخه راووځي...

پخپله الفت صاحب د ویښو زلمیانو د تحریک د چلېدو په وخت کې یو خاص خوندور ادبي او انتقادي سبک درلود چې د سمبولیک نثر رنګ یې زیات و. خو کله چې دی له خپل ملي او اصلاحي نظر سره د ډیموکراسۍ لسیزې ته راورسېد او د خپل هېواد په پارلمان کې کېناست، نو بیا یې نه غوښتل چې د زړه د خبرو مخونه په رنګینولو پټو او یا پوړني کې پټ وساتي.

په سیاسي ملاحظو سربېره ځینې نور دلایل هم شته چې د هغو له مخې ځینې کسان د خپلو خیالاتو او زړه د پټو خبرو د بیانولو لپاره سمبولیک ادب غوره ګڼي او کله کله ورته ضرورت هم لري. مثلاً د



تماس مجلې په ٤-٥ ګڼه کې د ښاغلي نظر پاییزي د "وینې" په نوم افسانې اصلي موضوع (Theme) د یو لړ اجتماعي مشکلاتو په وجه له سمبولیکې ژبې څخه پرته په بل ډول نه شي بیانیدلی. خو ځینې کسان بې له دې چې ضرورت په نظر کې ونیسي یوازې د تفنن لپاره سمبولیکې افسانې لیکي. دا غالباً هغه کسان دي چې هر شي ته د ښکلا او خوند له نظره ګوري. یوه امریکایي لیکوال (Enroflhone) د لنډو کیسو په باره کې لیکلي دي: د کلماتو تحت الفظي معناوې د انسان د فکر او احساس د بیانولو لپاره کافي نه دي. د افسانو ژبه باید له داسې استعاروي ذرایعو څخه ډکه وي چې د افسانو سبک ته ښکلا وبښي او هم په کې ژور والی راولي. دا ذرایع سمبول، استعاره، قیاس اغراق مبالغه او داسې نور دي. له بلې خوا په هغه ادبي سیمینار کې چې څو کاله دمخه، په مشترکه توګه د آزاد افغانستان د لیکوالو د اتحادیې او د افغانستان د کلتوري موسسې له خوا جوړ شوی و. یو شمېر ځوانو لیکوالو "ابهام" د لنډو کیسو لپاره یو مهم عنصر وباله څو چې لنډې کیسې د بېدل او کاظم خان شیدا د اشعارو مقام ته هسکې کړي.

دا پر خپل ځای کې یو ښه نظر دی چې په معاصرو ادبیاتو کې د کلاسیکو ادبیاتو خوند او عظمت وساتل شي، خو د دې خبرې ضرورت هم ډېر زیات محسوس دی چې اوسني انسانان چې د ډول ډول رنځونو په زمانه کې ژوند کوي، یوې داسې روښانه ژبې ته ضرورت لري چې د ژوندانه ډېره تیاره ګوټونه ورباندې راڅرګند کړل شي.

دا بده خبره نه ده چې سمبولیک ادب د "ژورو فکرونو او لوړو خیالونو" د خاوندانو د کلاس یا قشر په خدمت کې مصروف وساتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي. خو دا هم ډېره ښه خبره ده چې ژورنالیزم ته موقع ورکړل شي چې د خپلو خبرې فیچري لیکنو له لارې د عامو خلکو د فکري تغذیي او هنري تندې ماتولو لوی او درونډ کار په غاړه واخلي.

د ژورنالیزم فیچري ستایل غواړي ټولې ادبي ښکلاوې په خپله ارته لمن کې راټولې کړي. خو له ابهام، اغراق او مبالغې څخه ډډه کول یې اصلي کار دی.

ژورنالیزم هم د هغو افرادو د روحي عالم (Internal) او خارجي (External)ماحول د عکاسۍ او انځورنې سره علاقه لري چې مهمې پېښې یې راپیدا کړې وي او یا مهمې پېښې وربانډې راغلې وي. خو دا کار د خیالي دنیا جوړولو له لارې نه کوي بلکې د خپلو ډېرو زیاتو او دقیقو پوښتنو په مرسته واقعي دنیا تمثلیوي او تجمیلوي یې، په ژورنالیزم کې حقایق تر الفاظو مقدم او مخکښ دي. که څوک وکولی شي چې ډېر تازه دقیق او رقیق حقایق را پیدا کړي د هغو لپاره پخپله مناسب موافق او ښایسته الفاظ راپیدا کېږي. که څوک پخپله په دقت سره د کونډو او یتیمانو اوښکو ته وګوري نو د اوښکو په هر څاڅکي کې به داسې رڼاګانې او منظرې وګوري چې د هغو د بیانولو، تمثیلولو او تجسیمولو لپاره به مستقیماً داسې تازه، نادر او ښکلي الفاظ، استعارې او تشبیه ګانې ورته پیدا شي، چې د ده لیکنې ته به نوی رنګ او خوند وروبښي. د ژورنالیزم فیچري سبک له هغو استعارو او تشبیه ګانو څخه مرسته غواړي چې یقیناً له فصاحت او بلاغت سره مرسته کوي. که داسې نه وي نو د ژورنالیزم له نظره مهم او په زړه پورې حقایق خاصه ښکلا لري چې د بې ځایه استعاروو او تشبیه ګانو هغو خالونو او نکریزو ته ضرورت لري چې طبیعي ښکلا ته نور رنګونه ورکوي. د ژورنالیزم له نظره له بې ضرورته سمبولونو،



استعارو تشبیه ګانو او کنایو څخه ډکه لیکنه د داسې منقوشو هېندارو یا ښیښو حیثیت لري چې په خپله ډېر ښایسته وي خو د باغونو او د باغچو د ګلانو ښکلاوې یا یې اغزي له نظر څخه پټ ساتي او دا هغه ضروري شیان دي چې په هېڅ وجه باید پټ او پټ مخي پاتې نه شي.

## د ادب له ژبې سره د مطبوعاتو د ژبې رابطه

کومه بلیغه، فصیحه، صریحه، له ابهاماتو خلاصه، موجزه، ساده او آسانه ژبه چې ادبي فنون یې پیشنهادوي هماغه ژبه د مطبوعاتو ژبه هم ده، البته کله کله قالبونه او ظروف د دواړو ژبو ترمنځ بیلتون راولي او د شعر ژبه د خبر له ژبې څخه جلا کوي.

د حقایقو او واقعیتونو له موضوع سره په ارتباط، کې د دواړو ډوله ژبو لارې سره بیلې دي هدفونه یې شریک دي. د ادب ژبه د یو حقیقت د تمثیلولو لپاره د الفاظو قیمتي تابلو جوړوي مګر د مطبوعاتو ژبه کې یې د لاسه پوره شي د هماغه حقیقت مستقیمه عکاسي کوي. که د اختناق شرایط په منځ کې نه وي د دواړو ډوله ژبو تر منځ پولې نرۍ کېږي حتی د توحید یوې داسې مرحلې ته رسېږي چې تقریباً یوه ژبه ورڅخه جوړه شي.

اما د اختناق په شرایطو کې د مطبوعاتو ژبه خپل وظایف د ادب او هنر ژبې ته سپاري، په داسې شرایطو کې که مطبوعاتو څه لیکلي وي نو هغه یې په خپله ژبه نه دي لیکلي. همدا سبب دی چې په افغانستان او په نورو ډېرو هېوادو کې د ادب د ژبې د خدماتو دوره د مطبوعاتو د ژبې په نسبت زیاته ده. د ادب ژبه په ډېرو سختو شرایطو کې د خپلو بهترینو وسایلو استعارو او تشبیه ګانو په برکت او قوت،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله بقا او په مختلفو ادبي پیرایو سره یې د خپلو خدمتونو سلسله جاري ساتلې ده.

په افغانستان کې د شلمې پیړۍ په دویمه ربع کې په نسبي ډول د اختناق دله مینځه تللو یوه ډېره لنډه وقفه راغله او د هغه وخت په لویه جرګه کې د وخت د پاچا له خولې څخه ځینې داسې خبرې ووتلې چې د مطبوعاتو په ژبه یې د یو جالب تاریخي رویداد لیکلو ته زمینه برابروله، پاچا په خپله د ملت نمایندګانو ته وویل:

«تاسې د پخوا په څېر د حقایقو د څرګندولو لپاره پټه خوله مه اوسئ او هر څه چې په تاسې کېږي غلي او حیران مه ورته دربږئ خو داسې هم مه کوئ چې یوازې د دښمنانو په آوازو اچولو او د بدخواهانو په شورماشور د حکومت ټولو کوښښونو او ځیګرخونیو ته د مخالفت په سترګه وګورئ...»

یو ملت ته د خپلو حالاتو څخه د خبرتیا حق ورکول د ژورنالیزم روح او د مطبوعاتو هدف دی، بې تصنعه ساده وینا یا لیکنه په الفاظو، کلماتو او جملاتو کې لنډیز چې په دې وینا کې لیدل کېږي، د ژورنالستیک سبک هغه خصوصیات دي چې همدا اوس یې د ژورنالیزم او ادبیاتو پروفیسران پیشنهادوي.

له بده مرغه د هغه وخت افراطي او تفریطي حرکتونو د نوي ژوندانه لپاره زموږ د ملت یو ښه چمتوالی اخلال کړ. بیا نو هغه پاچا چې د ملت د نمایندګانو په مخ کې یې په خپلو ساده، بې آلایشه خبرو د افغانانو فطري ولسواکي تمثیلوله، د محترم داوي په قول ځان د امیرعبدالرحمن خان لمسی وباله. اراده یې وکړه چې د برچې په زور د اصلاحاتو په نامه خپله اراده په ملت باندې تحمیل کړي. په دې ډول هغه لنډه وقفه چې په افغانستان کې د پر له پسې استبدادي



حکومتونو تر منځ د راڅرګندېدو په حالت کې وه ډېر ژر له منځه یوړله شوه ورسره زموږ ادبیات او ژبې د اختناق په فولادي او په ځینو مواردو کې د هنر په طلایي زنځیرونو وتړلې شوې.

د ویښو زلمیانو په دوره کې یو ځل بیا ترځمکې لاندې اجتماعي تحرک او سیاسي حرکتونو د استبدادي رژیمونو څه نا څه کمزوري کړي وو، په دغه وخت کې، نویو هیلو او غوښتنو د اظهار ژبه غوښتله، څو پوهو کسانو نه غوښتل چې خپلې نظریې او غوښتنې په زړه کې غوټه کړي، دغه وخت استعارې او کنایې د کار ډېرې ښې وسیلې وې چې په هنر مندۍ سره په کار اچول کېدې او د دغه وخت یو خاص سمبولیک نثر یې ایجاد کړ چې د استاد الفت غوره نثرونه د همدغسې سرایېو پیداوار دي. مطبوعاتو آزادي درلوده خو په خپله صریحه ژبه یې خبرې نشوای کولای، له روانو بدبختیو څخه د شکایت کولو ژبه آزاده، فصیحه بلیغه او کله کله رنګینه وه خو د بدبختیو دعواملو او عاملینو د ښودلو لپاره صریحه نه وه.

د اساسي قانون په لسیزه کې چې مطبوعاتو نسبتاً یوه څه زیاته آزادي ترلاسه کړې وه، د یو لړ بې تجربه ګیو او د فني پرسونلونو د کمښت په وجه مطبوعاتو لکه چې لازم ؤ هغسې په خپله ژبه ډېرې کمې خبرې کولای شوای. په غیر دولتي اخبارونو کې یوازې د «کاروان» ورځپاڼې دا امکانات درلودل چې د خلکو د خبرتیا لپاره موضوعات را پیدا کړي او د مسایلو توضیح او تشریح لپاره څه نا څه له مطبوعاتي ژبې څخه کار واخلي، د دغه وخت زیاترو غیر دولتي جرایدو د حقایقو د بیانولو په ځای احساساتو او نظریاتو ته زیات انعکاس ورکاوه، له بده مرغه د دغه وخت مطبوعاتو د واردو شویو ایډیالوژیو د راتګ لاره صافوله. دې ایډیالوژیو چې په مطبوعاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتې د هېواد د دشورى په دواړو جرګو کې يې وسيع انعکاس درلود، له يوې خوا د خلکو په اذهانو کې نوې نوې پوښتنې متراکمې کړې وې، له بلې خوا يې د مطبوعاتو ژبه د نويو سياسي لفاظيو او اصطلاحاتو ډېر دروند بار په ډېر ناڅاپي ډول چې زموږ ژبو ورته قبلاً آمادګي نه لرله تحميل کړى ؤ، د «ايزمونو» اوږدې سلسلې چې د افغانستان خلکو ته يې څه مفهوم نه درلود، د مطبوعاتو ژبه ورو ورو له خلکو څخه بيګانه کوله.

د هغو انقلابونو په زمانه کې چې خلکو ته يې د جمهوريت او دموکراتيک جمهوريت په نامه نوي استبدادي رژيمونه په تحفه کې راوړل، د موهومي دموکراسۍ، مترقي او هوسايۍ په خاطر يې د خلکو د ارادو او خولو تړلو لپاره نوې او تر په خوا کلکې زولانې او زنځيرونه هم ورسره راوړي وو. د مطبوعاتو آزادي هسې يو خوب او خيال وبلل شو. ادب او هنر ته هم ورېښمين پړي او مزي جوړ شول او هغه د «ايزمونو» په موړيو وتړل شول.

د ادبياتو، هنرونو او ژبو څخه د ايجاد، تمثيل توضيح او تشريح وظايف پاته شول. په اصطلاح نوى ادب د بيان او اظهار دغه ټول وسايل يو ځل بيا د نوي سره دخپلې پېژندنې په جنجالي مسايلو بوخت وساتل.

ادب څه شى؟ هنر يعنې څه؟ مترقي ادب کوم دى؟ د علمي نړۍ سره د ادب رابطه... او داسې نورو کليشه يي عباراتو سوالونه زياتول مګر ځوابونه يې محدودول. د ادبياتو يو پوهاند چې د ادب د تيورۍ په باره کې ځان د نظر خاوند بولي په يوه سيمينار کې د ادبياتو په باره کې داسې خبرې اوږدې کړې وې:



«راځئ چې لومړى دا خبره جوته کړو چې ادبيات څه ته وايي؟ دې پوښتنې ته به د سم ځواب موندلو يوه لار دا وي چې د ادبي تيورۍ اوږد، تاريخ له نظره تير کړو، خو دا کار اوس ځکه نه کوو چې دلته به ګټې خوندي برېښې او ګران حاضرين په ښه توګه ورباندې پوهېږي، په ننني نوي او مترقي مفهوم سره «ادبيات د ټولنيز ژوندانه د واقعيتونو هنري انعکاس دى د ژبې په واسطه» په دې تعريف کې دوه سره تړلي مفهومونو پراته دي، لومړى دا چې ادبيات د ټولنيز ژوندانه د واقعيتونو انعکاس دى. په دې لحاظ ادب له علم سره کټ مټ يو شى دى ځکه چې علم د انسان په ذهن کې د عيني نړۍ د واقعيتونو انعکاس دى، نو ادبيات د علم په څنګ کې د خارجي نړۍ د حقايقو د پيژندګلوۍ او شناخت يوه وسيله ده. دويم دا چې دغه انعکاس بيا هنري بڼه لري يعنې خارجي واقعيتونه په عاطفي ژبه بيانېږي، عاطفي ژبه هماغه ده چې زموږ د ادب پوهنې په عنعنه کې ورته د «مخيل» کلام تعبيرول کارول شوى دى»

دغه پوهاند د ژبې د يو مهم ډيپارټمنټ مشر ؤ، د ده سوابق ده ته د نورو ډېرو غټو ادعاګانو مثلاً د ادب د تيورۍ، استادۍ اجازه ورکوي، موږ هم وايو دى هر څه دى، د ادب د تيورۍ استاد دى، په اصطلاح له علمي نړۍ ليد او نورو اجتماعي علومو سره د دې تيورۍ په رابطه باندې اوږدې خبرې کولاى شي، خو د ده د دې ليکنې څخه داسې څرګندولاى شو چې دى، به پوهاندوي ليکن ليکوال او اديب نه دى، ځکه د ليکوالۍ او ادبي فنون اجازه نه ورکوي چې:

- پروګرافونه يې ډېر اوږده وي، د ده د ليکنې هغه پروګراف چې ما دغه مطلب ورڅخه اقتباس کړى دى، ډېر اوږد دى چې له ۲۲ کرښو څخه جوړ شوى دى، يو بل پروګراف يې دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوږد دی چې د کتاب د عادي صفحې نه هم یو سطر زیات شوی دی.

- په لیکنه کې یې د اطناب نه کار اخیستل شوی دی، حاشوی او زوایه پکې زښت زیات دي، که نه نو د دومره اوږدو خبرو څخه د ده د مقصد ټکي یوازې دا دي:
- په نوي او متقرقي مفهوم سره، ادبیات د ژبې په واسطه، د واقعیتونو هنري انعکاس دی.
- نو د هغه علم تر څنګ، له ذهن څخه د باندې د خارجي نړۍ د حقایقو د پېژندنې یوه وسیله ده چې خارجي واقعیتونه، عاطفي ژبه یا مخیل کلام بیانوي

یوازې دغه پوهاند نه بلکه د ده په څېر نور کسان چې ځانونه په اصطلاح په علمي ایډیالوژۍ مجهز بولي، کله چې د ژوند، ادب، تیورۍ او د علمي نړۍ لید تر منځ په روابطو بحث کوي، داسې پیچلي مسایل را پیدا کوي چې په خپله یې د حل کولو نه عاجز پاتې کېږي په تیره هغه وخت چې د ادب د تیورۍ د تحلیل نه مقصد د مارکسیزم د جملې فلسفې او سوفسطایي نظریاتو څخه د ژبې او ادبیاتو قربانول وي.

که د ادبیاتو موضوع د قلابي فلسفو له قالبي چوکاټونو څخه د باندې په علمي ډول تحلیل کړو نو د ادب او هنر له درې ډوله مکتبونو سره آشنا کېږو او هغه دا دي: ایډیالیزم، سوریالیزم او ریالیزم. زه دلته نه غواړم چې ددغو مکتبونو د تعریفونو په تکراري مطالبو ستاسې قیمتي وخت ونیسم بلکه غواړم چې په ډېره مؤجزه توګه د هغو د ماهیتونو مازې یادونه وکړم.



- د ایډیالیزم د مکتب پیروان د وربښمو د چینجیانو په څېر د خولې نه نار وباسي ښکلي او نفیس شیان ابداع کوي او مطلقه ښکلا د هدف په توګه په نظر کې نیسي.
- د سوریالیزم پیروان د مېږیانو په څېر ډول ډول دانې راټولوي او سره یو ځای کوي یې د ترکیب او تحلیل پروایې نه ساتي.
- اما د ریالیزم په لاره راون کسان د شاتو د مچیو په څېر د موضوعاتو له هر ګل سره ارتباط نیسي د ډول ډول ګلانو عصارې را ټولوي او د تحلیلولو نه وروسته یې د شاتو په څېر د مفیدو او خوږو موادو په شکل یې عرضه کوي او یو عالي مقصد په نظر کې نیسي.

د ریالیزم ادبي مکتب چې په یقیني ډول د ژوند او ادب تر منځ اړیکې پالي، جهان شموله محبوبیت ترلاسه کړی او د نړۍ د بېلو بېلو هېوادو ادب پوهانو په همدې صافه او د رحمان بابا په قول بې رویه بې ریا هینداره کې د خپلو ادبیاتو څېرې ته کتلي دي.

د افغاني ادبیاتو د یو لوی محقق مرحوم پوهاند حبیبي په قول د پښتو ادب یوه غټه برخه لکه د نورو ګاونډیو ژبو ادب د ایډیالیزم په موږي راڅرخیده خو څومره چې انسان د خپل خیال پرستۍ په اجتماعي ناروغیو پوهوي هومره د ادب له خیاله راګرځیدلی دی او د ریالیزم په خوا را روان شوی دی.

په دې اساس، د پښتو ادب لکه ګاونډي نور ادبیات، یوازې د بډایانو د ماڼیو او د عیاشانو د بزم او صله خورو شاعرانو د لاس آله نه وه، دا ادب په شفاهي او نا لیکلي ډول د کوچیانو په کېږدو، د خوارانو په کوډلو، د اوبو وړونکو پیغلو په ګودرونو او د عوامو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



میلو او د جګړې په میدانونو او سنګرونو کې استعمالېده نو ادب په دې بڼه به خپله غایي مقصد نه ؤ بلکه آله او وسیله وه.

نن سبا غربي دنیا د ریالیزم د ادبي مکتب په وروستیو تکاملي پړاوونو کې د یو خاص ژورنالستیک سبک په جوړولو چې زما د دې مقالې له خاصو مقاصدو څخه یو دی کار کوي.

له ښه مرغه په افغاني لیکوالو کې هم داسې یو تمایل راڅرګند بړي مثلاً زموږ او سني نقا د لیکوال محترم سعدالدین شپون د همدغسې یو نوي سبک په هینداره کې زموږ د شلمې پیړۍ د دویمې نیمايي ادبیاتو شعرا و شاعرۍ ته ګوري مبالغه آمیز لقبونه، مفتونه او په اشعارو کې ډیرې تکرار شوې مبتذلې کلمې لکه (سور اوریم، طوفان یم، له غیرته اور اخلم، سره لمبه شوم، شنه لوخړه شوم، په جامو کې نه ځاییږم...) سولیدلي ترکیبونه، بابیزه تخیل او مبتذلې خبرې بولي چې نه د ولس د ربښتینې وضعې ترجماني کولای شي او نه د هنر په سیمه کې د هغو پربښودل روا دي.

ژورنالستیک سبک:د جمعي ارتباط د وسایلو انکشاف په تېره بیا د الکترونیکس حیرانوونکو پرمختګونو، ژبه او د ادبیاتو ټول اصناف نوي او پخواني ادبي مکتبونه له مهم چلنج سره مخامخ کړي دي. که ژبه او ادبیات له دغو وسایلو سره ځان عیارنکړي، نو د ژبو او ادبیاتو د زرګونو کلونو خدمات او اثرات به د فضا د امواجو په طوفان کې لاهو شي او صامت فلمونه به موږ ته د اشارو په ژبه خبرې کوي، له بده مرغه سمعي او بصري وسایلو همدا اوس موږ او زموږ په څېر نورو ملتونو ته د ګڼو رسولو په ځای نوې معضلې را پیدا کړې دي. د خارجي هېوادو د فلمونو بازار ډېر تود شوی او زموږ



ځوانان بې له دې چې د هغو په ژبو وپوهېږي د فلمونو حرکاتو ته ځیر ځیر ګوري چې منفي اغیزې ورباندې کوي.

اوس د کسیټونو د ډېرښت په سبب زموږ بیسواده ورونه میرزا او ملا ته د کښیناستلو او خپلو دوستانو ته د خط لیکلو د احتیاج نه ځانونه فارغ بولي خپلې خبرې بې له دې چې سواد ته په اهمیت قایل شي، په کسیټونو کې ثبتوي او استوي یې، الکترونیکي ژبې له بده مرغه د سواد اهمیت راټیټ کړی دی.

موږ نشو کولای چې الکترونیکي وسایل ټول محوه کړو، او یا هغه د خپلو کورونو، بازارونو او ښارونو څخه نورو ځایو ته واستوو، خو که وغواړو خپلې ژبې له هغو سره عیارې کړو نو د زیان په ځای به ورڅخه ګټې واخلو.

نوره دنیا کوښښ کوي چې زړو سندرو، کیسو او متلونو ته ډېره توجه ونکړي بلکه غواړي چې د جمعي ارتباط د وسایلو د اړتیا سره سم نوي ژورنالستیک سبکونه جوړ کړي. موږ هم مجبور یو دغه کار وکړو او په دغه برخه کې د نورو له تجربو څخه ګټه واخلو.

د ادبي سبک دوو څېړونکو ډونالډ-ای-سپیرا و مارګریټ بورلنډ د «ژورنالیزم په خپله سبک جوړوي» تر عنوان لاندې، د امریکې د اتو تنو مشهورو ناولستانو آثارو څېړل چې خپلې دا څېړنې یې د «ژورنالیزم» د درې میاشتنۍ مجلې د ۱۹۷۰ کال د مني په ګڼه کې خپرې کړې.

د دغو اتو کسو ناولستانو له جملې څخه چې د ژورنالیستیک سبک خاوندان دي، ستیفن کرن (۱۸۸۰- ۱۹۰۰)، تیودوردریسر (۱۹۰۰- ۱۹۲۰)، ارنست همینګوی (۱۹۲۰- ۱۹۴۰) او جان هرسی (۱۹۴۰-۱۹۶۰) دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ناول ليکونکي چې د ليکنې سبک يې ژورنالستيک نه دی بلل شوی: هانري جيمز (۱۸۰۰- ۱۹۰۰)، ايدت وارتون (۱۹۰۰- ۱۹۲۰)، تامسن و الف (۱۹۲۰- ۱۹۴۰) او ترومن کپوت (۱۹۴۰- ۱۹۶۰) دی.

د ليکنې ژورنالستيک سبک چې د تيرې پيړۍ په جريان کې يې د جمعي ارتباط د اړتيا سره سمه وده کړې ده، لاندينې خصوصيات لري:

۱- ښه ليکنه هغه ده چې لنډې، لنډې، يوه له بلې سره مربوطې جملې پکې راوستل شوې وي. په دغو جملو کې لنډ او ساده کلمات چې معنی او تلفظ يې آسانه وي په کار اچول شوي وي.

۲- پروګرافونه يې لنډ او موجزوي چې هر يو يې په خپل ځان کې تکميل شوی وي، که چيرې د ليکنې څخه کوم يو يې حذف کړل شي د موضوع عمومي مفهوم ته زيان ونه رسوي.

۳- لنډيز، بلاغت، فصاحت، صراحت، سلاست او سادګي د يوې ليکنې ښه اوصاف دي، ليکنه بايد اطناب ونه لري، حشوې، زايد الفاظ او عبارات او بې ضرورته اعراضيه جملې بايد پکې نه وي.

۴- د ليکنې هر لفظ او کلمه بايد د يو واقعيت نماينده وي، لاپې، شاپې او غير معقول اوصاف صفات او القاب (لکه د زمانې رستم، د جود او سخا حاتم) او نورو دګماتيک الفاظ بايد ليکنې ته لاره پيدا نکړي.

۵- په ليکنه کې بايد د زړو لغاتو او مبتذلو، ډېرو استعمال شويو، سوليدليو، زړو عباراتو او محاورو څخه کار وانه خستل شي.



۶- ژورنالستيک سبک بايد ساده املا او انشاؤ پيشنهاد کړي او د املايي او انشايي وحدت سره بايد مرسته وکړي او د يوې معياري ژبې په جوړونه کې بايد لويه برخه واخلي.

د پورتنيو خصوصياتو له مخې په ليکنه کې بايد اطناب او لفاظې څخه ډډه وشي، د ژورناليزم يو استاد هاورډ سی. سي. هين (Howard C. Heyn) لغت پردازي د خبر او خبرې د مؤثريت په لار کې لوی مانع بولي. دی داسې يوه شنلې جمله د مثال په ډول راوړي:

«... د پوليسو مامرو په تېره اونۍ کې، له دواړو تنو سره د دوی تر کلي پورې ملګرتيا وکړه، دغه کار يې د دې احساس له مخې وکړ چې ګوندې، ځوان توردلی، له ده سره د قاتل په پيژندنه او يا د هغه د ځای په معلومولو کې ورسره مرسته وکړي.»

هين، د دغه اوږده مطلب په ځای چې (۳۳) کلمې پکې استعمال شوي دي، داسې يو لنډ مطلب پيشنهادوي:

«پوليس تېره اونۍ، له دوی سره، د هغوی تر کلي پورې ځکه ملګرتيا وکوله چې ګوندې توردلی، د قاتل په پيژندنه کې يا يې د ځای په معلومولو کې ورسره مرسته وکړای شي.»

زايد الفاظ د جملې جوړښت ورانوي او د خبرې خوند خرابوي، مثلاً: «احمد د برېښنا د فابريکې څخه کتنه وکړه» د پښتو خپله محاوره نه ده، بلکه يوه تحت اللفظ ترجمه شوې جمله ده. همدا رنګه «لس تنه په قتل ورسېدل» غوندې جملې هم د پښتو له محاوروي ژبې پردی والی لري. د ژورنالستيک سبک استادان په دري ژبه او بله هره ژبه کې هم د «به قتل رسيدند» غوندې جملې له مطبوعاتي ژبې څخه وباسي او پرځای يې «کشته شدند» غوندې جملې تجويزوي. خو د ژورنالستيک سبک له مخې د «اجراأت بعمل آوردند» جمله له زړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترکیبونو څخه شمېرل کېږي چې باید په «اجراأت کردند» او یا نورو مناسبو عباراتو تبدیله شي چې هم د کلماتو سپما په نظر کې نیول شوې وي او هم ژبه د خلکو عادي محاورې ته نژدې شوې وي اود افهام او تفهیم په کار کې نوره آساني هم راوستل شوې وي.

که دري ژبې دا ډول ترکیبات د یو دوامداره عادت په ترڅ کې ورخپل کړې وي او اوس هغه د تحریري ژبې جزء ګرځېدلې وي، نو په پښتو باندې د هغه تحمیلول یو بدعت دی ځکه چې د «اجراأت په عمل راوړل» یا «د شوروي او امریکا د خارجه وزیرانو تر منځ خبرو صورت ونیو» غوندې ترکیبات د دې ژبې له محاورو څخه ډېره زیاته بېګانګي لري.

زاید او غیر ضروري عبارات (Superfluous phrases) په هر ډول ژبه یو اضافي بار دی، لکه دا:

«ما له تیلیفون څخه، په استفاده کولو سره، تر ده پورې ځان ورساوه.»

دا مطلب باید داسې راوستل شي:

«زه ده ته د تیلفون له لارې ورسېدم «یا» مې په تیلفون کې ورسره خبرې وکړې.» د مخکینۍ اوږدې جملې په پرتله، په وروستیو لنډو جملو کې دوه عبارتونه «څخه په استفادې سره» او «تر...» سپما شول. په همدې ډول د داسې یوې جملې په ځای:

«د دې لپاره چې موضوع تر بحث لاندې ونیوله شي، نو د دغه مقصد لپاره یوه غونډه جوړه شوه.» د «په موضوع باندې د بحث کولو لپاره یوه غونډه جوړه شوه» د جملې جوړول غوره کار دی.

غیر ضروري اطناب راوستونکي اعراضیه جملې (Superfluous Clasues) هم د زایدو او غیر ضروري عباراتو په څېر که له یوې خوا د ژبې محاوروي جوړښت ته زیان رسوي نو له بلې خوا



د جملې د بې ضرورته اوږدوالي سبب ګرځي. مثلاً د «ټول هغه ښاریان چې لیوالتیا لري، باید دې غونډې ته راوبلل شي.» اوږدې جملې په ځای د «لیوال ښاریان باید غونډې ته راوبلل شي» لنډه جمله غوره ده.

مګر په ځینو مواردو کې چې مقصد یې په یوه جمله کې د دوو یا زیاتو جملو مطالب راټولول وي نو اعتراضیه جملو ته ضرورت پېښېږي لکه په دې جمله کې:

«یوې خیریه مؤسسې، محمود ته، چې خپله یوه پښه یې، په جهاد کې له لاسه ورکړې وه یوڅه پیسې وبښلې.»

په ژورنالستیک سبک او مطبوعاتي ژبه کې مسجع الفاظ د کلیشه یي عباراتو په څېر مطرود دي خو په ځینو خاصو مواردو کې خاص ښایست او ارزښت لري. مثلاً: د یو داسې مضمون لپاره چې په غیر واقعي دموکراسۍ باندې بحث کوي د قالبي او قلابي دموکراسۍ عنوان ډېر جالب او مؤثر دی چې د انسان ذهن ته د یوې کنټرول شوې فرمایشي دموکراسۍ مفهوم ډېر ژر او په آسانۍ سره رسولای شي. همدارنګه د یو فصیح ژبې انسان لپاره د «خطیب او ادیب» او د یو ښه لیکوال لپاره د «متفکر او مبتکر» اوصاف لیکل په هغه کې ښایست او ارزښت لري چې دغه اوصاف یې د مؤثوقو حقایقو له مخې ثابت شوي وي.

په همدې ډول، ذهن ته د افغانستان د اوسنیو غمجنو حالاتو د سریع انتقال لپاره د «اورونه، ویرونه» مسجع الفاظ یوازې د اشعارو د یوې مجموعې لپاره ډېر غوره عنوان نه بلکه په ډېرو نورو مواردو کې هم د ژورنالیزم په اصطلاح د یو «کپسولي عنوان» لپاره موزون کلمات بلل کېدای شي په دې شرط چې تر همدغه عنوان لاندې فوراً د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بمباريو د اورونو او له هغو څخه د راپيدا شويو ويرونو خصوصيات د حقايقو په ښه ښودل شوي وي.

اما ځيني جامع او ښکلي عبارات د ډېر استعمال په وجه سولېږي او د مبتذلو کلمو، عباراتو او جملو بڼه غوره کوي. دا ډول مبتذل عبارات هم د کابل د رژيم او هم د مجاهدينو په نشراتو کې ډېر زيات استعمال شوي دي، لکه د تاريخ کندې ته اچول، د دوزخ کندې ته اچول، معلوم الحال کسان، پيژندل شوې څيرې، تالي څټي، د استعمار منګولې، د استعمار لومې او ډير داسې نور کليشه يي عبارات.

په جملو کې د معروف فعل او مجهول فعل د استعمال موارد، يوه بله د پاملرنې وړموضوع ده، د ژورنالستيک سبک له مخې هغه جملې چې معروف فعل پکې په کار لويدلي وي زياتې مؤکدې دي، ډېر صراحت لري او له لږو لغتونو څخه جوړېږي. مثلاً د «دغه پيښه د لسو تنو له خوا ليدل شوې ده» د جملې په ځای د «لسو تنو دا پيښه ليدلې ده» جمله په هر لحاظ غوره ده.

علمي ابهام: د علمي ابهاماتو له جال څخه د مطبوعاتو د ژبې را ايستل يوازې زموږ لپاره يوه ادبي معضله نه ده، بلکه دې موضوع غربي دنيا ته هم پرابلمونه جوړ کړي دي.

يو ليکوال ډونالډهولډن، په نيويارک ټايمز کې د «ولې پروفيسران څه نشي ليکلای؟» تر عنوان لاندې وليکل:

«د کتابونو ناشران په دې پوهيدلي دي چې پروفيسران ښه ليکوالان نه دي، البته دوی څه ناڅه د ګرامر، املا او د تنقيې د اصولو مراعات کوي، ټکې، کامې، شارحې، ندائيې او ... په خپلو خپلو ځايو کې اېږدي. خو نثر يې د خپل علميت ښودلو وسيله



ګرځولی دی. ځکه خو هغه مرتب، روښانه او عام فهمه نه دی.» ما د خپلې دې مقالې په تېره يوه برخه کې په افغانستان کې د ادب د تيورۍ د پوهانو څخه همدغسې يوه سرټکونه کړې ده.

ډونالډهولډن دا هم وليکل چې علمي مقاله هغه ژبه ده چې پروفيسران يې د خپل حقارت د احساس د پټولو لپاره په کار اچوي.

يوې څېړونکې ميرمنې فرانسس فتيزجرالد، چې د امريکې د متحده ايالاتو يوه مهمه جايزه (پليتزر Pulitzer) يې ګټلې ده، د هغو کتابونو په کتنه سره، چې د لوړو تحصيلاتو د تعليمي نصاب له مخې، د امريکا په تاريخ ليکل شوی دی. د هولډن دغه ادعا مستنده وښودله.

توماس- ايچ ميډلټون، سټرډې ريويوته، په خپل اختصاصي ستون کې، له ژبې سره د ساينس پوهانو پر سلوک، په تيره ليونارډبلوم فيلډ، په داسې يوه نظريه، چې ليکل شوې ژبه، له ژبولۍ څخه وباسي او د داسې شکلونو مجموعه يې بولي چې په سترګو ليدل کېږي او د ژبې د ثبتولو وظيفه سرته رسوي، پرله پسې انتقادونه کړي دي.

ميډلټون، په ژبه کې، پر راوستل شويو علمي او ادبي ابهاماتو باندې د انتقاد کولو په کار کې، ډېر وړاندې ځي او وايي چې اوس، دشکسپير، ملټون، پاپ، ملوايل، جفرسن، ټوين او داسې نورو کسانو آثار د انګريزي ژبې کومه برخه نه جوړوي.

په ژبه کې د علمي ابهاماتو پرابلم دې حد ته رسيدلی دی چې حتی ځينې پوهان، په ژبه باندې د ګرامر د درانه بار په تحميلولو عجيب انتقادونه کوي. مثلاد مکسيکو د پوهنتون د ژبې يو شمېر پروفيسران او مصنفين، د يوې نوې بې ګرامره انګليسي نهضت پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ بیایي. په دې لړ کې ستانلی برن، په خپل اثر چې په اکثریت باندې په دې پلمه تحمیلېږي چې ګواکې د ناپوهۍ څخه یې راوباسي.

حقیقت هم دا دی چې په انګریزي کې د ګرامر په تېره بیا د هغې املایي مشکلات، بې قاعده افعال او پرې پوزیشنونه یوازې د نورو هېوادو، انګریزي زده کوونکو ته نه بلکه په خپله انګریزي ویونکو ته ډېر زیات مشکلات را پیدا کړي دي. حتی د ژبې اهل په خپل سپیلنګ باندې ډاډه نه وي.

موږ هم له دوی سره ځینې ورته پرابلمونه لرو، په تېره د هغو عربي کلماتو په املا کې چې په محاوره کې کمې استعمالېږي مګر په فقهه، طب، ریاضي او داسې نورو علومو کې د استعمال موارد لري. مثلاً اکثر خلک متردد وي چې «زاویه» په (ز) ولیکي که په (ذ) د «توزیع» او «توضیح» کلمات هم اشکالات پېښوي. یو چا یو امر لیکلی ؤ چې «معاشات را توضیح کنید» دغه مبهم امر باعث شو چې د کارکوونکو معاش درې ورځې وځنډېږي او شکایت پورته شي. د تحقیق نه وروسته معلومه شوه چې هیڅوک ملامت نه وو. یوازې د «توضیح» کلمه مسؤله وه چې غیر حق یې د «توزیع» ځای اشغال کړی ؤ.

زموږ لپاره اوس دا مسئله مطرح نه ده چې د خپلو ژبو اوږې د ګرامر له بار څخه سپکې کړو، مګر په ژبه کې د «د املایي وحدت» تامینول او د مبهمو کلمو ایستل یا توضیح کول یوه ضروري موضوع ده، که چیرې دې خواته توجه ونشي، نو د مطبوعاتو ژبه، به کاملاً ناقصه پاتې وي او د ابهاماتو څخه به ډکه وي.

د جهادي تنظیمونو له خوا د سیاست د اسلامي کېدو، د هغو په جریان کې خلک له نویو سیاسي اصطلاحاتو لکه اسکتبار، 



استعباد، طاغوتي او طالوتي ځواکونو سره ورو، ورو آشنایي پیدا کوي، د دې ډول اصطلاحاتو په جمله کې ځینې یې د خلکو له خوا ډول، ډول تعبیر کېږي، مثلاً عوام د «د **اهل حل** او **اهل عقد**» اصطلاح ته مختلفې معنی ګانې ورکوي، ځینې دیني علماء د **اهل حل** او **اهل** عقد صلاحیت یوازې په خپلو ځانو کېویني، قومي سپین ږیري او مشران په تیره هغه یې چې ملکي او خاني ورته له خپلو پلرونو او نیکونو څخه په میراث کې پاتې شوې ده، فکر کوي چې همدوی مسایلو ته د غوټو اچولو او ددغسې غوټو د خلاصولو په کار کې له نورو نه زیات مهارت لري. روښانفکران په تېره هغه کسان چې هم په اسلامي فقهه او هم په اجتماعي علومو کې د تعلیماتو او مطالعاتو خاوندان دي فکر کوي چې یوازې دوی **اهل حل** او **اهل** عقد کیدای شي.

دا موضوع ډېره مهمه ده، د دې لپاره چې د افغانستان د راتلونکې سیاسي او حقوقي نظام په باره کې علمي ابهامات له منځه وړل شوي وي، باید یو شمېر پوهان، په نویو فقهي، سیاسي، حقوقي او اقتصادي اصطلاحاتو کار وکړي او دوی باید مطبوعاتو ته داسې اصطلاحات وسپاري چې معنا یې د خلکو لپاره روښانه او آسانه وي، او د افغانستان خلکو ته له ابهاماتو څخه چې یقیناً یو لوی اجتماعي خطر لري نجات ورکړي.

## د لیکنې ښکلا او رنګیني:

ځینې کسان چې ذوقونه یې نازکخیالۍ، شاعرۍ او رنګینو ادبیاتو روزلي او پاللي دي له ژورنالستیکو لیکنو څخه په دې ګومان چې دا ډول لیکنې په اصطلاح وچې دي او ادبي تنده نه ماتوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چندان خوند نه اخلي. دوی ملامت نه دي، د دولتي، حزبي او تجارتي مطبوعاتو پروپاګندي خپرونو او تحفوي خبرونو، د دوی زړونه تور کړي دي.

هدفمند مسلکي مطبوعات د خلکو د خبرتیا د حق په ځای کولو په ضمن کې په دلچسپه توګه، د دقیقو، مؤثقو حقایقو په وړاندې کولو سره د خلکود فکري تغذیې لویه وظیفه سرته رسوي، ښه تغذیه هغه ده چې لوږه مشبوع کړي تنده ماته کړي. مطبوعات هم دا دواړه کارونه کوي فکر تغذیه کوي ورسره ادبي تنده هم ماتوي.

تکړه او لایق ژورنالیستان، تل د شاعرانو په څېر د لنډو، خو د معنې په لحاظ د جامعو، په تلفظ کې د آسانو، مانوسو الفاظو او هغو کلماتو په لټه کې دي چې اخلاقي وجاهت او ادبي ښایست ولري هغه فن چې یقیناً استعاري او تشبیهات او د عاطفي ژبې نور خصوصیات په خپلو اصلي او صحیحو ځایو کې استعمالوي ژورنالیزم دی.

ژورنالیستان استعارې او تشبیه ته دمطلق ښایست د خال او خط په سترګه نه ګوري بلکه د رڼا داسې څلی یې بولي چې په هوا کې الوتکو، او په بحر کې بیړیو ته، مهمو شیانو لکه هوایي ډګر، د تلویزیون دستګاه، دلویو مخابراتي آنتنونو او یا په سمندر ونو او دریابونو کې د خطر د سیمو دشته والي اشارې رسوي، که دغه اشارې د خبرو یا لیکنې د لارې وشي نو خبره یا لکینه اوږده کېږي. مثلاً:

پام مو وي چې په دې خوا، بیړۍ رانه ولئ، ځکه چې په دغه ځای کې د لویو او کلکو ډبرو څخه یوې جوړې شوې دماغې د سمندر سینه څیرې کړې او وړاندې راتیره شوې ده. که ستاسې بیړۍ په دغه دماغه ولګیده نو هغه به خطرناکه پیښه را پیدا کړي.



نو درڼا د څلي په څیر له استعاري او تشبیه څخه هم دا ډول استفادې جایزې څه چې ضروري دي نو که یوه کلمه، یو عبارت یا یوه جمله په لنډ ډول د یو پروګراف، یوې مقالې، حتی د یو کتاب ټول مطالب په خپله لمنه کې راونغښتلی شي او هغه په ډېره چټکۍ، آسانۍ او امانتدارۍ، د خپل جامع مفهوم سره ذهن او دماغ ته وسپارلې شي بیا نو ولې له استعاري او تشبیه څخه کار وانخلو.

د «صحرا توپان» عبارت چې د خلیج جنګ یو بل مستعار یا استعاروي نوم دی، داسې یوه استعاره ده چې ښایي هغه د لومړي ځل لپاره کوم ادیب یا ژورنالیست په کار نه وي اچولې، ښایي دا استعاروي عبارت (Phrase) د لومړي ځل لپاره داسې چا استعمال کړی وي چې عاطفي ژبه نه بلکې د قوماندو ورکولو ژبه ډېره استعمالوي.

امریکائیانو د جنګ د سرنوشت د ژرمعلوم ولو لپاره ډېره بیړه کوله ځکه دوی د عراق د پوځیانو تر نظامي طاقت نه زیات د صحرا د توپاني ریګونو څخه چې په ګرم موسم کې پاڅېدل ویره درلوده، د صحرا د جنګ دا ډول خصوصیات یو کتاب خبرې لري چې هغه ټولې د «صحرا توپان» په استعاره کې رانغښتل شوې دي.

د ژورنالیزم له نظره چې څومره حقایق ښکلي او مهم وي هغومره ښکلا او اهمیت الفاظ نه لری، که چیرې په یوه لیکنه کې ډیرې زیاتې او بې مورده رنګینې استعارې او تشبیه ګانې استعمال شي نو دا لیکنه به د یوې کړکۍ هغې هینداري په ډول وي مګر له هغې څخه به د باندې شیان، حقایق، حرکتونه او واقعیتونه به ښکاره نشي. لیکنه باید دپاکې هینداري په څېر دومره روښانه او واضحه وي چې له هغې څخه هر څه ولیدلای شو، د دلچسپو حقایقو او د واقعاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دقيقو حزئياتو او د دقيقو بشري احساساتو د تجسيمولو په وخت ښکلي الفاظ په خپله خدمت ته حاضرېږي او ددلچسپي موضوع په ښايسته کولو کې برخه اخلي.

ژورناليزم لکه څنګه چې د ادب سره مينه او خپلواکي لري، هماغسې د قضيې، ډرامې او ناول د ليکنې له فنونو سره ملګرتيا لري، مګر د کار او ابتکار طريقه يې ورڅخه بيله ده. په داستان، ډرامه او ناول کې پرسناژ، کريکټرونه او کردارونه ټول خيالي او تخيلي دي اما په ژورناليستيکه کيسه کې پرسناژ واقعي شخصيت دی، دی هغه شخصيت دی چې پيښې وربانده ورغلې او يا يې پيښې ايجادې کړې دي. په دې ډول ليکنه کې هيڅ شی فرضي او تخيلي نه دي بلکه رښتياني او واقعي دي په حقيقت کې د يو داسې چاپه باب مفصل خبر ليکل دي چې په ژوند کې يې زموږ د جامعې زياتره پرابلمونه منعکس شوي وي خو دغه خبر «د مستقيم هرم» په شکل په عاطفي ژبه ليکل کېږي.

د ژورناليزم د اساساتو سره سم زياتره مهم جدی او حاد خبرونه د معکوس هرم په شکل ليکل کېږي په دې ډول خبرونو کې د موضوع بېل بېل اجزاء، د اهميت د درجې په نظر کې نيولو سره له پاسه پيل کېږي، اما د مستقيم هرم د ميتود له مخې خبر د داستان په شکل ليکل کېږي د «جلب نقطه» يې د هرم په رأس کې راوستله کېږي او د پيښې اصلي موضوع دهرمو په قاعده کې د «انفلاق د نقطې» په ډول چې په سخته توګه د ژړلو يا په شدت سره د خندلو نقطه ده راوستله کېږي.

ما په خپله يو وخت په خپلو ځينو ليکنو کې د تجربې په ډول، په ځينو کسانو باندې ورغلې پيښې، د مستقيم هرم، د ميتود له



مخې وليکلې، نسبتاً داسې ښه داستانونه ور څخه جوړ شول چې به ۱۳۵۳ لمريز کال کې يې د اطلاعاتو او کلتور د وزارت يوه هنری جايزه وګټله.

د مهاجرت په موده کې، زما يوې لور (نجيبه وجدي)، هغه وخت چې د مهاجرينو په يوه کمپ کې يې، د غذا او غذائيت په يوه پروګرام کې، په لوړه اخته افغاني ميرمنو او کوچنيانو ته خدمت کاوه، زما د لارښوونې سره سم د مستقيم هرم ميتود په کاراچولو سره د يو شمېر افغاني ميرمنو په حالت داسې داستانونه وليکل چې له نومونو څخه نيولې تر کردارونو پورې هيڅ شی پکې خيالي او تخيلي نه وو، د دې کار نتيجه دا شوه، چې دې په ۱۹۸۶م کال کې د سپيدې مجلې ته په زړه پورې داستانونه چې په واقعي ډول يې د مهاجرو ميرمنو ژوند او محروميتونه ښودل وليکلای شول.

يوه رېښتنې قصه، چې دې د يوې چکوسلواکي نرسې په باره کې ليکلې وه، دومره په زړه پورې وه چې د امريکا غږ راديو هغه په خپل پښتو پروګرام کې د ډرامې په بڼه تمثيل کړه. دا چکوسلواکي پېغله دانيل نومېده، هغه وخت چې روسانو په چکوسلواکيا تيری وکړ، د دې کورنۍ له چکوسلواکيا څخه فرانسې ته مهاجرت کولو ته مجبوره شوې وه، دانيل د مهاجرت درد ليدلی ؤ، نو ځکه يې په ډېر اخلاص افغاني مهاجرينو ته خدمت کاوه. خو کله چې د دې د خدمت دوره پای ته ورسېده، هغه وخت چې دې د افغاني ميرمنو سره خدای په اماني کوله، سخته ژړا ورتله. دې ته دمهاجرو کمپ د پاريس له ښار څخه ښه برېښېده، له همدغه کيفيت څخه يو ډېر ښه داستان جوړ شو.

یو امریکایي څېړونکي او ژورنالیست جرالډ-ډبلیو- جانسن په خپل یو په زړه پورې لیکچر کې چې د ۱۹۵۸ کال د اکتوبر په میاشت کې یې د امریکا د مطبوعاتو په کلوب کې ورکړ، ادعا وکړه چې پیښنو د نړۍ د نامتو کسانو شخصیتونه جوړ کړي دي، ده ویلي دي که چیرې سکندریوناني، سزاراوناپلیون خپلو میندو نه وای زیږولي او د دوی روح بالکل نه وای خلق شوی، نو نور کسان به پیدا کېدل چې په هماغه وخت کې یې د دوی تاریخي کردارونه سرته رسولي وای. زموږ د هېواد یو (۲۵) کلن زلمی احمدخان، چې د افغانانو یوې کوچنۍ قبیلې ته منسوب ؤ، هغه وخت لوی احمدشاه بابا شو چې دلویو پیښنو په مسیر کې راغی.

اما د نني افغانستان د پیښنو عظمت که چېرې ټول جزئیات یې وڅېړل شي، قصې به یې یوازې د افغانانو فکرونه تغذیه نکړي بلکه د نورو ادبي تندي به هم ماتې کړي. د دې پیښنو ځینو دلچسپو جزئیاتو حتی د یوې بلجیمي نرسې شخصیت ته عجیبه برجستګي ورکړې ده.

د دې پیښې روماني کیفیت یو (۶۲) کلن امریکایي ژورنالیست داسې لیکلی دی:

ما د افغانستان په شمالي برخه کې، په یو داسې ځای کې چې د روسیې له سرحد څخه یې تر ۱۰۰ میلو زیاته فاصله نه درلوده، یو اروپایي ټیم ولید چې د ختو څخه د یوې خیرنې خونې څخه یې کلنیک جوړ کړی ؤ. په دغه خیرنه او کثیفه خونه کې چې هیڅ شي د صحي اصولو سره مطابقت نه درلود یو ډاکټر، څو کسو نرسانو او یو ټیکنشن ژوند کاوه، دوی عیناً د سیمې د خلکو په څېر له بې شانه زیاتو مشکلاتو سره مبارزه کوله.



ما د ټیم له مشر څخه پوښتنه وکړه،دا سیاست دی که ایډیالیزم چې تاسې یې دلته، په دې دومره زیاتو کړاوونو کې ژوند کولو ته مجبور کړي یاست.

په ځواب کې راته وویل شول: ایډیالیزم خو لویه خبره ده، خو موږ دلته د سیاست په خاطر هم کار نه کوو، بلکه موږ طبي خدمت کوو او بس.

اما وروستیو پیښنو د دې ژوندۍ ډرامې اصلي «کلایمکس» په بل ډول وښود. هغه دا چې یوه بلجیمي نرسه (Beatrice Fraiteur) خپل هېواد ته د ستنېدو په وخت کې د ډېر تاوده هرکلي سره مخامخ شوه. زښته زیاتې مطبوعاتي مرکې ورسره وشوې، کله چې دا په تلویزیون کې، د مرکې لپاره راښکاره شوه په غاړه کې یې د ګلانو امیل اچول شوی ؤ. د بلجیم پاچا دا دری ځله په خپل حضور کې ومنله.

اوس نو که په افغانانو کې داسې څوک پیدا شي چې دا ډول خاطرې چې زښته ډېرې دي، ولټوي، داسې کتابونه به ورباندې ولیکي چې لوی ادبي شاهکارونه به وګڼل شي او د فیلمونو تر ټولو په زړه پورې سناریوګانې به ورڅخه جوړې شي.

حقایق او واقعیتونه د ډېرو عالي ادبیاتو روح دی، که مهمو، په زړه پورې، نوېو، تازه او نادرو حقایقو ته په دقت او ځیر وکتل شي د هغو د بیانولو، توضیح کولو او تمثیلولو لپاره ښکلي الفاظ او کلمات راپیدا کېږي. د شهید د وینو او د یتیم د اوښکو په باب زړې استعاري او تشبیه ګانې خپل ځای نویو نویو ښایسته او رنګینو الفاظو ته پرېږدي. په افغانستان کې د مادرنو وسلو استعمال د «تورود برښنا» قصه زړه کړه، د مصنوعي دوزخ دغه اورونه چې لمبې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او شعلې يې د پخوانيو ورونو څخه فرق لري د ځان ښودنې لپاره د نويو نويو تمثيلي الفاظو په لټه کې دي.

## پايلې او وړانديزونه:

۱- د لومړي ځل لپاره زموږ دري او پښتو ژبې د طباعت د صنعت سره نورو خلکو د خپلو ديني او سياسي مقاصدو د پوره کولو لپاره آشنا کړي دي، له همدغه امله زموږ مطبوعاتو له موږ سره يوه بيګانګي پيدا کړې وه چې دې بيګانګۍ تر يوې اوږدې مودې پورې دوام کړی دی او لا تر اوسه پورې پوره له مينځه تللې نه ده.

۲- استعماري سياسي هڅول له ډېرو اوږدو زمانو څخه په افغانانو کې د حقارت د احساس د پيدا کولو او ددوی د ژبو د بې اهميته ښودلو لپاره د افغانانو ژبې له علم او مطبوعاتو څخه جلا ساتلې وې، د همدې تلقيناتو او بې تفاوتيو نتيجه ده چې تر اوسه پورې افغانان په خپلو چاپي آثارو پوره اعتماد نه لري او کوښښ کوي چې مهم او په زړه پوري موضوعات په نورو ژبو کې ولټوي. په افغاني مطبوعاتو کې د زړو او تکراري موضوعاتو ډېرښت د دې بې اعتمادۍ او بې تفاوتۍ يو بل عامل دی.

۳- زموږ په ژبو به تېره په پښتو ژبه کې د نويو لغاتو او اصطلاحاتو د جوړونې رجحاناتو دا ژبه د مصنوعي کيدو له خطر سره مخامخ کړې ده. په ژبه کې دې ډول تصرفاتو د افهام او تفهيم چې د هر ډول ژبې په تېره د مطبوعاتو د ژبې اصلي هدف دی، ډېره سخته کړې ده، همدا سبب دی چې د ځينو راډيوګانو له خپرونو خوند او ګټه نشي اخستلای. د بلې خوا د حوادثو په بهير کې خلک د يو زيات شمېر داسې نويو شيانو سره آشنا کېږي چې دوی په خپلو ژبو کې، ورته



نومونه، نه لري، د زايترو شيانو خارجي نومونه په تلفظ کې ډېر سخت وي. نو په داسې شرايطو کې د علمي او فرهنګي مؤسساتو او ذواتو مداخلې ته ضرورت را پيدا کېږي. خودغه مداخله بايد علمي وي او د مشکلاتو د رفع کولو هدف ولري، نه داچې مشکلات لا زيات کړي.

زه دې موضوع ته دومره اهميت ورکوم چې د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته په دې برخه کې يو پيشنهاد وړاندې کول غواړم. دغه وزارت بايد د همدغې مهمې موضوع لپاره يو جلا سيمينار جوړ کړي او په هغه کې دې ليکوال، ژبپوهان او ژورنالستان د مباحثو لپاره راوبولي. د سيمينار په نتيجه کې دې يوه دايمي کميټه جوړه شي چې په دوامداره توګه په دې موضوع کار وکړي. که امکان ولري د کميټې د کارونو د ارزيابۍ لپاره دې وخت په وخت په افغانستان کې د ليکوالو د اتحاديو نمايندګانو او نورو ليکوالو او څېړونکو په ګډون ځانګړې او اختصاصي غونډې جوړې شي او په دې غونډو کې دې د نويو نويو شيانو لپاره نوي نوي وضع شوي نومونه، او د املايي او انشايي وحدت نور ضروري مسايل تصويب شي.

۴- په مطبوعاتو کې د علمي ابهام موضوع يوازې زموږ لپاره نه بلکه د نورو هېوادو لپاره هم مسايل را پيدا کړي دي. په دې برخه کې زموږ مشکلات د نورو په نسبت زيات دي. دا موضوع د علمي او فرهنګي مؤسساتو له خوا د خاصې توجه وړ ده.

له بلې خوا په فشار سره د تراجمو عمليې نه يوازې دا چې د افهام او تفهيم ژبې ته يې صدمه رسولې وي زموږ د ژبې د طبيعي سترکچر او جوړښت شمزۍ او ستون فقرات يې ورمات کړي دي. نو دا ډول موضوعات هم د خاصې پاملرنې وړ دي. زما په نظر ښه به دا وي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغاني مطبوعاتو څخه ناسمې جملې راټولې او د هرې ناسمې جملې په مقابل کې سمه جمله هم ولیکي.

۵- د ادب ریالیستیک سبک د خیال نه واقعیت ته ترجیع ورکوي او ژورنالستیک سبک حقایق او واقعیتونه تر الفاظو ښایسته او مقدم ګڼي د دواړو ژبو د افادې ژبې که سره بېلې دي، د زړه خبره یې یوه ده، بې مورده او بې ضرورته تفنن او تصنع باید دا دواړه سبکونه سره جلا نه کړي او د حقایقو او واقعیتونو د بیان، توضیح او تمثیل لپاره باید یو د بل ممد او مرستندوی وګرځي.

دا نوي سبکونه، تر هغه وخت پورې په یوه لاره روانیدلای شي چې مبتذل سولیدلي او ډېر استعمال شوي الفاظ او کلمات د جمعي ارتباط په وسایلو کې د استعمال وړ ژبې څخه وایستل شي او ځای یې نوي نوي الفاظ او عبارات چې د ضرورت او علاقې له مخې منځ ته راغلي وي او د خلکو له محاورې سره نژدې والی ولري، ونیسي.

و من الله توفیق



# اخځلیکونه


۱. قرآن مجید باترجمه و تفسیر (دري)، دویم ټوک، د کابل چاپ (۱۱۴) مخ.

۲. د ډله ییزې مفاهمې د سیمینار د مقالو په مجموعه کې د حبیب الله رفیع او شهرت ننګیال مقالې.

۳- جاوید، پوهاند دکتور احمد. پښتو چاپی آثار (په وروستیو دوو پیړیو کې د پښتو چاپي آثار د مقالو مجموعه)، ۲۳۰ مخ د کابل چاپ عقرب ۱۳۵۷.

۴- آهنګ، محمد کاظم او صدیق، ډاکټر محمد ظاهر - مطبوعاتو ته یوه کتنه (د افغانستان د مطبوعاتو د ورځې په ویاړ یوه خپرونه) د ۱۳۵۱ کال د وږي ۱۶ کابل- افغانستان.

۵- حبیبي، پوهاند عبدالحی. جنبش مشروطیت در افغانستان،

۶- رفیع، حبیب الله. افغاني مهالنۍ خپرونې، په پرون، نن او سبا کې د افغانستان په راتلونکې ټولنه کې د ټولنیزو اړیکو د وسایلو سیمینار، ۱۳۷۰ کال د غویي میاشت، له ۲۱- ۴۴ مخونه.

۷- انځور، زرین. په افغانستان کې د راډیو تاریخچه او د ثور تر کودتا وروسته د راډیو انکشافات او انحرافات (په همدغه سیمینار کې لوستل شوې مقالې.)

(c) ketabton.com: The Digital Library




٨- آروال، میا. په افغانستان کې د ټلویزیون رامنځ ته کېدل، خپلواکي شپږم کال، پنځمه ګڼه ۱۳۷۰ هـ ش (۹۰-۷۱) مخونه

٩- د ډله ییزې مفاهمې د سیمینار د مقالو په مجموعه کې د پوهاند هاله او شهرت ننګال مقالې.

۱۰- وسایل ارتباط جمعي و جامعه آینده افغانستان (مجموعه مقالات سیمینار): د دکتور محمد ظاهر صدیق، میا آروال او فیلس اوکلي مقالې.

۱۱- د پاکستاني ورځپاڼې (جنګ) بېلې بېلې ګڼې.

۱۲- هاله، پوهاند حبیب الرحمن: فیچر نویسی، خپلواکي، شپږ کال- پنځمه ګڼه ۱۳۷۰ لمریز کال.

۱۳- خالد، محمد آصف. آئینه صحافت جرنلزم برای بی-اې، پبلشر اردو بازار لاهور.

۱۴- پروفېسر جالف، اساسات ژورنالیزم، د کابل چاپ.

۱۵- انځور، زرین. د سپیدې مجله ۸۷ مخ، د ۱۳۷۰ لمریز کال د زمري – وږي ګڼه.

16- Puri, G. K. Journalism, Competition Review, New Delhe-110008

17- Stevenson, R. L. & Reccole R. (1980 ). Foreign news flow and the UNESCO debate - A paper presented to meeting of the international studies association, Los Angeles.

18- Tunstall, J. (1977). The Media are American: Anglo-American Media in the World, Columbia University

19- The coining universal languid "Atlas" world prose review. (1979)





20- Computer systems: power for whom and for what? Journal of communication Quoting Harvard University. (1978)

21- Schiller, H., (1971). Mass Communication and American Empire, Becan Press, Boston.

22- Sofeloff, S. E. (1965). Free Press and Fair Trial: Reporting the News, Selection from Nieman Reports. The Belknop Press of Harvard University Massachusetts.

23- Lyons, L. M. Editorial Writing Made Easy- Reporting the news.

24- Boyd, A. (1997). Broadcast Journalism (fourth Edition) Printed in Great Britain

25- Dave, M. J. The Television in India. New college composition Published by ATAMA Kashmir Gate Delhi 110006.

26- Herald volume 31 number 2 February 2000 p.91.

27- Cyber-Journalism, The daily Dawn August 2000, Karachi.

28. Cooly, C. (1956). Social Organization. Scribner, New York, NY.

29. Schramm, W. & Eportter, W. (1982) "Men and Women, Messages and Media" New York.

30. Osgood, C. A Vocabulary for talking about communication.

31. Shahid, M. I. Mass Communication for M.A in Journalism, (publisher and place) in Pakistan.

32. Shanan, C. & Weaver, W. The Mathematical Theory Communication.

33. Broyoion, L. (1948, 1982). The communication of Ideas: edited by Institute for Reliyiun and social studies, Perspective on Mass Communication.

34. William, F. (1989). The new Communications.

(c) ketabton.com: The Digital Library



35. Scharamm, W. (1971). The Nature of communication between humans: The process and effect of the mass communication. University of Illinois, 1971.
36- Cronen, W. E. & Peace, W. B. & Horris, L. (1982).The Coordinated Management of Meaning" "Human Communication Thoery" Harper and Row, Publishers Inc. Newyork.
37- William A. (1967). Electronic Journalism: Wood Professor an the graduate School of Journalism at Columbia University. Columbia University press, New York and London
38- Donald A. (1970). Sear and Margaret Bourland: Journalism makes the style (Journalism quarterly)
39- Gerald Frances F. Gerald(1979). America Revisited: Little, Brown
40- Arn and Tibbets C.(1979). What is happening to American English: Scribner's
41- Berne S. Future Language: East New Mexico University
42- Zekowski A. Image breaking images: East New Mexico University
۴۳- سراج الاخبار، دمیزان ۱۶- ۱۲۹۰ لمریز کال.
۴۴- پښتو چاپي آثار (په وروستیو دوو پیړیو کې د چاپي آثار د سیمینار د مقالو مجموعه)
- د پوهاند دوکتور جاوید، هندي، پوهاند رام راهول، دوکتور روان فرهادي، مرحوم بینوا، دوکتور عبدالرزاق پالوال، سیدقاسم رشتیا، پوهاند سیدبهاءالدین مجروح، سعدالدین شپون او پوهاند مسیرحسنی شاه مقالې.



۴۵- د افغان یا د (غلام محی الدین افغان د تلین په ویاړ د یو سیمینار د مقالو مجموعه).
- د دوکتور مجاور احمد زیار، پوهاند محمد رحیم الهام، پوهنیار محمد کاظم آهنګ مقالې.
۴۶- پښتو څېړنې (د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز د سیمینار د مقالو مجموعه).
- د مرحوم پوهاند حبیبي مقاله (د پښتو ژبې او ادب موقف د مرکزي ایشیا د خلکو په تمدنونو کې)
۴۷- رویداد لویه جرګه دارالسلطنه کابل (۱۳۰۳) د مرحوم مولینا برهان الدین کشککي لیکنه.
۴۸- د پښتونخوا د شعرها روبهار-د فرانسوي څېړونکي ډارمستېټر څېړنې د پښتو د پرمختیا او پراختیاد آمریت خپرونه.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**